دَغنی کلیات

Ketabton.com

غنی خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغنی کلیات

د پنجرے چغار، پلوشے او پانوس ویونکے

خان عبدالغنی خان

خپرووونکے

د قومونو او قبایلو وزارت

د نشراتو ریاست

۱۳۶۴ ش / ۱۹۸۵ ع

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سریزه

عبدالغنی خان د پښتنو د ستر اجتماعی، سیاسی شخصیت خان عبدالغفار خان مشر زوی دی. غنی د هند د سیمان دنیمی وچی د خلکو د آزادی ح په غوږ زنګ کی د ماشومۍ الی څخه د پاکستان تر راپیدا کیدو پوری مخامخ بڅر اخیستی او بی شکه د ضد استعماری او ضد امپریالیستی مبارزی د میدان یو پیاوړی مبارز پاتی شوی دی او په دغه لاره کی یی سختی، او جیلونه ګالی دی. د دی سره سره د مستعمره هند تر محدود و اک لاندی انتخاب شوی مرکزی قانون جوړونکی اسامبله کی د هند د آزادی غوښتونکی ګوند کانګرس له خوا د پښتنو د صوبی یوا ځینی منتخب نماینده پاتی شوی و.

د هندوستان د ویش په نتیجه کی د پښتنو بی برخی کید و غنی خان په مړو جوړو بی ټرو ګونو کی سیاستونو بازی بی باوره کړه، د سیاست د چیغو او ناروله کتارنه را جلا شو او د شعر تیره تود دی د نابیا شو د حقیقتونو او نا دیونکو د رکونو د بیان او د مسواکونو لپاره له تیکی راوایسته. هر څه یی چی زړه او د الهام د رته ویل، هغه یی د لیکل او په دی توګه یی هغه لوی عقل چی "شعر" نومیږی صیقل کړ او د رعایتونو او قیودو له ننګ سره او شرم نه یی آزادی د رکړه.

بله دی چی غنی د فلسفی تفکر په لحاظ تحلیل کړو او بله دی چی د یو ټولنی بحث جوړونکی او خوا خیز هنرمند په توګه یی وپیژنو، دی زمونږ د دوران یو د یر لوی شاعر دی چی د انسان

A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ښکلا اولیي او دهغه په کمزورۍ تر ټولو مړ پښتون شاعر ښه پوهیدلی دی . ده د انسان ټکل غوښتی او ګناګار هر ښتو دهغه څیړنو مذهبي فلسفي ، سیاسي او عرفاني اندیښنو کې څیړلی او آزموېلی دی . غنی د دی لپاره چې د شعر ژبه پاکه ساتي او د دی لپاره چې انسان د دوکې او پرځان باندې د بادارۍ کولو په لومه کې ونه ګیږي پر تقوا او قرارداد ی تقدساتو باندې ښه بریدی او خلکو ته د ریاکارو شیخانو او وطن فروشه اخوندانو کاذبانه لافې او مقدس درواغ بربنډ دی .

ای د لهو نیانو نیکه لمونځ ښه کړه مستي ښه ده
حسن جوړ یدل ښه دی که حسن پرستي ښه ده

په پاکستان کې د پښتو ژبې د روانې بډ ډرغې او د پښتنو د کم سوادۍ له کبله د عبدالغني خان غني شعر د نیاوال د ده د شعر د پیاوړۍ ، موزیک او د هغه د رنګینو عطرو د ډډ مولې احساس څخه محرومه کړې ده . زه باور لرم چې پښتانه ، افغانان او نړیوال به په لنډ مستقبل کې د غني د خپلونه فنکیدونکو شعرونو په محراب کې ودنې او د ډ به یې لمانځي .

د غني انتقادي ژبه بربنډه ده . د ی د یو رومانتیک ، ریالیست په توګه د ښکلا او د مینې ستاینې دی . لیکن په هرڅه . هر ځای او هر وخت کې انسان د اخلاقي خوځښت او د ښیار خاوند نه هیروي . هغه له خپلو ټولو بلډیو او خطا و سره د ده د شعر په محراب کې ناست دی او د خپلو ښه ګټو او بډیو په منډ ارتون کې د غني شعر ته د لذت او عذاب په زانګو کې د ژوند د دوام لپاره الهام ورکوي .

سلیمان لایق

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادونه او منه

دقومونو اوقبایلو دوزارت او همدارنګه دنشراتو اواړ فرهنګی امورو دریاست له خوا په درې ژبو پښتو کلمونکی څینی کتابونه اورسالی دې مقالو مجموعی اوزور ګټورفرهنګی، ادبی، تاریخی اوعلمی کتابونه دحروفی چاپ په آفسیټ اوګستنر له لیارې چاپ اوخپارو شوی دی چې دغوکتابونو له جملې څخه پنځه ویشت علمی ادبی، تاریخی اوکلتوری کتابونه دافغانستان دعلومو اکاډیمی علمی غړی معاون سرمحقق زلمی هیواد دل دهیواد له فرهنګ سره دمینې له امله بې حده زحمې، بې ساقه کاری اوپرته له کومې رسمی مکلفیته په دریا دول موږ ته چاپ کړی دی، دځینو کتابونو اړه دمقالو دریو مجموعو (دالفت یاد- دنګونو شاعر غنی اواجمل) تدوین یې هم دریا تر سره کړی دی.

زموږ له کتابونو نه بیرته دباچاخان زمانه ډنډ اوجمود، اوده باچاخان لیکونه هم دوه ځله کومې مادې ګټې په منبع حروفو دریا چاپ کړې دی. دنشراتو اواړ فرهنګی امورو ریاست دوه دغه دول مخونه په دې ستر ګه ګوری له زړه منه ترې کوی اوادغه په ډډه اودهیواد په فرهنګ او کلتور مین هیوادل نه په رانونکی کې هم دیادشوو فرهنګی اوعلمی مرستو هیله لری

په درنا وی

عبدالله زوزون مل
دنشراتو اواړ فرهنګی امورو رئیس

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

فهرست

عنوان	مخ
پیشکش	۱
دعا	۳
ثنا	۴
ژوند	۵
کواه ؛	۷
څومره	۸
بل څه	۹
تش جام	۱۰
غم	۱۱
هوش	۱۲
حسن	۱۴
اوږکښې	۱۶
حساب	۱۹
غزل	۲۲
قسمت	۲۳
دفرېدون دموږ خط	۲۴
اول سترستاد لېدخورا	۲۸
تورقه	۳۱

عنوان	مخ
دوه کښې	۳۲
جنّت	۳۴
سپرلے	۳۶
ژوندون	۳۹
بلبلان	۴۱
قسمت	۴۳
قارغان مارغان	۴۵
مرکے	۴۶
چینډخ	۵۰
مزه	۵۲
بازیکر کمتر	۵۴
کوچے	۵۶
تورانئ	۵۸
ملاچرګک	۵۹
بورا	۶۱
تارو	۶۳
کوږکوږه	۶۶
مچ	۶۷

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنوان	مخ
شپږ زمری	۶۹
اوه کلونه	۷۴
پلوشه	۷۹
خیال اورنګ	۸۰
یوخط	۸۲
کاروان	۸۳
بې وفا	۸۴
بَنډ	۸۵
خمار	۸۶
ملګرتیا	۸۷
صنوبر	۸۸
تره اوزده	۹۱
صحرا	۹۵
څه وُوچه هیڅ نه وُو	۹۷
جزا	۹۸
شهوت	۱۰۱
خندا	۱۰۲
سیپۍ	۱۰۴

عنوان	مخ
کټ مالـه	۱۰۶
مسافر	۱۰۹
بې غیرته پښتون	۱۱۱
دامکان اولامکان	۱۱۳
قانون	۱۱۵
آسره	۱۱۶
دَبورئ تال	۱۱۷
درپه در	۱۱۸
کوداکی !	۱۲۰
مرګ	۱۲۱
مینه	۱۲۳
جنت	۱۲۴
شمع	۱۲۸
جانان نها	۱۲۹
قیدی	۱۳۱
غیرتی	۱۳۲

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنوان	مخ
تسلی	۱۳۵
سوال ـ خانان	۱۳۶
افسوس ـ راک	۱۳۷
کہ خیر وی ـ حال زما	۱۳۸
کہ ـ دوصال مزہ	۱۳۹
ثنا ـ مورے	۱۴۰
بابیرہ ـ بہار	۱۴۱
اے دمرچا دلبرہ	۱۴۳
غزا ـ خان	۱۴۴
اتفاق ـ انسان اوفطرت	۱۴۵
غم	۱۴۶
داروش دے دنیا	۱۴۶
انہیلتہ ـ زوراور	۱۴۷
دتورے فریاد ـ جتہ	۱۴۸
خرمستی	۱۴۹
ترانہ	۱۵۰
دعا ـ زہ اوس	۱۵۱

عنوان	مخ
کونڈہ	۱۵۳
دعشق نور	۱۵۴
اے زہ ـ تہ اوزہ	۱۵۵
بلباتہ	۱۵۶
خانصاحب	۱۵۷
مورے	۱۵۹
گل کہ یار	۱۶۰
لیلیٰ	۱۶۱
سوال ـ لیونتوب	۱۶۲
توبہ	۱۶۳
سیل	۱۶۴
کلی ـ بہانہ	۱۶۵
پلوشہ ـ غروری	۱۶۶
اے دخارکلہ ـ کڈورے	۱۶۷
پلوشہ ـ لوبہ	۱۶۸
کڈورے ـ انصاف	۱۶۹
پہ کاردی ـ زور	۱۷۰

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنوان	مخ
بادشاه خان تخط	۱۷۰
نیمے مرپستر حیرانوانے	۱۷۱
دفقیرانو غزل	۱۷۳
خوشحالخان خټک	۱۷۳
لږ شوخمار پیدا	۱۷۴
میاجعفرشاه تخط	۱۷۵
کډے وډے	۱۷۵
پلوشه	۱۷۶
کارغه او بلبل	۱۷۷
پلوشه	۱۷۸
رشته	۱۷۹
پلوشه	۱۸۰
زه	۱۸۱
معمی - پلوشه	۱۸۲
لنډے چرک	۱۸۳
دمال وزیرته خط	۱۸۳
خسرو	۱۸۴
دے ټوره	۱۸۶
پلوشه	۱۸۸
پلوشه - دلربا	۱۸۹
مې هلی زمالیلی	۱۹۰
پلوشه - بهار	۱۹۲

عنوان	مخ
ولے	۱۹۳
ورو ورو	۱۹۴
ولے - مینه او حسن	۱۹۵
زمادکلولښت	۱۹۶
ځوانی	۱۹۶
کډے وډے	۱۹۷
پلوشه	۱۹۸
کډے وډے	۱۹۹
خارد رنشمه	۲۰۰
پلوشه	۲۰۱
بے پروا لکه لوے	۲۰
منارې	۲۰۲
حوره	۲۰۴
غمګینو ستر کو	۲۰۵
عدم تشدد	۲۰۶
جدائی - فلسفه	۲۰۷
دفقیرانو سوال	۲۰۸
جانان - رباعی	۲۰۹
پلوشه - لیونی	۲۱۰
سوال ځواب دلیونی	
او ملا	۲۱۱
پلوشه	۲۱۲

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنوان	مخ
کډے وډے	۲۱۳
پلوشه	۲۱۳
دپسرلی شپه	۲۱۴
دعا	۲۱۵
شاعری	۲۱۶
جنډه	۲۱۶
مور	۲۱۷
دبلاپیرو شهزادګۍ	۲۱۷
زه	۲۱۹
تول اوتال	۲۲۰
خـــرو	۲۲۱
اسلام	۲۲۴
سیل	۲۲۶
کډے وډے	۲۲۷
مسلمان	۲۲۸
دنا دشمع کښے ـ دسحر نور راغی	۲۲۹
پلوشه	۲۳۰
اګست ۱۹۴۷ع	۲۳۰
تول	۲۳۰
ارمان ـ بکواس	۲۳۱
پلوشه	۲۳۲

عنوان	مخ
دوه خبرے	۲۳۲
کډے وډے	۲۳۲
دنیاګۍ ـ دالۍ	۲۳۳
کډے وډے	۲۳۴
قصه	۲۳۴
کډے وډے	۲۳۵
ځوانه	۲۳۶
سلام	۲۳۷
دژمی مابنام	۲۳۸
ژوند	۲۳۹
ډبه	۲۴۰
اول سترستا یمکے	
دلیدو خورا	۲۴۱
رباعی	۲۴۲
یادے دی	۲۴۳
دنیا	۲۴۵
ژوندون	۲۴۵
جنتی ته	۲۴۶
واورۍ جنتی	۲۴۸
شان اوشنګ	۲۴۹
ترانه	۲۵۲
شاعراولیلی	۲۵۴

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنوان	مخ
اے نایکہ	۲۵۶
ژوند	۲۵۸
غزل	۲۶۰
عبادت	۲۶۱
دایلم توتیان	۲۶۲
سزا اوجزا	۲۶۳
لکہ داخلی چہ ماشوم	۲۷۱
تقسیم	۲۷۳
بیا	۲۷۴
لیلہ	۲۷۹
شوکہ	۲۸۰
وخت	۲۸۱
والی ملاجان ـ پلوشہ	۲۸۳
نوس	۲۸۶
شپہ وہ دسپیڑلی	۲۸۷
کیبیاکو	۲۸۹
دبوڑے تال	۲۹۰
سانہ	۲۹۳
نادی	۲۹۴
اسپتال	۲۹۶
شہید ډاکټر صاحب	۲۹۸
پروت یمہ یوانے	۳۰۰

عنوان	مخ
ماتم	۳۰۵
پلوشہ	۳۰۶
شاعری	۳۰۶
تک	۳۰۸
کلے وے	۳۱۰
پلوشہ	۳۱۰
داندت	۳۱۲
حسین	۳۱۰
سپوږمۍ	۳۱۳
نوی بلا	۳۱۵
دغمنی پتوس	۳۱۷
حساب کتاب	۳۱۹
دزړے خال	۳۲۱
دنیا ډډ غلام	۳۲۴
یورپ	۳۲۶
زما وطن	۳۲۸
جنت اودنیا	۳۲۹
مینہ اوحسن	۳۳۲
ریډ ګل	۳۳۳
دنیا	۳۳۴
چہ آدم خاوړ	۳۳۹
قسمت	۳۴۱
مرګ	۳۴۵
یوآن	۳۵۰
رنګ	۳۵۱
کلے وے	۳۵۲

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنوان	مخ
تصور	۳۵۴
د سامری محل	۳۵۵
گلدور کښې پرېشا	۳۵۷
جلال	۳۵۸
د ازمونږ غونډې....	۳۶۰
زما محترم روډیارډ کپلنګ صاحب	۳۶۱
بې نوائه خط	۳۶۲
پلوشه	۳۶۵
نقاب	۳۶۶
اختر	۳۶۸
تپوس کې جواب	۳۷۰
تلے مرګ	۳۷۲
لټون	۳۷۴
کاروان	۳۸۰
نه کیږی	۳۸۲
راکه ساقی راکه	۳۸۳
دیوداسی	۳۸۵
منم	۳۸۸
کلونه د ورځو ډاډی	۳۸۹
څمه، څمه څمه	۳۹۰
یوه ټکی	۳۹۲
بامیان	۳۹۳

عنوان	مخ
سپرلی	۳۹۴
ماښام	۳۹۶
سپوږمۍ مسکۍ شوه	۳۹۷
چینجی	۳۹۸
د لندن معشوقې	۴۱۴
عجبه فلسفه	۴۱۵
کوکوشتو	۴۱۷
ترجمه د اقبال	۴۱۸
دعا	۴۱۹
میلاد آدم	۴۲۰
یو بې مهاره ادبیات	۴۲۱
سیندوکه....	۴۲۲
بادپره	۴۲۳
تالیې	۴۲۵
خیام	۴۲۶
روډیارډ قلندر	۴۲۸
نوې سیاست	۴۳۰
زما لال	۴۳۱
کنې دنیا بنه ده	۴۳۲
پلوشه	۴۳۴
دعا	۴۳۵
هوبر کیږه	۴۳۶

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنوان	صفحہ
پلوشہ	۴۳۸
حقیقت او مجاز	۴۳۹
اوہ، چتول عمر...	۴۴۰
پلوشہ	۴۴۱
تہ اوزہ	۴۴۲
درزے پہ کیدو	۴۴۳
کڈے وڈے	۴۴۴
خندا اوژړا	۴۴۵
چہ دمستے نہ...	۴۴۶
وہ ملا	۴۴۷
ژوند	۴۴۸
عشق	۴۴۹
پہ مړدان مارچ...	۴۵۰
یو بخرے	۴۵۲
سوال جواب	۴۵۳
اے دلیونیانو نیکہ	۴۵۵
شہید	۴۵۶
منصور	۴۵۷
شہ ؤ	۴۵۹
پیدایش	۴۶۰
کڈے وڈے	۴۶۲
لنډے	۴۶۳

عنوان	صفحہ
مسلمان	۴۶۶
ساقی	۴۶۷
نوے کال	۴۶۸
زہ	۴۶۹
سپرلے خلاصیږی	۴۷۰
دجیلخانی خوب	۴۷۱
کڈے وڈے	۴۷۴
قید	۴۷۵
خاورے	۴۷۸
دخوبو نوجوانان	۴۸۰
اے بادصبا	۴۸۱
مهذب	۴۸۲
سوداگر	۴۸۳
کوکل	۴۸۶
جناب شیخ	۴۸۸
تاریخ	۴۹۰
ساز	۴۹۱
صاحب	۴۹۳
اور	۴۹۴
آدم	۴۹۷
نہ کیږی پہ عقل	۴۹۹
اختلافات	۵۰۲

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنوان	مخ
لوبڑہ	۵۰۴
ویش	۵۰۵
دغم لور	۵۰۶
زور	۵۰۷
بُت	۵۰۸
پیژندکلو	۵۰۹
ولے ؟	۵۱۰
باچا	۵۱۲
دوزخ	۵۱۵
لیونی	۵۱۸
زہ	۵۱۹
اوښ	۵۲۰
مرکے	۵۲۳
کمترہ	۵۲۴
باویرے	۵۲۶
میږے	۵۲۷
وصیت	۵۲۸
ماشے	۵۳۱
پیرے	۵۳۴
اَس بَدُو	۵۳۵
پلوشہ	۵۳۷
قارغہ	۵۳۸

عنوان	مخ
پلوشہ	۵۴۰
چرگ	۵۴۱
بنبُخے	۵۴۲
تیروتے	۵۴۴
زبرگ	۵۴۵
کلے وے	۵۴۷
کلے وے	۵۴۹
عجبہ فلسفہ	۵۵۰
دتوت مباخ	۵۵۳
مبس دے افلاطونہ	۵۵۵
پتیرہ دادنیا	۵۵۸
جوارگر	۵۵۹
الا بلا بہ گردن ملا	۵۶۱
جلال	۵۶۲
پلوشہ	۵۶۴
پلوشہ	۵۶۵
ارادہ	۵۶۶
رښتیا	۵۶۷
غمونہ	۵۶۹
تجربہ	۵۷۱
خدایہ وے ؟	۵۷۲
باباتہ	۵۷۴

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنوان	مخ
شہ دپارہ	۵۷۵
بودا	۵۷۷
پلوشہ	۵۷۸
حال نہ ما	۵۷۹
خدکرم	۵۸۰
زرچاودے	۵۸۱
کلہ دے ودے	۵۸۲
زمامحل	۵۸۳
قسمت	۵۸۵
اوس	۵۸۶
دبچوترانہ	۵۸۷
پلوشہ	۵۸۹
مینہ	۵۹۰
تماشہ	۵۹۱
پلوشہ	۵۹۳
نہ نو۔ پلوشہ	۵۹۴
کلہ دے ودے۔ پلوشہ	۵۹۵
مخ دجانان	۵۹۶
یوجام	۵۹۷
هغہ دغہ	۵۹۸
ولے	۵۹۹
یوجام	۶۰۰
کلہ دے ودے	۶۰۲
کلہ دے ودے	۶۰۳
بنی آدم تہ قصیدہ	۶۰۴
خیال	۶۰۶

عنوان	مخ
دوہ ستر کے	۶۰۷
درد	۶۰۹
شان دانہ	۶۱۰
ہلشور و دیا غمہ	۶۱۱
شاعر	۶۱۳
تنظیم پہ نظم	۶۱۴
اے دلیونیا نونیکہ	۶۱۶
دحور و مینکار	۶۱۹
کلہ دے ودے	۶۲۱
لحوانہ	۶۲۳
دعا	۶۲۵
مینہ	۶۲۶
مرہ شمع	۶۲۷
بندہ	۶۲۸
سلام	۶۳۰
دژمی ماښام	۶۳۱
مست	۶۳۲
نور او سینکاری..	۶۳۴
عقل م حیرانہ	۶۳۵
ژوند	۶۳۷
اَبرِنی	۶۳۸
سانہ	۶۴۰
ورک خیال	۶۴۲
یرہ قیصر	۶۴۴
دمدن یادونی ۔ ۶۴۶	۶۸۰

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستاپه نوم زمار ته

د

پنجرے چغار

کوره بلبل په پنجره کښے جور
مست شو صحرا او په خوب کښے نے

لوے یو جهان د کلونو کہ
د کتو ل جهان د سیندونو کہ

د غنی د جیلخانے نے
ماشعرونہ

هریپور - ۱۵ اکتوبر - ۱۹۵۰ع کښے
دا کتاب شروع کوم
غنی .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیشکش

شاعر د خپل ماحول غلام وی، د ده مثال د یوداسے حیوان دے چه د هغه په وجود څرمن نه وی، که پوستے دا زغی څوکه وروړے نو په کریکو ځان وژنی۔ اوکه پوستے آرام ورشی نو د خوشحالئ نه بے هوشه کیږی۔

اوکوره انسان ته چه بادشاه د ځناورو دے
دے که دیر زور وکی وتے نه شی د خپل ځانه
دے د خپله ځانه د جهانه روکید ے نه شی
کله د کعبے نه تاوشی کله د جانا نه

بنده د خپل احساس او بے حسئ په قلاکښے بند دے، او دغے ته خلق قسمت وائی۔ خوشپږ کاله وړاندے واقعاتو زه د خپلے لوئے قلانه راوښکلم اوپه دیرو ورو ورو د خښتو قلاکا نوکښ بند یوان کړم۔

دغه د درد، زور او تیرے ماحول کښے ماته د لا دے روښانه کولو صرف یوه شمع وه، او دا ځما د ځوانئے اومستئ کلونه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه په دے تور او تاریک باغ کښ شوی دی او ما تر نه یوه مراے
کلدسته جوړه کړے ده هغے فرشتے ته پیش کوم، چا چه د حیدر آباد د نواب
رستم جنګ محل د غنی د تالاشوے جونکړے د پاره پریښود. او ما ته ئے
دا د غم. د درد او بے سروسامانئ روځے دیرے په خندا
خوشحالئ او بهادرئ تیرے کړے. زه چه د هغے درد ته کورم
نو خپل درد رانه روک شی. زه چه د هغے نر توب وینم. نو په خپله
بزدلئ ستومانه شم. زه د دیرو نرانو نر یم. خو د هغے نه نر نه شوم.
نو حکمه دا کتاب زه په دیر ادب او دیره مینه د خپلو بچو
مور ته پیش کوم.

یو خوب د شاعر په جامه انسانی
یو ساز دور-دراز-بنکلے خوږ آسمانی
یو کل د جنت په خصلت رحمانی
یو جسم ناری یو زړه کے نورانی
شوله دا سے پیدا د غنی دلبرا
په غیرت پښتنه په حیا ست ایرانی

هری پور جیل
۱۹۵۲ع

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دُعا

ستر کو د جانان کښے زما بنکلی جهانونه دی
وا د خلہ دنیا زه وبرے ستا د دنیا نه یم
کوره د فقیر کچکول کښے تاج د سکندر ے پروت
زه یم د سخیانو د شو مانو گدا نه یم
زه نے په غرور درنه د مینے په نوم غوارمه
زه ملنگ بے نیازه ستا د ویر واویلا نه یم
یو د سپور مے ځاځکے درنه تیک له د یار غوارم
زه یم د خوبونو د لالونو گدا نه یم
هغه مستی غوارم چه نے مرگ نشی وژلے
زه د د غمونو د بیکا او سبا نه یم
او تشه دنیا گئے که د بخښے نواے امیره !
ستا شوه ستا دنیا۔ زه وبرے ستا د دنیا نه یم

غنی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ثنا

تورہ شپہ دِ کلہ کلہ دَ غمونو انبار راوړی
کلہ شمع ساقی راشی او خیام او ستار راوړی
کلہ تورہ شپہ لحد شی مرخہ روک کړی پیارہ کښے
کلہ رنگ او خمار راوړی کلہ شرنگ او دلدار راوړی
کلہ دوب او بے قرارہ یودے یاب دَ آسویلو شی
کلہ مست دَ رنگ محل شی بے خودی او خمار راوړی
دا زما بے خودی وارہ یو نظر ستا دَ قرار دے
دا زما دے یاب دَ حسن ستا یو خاشکے دخمار دے

غنی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند

چه خمار مستی تے وزی　　شراب شی ترخے او به وی
چه سرور غرور نے نه وی　　دا ژوند ان ژوند دَ څه وی

چه دَ مینے زړه شی پاتے　　لکه کل وی ډډ ید لے
یا شغله یوه دَ نور وه　　یا یو موتے دَ خزلے

چه په ژوند کښے سخته نه وی　　لکه بے مالکے طعام
چه په خوله کښے خندا نه وی　　لکه وچ دَ خاورو جام

چه خوانئ کښے تکلیف نه وی　　لکه پته میان کښے تورہ
نه نے پوق شی نه شرنگ شی　　په زنګو نوشی ډَ خُوړه

چه آرام وی او سمام وی　　او یا ری په جاید اد وی
خر بانو هم شیرنئ وی　　هر تړو پرو فرهاد وی

چه پے سر په خندا وشی　　هاله خوږ دا زونیا زشی
چه دَ سپینو تورو جنګ شی　　بنکاره هلته کښے ایا زشی

ژوند که تش فیرنی څښتل شی　　دا خو سپے هم شی څښتلے
که تش نسل زیاتول وی　　دا غوئے هم شی بنه کولے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندنه خیته نه مانئی وی نه دیرئ دَسرو لالونو

نه یاران نه معشوقے دی نه باغونه دَ ګلونو

ژوند خو تله دی یو په مخه

غُرزیدل او پاځیدل دی

ټکے سوز او ټکے سازدے

څه خندل دی څه ژړل دی

څه زړه سترګو دعاشق کښے

پلوشه ده دَ خمار

په صحرا کښے لهتول دی

دَ آشنا دَ کوڅے لار

غنی

حیدرآباد جیل

۱۱-۸-۱۳۴۹

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

گواه

یو تکی د رنګ کښے — دریاب رنګا رنګ
یو خاځکی د ساز کښے — هم سوز او هم شرنګ
د ژوند یوه لمحه کښے — سوونه عمرونه
یو چونګ کښے دخاورے — مستی اوغمونه
په لپه ایرو کښے — ښکارونه د نور
د هر کل په شونډو — رازونه د طور
خاورینه څرمن کښ — خندا او غرور
تیارے د شهوت — او رڼا او سرور
دے بت کښ د خاورو — دا تال د ابد
د خاځکی په مخکښے — جمال د ابد

ثبوت مانه لوئی ستا د ځان کوم دے
گواه مانه سبه ستا د شان کوم دے

خاپور

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خان پور

څومره؟

څومره مینه مستی در کړم ادب څومره؟
څومره تا دلدار جانان کړم ربّ څومره
نه زه ستا په حد دځان په حساب پوه شوم
ستا رپوهیږی پخپل هنګ او طرب څومره
تورانئی په سازسرود ترکومے رسی
کلاب پوه دے دخایشت(*) په مطاب څومره
دا سپوږمئے چه کل جهان حیران حیران کړی
دا پوهیږی دخپل نور په سبب څومره
رنګ رنا دخپل خیکر پرِ خو رونه
دومره خیشت وی چه زماوی طلب څومره
دا چه ښکلے شونلے اوږسرور روښان کړی
معشوق پوهیږی د عاشق په مطلب څومره
څامینه ده ادب د پنجرے اوزی
وایه څومره دِ جانان کړم ربّ څومره

(*) خایشت، نهایت.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل څه

په نظر کښے مِ د باغونو خیال
په نصیب کښے مِ لاره د غرونو
عجیبه اچار مِ اچولے دے:
د کلونو او د غمونو
په غوږونو کښے شر هار د ساز
د کنکرو پینزیب او خندا آواز
دوب مِ زړلتمئ بل څه نوے ساز
بل څه نوے سوز بل څه نوے راز
څکه خیال کښ مِ د باغونو رنګ
او نصیب کښے لاره د غرونو
ما د تورو هیرو (*) جوړ کړیدے
څان له بنکلے تخت
د خوبونو

(*) هیرو : ایرو

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تش جام

هغه څه ساقی وی — چې ئې تش شراب وی جام کښې
نه ورکی خمار د ستر کو — رنګ د سرو لبانو
دا د دوزخ اور وی — چې تش سوی دنیا نه وی
دا هغه کافر دے — چې خطبے لولی ما بنام کښې
دا د ازغو جاړه دکاڼ اب — خو ګلاب نه لری
دا لوګو وهلے میخ — تیکه او کباب نه لری
زهر زهر زهر دی — شراب چې خمار نه لری
کفر کفر کفر دی — مستی چې قرار نه لری
څه هغه بنده وی — چې جنون او دلدار نه لری
هغه د څه رسیند وی — چې غوښے او آبشار نه لری
هغه څه مومن وی — چې مستی د کافر نه لری
څه وخت هغه ستر ګے — چې د مینے نظر نه لری
هغه دعا څه وی — چې شرنګار او شنا نه لری
زهر زهر زهر دی — شراب چې خمار نه لری

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

غم

پنسن م بخمیر، روک کہ قلم تش دَسیاهئے نه
کوتہ کښے یخ او تریخ لوکے باهر(*) یخه ښه سیلے
دماغ م پریشانه زړ کے پریوتے دَ مستئے نه
خیالات م روک نوستلی غنم وهلی پہ ښائی
دُنیا م دَامید دَ رنا نشته تکے نه تورہ
دَغم دَ قیصو دکه ده خندا آواز ئے هیر
هر یو لمحه دَ ساه ترخه بے خونده اوچه سپورہ
محمد یِ دحان لیونے کہ شوخیژ بته ایاز ئے هیر
داغم نه دَ طاقت دَ حکومت، نه دَ شوکت دے
داغم دَ تیریدو دے ـ بے مطلبه دَ ژوند ون
لیلیٰ محمل صحرا همه تیاره دی خو افسوس
دَ حان لیونی کولو همت ونکړو مجنون

پہ پیرول
۱۹۵۰ع

(*) باهر: بهره دباندے.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

هوش

شراب هله شی شراب چه څوکے(۱) وڅکی — څاڅکی سیندښی چه چپه شی بآ ابشارشی
ګل چه خورکړی په سادین ډهنګ دون کاڅل — په تیرو کښے جوړ عجب ډخیشت بازارشی
چه آواز ډسړو اوزی بدے رنګ شی — چه خودی ډخودۍ اوزی نوخمارشی
چه فولاد ډمینے مستے اوبه واخلی — نوحیران اوپریشان مار ډستارشی
سرپتوب چه لورا دچت شی لیونتوب شی — چه صحرا په رنګ مین شی نوګلزارشی
چه انسان مالک ډحسن او سرور شی — اوراوګورورته کلونه لاله زارشی
د سپوږمۍ حسن روښانه شی په شبنم کښے — ډغانتول(۲) اوکښے ولونه ډښامارشی
د څوندون مطلب کمال دے ډاظهار — یوله اوښکے یوله اخ یوله ښکارشی
بل څه نشته ځان اوتروند پوه کول دی — قسمتی هغه خوبونه چه بهارشی

بس بنده دے که مجنون دے که مدهوش دے
خر څوونکے اخښتونکے ډډه هوش دے

که جوماتکښے بس الله الله دے — میخانه کښے یو آواز نوش بنوش دے
دغه خوندکړی چه یو یارشی یو ریبارشی — دغه خیال کله جانان کله بهارشی
تول ډهوش کفر که مینه که سرور دے — ډډه سر کے دی نه شمع ده نه نور دے

(۱) څوکے : څوک یے . (۲) غانتول : غانتول

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

عجیبه واکدار که جور رټب د جهان — چه د عقل تور کند و ته قانون وائی
دے د حسن بهاری ته لیونے وائی — او د خاور و سود اګر و ته قارون وائی
د ژوند و ن احساس تبخیط او سودا وائی — عاشقے ته د بلا بخت خرو جنون وائی

د ده هوش د ده د مینے تور بنامار شی
دا عیسیٰ غریب بخپل بستر په دار شی

هوش محل یو د سونو منارو دے — لوټے وطن د دریابو نو د درو دے
ده کښے یخے تارخانے د طور د کتو — دے کښے خور یو تور دریاب تیاره په تیرو دے
دے کښے سپین لوټے محلونه د رمادی — دے کښے خور خاموش ارمان د مقبرو دے
کله کله د مستۍ سره خمار و نه — کله کله تش کچکول ډک د آسره دے

دا د شکر چه د غم په تور محل کښ — را ښکاره کله یا مینه یا دلدار شی
دا د شکر چه د مرګ په بادشاهی کښ — کله کله څاڅکے و خاندی آبشار شی
دا نعمت دے چه په لوړه کا نه شوے — خط و خال تا لا په سر و شونډو د یار شی

هوش چه ورک شی د خپل هوښه نو مستی شی
چه خودی د خوده اوزی نو خمار شی

"کړسر"

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

حسن

اوه تپوس دَحسن مکوه　　سمندر شی څوک تللے
څوک سپورمۍ شی رانیولے　　څوک زهر اشی بنکلولے

حسن پلار دَ مینے او مور دعشق
پکښے پت دی ټول سپین اوتور دعشق
دَده خیال نظر همه زور دعشق
په سر و شونډو بلئ بنکلے اور دَعشق
دا بابا دَسُر اوسرور دے
دا تعبیر دَجلال اونور دے
دا مکه دَستر کو خندا کښے
دا په هر کوڅه کښے طور دے

دَ آدم دَنوم بس یو دا سبب　　دَ بهار سبب دَ رنا سبب
دَحوا دَ ژوند اوارمان قیصه　　دَ سرود دَ رقص اود ژړا سبب
دا جواب لکونو سوالونو دے　　نشته هیڅ دَ ژوند ون بل جواب
دا صوفی ته محراب او منبر خالی　　لیونی ته کباب اوشراب

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دے د خیال اورنگ دنیا کښے دا پلوشہ د مینے د یار دہ
دا د رحم پیغام او وعدہ د وصال راغلے غلام لہ دلدارہ

دا د مرگ سبب

دا د ژوند ضرور

دا د گناہ تعریف

او معنیٰ د نور

دا د عشق وجود

دا د مینے راز

دا د سوز خوند

دا مستی د ساز

ہر نظر نے شراب د مستی دہ دا د روح لیونے میخانہ دہ
د بندہ او آقا د زړہ راز دے د ژوند د ژوند او جنت افسانہ دہ

خان پور
۱۹۵۰ء

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اورکښے

دول دلرے خوږ دے دھندکیانو دامتل دے
هره فلسفه دلرے ښه اوپوره ښکاری
زړه دبنده نه دے عجیبه بے چله چل دے
دوبه په ارمان کښے چواړی هم حوره ښکاری

عقل له دهوکه ورکوی حسن که دلدار دے
خان ته تښتیدل دی عبادت دے که خمار دے

دامسته رنا دامینه حورے اومانبام
څه رنګین سراب دے دلیدلو پوهیدلو
داچه ورته ګورے بل څه نه وینے نه ګوره ے
دا عجیبه دام چا دے جوړکړے دلیدلو
دایوه قصه ده دک جام د توئیدلو
دغه فلسفه ده د دریاب د بهیدلو

رحم نه انصاف دے یوتدبیر دے د دوام
هر څوک ئے پکار دی که خیتو دے که خیام

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

شرنگ وی د نیزدے نه او د ولکے د لرے لرے
دواړه غږئ یو شانے او یو رنگے خبرے
د ک د ظلمه زوره د طاقته د باز پرے
جورے د مهین اور نگین بوی د کل وزرے
کومه لارچه اخلے خو مقام نے بس یو دے
دلته زر جوماته دی امام نے بس یو دے
څکه لیونے دے مرور شی هسے کله
بل خواته ور تاوکړی دا د هوش تهقه شله
پریوزی په پراو کړی بتخانه کښے دیوه بله
خپے سپینے پرلئ طمغے تاقتی د منزله
تاته اور سرور دے یو ماوے وژنے اور کښے
اے د سپین او تور مالکه څه مزه ده تور کښے
ولے زما لال وی پروت په خُلے کښے د بنا مار
ولے دے کلاب له نه اور بل او نه بهار
ولے دِ بندی که څا څکے تن کښے د دِ ندو کی
غوارے ترچپے د سیند ساز و نه د ا بشار
ماله مرک اوژوند دے تاله تش د څښے ول دے
اور کښے دے بل کړے ولے حسن الوول دے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اورتہ دے نیولے یم فولاد جوړے زمانہ

منبہ۔ چہ زہ فولاد شمہ نوخہ زما جانانہ

جسولہ فولادو لہ جوهرو لہ کمال لہ

بس خاورے کیدہ دی روکیدہ دی دنیا نہ

ولے دِ ورانولولہ جوړ کړے سور محل دے

اور کښے دے بل کړے ولے حسن الوول دے

غنی

ډیرہ اسمٰعیل خان

۱۹۵۰ع

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

حساب

یوخوالیونے دے دَ تیکرو جام په لاس
غواړی دَ عطار نه روح دَ کل خمارَ کل
بلخوا • اوښیارشاه • دَ پوے په کتنه په لباس
پوخ ئے که خوراک له هم • پیخی • لوم بلبل
تله په لاس ناست دے خرڅوی مینه خمار
بس دَده ایمان دغه جنت دے نشته بل
بے خمارۂ مینه لکه بے نشے شراب
زهر ئے څکل حرام حرام وړته کتل
بے مینے ژوند دے . لکه بے سُره ستار
تنک ترے نه او ښکل دَ جنت حوروته کنزل

روکه کړه مجنون لیلیٰ محمل کښے دَ ایران
ده ته سُر محل شو دَ غمونو بیابان
تول جهان ته اوږو ده ته مینه دَ جانان
وه دَ ده خندا پته ژړا کښے دَ جهان

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دہ تہ درد او چغو کښے وناست مستی ژوندلون

دہ لہ وے دوہ لاړے یو مرکے، او یو مجنون

بنہ۔ یو خواخودغہ بلخوا بلہ تماشہ دہ

ناست خان لہ۔ نمرود۔ دے او دبل درد نشہ دہ

داخہ عجیبہ شانتے انصاف دے د فطرت

کل لہ ښکلے بوی دے او د نبر خوارلہ لښتہ دہ

داخہ عجیبہ خیشت پرستی دہ د رحمٰن

مړہ پرتہ بلبلہ دہ او نښتے پے بابنہ دہ

څہ وکړی شاباز یا بہ روکیږی یا بہ زور کړی

څہ وی جرس چہ وی ژوندے ھلہ چہ شور کړی

دغہ دے جہان، دغہ ئے چل، دغہ ئے راز دے

دغہ دے ساقی، د غہ محمود، دغہ ایاز دے

دغہ۔ وای۔ د غم او دغہ۔ وخ۔ د ھمہ ساز دے

دغہ د۔ خیام۔ او د۔ بلال۔ د خلے آواز دے

خان مستول مینہ او خمار زیا تول

دے د ژوند تنور کښے سور انگار زیا تول

یو دیار د خلے وبنے او بل ئے د دولت

یو د۔ خان۔ پہ ستر کو روک او بل ئے پہ شوکت

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوئے مست پہ شرنگ او پہ خندا او پہ سرور
بل ئے پہ غضب دَغور زنکونو دَ شہوت
یوئے پہ تیرو دَغم پہ لرو دَ ماښام
بل ئے پہ سیلئے او پہ باران او پہ قوت
یوئے پہ پَستو پَستو سوالونو دارمان
بل ئے پہ باھواو پہ جلال اوپہ شوکت
یولہ تیز نیلے، ستر کے سرے سرہ تورہ پہ لاس
بل لہ تنھائی، رنگین ملکونہ دحیرت
یولہ دَ الماسو محل، سپین او رون او پاک
دوی سرہ حساب خو لږ کران شان دے
ستا پہ ھر جنت کښے لږ عذاب شان دے

غنی

دیرہ اسمٰعیل خان

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

هله یار وته نزدے شوم — چه دَیارہ شومه لرے
هلے(۴) پوئے شوم پهخبرو — چه ئے ناوره خبرے
چه ملنگ شومه جانانه — خزانه م ومُنتله
په زرکی کښ م پرتے وے — ښکلے ښکلے ملغلرے
چه م کل بُستان قربان که — نو د کل بُستان مالک شوم
چل م هله دَپَر زده که — چه م وسوے وزرے
چه په جام کښ دَ ساقی م — دَ خُوانئے وِینه کړه کده
هله پورته شو محفل کښے — د خمار خمار بڑے
چه په شوق او مستے م — دوارہ ستر کے ورلو کے کړے
هله هله راته اوکړے — دَ ساقی ستر کو خبرے
چه پرے مستہ خُوانی دا وکړے — چه پرے ښکلے سرکړی خاورے

دهغوی دی لیونے!
دَ جانان شونډے شکرے

غنی
حیدرآباد جیل

(۴) هلے = هله یی۔

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

قسمت

چه څوک سوال د پلا ؤ وکړی ورکړے دال
اکثر خو رکړی په بنکاری د بنکاری جال
چاته جام کښے د سرو خاورے شکے واچے (۱)
چاله ورکړے د ایرو په ډهیر (*) کښے لال

یو وبال چه څوک په صبر صبر تیر کړی
ورله راولے د هغے لوئے وبال
څومره بار چه څوک وړی دومره وړاندے
د زمری خطرے نه تیری شغال

چه کوم کال خلق زاری د باران وکړی
په باران پسے (۲) راندہ کړے هغه کال
لیونی نه خفه مشے در قربان شم
اکثر ؤ داغے د خر په څائے کلال

غنی

حیدر آباد جیل

(۱) واچلے، واچوے۔ (۲) پسے، پسے یے۔
(*) ډهیر: انبار، ډوئ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَفرید ون دَمور خط

خما دَوادہ پہ دولسم کال پہ ۱۵ر تاریخ دجون دمیاشتے ۱۹۵۱ع خما صرف یو اویوازے زوے فریدون • رستم جنگ • پیدا شو. دھغہ مور دَ پښاور پہ هسپتال کښے وہ ، اوزہ لرے پہ هزارہ کښے ناجوړہ پروت وم. هر وخت بہ مې دَکوټے دَ دروازے پہ مخکښے یو تور بدرنګہ توپک او سنګین پہ لاس پُولیس ولاړ وو. تول جهان تور اوتاریک وو، دَوجود دَ ناجوړتیا سره مې روح هم دَمایوسئ آخری مقام تہ رسیدلے وو چہ ناګهانہ خبر راغے چہ زوے دِ وشو، ماوے ښہ دہ غنی روک خوئے خو میرات خونہ ئے .

دَ دغے ورځے دَ درد او دخوشحالی بیان نړ نشم کولے. خو درد او خوشحالی دواړہ انسان دپیر ستومانہ کوی ، او چہ آخرمِ ستر کے دَهوش دنیا تہ پټے کړے ، نو څہ ویښ چہ دفریدون مور راغله

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اومانته ئے یوخط په لاس کښے کینبود

داهغه خط دے:

ماذ دوولپوخاورے تاله ژوندا دجهان جورکه

خپلے مینے داسے یورم بل م تاله جانان جورکه

داچه زه ذ وفا دکه ذجنون جهان له لارم

دام لال هغلته ومونت(۵) ذهمه لالونو بنکلے

دا زما ذغرور نخښه ذهغو کیلو جواب دے

چه به تاپه ما بنامی کښے ماته کوله غلے غلے

داثبوت زما ذ مینے ذ ایمان اوذ وفا دے

دا زما روح چه روښان شو ذده سترګے کرے یلے

داتصویر زما ذژوند دے څه خنده څه ژړا ده

ذشهباز ذ وزر شغ دے پوست سرو نه ذ بلبلے

داثبوت ذشاه ذ مینے ، دازاری ده ذغلام

دا انعام ذ تولو بنکلے ذهما و نه ښین جام

داتعبیر ستا ذ خوبونو اوزما نخ ذ ارمان دے

ماجور کړے ذ خپل خانه بنکلے عکس ستا ن دخاد دے

په صحرا م وو خور کړے سور څادر ذ کلستا ن دے

هر ساه کښے م لیکلے نوم ذ مینے د جانان دے

---

(۵) ومونت : ومونډ .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

داچه زه ستا د خوبونو د جنون تالاش کښے لاړم
ستا لخانئے له م جور کړے ستانه ښه غوندے یوخانے
داچه ما ستا وزرونو کښے ارمان د عقاب ولید
دا عقاب م ستانه جور کړ، هم عقاب م نے ارمان دے
دا سړے سړے د ساقی شونډے خه مستی او خه خیام
دا په سوز کښے رنګ دساز دے د ممبر د پاسه جام
دا د نیشت، په شاملات کښے ما اجل ته کینبود ځلے
داخو ما د سبا طمع کړے پرون سره بدلے
داچه زه یو رنګین خوب شم د تالاش او د آرمان
ستا په تور تاریک محل کښے سپینے شمع شولے بلے
ما د در و لپو خاورے تاله ژوند او جهان جور کړ
څلے مینے دا سے یو رم بل م تاله جانان جور کړ
ماکه داؤ په یو آرمان ستا خپل ژوندون تمام تمام
ما خپل هوش کلال له وکړ چه تر تاله جور کړی جام
چه ته لیلیٰ مجنون مجنون شوے، زه هم لیلیٰ لیلیٰ شوم
چه ته رنګ شوے او خیام شوے، زه شراب زه کل اندام
چه ته طور شوے او موسیٰ شوے، زه د نور برق او رناشوم
چه ته شور شوے او ارمان شوے زه د وصل ګل سمام

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته چې شوې د اوربجرې زه هم سره لمبه د اور شوم
چې ستا زړه په تالاش سر شو، زه شوم لاړه. زه مام
د اچه ستا شونډې شوې تږې د مستې د سرو شرابو
د اخوځکه زه جانانه هم شراب شومه هم جام
تا چې سوال د رنا وکه، د بهار صبح صادق شوم
ته مېين چې په تياره شوې، زه د ژمي شوم مانبام
چې تانوم د غرا (۱)، واغښت (۲) ماکړه مرک ته ډيوه ملبه
چې تا نيت د طواف اوکه، نو ما وترو احرام
ما د دوو لپو خاورې، تاله نور او بستان جوړ کړه
خپلې مينې دا سې يو رم، بل م تاله جانان جوړ کړه

بهمکنو تر
۱۹۵۰ع

(۱) غرا د مکې. د عربو د جنګ بت خدائے وو. د اسلام نه اول. (۲) واخيست

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

« اول ستر کے ستا دلید وخورا »

زه خوساز او سرور او خمار پیژنم یا لیلیٰ پیژنم یا ایاز
زه خوغم او اور او دلدار پیژنم یا رقیب پیژنم یا غمازه
دے نسکور شمکور (*) ته د نور قصے د جنت قصے د جلال قصے
(+) منز کوری ته د زهر اقصے د ما بنام قصے د هلال قصے

زه خو گل او چمن او شراب پیژنم او بهار پیژنم او خزان
زه خوشرنگ او رنگ او کباب پیژنم نه گناه پیژنم نه شیطان
دے د مدهوش بے هوش نه د خو طمع ته به ظلم در ته زور دے
د کیگر نه ستا د مالتو طمع او کیگر غریب له اور دے
دے شمکور نه ستا د لید و طمع ، دے نسکور نه تاته د تلو طمع
اول ستر کے ستا د لید و خورا ، بیا گوه د مئینند و طمع

زه خوساز او سرور او خمار پیژنم هغه خرم ته به چے حکلے شم
زه خوشرنگ او غور رنگ او ستار پیژنم او جانا هغه چے لیدلے شم
زه خوناز او مکین مسخره پیژنم ښکلے خط پیژنم ښکلے خال
زه خوشونډے پستے او خله سره پیژنم ، او رنگینه خند د وصال

(*) شب کور - شوکور . (+) منز کوری ، د مور یک چوچی .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه خوستر کے خوبے په ارمان پیژنم، اونړۍ تر مکئے[1] د ملبنام

زه خوست اومنت د جانان پیژنم، د ساقی په سر و کتو کښے جام

د مدهوش بے هوش ته د نور قصے د جنت قصے د جلال قصے

د اګو نکتے ته د باتور قصے، د پرواز د خیشت[2] او کمال قصے

چه پتنګ د نمر رنا نه شی لیدلے

کنا نکار[3] شو چه په شمع شو شیدا

زړه کښے چونګ لپه هیله د خاورے ځای شی

چې ترخاے کړم پکښے دا د نور دریا

څنګه څنګه په یو کوټ کښے دا جهان او آسمان واچوم؟

د شبنم څاڅکی کښے څنګه د سیند و نو دوران واچوم؟

او بیا لا - دا - دے د پاسه به حساب او کتاب هم وی!

د رند و ستر کو بادشاه له به سزا او عذاب هم وی!

دغه شونډے ستا دی جوړے ماله ولے شو عذاب

چه خوا ږه پرے باندے لګی د شکرونه شراب

دغه ستر کے چا کړے جوړے خیشت[4] تیه وکے او حیرانه

په کلونو کښے چا خو رکه دا خایشت د لامکانه

چا که جور څان له مکان خپل روک[5] زما د کل امکانه

زه په څاڅکی کښے دو بیږم - سمندر بے پایانه

(۱) ترمکئے، تر وړومۍ تیاره ۔ (۲) خیشت، خایشت، بنایست ۔ (۳) روک، ورک ۔ (۴) کنا نکار، کنهکار ۔

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه یو تور د تیرے سورے، ته د زمکے آسمان نور(۱)،
بے کنار دریاب د رنګ ته زه یو څاڅکے د سرور
ته ژوندون د کل ژوندون نۍ زه د مرګ لمحه ناکام
سمندر ته د مستۍ نۍ زه یو مات او سوړے جام
ستا په رحم دے نیاز یزدم څکریم وړته کویا نه
د غلام کیلهٔ هم واوره د سپوږمۍ اوستو روخانه
زه خو ساز او سرور او خمار پیژنم، هغه خودم رابه چکلے شم
زه خوشرنګ او غږ زنګ او ستار پیژنم او جانان هغه لیدلے شم
زه خو ناز او مکیز مسخره پیژنم ښکلے خط پیژنم ښکلے خال
زه خوشوندے پستے او خلهٔ سره پیژنم او رنګینه خندا د وصال
زه خو ستړے کے خوږ ے په ارمان پیژنم او نړۍ تر مکئے د ما بنام
زه خو ست او منت د جانان پیژنم د ساقی په سر وکوتو کښ جام
دے شکور نه ستا د لید و طمع، دے نسکور نه تاته د تلو طمع
اول ستړے ستا د لید و خورا، بیا کوه د مینید و طمع

---

(۱) اَللّٰهُ نُوْرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

توقه

ما به شمع شمع کوله
تاکه جور رانه پتنګ
تلمه ښکارله ډکبورو
تاورهېښ کړم په نمنګ
ما ډقصتهٔ وے ملنګ یم
تارهښتیا کړمه ملنګ
ماپېښے کړے، ډ تورزنو
تامِ کورله راوړوجنګ
زه خوغږ کولے نه شم
په کیلوته خفه کیږے
خوحقه داده لویه خدایه
ته په توقو نه پوهیږے

غنی
حیدرآباد جیل

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ډن کښے

کوره بلبل په پنجره کښے جور
لوئے یو جهان د کلونو کې
مست شو صحرا او په خوب کښے ئے
د ک ټول جهان د سیند و تو کې

د اروحانی کارخانه ز ما
زور او ستم نه خمار جوړئ
د الیونے شان حیکر ز ما
او بنے پیئی تر نه هار جوړئ
د امصور په خپل رنګ مسرور
ټول جهان مست او سرشار وینی
د ډن کښے چې او خندا د سیند
څاځکی کښے مخ د آبشار وینی

کوره بلبل پنجره کښے جور
لوئے یو جهان د کلونو کې
مست شو صحرا او په خوب کښے ئے
د ک کل جهان د سیند و نو کې

د تره سپرلے او خوانی شو مخکښے * * * لیونئ روح او رنګین ما بنام
خوا کښے کلاب ئے په مستے تیر شو
شونډو کښے رنګ او کوتو کښے جام

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړه چینه شوه چرته روان — د ژوند او مرګ شروع که ساز
ژوند ژوند دی شو عشق راز غوندې شو — خیشت پټ که شال کښې دمینې راز
بیا خزان راغې کلونه لاړل — ستا رشو غلې اوشراب کم
ځوانی رخصت شو خندا نایاب — دعا اوبده شو اور باب کم
زړه چیل تخت وکړ سر او سودا له — وخت شو بادشا او ژوند مړیه شو
مستۍ جنګ بیله توره ئې کیښوه — سر و رغلام شو جنون مړئ شو
واړه رنګونه تیرے کښې دوب شو — سبا رخصت شو اومانبام راغے
او میخانه شوه د ځیرا وکه — ساقی رخصت شو او امام راغے
خونا کهانه وړه لولکه — په خوب ولاړه شو او خوب ولید
نوے سپرلے او سره کلونه — د عشق ایمان او نر توب ئې ولید
د ځیلے مینے جواب ئې ولید — نوے لولکے نوے کلونه
روښانۍ ولید یو نوی رنګ کښے — خپل ارمانونه، خپل امیدونه
مصور په خپل رنګ مسرور — تول جهان مست او سرشار ولید
دن کښے (1) چې او خندا د سیند — څاڅکی کښے مخ د آبشار ولید
کوره بلبل په پنجره کښے جوړ — لوے یو جهان د کلونو کړه

مست شو صحرا او په خوب کښې ئې
د کې تول جهان د سیند د نوکه

تهمنه بانی حبل

(1) دن = ورځ.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنّت (۱)

ستا د رحمت څه حد هم شته دے ؟ اے بے حسابہ اے بے پایانہ
ستا خیشت او مینہ څوک شی تللے . د ستر کو پتہ روک د ارمانہ

د ملاستر کے د قهرڼ د کے راتہ قصے کوی د دې د اوزور
د جانان شوندے د کوکو وړے وی (۲) راشہ اوکړہ جنت کښے اور

مرګ بلے ستر کے او خورے پنجے راتہ خوزی (۳) الحد ، نیست او عدم
شیطان ، ملا . دوارہ په یو آواز وئی . ستا کناہ ډیرہ دہ او رحمت کم

مشرک ولاړ عصا په لاس ، قبا په ولی دستار په سر
لاتو وزړے د بلبل اینبے ، منبائی شهباز تہ د الم سر

منا پیرک مشرے د کاروان ، د دنیا خیشت او سنګار لټئ
ساړی ژاړی د زړوبت کښے ژوند ون مستی او خمار لټئ

---

(۱) په جنت مانوړم دوه دے اوږده اوږده نظمونہ لیکلی دی ، مخکښے به د انسان په دماغ کښے د جنت تصور ډیر عجیب او لطیف دے . خو عامو انسانانو د یو تصور د پاره هم دومره ډیر ډنه دے هضم کړے لکه د جنت د پاره . (غنی)
(۲) وی : وایی . (۳) خوزای : خوږوی .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کونکت د سوتو په دیری پورته ، زیرے لوکے ته د نوریان کی
چینجے د خاورے په ممبر برہ ، قیصے د حورو او د آسمان کی

حکہ په چغوزہ د جمات لارم په لوری د میخانے
دے خپلو ستر کو دوب کړم د الله کړم هم شرابی کړم هم لیونے

خوچه په بلدو او بد رنگو خپل لکه د سکور لوگے او د شمه
چه سُرا او تال م تیاره فنا کړی د بے وسئے فریاد ژړا او شور شمه

نوحان ته وایم تانه واورم دا د مجبورہ زړگی بهانه
ستا خیشت او مینه څوک شی تللے ، اے بے حسابه ، اے بے پایانه

غنی
خانپور جیل

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپرلے

بیا سپرلے راغے بیائے پیغام راوړه
د رنګونو۔ ګلونو۔ او۔ رنا
شو ساقی مسکے ډک ئے جام راوړه
د مستئے۔ خوانئے او خندا

یو سبا راغے۔ یوه شپه لاړه
د تیرو۔ پریدو۔ او ارمان
یو زیړے کل مې مانبام ولیدلے
سلامونه ئے کول د جانان

دا د ماغ زما چرے نه منی
چه د کل خالق په سفر کړی جور
څنګ خوږے به په نه کړیکے لګی
چا چه ماله نرګس او د لبر کړه جور

دا شینکے چمن۔ دا کلونه سر
دا مست مست شا مستانه مانبام

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ثبوت د ساقی د مینے دے

دا د سرو شرابو بر پورہ جام

د ساقی چہ ستر کے خمارے دی

دا خمارئے ماتہ جور کړے دے

د جانان چہ شونډے دلدارے دے

دا سینکارے ماتہ جور کړے دے

دا سپوږمئے اوستوری اومست مانبام

مشغولا (۱) نړما د غمونو دہ

دا پہ مامئین دے مالک نړما

څکہ د کہ دنیا د علوتو دہ

سپرلے څہ د جانان مست شونډے

ہر ډ ساہ اوزرہ کښے خپل نور خوری

پہ کلونو کښے خپلہ رنا خوری

پہ نسیم کښے رنګونہ د طور خوری

چہ تر خویوہ نظارہ د رنګ

د غږ رنګ د مستئ پہ انسان کښے دی

تر ہغے بہ دا زہ و نہ منم

چہ اورونہ بہ ہغے جہان کښے وی

(۱) مشغولا = مشغول.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه جور کړے نه یم سزا له یار
زه ئے جور کړے یار ما نے له یم
مانه مینه ـ خندا او مستی غواړی
که جمات که بتخانے کښے یم

بیا ساپر له راغے بیا پیغام راوړ
د رنګونو ، ګلونو ، او رڼا
بیا ساقی راغے ډک ئے جام راوړ
د مستئ ـ خولئے او خندا

بیائے سړو کوتو کښے وینوړ
لیونی ته جام د غمونو ډک
د ژوندون نه ډک ، د فراق نه ډک
د وصال د رنګونو خوبونو ډک

فروری
۱۹۵۰ع

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندون

لکه کال کښے سپرلے اوخزان — لکه روح کښے سبا اوما سنام
لکه سینه کښے چپے اوغلے شتے — لکه ژوند د مرکی دے غلام
لکه تله. خلاصیدہ دمستے شته — تشیدہ . ماتیدہ . د هر جام
ژوندون څه دے یو سیند دے روان دے — اول لوے موجونه بیا تمونه
بیا تش شر شی چپے نے وړے شی — غلے لکے شی دیر شی دیونه
اول هر یو غورزنگ کښے ورانے کی — ورانوی غورزوی کولوے غږونه
اول هر څوک روکی یو (۵) بل کی ځای — بیا دبل شی روان کړی نهر ونه
دریابونه لوټ لوټ کړی فنا کړی — غورزنگونه لښتی کړی تالا کړی
یانے هر څوک د خپلوانو دل وی — یا مړ شی خدمت د هر چا کړی
ځان کړی روک خو کلا باد نرګس کښے — په زرګونو سینه نه پیدا کړی
ژوندون څه دے یو باغ دے لویږی * * * روکیدل (۱۱) د خیشت زیاتیدو له
خپل ژوندون خپل سنګار د رکول دی — سوزیدل د ژوندون خوریدو له
د انګور په شان روک فنا شه — چه خمار شے د چا ستر کو سره وله
د منصور په شان او خبره دار ته — څه بهانه لټوه رسیدو له

(۱۱) خیشت : بنایست . (۵) روکی : درکوی .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندون څه دے یو خوب دے لیدے شی دخندا اوژړا واک دَبل دے

یو دوران دَسحر او مابنام دے دَمابنام او سبا واک دَبل دے

یو رنګین شان محل دَهوا دے دَهر کوټ دَهوا واک دَبل دے

باغ دَبل په ګلونو زه پریږم غم زما دَخندا واک دَبل دے

* * *

ژوندون څه دے یو سازدے غږیږی

کله پوست، کله زیر۔ کله بم

کله اور سوزیدہ شور غوغا شی

کله غلے، قلار، شومه دم

کله شرنګ دګنګروشی خارشی

کله یخ اسویلی اوماتم

کله تال مستانه دَخیام شی

کله سپور مابنامونه دَغم

که وی تریخ۔ که وی خوږ تیریدے شی

ژوندون څه دے یو خوب دے لیدے شی

غنی

دارالامان

په پیرول

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلہ لار

رحم فقیر لہ روا ، بادشاہ لہ حرام دے
شاعر لہ کوټ د زمزم د میو جام دے
بښل د مینے کمال خون د انصاف دے
سخاوت شان د خان مرګ د صراف دے
رقیب لہ شور او ماتم یار لہ وصال دے
یولہ د دوینے څاڅکے اوبل لہ لال دے
مالہ د کند کنډ ۔ لالہ تہ بام دے
یولہ د مرګ پیغام بل تہ دوام دے
د عجیبہ ژوندون عجب کاروان دے
دے کوښ دوکان کښے کتہ کښ زیان دے
یو ناست محل کښے غمګین حیران دے
بل تہ ایرو کښے وېر پروت ایران دے
دا روک کاروان کوم خوا روان دے
روند ئے نظر دے اوچ ئے ایمان دے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ظالم ـ جابر تہ ـ سجدہ ـ دُعا دہ

ھیرے دَعُمرہ رحیم رحمٰن کے

دَزورا او یَرے (۱) بت تہ نسکو ـ بند

دوک ترے دَمینے ـ دنور مکان دے

دَبل دَوینو لاس کښے جام دے

تنک لے جمات دے روند لے مام دے

خوزہ خہ دکرم چہ دینم پہ تمرو کښے رنگ دَیار

دکلو نور ژبد و کښے امبدونہ دَبہار

دَتاوان قلا کښے پتہ دجنون ناوے مستانہ

رنگ محل تہ نہ شم تلے دَصحرا نہ دَجانانہ

مالہ غم ماتم دَیار نہ دَغم دَغم تعویذ دے

مالہ بل کل تہ کنہ بے شرمی دَشوق دَبیزدے

ھغہ غم چہ مستول کری دَنامبا تو نہ (۲) لذیذ دے

زلیخ تہ تور خنکل دے سوے محل کہ دَعزیزدے

مالہ بلہ لارہ نشتہ دَجنون او دَجانانہ

کنی خوښہ مِ خندادہ، دیرہ دیرہ دَژڑانہ

غنی

دغرسر

دیرہ اسمٰعیل خان

(۱) یرے : ویرے ۔ (۲) نامبات ، نبات ۔

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

قسمت

زه نرمه خپه یم لاس دکولال کښې
یا به دمیو جام شم اویا کوزه دجمات
یا د پیرکنې دزیارت دمیخانې فانوس
یا د دیران تیکرې سړې اوبه مات
خوانی مستی څوندون دبل دلاسه دی
خانه وس شته اونه یم واک
شیخ په باغ کښې دیار دکوره
کوم کل پلیت کړمه او کوم پاک

څنګه ملامته زه په ګناه شم چې وس قسمت اوتدبیر دبل دے
څنګه ستوماني زه په خندا شم خوب دبل اوتعبیر دبل دے

! یم ګناه ده مین په کې یم
نه زه دکل آقا نه د نظر
نه یم د واک دی خماري ستر کے
نه اوبه ے شوندې ملاتوسر

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مانه دی اینبی دَ یار نظر کښے　　سپرلی کلونه اوسوړ خمار

مادَ خپل نوم نه دی جوړ کړے　　شرنگ او غوړنگ اورنگ دبار

مادَ سبا په پسته دنیا کښے　　نه دے خور کړے دَ جادو ساز

چا شیرنئی وو فرهاد ته خولے　　چل جوړ محمود کړه خان دا یاز

زه نه پوهیږم چه چا رومبانه

دَ زهرا نور که په مخ دَ لال کښے

زه تصویریم دبل دَ کوتو

بے جبانه (*) حنته لاس دَ کولال کښے

یا به قسمت وی یا به دوزخ وی

اوکه وی دواړه نو ته رحمٰن ئے ؛

نه شم زغملے . نه شم منلے

چه ته جلا دئے او هم جانان ئے

غنی - خانپور

(*) جبانه : زبانه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

قارغان مارغان

تراوسه پورے موډ ژوند دے نه دے مسئلے واړه واړه راواړه ولے. دلو
ورځے نه چه آدم له قانع هوش ورکړے دے. داسوالونه دهغے ورځے راروان دی. هر سړے
وله دخپل طاقت اوپوهے په مناسبت جوابونه کوری. انسان ډهر سوال جواب شته
ولے دمرګ جواب نه لری. دجهان اکثرے فلسفے اوتول مذهبونه دعزرائیل
دشامنشاهیت برخلاف بغاوت دے. تول ددغے توره کنډے نه تښتی. څوک یو کز
څوک یو میل اوځوک نیمیله خو دغه چغه یې کړې، لکه ماچه پیسوانی کښے یو دنه وهلے وه.

خاورے

چغے وئ اجل ملا ته اورے که نه اورے
تشه خاوره نه دے غنی څنګه به شی خاورے

او یا بله ورځ چه ذلحد په تورو زړو مړو دستے سورشال
ویرکړے وو.

---

(۸) وئ، وهی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرکے

مرکے دِ راشی چه کله ئے وس وی
کل به م لاس کښے وے اویا به اَس وی
یا به توپک وی یا به قلم وی
ډوب به خندا کښے د دنیا غم وی
په څه موبخت وی دومره به بس وی
مرکے دِ راشی چه کله ئے وس وی

ولے آخر سړے ستړے شی ، او دا اومنی چه ،

چه جام کښے کوټ کوټ شراب کمیږی
سپرلے خلاصیږی کلاب کمیږی
دنیا د شمع کښے د سحر نور راغے
کور د بلبلوته نوم د باتور راغے
ستار کښے شرنګ هغه د ما بنام نشته دے
سرور په ستر کو کښے د خیام نشته دے

د بنکلے نه بنکلے ، د مست نه مست ، د سوزنه سور کل آخر خپلے حیرانے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

او غمجنے ستر کے دَخزان یخو او بے رحمو بادونہ پورتہ کړی
او دخپل ژوند د شروع او خلاصیدو تپوس تر وکړی او
دغے تہ وایو مونږ فلسفہ .

زہ مرګ یوہ وړ ځ پہ مخہ کړم ، او دَ خپلے مور دَ سینے نہ
ئے دَ خاورو هغہ ډیرئ لہ بوتلم ، کوم ځائے چہ پہ
یو دشت او بیابان کښے دَ هغے هډوکی پراتہ وو ، ما چاپیر
چاپیر او ګتل . ستغ دربہ ، سرہ خاورہ اوشنہ کانی
وو . دلتہ نہ دګلونو چمن وو ، نہ دَ بلبلو باغ ، دَ دَ بدرنګئ
پہ سمنده کښے دَ حُسن یوہ قطرہ هم نہ وہ ، زہ دخاورے
دَ یو ډیرئ خواکښے اودریدم یوہ ماتہ شنہ خازہ وہ
مثل دیرش کانی بنکتہ پراتہ وو . نورے تولے او چے
تبرے وے خاورے وے ، مرګ هم را ورسید او شاتہ
م دَ آسمانہ او چت ولاړ وو ، خو ما سر او چت کہ او
دَ مرګ خالق تہ م او وے ،

زہ دَ هغے لال زہ دَ هغے دستر کو تورو مہ

زہ بہ دَ هغے پہ سینہ تل وُدہ نسکورو مہ

او سئے بنکتہ بنکتہ دَ مزار ګانو تہ کورمہ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاورو کښے هغه ډه چه نے زه ډ زړه هلال ومه
هغه لال شو خاورے چه نے زه وړو کے لال ومه

لاړمه آسمان ته ماوا ے ډ جهان مور سپوږمئ
زوړ دمرکی زیات ډے که ډے زیات ډمینے زوړ سپوږمئ
اوړی په لحد کښے څوک ډ سوی زړکی شو سپوږمئ

موتے خاورے څنګه پټ ډ حُسن یو جهان کړی
یو پوکے ډ باد دا چمن څنګه بیابان کړی

خول م نه جوړیږی چه ظالم وایم رحمٰن ته
خو مرګ چه ډ جهان بادشاه کړم څه وایم خان ته
ولے دروازه د علم لرا، نه شوه انسان ته
سیال نے ډ خان ولے کړم چه زه ډ خاورو سیال ومه
هغه لال م څه شو چه نے زه وړو کے لال ومه

خو د څوند خایشت دادے چه تول عمر انسان
سره ډدے ډ خلاصید و نکړنه وی ، کله کله نے دا
تولے غټے غټے هیرے شی ، او په خپل ماحول کښے دوړو
وړو خیزونو په تماشه شی او دوړو وړو شمعو په تلاش
کښے خان ډ هغے لوئے تاریکئ نه اوتښتوی .

(۱) لر - لوی - پراخ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دحیدرآباد سنده په جیل کښے زما د توتے تو ـــــ تے
مستقبل نه علاوه د پیرنورخه هم وو، د چکنے د دروازے په خواکښے
د میبرو جالے وے، کله نا کله به زهوبن د احاطے په کیکر کښے کښتر(۱)
کیناستے، کله به مونیمه شپه کښے د تارو چرچق واورید
کله به تور قارغه لکه د یوجمهوری وزیراعظم د شور او
چل نه دک په دیوال کیناست. د بمبے خواله به مانبام کښے
چینلخه راغله. د دیوال د پاسه به د اوبس بربر راغے
او په دغه د رڅو کښے زه د پیرونو تر ے اویوازے وُم، نو ما به
دے تولو سره خبرے کولے. میبرو ته به م خپل د تیلو
پوخ ساک(۲) غورزوُ، او کمترو ته به م خپله د باجرے دودی
چوری(۳) کوله. دا روان شعرونه ما د هغوی په مجلس
کښے لیکلی دی که زه د هغوی په طبیعت نه یم پوے شوے
نو معافی غواړم زه د انسان هلډوکی لرم. او د چینلخ
په څرمن نه شم ننوتے.

(۱) کښتر: کوتره. (۲) ساک: سابه. (۳) چوری: مالیده.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چینلخ

غ دِ د شیخنو په شان نه خاندی اوښیار دے
بنکلے دِ آواز لکه د ژرندے د غرار دے

سترگے بتے بتے، بغے بغے تشے تشے
چغه دوه منے غریبه، تورہ دوه اور بشے

خُله کبزه وِښ لویه اوږده او وازه وِیته
زرد دِ زرکے خورشی دنکاچه کړے راپلیته

خیته دِ چیته، لویه اوپلنه د لالہ په شان
لښاے دِ پاپے، ارتے سپین مے د نتولا په شان

توپ وے تُل نه کے څه بد رنگه دِ رفتار دے
بنکلے دِ آواز لکه د ژرندے د غرار دے

اوسے په اوبو کښے د تپخ اود ملئ په شان
کښ دِ د سړی هسے کانته دماغ کمئ په شان

کرزے په پتو کښے د نولی اود لومبر هسے
توپ دِ د ملخ په شان، غټے دباکو کړ هسے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه اوبه څه خاوره شوے څه من څه کبوړے
کلهٔ دِ په ستر کو کښے چپے وی کله دوړے
رنګ دِ بے نمکه دَ خزان نه دَ بهار دے
بنکلے دِ آواز لکه دَ زړند ے دغزار دے

شهپ کله بنانګ کښے کله شهپ دَ لښتی غاړه کښے
چې ماشے چه پښې شی خیل خانه ورله ویجاړ کړے
خوب کوے په خاورو خو مستی یاړی اوبو کښے کړے
اوسے په تیراه (۱) کښے خوچې راوړه پیوه (۲) کښے کړے
پنجے دِ دَ بتے اولینګی دَ چرګوټی په شان
چیت اولنډ اوپلن، راغونډ وجود دَ مرهټی پهشان
تنګ دِ دَ دله دے رنګ روغن دِ دَ بنامار دے
بنکلے دِ آواز لکه دَ زړند ے دَ غزار دے

(۱) تیراه دافریدو وطن.
(۲) دَ پښاور خواکښے کلے دے. یکښے مشهور زیارت دے.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرثه

اوسے پہ کندو کښے یارہ غل نے پلار دِ غل دو
مور دِ غلچکئے وہ، ستا نیکہ دَ بد و مل دو
قوم دِ حرام خوردے قبیلہ دِ حرام خورہ دہ
مرشوے پہ غورو پسے لکئے تورہ دِ سپورہ دہ
ستر کے دِ کاسیرے دی، چلبازدی بے شرمے دی
کلک دِ دی غابنونہ او پا پئ دِ نرمے نرمے دی
خیتہ دِ کوپئ دہ دکدو پاد شنا نہ مے
سر دِ دَ نولی اوبرتوکی دَ تُرہ باز مے
غلاکے دَ غریبہ غلا دَ خانہ، دَ بنہیا نہ کے (*)
سید او مُلا نہ پیژنے، بوتہ دَ ھر چانہ کے
ستا د اړو کے (۱) خیتہ دے ھمہ جہان مړہ نہ کړہ
ستا کاسیرہ تندہ دَ عمر و نو غلا سرہ نہ کړہ
ذات دِ خُناور دے خو خوراک کے (+) دَ انسان مے
اوسے پہ سخسوری کښے فیرنی شتے دَ خان مے

(۱) ړو کے ۔ وړو کے ۔ وړہ (*) کی : کوی ۔ (+) کے : کوت ۔

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه دِ دَ یزید دے طبیعت دِ دَ شیطان دے

چین دِ دَ منت دے خو همت د پهلوان دے

خوورشے چه پیشوله نو پولاؤ پیتی دِ هیړه شی

پښ په خیته مورشی په تاکیاړه - باړه - تیړه شی

غل تر هغے غل وی چه ترے ښه غل پیدا نه وی

چل تر هغے چل وی چه ترے ښه چل پیدا نه وی

دوه دانے ترے اوخور دوه درئ خاورے ایر کړے

اوبه دے خوله دِ خاورے شه انبار ذرے ذرے کړے

خوئے دِ دَ خنزیر دے اوفطرت دِ دَ سنا مار دے

خوله کښے دِ آفت دے اوپه شوند و کښے آزار دے

خوغوته چه شی سخته آخر پښه ئے چاړه شی

ته شے په جوار و پیشو چان په تاماړه شی

او سے چه کوم کور کښے حرام خوړه هغه کور لوټے

دا سے حرامی ئے خپل بابا او خپله مور لوټے

خوورشے چه پیشوله نو پولاؤ پیتی دِ هیړه شی

پښ په خیته مورشی په تاکیاړه باړه تیړه شی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بازیگر کمتر

چاله لوبه چاله تنده — چاله نور چاله نظر
څوک بندی دخپل نه کړی وی — څوک غلام دخپل ځیکر
یوجور کړی دسقر نه — سره چلونه مار یکر
بل د حورو د غلمانو — نه جور کړے دے سقر
په تیکری پسے ژاړی — یوخواناست پخت قاړن
بل خوازر رنګه وصال دے — اولکها قسمه بیلتون
چرته سپی ته خپله لوبه — هم لیلیٰ شی هم مجنون
کله خر ته خپل خر توب شی — مست حال دور رنګین افسون
دلته رهنګ بله رنګی دوړی — د احساس کتول یوجام دے
زماستر کو پیدا کړے — سپین ساقی او تور الهام دے
شپه او ورځ زمانظر دِ — روند له عمر اد ما بنام نشته
زه عاشق څکه درّب یم — چه انسان له دوام نشته

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژَبَ دے هرڅه، اوهغه چه زما هوش په نه پوهیږي
ژَبَ زما دَ روکید و نه بَرَه، لوے، سپین مقام
ژَبَ زما دَ هوش صحرا له یو محمل دے دَ کمال
ژَبَ زما دے مترې سره دَ مستۍ بر پورهٔ جام
دا دَ روکو په وطن کښے یو ارمان دے دَ دوام
دا په تورهٔ تورهٔ شپه کښے محبوبا ماه تمام

چه امید دَ هوش یاغی شو
چه مد هوشه شو نظر
خپل طاقت و تړه سرور شو
په سیل و وت باز نیکر

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوچے

"کوچے" زمایو پیر زبردست سپین سپے
ما قسم قسم سپی ساتلی دی۔ انگریزی
جرمنی، لغمر او بیر، ولے دَ کوچی
په شان بهادر، خیشته
او او بنسیار سپے
نه پیدا شوے
دے او نه به پیدا
شی، زما دَ بند په دوران
کښے مړ شو.

زما کوچیه! زما کوچیه — تهٔ خو پسے نه وے زما آشنا وے
په تنه نړوے ترا نه ریه — قصهٔ مینے نوم دَ وفا وے
چه نړه او چت وم دَ کل جهانه — په لکها سره م دا سړی بره
ستا سترگے زرد مینے دے کے — تیرے دَ ژوند دَ خان او سره
چه نړه آسمان نه خاورے وله راغلم — تاج م راکوز که او کجا رل م دا خت

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

شال اود ستار او خاعت م ورکه کندم په سر که او جمول م وخت
تا نه زه هغه شان د ملک بادشاه دم هم هغه ستر کے هم هغه مینه
چه تول جهان غپل دا ول کړل تار قوله لکی مهینه

ته خو آشنا وے زما د ستر کو
نه م د ه زور ے و او نه د ه زړه
د تقدیر تول که د دوند که سپک شو
ستا بس یو تول و او یو نظر و

ته زما یار وے د بد و ور خو د بد و ور خو یار نه هیریږی
چه تول جهان یو تور صحرا شی د سره کلونو خار نه هیریږی

هائے چه د ژوند په ر نا بلے
ستر کے روښانه ستا د وفا وے
نا کوچیه ! نا کوچیه !
ته خو سپے نه وے زما آشنا وے

(تمندیانے)

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تورانئ

دا سے تکی په لښتو ژبه کښے نشته
تورانئ چې پرے زه دوایم ثنا ستا

دے دَ خاورو جوړ وشوندا کښے څنګ خاکم
خوشحالی، مستی، ځوانی او خندا ستا

دَ غمو پرځنګ په تولو کښے منکاړه کړم
څنګه کیږم کړم مینې مې درڅ دام کښے

څنګه وینم په کوټو کښے سړو دستا
څنګه واچوم دَ نورو د یار په جام کښے

څنګه خوب دَ ځوانئ کړم بندی دَ خاورو
په څه اوتلم رنګونه د وصال

څنګه نور دَ یار دَ ستر کو لاس کښے واخلم
څرنګ اوترم پلو کی کښے هلال

نادیده غلام د ربار کښے دَ سلطان
دا سے زه ولاړ ستا حُسن ته حیران

داده بس چې مجبورئ م خپله اوښوه
تورانئ نه شم کولے ستا یان

خو چې ستا پیغام دَ نوی صبا واورم
لکه ګل چې دَ سپرلی واوری پیغام

تیاړه میږه کړم په طمع دَ رنا شم
په لحد کښے او څکم دَ مستئ جام

امید و ینې شی ژوندۍ ته بل خیشته مثال کړی
دَ مرګ دَ مخه تاو دَ ژوند و ن شال کړی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مُلاچرک

زیړ دِ قمیص دے — خړ دِ خنبتک دے
شملہ دِ نیغہ دہ — اوکوټ دِ برک دے
تولہ ورځ کنے کنے — په ځان مینہ
چا خوار چینجی پسے — کنډہ کوینہ
نمایشی شان ئے — کړے دَ نخرو الوتہ
دَ مشرو تونہ دِ ک — ستا قدصونہ، کاتہ
پخے پخے دِ ستر کے — دی دَ پشتو (۱) په شان
په درنیجہ درنیجہ تلہ — دے دَ تہو په شان
دَ سلیمانۍ دَ لالی ! — نوم او صافہ دَ امام؟
یوخوا قبا او تسبے ؟ — بل خوا پیالہ او خیام ؟
یوخوا سپین روے ملک — مَړینے درهسم او قانون ؟
بل خوا د مینے دلال — بندی دَ رسم او افسون !

---

(۱) "پشتو" زما معزز او محترم دوست مهر دل خان دَ هوتی - خان خیل، قند ئے وړو کے دے، خو دماغ ئے ډیر اوچت دے. او مونږ وینه دَ قهر او محبته - پشتو " وئیل .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوخواتنکی تاریکی د بل د خیال سودا
د هال او بچ سودا د خان اومال سودا
بل خواد بل په مینه خان اوناموس ورکول
پټ شاباشی له د زړه د خار جلوس وکړل
یوخواد بل مسترکو کښے د درنیدو تالاش
بل خواد ماتو خانکو د الوتو تالاش
زبرک اومعقول پخمنیه یکه په سر مُلا
تاکښے بنکاریږی ماته د څوند عجبه قصه
چه کله ته والوزے د ملکه سبا، وویښم
اوسلیمان ته خاورے تولہ دنیا وُویښم
د بحر وبر بادشاه وړے شان جوړے ته
قربانوی خوشحالی د غم میر منے ته
د کل خندا وُویښم د لولکی پرواز
د محمود اوزے مسترکے معصومه خُله د ایاز
زه د آدم د جوړښت په وجه رازپوی شُم
په خپل انجام پوی شُم په خپل آغاز پوی شُم

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بورا

تورہ بورا تورہ — تہ محمند ئے کہ خٹکے (۵)
زہ کنبے دِ کونکت — دا ارمانونہ دلو لکے
مور دِ کل اندامہ دُ — بابا دِ تُرابان (۱)
رنگ دِ دَ شاخیل — او طبیعت دَ شاھجمان
بنگ دِ دَ دمبردے — فلسفہ دِ دَ خیام دہ
تور کونکتہ تاکوم خانے — خٹکلے خو دجام دہ
تادَ رنگ او حُسن ساز — دَ چا پہ ستار واوریدہ
تادچا دَ خُلے داستان — د مینے او یار واوریدہ

اے تورہ دیچکیہ تاکنبے مے دَ شیرازولے
اے خپلہ ما بنام : تاکنبے نور او کدازولے

خو یارہ تاکنبے م ! — یو صفت بَدی شی
ستا کوخہ دبشان : — م عادت بَدی شی
اے مرجانی عاشقَ — دَ یو کل یار نہ ئے

---

(۱) تُرابان ھغہ دیو دو چہ پہ کل اندامہ بابا پیرئی مینہ دو.
(۵) خٹکے : خٹک یے .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مینے نوم دِ سپک کړ — د یو دلدارنې نے

هره لمحه لحظه کښے — نوے خمار لټه نے

او په منصب د مینے ته بے وفائے — پروان دبل د اونن نه زمائے

په رنګ او بوئ مینه — جانان دِ میرد ے

خوانی مستی ښکلوے — خزان دِ میرد ے

د فراق تور غمونه — ژړا افسوس او ماتم

میرد دی اوچ سینه ده — زړه خوانی، نوے غم

د زیړ و ګلوشان کښے — مرګ روکیدُ دِ دی میر

د نن په شوق مسته — سبا رانله دِ دی میر

داسے بے ټوله ته نے — څنګ بے پایان چه نه یم

ته د هغه نے بورا — د چا انسان چه نه یم

تا کښے رښا او تیاره

سپین شته او تور شته

چه ته ښکاره شے نه وے یم

زما هم دور شته

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تارُو

وګورۀ یو ونځے تور تارو په سجده پریوتہ
وے کړلہ رَب تہ عجیبہ غوندے دعا
وے تورو لے تنده ے دے اوخړه و لے زانہ ؟
ولے یو۔ باتور۔ یوه کنجۍ ۔ یوه هما!
زه به تل حُسینؓ یم اوښکاری به تل یزیدی ؟
لاس کښے کلہ دام۔ کلہ توپک ۔ کلہ لینده ؟
پَرَدَ بورا یوسی تور بورا دَ کلو مینځ لہ
پروری کنجۍ غریبه بوی لہ او دیرا ن لہ
پَروری لولکہ، لکہ باد دکلو پانے
پروری پتنګ د نالہ ، سوزلہ، او تاوان لہ
پَرُوری مینے دے تورانئ ښارو منبو کے لہ
پَرُوری کرکوره دَ شهباز او شِکری نو کے لہ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پَر قارغه په کند، پتنګ ورواچوی په اور
پَر عقاب له فخر او تپوس له شی پیغور
پَر یَو په باغچه کښے د صحرا د درد لیواله کړی
بل له جام د ژوند شی، جام د زهرو د منګو
پرد عقاب لوئی شو رتبه وے د تنزرو!
وے هر مارغه کښے نشته تله د توتکرو
وے هغه ملک دِ د شهباز د شکرے کورکه
کوم خائے چه درانه کړی سیلونه د کمترو
یو تنزرے بس دو ستا کمال بنکاره کو لوله
بنکلے د طاوسه خوش زبانه د کمترو
بس چه یو مارغه وے، یوئے پرے او یو ته وے
بس چه تل باجره وے، خادر دے دوے دوا ښه وے
بس چه تل سپرلے وے، زیر کلونه وے، سبا وے
بس چه بس یو ته وے، یوارمان وے، او یوزړه وے
تول جهان خاموش شو د خپل زړه آواز ئے واورید
زیر لکه غلام، د بادشاهانو راز ئے واورید
تول جهان خاموش دُ، یو آدم دو چه گویا نه شو
مینے دا سے یو رو بے خبره د خپل خانه شو

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

وے ،زړلکھا سوالونہ څوند جواب یم زہ ئتولو

زہ یوہ قصہ نہ یم ،خو باب یمہ د تولو

زہ کلہ مراد، کلہ ارمان ، کلہ غرور یمہ

زہ تنک او تکور یم ، زہ شراب یمہ د تولو

زہ یمہ مخلوق خو د خالق د رنګہ ډک یمہ

زہ کامل کمال ،زہ سُر رباب یمہ د تولو

زہ یم تورے پنجے د باز ستر کے د تنزرو

ما کے پټ ارمان د حُسن۔ زور دِ د وزرو

پھار پور

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کور کورہ

څومرہ ښکلے تصویر دے ستا څومرہ ښکلے دے آواز دے
ستا په نظر کښے سپوږمئے پټہ ستا په پاپوکښے ایاز دے

مخ دِ نازک دماشوم په شان
خوئ دَ خیشتہ نازنین هسے
خیال مستانہ دَ خیام په شان
تلہ دمخمور ماُ جبین هسے

مینہ کے لوبے ستر کے وے نازاونخرے دَ دلدار کوے
تہ دَ گلاب اونرگس په شان ماتہ قصے دگلزار کوے

ښکلے ثبوت دَ خالق دَ خیشت
مالہ قصہ دَ جنت نے تہ
ماتہ داستان دکرم کوے
مالہ دلیل دَ رحمت نے تہ

ستادہ کوکو خیشتہ آواز مالہ اذان دَ بلالؓ دے
ستادَ خنا دنہا وجود مالہ پیغام دَ وصال دے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مچ

شغ شی چای کښے راغوتہ شے　　داډ څہ خر بیشے رنځ دے
پکښے دا سے چورلک اووے(۱)　　تہ بہ وے ډنګرے(۲) منځ دے

اوبۍ ژبہ دِ شہ خاورے
نہ دِ خوب شتہ نہ قرار
پہ تړو سوتو میلنہ
والے(۳) ئے ډچا آزار

ډھر چا کړہ میلمہ ئے　　نا بللے بے عزتہ !
نہ پہ شرپ باندے جاروزے　　نہ پہ سوک اونہ پہ لتہ

تور دوخ بے شرمہ ستر کے
تیار خورے مردار خورے
بد دِ خوئی سخا دِ دوډئی ډُ
پہ هر شی ډ پاسہ سورے

کہ بنور واوی تہ پرے مرے　　کہ غورے وی ستا پکار وی
ستا پرے بے صبرہ غوتے وی　　کہ خاشنہ وی کہ انار وی

(۱) اووے : دوھے ۔ (۲) ډنګرے : اتن ګلۍ ۔ (۳) والے : وھلے ۔

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بے غیرتہ خوئے دومرہ
دمہ رور وینہ څتے
اے شہیدہ دَ کبابو
اے غازی دَ پراتے

کہ پخوس خپلہ اِن دِمڑہ شی تہ دَ خپلہ خویہ ناوُ ړے
ړے دا سرد خپتے زارشہ شرپ شی زیړ خپتہ واوړے

بَلہ ے بَلہ دِ پاپئی دی
دلینگو پورے لړ لے
خُلہ دِ زیړہ پہ لاوُن دہ
چہ پروان دِ ووخورلے

سخا میرہ، لبقرے باز بویہ ستا پولاوُ فیرنی حلوا دہ
ستا دے خپتہ کنبے دوزخ دے ستا دے شونا وکنبے بلا دہ
تولہ روحے چپہ چپہ ستا دا خُلہ اوزگار نہ شی
دَ دنیا کنڈ ونخلاص شی ستا قلمہ قلار نہ شی
خیرد کڑے را روان دے تور اور بوز بہ دِ چپہ شی
چینکہ خُلہ بہ چرتہ پروت ئے دا قلمہ بہ دِ پاپہ شی

زہ بہ خورمہ پہ قلارہ
تود شربت او خوبہ کڑے
دا بوبئی نیا بہ دمڑہ وی
تورہ مچہ تہ بَسم[1] مڑے (حیدرآباد جیل)

(۱) بسم = بہ سم۔

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږ زمری

په ۱۹۲۹ع کال کښے زه په دویم ځل ډهرۍ پورجیل ته
راورسیدم. دا زما ډېرشپږم او دویم کال وو. په دے دوه کښے
ما د پښتو ادبي ټولنې جلسونو کښے ډیرے ښه
ورځے تیرے کړے وے. مونږ ټول یاران. د هستان څپلې
خپلوان د پاکستان په ټولو صوبو کښے خواره شوي وو خو ډهرۍ
جیل ماته د کور په شان ښکاریده. خکه چه د دے کښے زما بابا
ډیر کلونه تیر کړي وو. ډهغه ډلاس ډیرے وخته ډلته کښے
شنے ولاړے وے. زه ډحیدرآباد ډجهنم نه ډلته پکال پس
راغلم او په ډیره مودې پس مې یو ورځ د ډزیرو کلونو نه ډک
بوټے ولیدل، هر سحر چه زه به پاڅیدم نو ډهغه سلام له
به لاړم. زه په انګلستان، یورپ او امریکه کښے ډیر ګرزیدلے یم
او ډیر لوی لوی باغونه مې لیدلی دی، ولے دومره خایښت
اورنا په یو بوټي کښے هم نه وه. څومره چه دغے غریب او
ارزان کل له ډخوا ډ او سپنے توړے پنجرے او چاپیره

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تور ماحول ورکړے وه. دے پنجرہ کښے ما سره نور شپږ ملګری وو:

۱- پیر شاکرالله دکوجر ګړئ.

۲- خانخیل مهردل خان دَ هوتی دَ نواب هوتی ورادہ.

۳- جهان زیب خان دَ وزیرو. زما دَ تور وزی.

۴- فردوس دَ مانیرئ چه مونږ ورته دَ میتے نه کوکوایو.

۵- زرین خان دَ میاسے دَ پارلیمنټ ممبر.

۶- یوسف خان بابوخیل.

یوما ښام مې دماغ اوتښتید، دا دَ تورو شعرم اولیکه او دوډئ نه پس مې واوروو:

دلته کښے پنجره ده په کښے شپږ دی از مری
څوک غټ، څوک اوږده دی، څوک څارونکی څوک نری
روره پاکستان عجب جوړ کړے چړیا ګړۍ[11] دے
بند یکښے، دیوان، پیریان، ازوزی بنا پیری

(۱) ورته مخانځ ورو پنجره ده دَ کوکو
مخ ئے اوچ یو بند دے دے په مثل د ماکو

[11] چړیا ګړه: باغ وحش.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

رنگ ئے ډفیر رنگ دے خوی زړه دِ ډ پښتون
تن ئے ډلیلے خو همت دهلا کو
وښی اوکنه، اوکنه، من کنه من من کنه
یار ګه رتب زه کړم ډدے تولو تولوا کو
زه به داځار به څټونه کړم یوځل نری
دلته کښے پنجره ده پکښے شپږ دی ازمری

(۲)

اخوا تے زرین دے ډ وطن نوم ئے میاسه
هر مانبام او باسی ډ خبر و نو خلاصه
غابن ډ غریب نشته کنی خوښ ئے دی چرکان
هره ورځ کډ و خوری ورکے خوار له دلاسه
تن ئے ډچنچنے دے خو عقل ډ لقمان
خیال کښے انتشار وی اوزړګی کښے تلوسه
حرص ډ دنیا ته لګوی د ننګ کوری
دلته کښے پنجره ده پکښے شپږ دی ازمری

(۳)

بل سر کښ یوسف (۱) دے هاضمه ډ غریب ورانه ده
هر ورځے قصه ډاډ رقو، پوکو، روانه ده
دال ئے هوا بند کړی، الوکان ئے اینه سیزی
غور ئے زړه له بد دی مساله پرے کړ، دوګ رانه ده

(۱) یوسف خان آخر معافی او غوښته او کلی ته لاړ. إنا لله وإنا إليه راجعون.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مالکه ئے ستر کے زیرے کړی بنورو ئے شونډے اوچے کړی
دے جیل ته حیران دے ، جیلخانه ده ته حیرانه ده
چا ئے چه ډیره اوښکی لکی اِنکی پرے نړی
دلته کښے پنجره ده پکښے شپږ دی ازمړی
خواکښے ئے دے پیر شاکرالله ز مونږه خان

(۴) مړچا ته رسی ، تیپر ، او ځُکړه ، الوکان
دے خوا ته سپی مکل ، اخوا غوړی ، اخوا صابون
تله په لاس ناست وی ډچلونو کښی بیان
ځان ډلوږے مړکړی خوآشنا له وا لے ولیږی
کاش چه وے ډده په شانِ تول زمونږ پیران
مالګُړه راکړی . یارله ولیږی تړی
دلته کښے پنجره ده پکښے شپږ دی ازمړی
دیخوا ترے مهر دل دے دے ، زمونږ دروکے دور

(۵) چرته چه دے ناوی ست هلته وی خندا اوشور
یو موتی وجود کښے ئے یوغ ډنر توب پروت دے
سل مرګه به واخلی وا به نخلی یو پیغور
تل په بل سوړلی کړی په فطرت پیدا شت اخان دے
تړے ئے جوړ کړے دے غرور کښے ځان له کور

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خیال ئے د موسیٰ او خاندان د سامری

دلتہ کښے پنجرہ دہ پکښے شپږ دی ازمری

خواکښے ئے لالی (۱) دے زمونږ کښ زما وروړ

(۶) قید لے کہ پہ دے چہ د دے زوی زما د تروړ

دے پہ زړہ باتور وو خکہ کورلہ د غم راغے

شتہ خلمی، خلمی، زہ د خپلو بچی نور

داورو کے زړہ څنگ د وطن مینے تالاکہ

دا خو دے لہ جوړ وو چہ کړی خاور دعشق اور

دا رو کے زړہ څنگہ دھوکہ نہ کہ سامری

دلتہ کښے پنجرہ دہ پکښے شپږ دی ازمری

چہ دا شعر م واور وو، نو تول ملگری م چپ شو. یوسف خان خو راسرہ خبرے بند کړے. زرین کاکا مهردل خان تہ خپل زړہ سپک کہ. مهردل خان م خفہ شو. پیر بابا رڈے راتہ اووے. زہ پیر خفہ خپلے چکنے تہ روان شوم. ناکهانہ م هغہ ورځ د زیږ د کلونو بوتے ولید. د سرہ خواکښے کیناستم. هغہ وے: ولے خان! نن خو پیر خفہ ؤ. ماوے: تول دوستان م خفہ کړی د خکہ خفہ یم. ما خو توقہ کولہ خو صفو ترے بوتہ جوړہ کړہ. وے: خان! دا خپلہ خولہ دہم قلا دہ هم بلا. د نکلی د نکلی. بل شعر ولیکہ. نو پہ دغہ ما بنام ما د خپل ژوند اولہ قصیدہ ولیکلہ او د تجربے پہ طور م خپلو ملگرو تہ را وړ ولہ او هو، هغہ ما بنام زہ پہ تولہ دنیا ښہ دوست اولوئ شاعر شوم او کوم شعر چہ ږما تول مرور دوستان زہ مینہ ناک یاران کړہ. هغہ لیکم.

---

(۱) جهان زیب تہ مونږ لالی وایو.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوه کلونه

یو وړه غوندې پنجره کښې — په یو کوټ کښې د دې جیل
د اوو کلو جور کړے — آزادي له چا امیل
(۱) اول کل ئې زرین خان دے — چې په مات او کور وجود
د الله الله سوره وې(*) — په تنور کښې د نمرود
(**) پوئ په سود او پوئ په زیان — په دماغ لکه لقمان
دیو خیال او خوب د پاره — په خندا خو بنوي زیان
که وړند پریږدي سوه انکاره — همت نه دے حمایت دے
چې هم سوه ي هم روان وې — دا مردي دا شجاعت دے

د رستم نه بهادر دے د میاسي وړوکے نانا
د تره خو چا یو پیالو کښې ئې کړه د ویه جیلخانه
(۲) د رپور دے فردوس خان(۱) — په مخ سپین په زړه نازک
د پښتو په نوم او ننګ کښې — د فولاد د ګټې کلک
لاورو کے شان هلک وو چې پرې وشو امتحان
د لیلئ په عبادت کښې د رقیب شو بندیوان

(۱) فردوس خان د ۱۳ کالو په عمر اول جیلخانے ته راغلے وو.
(*) وې = وهي. (**) پوئ = پوه.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دنیا په وارو نرمو پښتو په خوږو پوهیږی
چه پښتون په تیرو سرشی دنیے لاس کښے اوغوړوږی

خپله کټه خانی پریږدی، کند راوخلی د ملنګ
خان په ننګ خاورے ایرے کړی چه پښتون ته واخلی ننګ

رب دِ بوزی مانیر مے ته چه کنی بیا د آدے سیل
داوو کلو جور کړے آزادی له چا امیل

(۳)
ور پسے زما چکی ډ، چه لږ سم یمه دیر وران
په میراث کښے م زبرکی ډ، خو په فکر کښے شیطان

یم پیدا دهشتګرد خو په فکر اتمان خیل
یو عجوبه ورانه، ویجاړه غوندے زانه د دنیے سیل

قسمت جوړ بله، نکه څوکی د هاوو بنکلی پلار له
نصیب شپول د ازغو وکړ د پښتو کلو کلزار له

خو د بخته تیښته نشته زه پر تنګ یم د هر چا نه
مانه دے غم او تکلیف کښے دی د ژوند تیرول گران نه

ولے څه او کړم وکیږم، که جاړ احمه د سیل
داوو کلو جور کړے، آزادی له چا امیل

(۴)
راپسے روکے لالی دے پاکستان ترے نه یریږی
چه تاریخ انګریزی وائی نوجناح[۲] صاحب قادریږی

---

(۱) کنی: کوی (۲) محمد علی جناح (۱۸۷۶-۱۹۳۸ع)

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکلاع نه نے راوښکه د څوکانو تورے کوڅے ته
اودکمر دکورے راوست د څوندونو مدرسے ته

دلته هغه تعلیم مومی ! چه په کل جهان کښے نشته
جیل چه ښیئ هغه ښودنه د تعلیم امکان کښے نشته

دے اوغم هغه استاددے . چه لقمان او افلاطون
ارسطو سقراط بقراط نے یخ کښے دے زبون

دے بندی د انصاف نه دے دے بندی د چا د زیل
داوو چکلو جوړ کړے آزادے له چا امیل

ورپور چکی کښے پروت . زمایار د هوتی خان
(۵۱) په وجود یو موتے غوښه ، په خیکر لوئی پهلوان

که عیشونه که خندا وی که وی حورے که غلمان
هیڅ نے تینګ نکړی چه جوړشی د مستی تورے میدان

کاش چه دے خانانو راوړے یو شودا تنګے خانان
خو افسوس دا بل نشته په هوتی او په مردان

څه باڅوک محفل کښے خاندی یو مثال یوه رښا کړے
چه هر دل کښے کوتے پورے تول محفل شی چراغان

روکے کال او دیرش هرد دے په دے کال کښے د امیل
داوو کلو جوړ کړے آزادی له چا امیل

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ور پسے شاکر الله دے دَ هماؤنه او ښیار

(٦) په خندا خندا اپوډ کړی دهر چا دکور بیکار

دا سے پیړے دچا لیدلے چه خان اوښی مریدنه

په خندا د حسین ستر سترګے سایه یوسی یزیدنه

که دعقل په حساب نے وی دَ زړو خزانے

دے به ګویا سکندر یا دارا دَ زمانے

خو افسوس چه لاس نے نشته دزړګی په پیمانه

خاکه ټش شوندیته وائی دکلونو افسانه

په شه شموګذاره کړی یار دَ عطرو دَ پلیل

دَ اوو کلو جوړ کړے آزاد نے له چا امیل

آخری دے یوسفخان دغنی نه مرور

(٧) هم نے مال په شمله داوشه هم تالانے شو خیکر

پلار نے غږوو دسدم ننګیالے اوتره باز

پوښی په ننګ اوپښتوو دَ جنګ چیشته راز

لکه باغ په ګل خیشته وی داسے وو په ده سدم

ګرونډے کاوو دپښتون زړه نے دَ شوندو ستر کو په نم

نے خیشته پاڼه منکاری تو خانان دبابو خیل

ذ اوو کلو جوړ کړے آزادنی له چا امیل

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

درے خلور مونو کران دی پښتانه دی څوک هندکیان

یو چاچا، یو میر قدم دے اسرآفے او اکرم خان

اکرم خان دَ نغرو دے، کړی کدو بنه دَ پلاؤ

وی مدام لے باندِ کړے، تو دا و تریخ شا نلاؤ

چا چا بنه پوره بیړه دے میز کرسئ لکوی چسته

خورو ژوغریب خراب که نوکری ئے شوله سسته

اسرآفے او میر قدم پښتانه دی په نسب

خوار اکنی زمونږ ملت، بنه په چغه بنه په ډب

دامالیان دی اوبه اوچئ په شنو بوتو دَ رامبیل

دَاوو ځلو جوړ کړے آزادئے لچا امیل

هری پور

۱۹۴۹ع

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلوشه

کہ ستر کے سنگلے نشته سنگلے یادخوئے شته
کہ تخت د بادشاه لرد ے جلا دخوئے شته
اوبد ے شپے د فراق شوے په جانان یاد ولو تیرے
کہ وصل نشته شکرد ے فریادخوئے شته
داغم د مینے غم د خوشحالئی په شان خوبد ے
د غم مالک هم خان د جایدادخوئے شته
دازه چه مسکئے شونډے د تیارو شپه کښے ولاړ یم
د یار مرونه کړه نه وی خو امدادخوئے شته
حما د لالی راج هم بادشاهی د پاکستان دی
آباد، ئے کړه یونه وی. دیر برباد خوئے شته
چه آخلے لیونے ربه، په مینه کښے ئے دوب کړے
دا یو دا سے مرګ دے چه مراد خوئے شته

غنی
هرک پور حیل

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خیال اورنگ

داسوز اوساز، داشان اوشرنگ
یوسورے دَوخت اوخیال اورنگ

داابنس کاروان، داسحر مانبام
داکوتے اوشونډے اومئے اوجام
داشپہ دَخزان اوخوب دَ بهار
نشہ دمجنون او پیالہ دخیام

داکل، داساز، داشان اوشرنگ
یوسورے دَوخت، دخیال اورنگ

دازور، دازر، داتورے خیشتہ
دعا، اوجزا، اوحورے خیشتہ
داسترگے، لیوالے دَژوند، اونور
دشونډے، مستانے مغرورے خیشتہ

داتلہ راتلہ، داخیال او رنگ
ارنگ، درنگ، سپارې تنگ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ښکلے کاتہ، په نیاز کاتہ
دا رو(*) نازک، په انداز کاتہ
دالړو کښے تا، د سپوږمۍ د مخ
نرګس کښے نیاز بین د ایاز کاتہ

دامینہ، د رنګینہ، د اشان اوشرنګ
یوسورے د وخت، د خیال اورنګ

سپر دل د کلاب اوخندا د یار
کاښہ کاتہ، په رضا د یار
انداز د مستئ، اوتهول د غم
سرے ستر کے اوشونډے ز ما د یار

دامست ما بنام کښے د ژوند غورنګ
یوسورے د وخت د خیال اورنګ

محفل د غمونو اوجهان د غم
یوشمع وړہ، دنیا تور تم
یوبحر خموش کښے یوکرنګ د ساز
په راج د مرګی کښے د ژوند آواز

دے تور سمندر کښے رنا اورنګ
دامینہ، رنګینہ، د اشان اوشرنګ

غنی
خانپور

(*) دا رو : ورو .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوخط

زما خورد ورور حکیم سید ګل بادشاه فاضل دیوبند ته

یا حکیم جی:

ته څه خبر یې زه سړی نه — پیاله کښې شوما ے دیار پرتے دی
دا څو ورځې دی دا پسته دی — زه کے دمسرا د خمار پرتے دی
تا څه لیدلی دی مونږ بے مینے — مسرکے ملا هیشه مینے مهینے
ته څه خبر یې داځه غضب دے — خوږ پرے د لفے تار تار پرتے دی

ما نه علوے دی کل مسئلے سته
د مسودا و نریان او بر دتے سته
کوره چشمانو کښې د جانان م
د جنت حور ے قطار پرتے دی

د خدای د پاره ساقی کلرنکه — د کے پیالے را په شرنکا شرنګ
نو. څکم به څکم به چه لیونے شم — تاورانه لهجے د یار پرتے دی
کوره آسمان کښې مسجد ونه — ما شوی د اخلهٔ د جانانه
دوه ورځے ژوند دے لیونے خانه — دمستی د ورځے د شمار پرتے دی

غنی
حیدرآباد جیل

(۵) دنی ۰ رایل ۰

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاروان

ژوند او قرار، او د او به دی، نه به یو خائے نه یو خائے کیږی
تیاره او نور یو د بل جوړ دی دا به تیره څنګه تیریږی
لکه د سیند د ژوند هم لاړه ده، کله په غږ کښے کله میدانکښے
بند عجب عجب پیلاوے، کور نے پښلور کښے خلاے آسمانکښے
جانانه نه ده کړه راپوته، د اُبکوړ کے د استر کے تورے
د ما بام لرے تیرے کړه میرے د لور دلبره اوس قیصے نورے
د کوړه د اسپینه سپو پښی روښانه د مونږ تسخانه د مونږ ژوانی
د وی ساعت خو انی ده اے عاشقانو کوی هغه چې خو انئ کښے خالی

جامونه ډک کړئ زړونه مستانه
کاروان روان دے جرس غږیږی
شونډے وله شونډے د مینے یوسئ
سبا راملونکے دے مجلس خوږیږی

غنی
حیدرآباد جیل

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بے وفا

حُسن حُسن لتہ یمہ — کہ پہ غږی کہ پہ تسمہ
زہ پہ مینہ مینہ پایم — بے دَ مینے مرمہ مرمہ
بے وفا کہ دجانان یم — بے وفا نہ یمہ دَ مینے
چہ تہ رنگ خانان لتہ یم — چہ پہ ستر کرم رنگینے
چہ یو خُم دَ میو تش شی — تش تیار نہ شی بے نہ چہ
بلے د کے میخانے لہ — سینہ یو سمہ مجروحہ
تش کوے شتلے نہ شم — چہ خونا نہ وی دَ کبابو
زہ مین یم پہ پیالہ نہ یم — زہ مین یم پہ شرابو
پتنگ نہ ختی مرمنہ — چہ دَ شمع رنا نہ وی
تورانئی نہ وی سندرے (۱) — چہ مستی دَ سبا نہ وی
بے وفا کہ دَ یو یار یم — وفا دار دَ مینے یمہ

حُسن حُسن لتہ یمہ
کہ پہ غږی کہ پہ تسمہ

غنی
حیدرآباد جیل

(۱) وی : وائی۔

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بند

فن چه څوک بند کړی حرص او هوا بند
سباغوا پرې څه شے نه سودا بند

د ته بوتلا کښے مینه نه کیږی خنک به بنا، کاندِ سیلاب د هوا بند
تول غمونه یوطرف د نیاز یوړل لکه واچوی تیاره رنا بند

دے له نے نه څکم چه نشه لیونے شمه
جام کښے کوه پیوت د نوم د آشنا بند

په دمونو تمویل وفونه جوړیږی چه یوځل زړه کړی د مینے بلا بند
د فولاد وزنځیر نه دپه پرے کوم کوم جاناں په ناز مکیږ په خنا بند

په جرات کښے دا وے چے شوے ناست ځم
لکه وی په تنخا نه کښے مُلا بند

د دنیا آزادی واړه م قربان کړے چه کوم زړه د محبوبا په تلا بند
د دے بند د تو بند وننه نشته چه ته څوړی د وجود او د سا بند

لیونے واوریاړ په دا سے شوړ کا نو
په پنجره کښے که په شان د مینا بند

غنی - حیدرآباد دکن

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خمار

چه نشه شمه د خپلې خانه وخم
لکه وچې چه تنږ د پنجرې نه

مست زه د غمه دا ونکه اوچت شی
لکه پوټه سه کړی کل د ډاډې نه

د رونا وجود بجوړ تن مکنې پیدا دم
او د خیال په پیرزې باندې شم سود

د اوږم آسمان یه سیالې کوم روان
لټوم د ژوند چینه د نا کور

د ساقي خمار سه د رم پکار نه دے
دا زه کورم د خپل خیال ښکلې له لاسه

دا د ژوند نکیسه وجود خو اک دے
دا مستي مینه او حسن او دلدار

دا چه زه د جانان ستړے نښه یم
دا چې کنې د له ورکومه د ننداره

د شفق د سره کوم خال له جامونه
دا چه ستړے سر نه کومه په خمار

څه په عیش د ژوند لګیدلې ملاجانه
د تالاش د سوز پاته نو خبر نه شوے

عبادت سه د تلے حورې غلمان
د ارمان خاورې کیدلې نو خبر نه شوے

لکه شمع وبلے نه شوے د خپل اوږه
خوږه او څکه شوے شراب او خمار نه شوے

مست نه یمې د دوا او افشت (۱) د شعره
د بهار خزان بلے کلزار نه شوے

ژوند لے خلاص تالاش نے خلاص شو لږ نے هم
ستړے سه کړه له خپلو پاپوړو نه

لکه کمانے ساعت رنګ جهان نه اوښود
لکه سیند د ریاب له خپلو چپو نه

غنی - حیدرآباد دکن

---

(۱) واښه خیست .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مدرسه

څه سبق راته ښئ (۵) ژبه ! ژدے غم په ما سه کښے
فکر کوم خواته روان کړے ؟ په کوشے ژوسوسه کښے
ته خبر نه ئے ژخپل زوړه ژما ماتے شوے پښتنی
په پولاډ چه م زده نه شوے زده کوم نے په پښتی
دامنم ته بے پروا ئے هر څه کے (۱۱) ژما ډ پاره
خوکاش چه دے نازکو چنو ته تاوے ښولے لار هموار ه
دا تقدیر م سخت استاذ دے بد نے دب تریخ نے آواز دے
ډ لولئے نازک وزرته گران دغره ډ سر پرواز دے
ژوند ون نه دے جوشنده ده پکښے سل قسمه خوندونه
نه سم خوږ شوے نه سم تریخ شو هم صحرا اوهم سیندونه
هیڅ په پته ډ پوی نه شو چه دا روجوړ (۹) کوم رنځ له
ولے ولے ډ کوډ رنه ماوړ نے ډ ډ ډ یاب منځ له
زه په غاړه یم خوشحاله زه باتور لا میوزن نه یم
زه ډ مینے تور یالے یم دجنګ یو تورزن نه یم
غنی مړ په شمکو (۲) شو ویرکه سپینه پتاسه
چوتی اوکه تالئ اووه صیبه بنا ډکه ما سه

(۱) کے کوم ے (۲) شمکی : یو توریج بوتی ډ ډ ډ

(c) ketabton.com: The Digital Library

صنوبر

لاس م ښکل ، ژبه م بنده
دا ټاسته یمه دیگر
لکه ناست وی وزر ماته
په مانبام کښے باز نیگر

چپه خوله او تپیتے ستړے کے
دګل خوا کښے کوتګے ناست دے
دخپل غم په منډار کښے
روب مشغول دے صنوبر

دبرهم د، یاب په غاړه
تشه لیه اوچے شونډے
لیونے دَ تندے مړ شو
دَ مستے نے تش شویږ

دخوانئی دَ غم مانبام
دَ پیرئے سارَ دَ اختر
نه دی چا برابر کړی
نه به ئے څوک کړی برابر

---

(۵) سار، سحر.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

راته ښکاری چه بوداشوے رقص او شهنګ د نشته خیال کښے
کدا نه کوی نظر ستا غوږ ښګ نه لوے چه پال کښے
د زوال استاذے ناست وی تل په څوکه د کمال کښے
وخت اوژوند، هغه ښکاریادی چه هما هم نیسی جال کښے

په ویښتو کښے د ښکارې شو
د مرګی استازی سپین
قسمت لیک د ابد وکه
ستا د ستر کو په جبین

نشته کیږ د لویو کندو د مستۍ جهان مهین
د خزان جامے اغوستے دی نرګس اونسترین[1]
د سبا رنا پیکه کښه د شمعو کور رنګین
اوس د خوږ په ژبه لګی د شرابو نه کښین:

هغه سره کلونه څه شو؟
چه تو کول به د محاکښے
هغه لوئے محاکه شوے؟
په تیاد ے به چه هوا کښے

هغه مست سرو د څه شو چه به څکه د مړو ساه کښے
هغه سپین مشال چا یوړه چه لګو به د ے بیا یا کښے

(۱) سترین = سنرن

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا تور تور سترگے ډچادے چې روان ډډے په خواکښې

بوسیاه دې روخوزده کړل تېتېدل ډډی په شاکښې

لاس ډبند ژبه دې بنده

ناست یواز ے او دیګر

لکه ناست وی وزر ماتے

په مابنام کښے بازیګر

چې خول او پټے ستر کے

دکاخو کښے اوښکے ناست وے

دخپل غم په فشاره کښے

روب مشغول دے صنوبر

غنی

هرې پور جیل

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تەاوزه

اے د مینے فرشتے!
اے د نور او رنگ قصے
بنا پیرئ ته چا بندی کړے
د غمونو د کوڅے!

چا وړه لولکه بڼیره کړه تورتم سیلابان کښے
چا تصویر د صحرا جوړکه دے د سوه گلو بستان کښے

په مڼین چه شی مینه
یارانه نه ده بیوپاردنے
چه په غم ارمان بلا کړی
د غه مینه د غه یاردنے

که مجنون په لیلیٰ ډوک وو په مجنون ډوکه لیلیٰ وه
چه فرهاد مست او مست ته شیرینی هم په خندا وه

دا نه مینه نه وفا ده
خوشحالی مستی کتل وو

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

په چینجی کښے وزرونه
د لولکے تو کیدل وو

دادسود کښے قصے وے بندگی قربانی نه وه
د مجنون د زړه مستئ له دلیلئ څوک ثانی نه وه

خواے د حسن فرشتے:
اے دنور اورنگ قیصے
تا مستی بے خودی ورکړه
په ژړا او وسوسے

اے محبوبے بت پرستے زه یو بحر د تیرویم
اے د سپینو کلو لښتے عکس ستا د ولولو یم

اے د غرد څوکے واورے
ستا د څاڅکو زړه وندو کے
زما بحر د مستئ دے
ستا نیاز بین زړو ورو کے

ته ئے حوره د فردوس څناوره نه د جهان
ته ژوندون رښتا او شمع زه تیاره، غم او طوفان

ته تسکین د مسلمان ئے
زه یم مینه د کافر

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته په مینه تالا نړه ئے

زه په حُسن تالاسر

ته بنیاد او روح د سیند نے زه موجونه سر سر ہی

ته سرور د طور او موسیٰ نے زه ارمان د سامری

اے د حُسن فرشتے

ته نے حوره د رضوان

زه بادشاه یم د دوزخ

په لمبو د اور روبنان

نه یخ بادیم د خزان تورے لړے د مابنام

زه مین د بُت په ستر کو په ساقی یم او په جام

ستا خیشته مینے وفا زه

په معنیٰ د مینے پوښی کړم

ستا غمگین روبنان نظر زه

هم بنده کړم هم سر نے کړم

اے د حُسن فرشتے ستا غم نه دے سوزخار دے

د خزانه تا جوړ کړے یو رنگین غوندے بهار دے

تا کړه بره د سپو مینې نه

دا خدا کوکئی قصه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تا په سترګو د آذر کښے
عکس جوړ که د موسیٰ

تا پتنګ له مستی راوړه　　د نور و نور د زهرا
تا د سرو ګلو باغ جوړ کړه　　په خیګر کښے د صحرا

تا د ژوند ترخو اوبو له
د شرابو سرور ورکه
او بیا سترګو د ګونګټ له
د لولاک غرور ورکه

تا خنداء اور کړه خوب او ارمان کښے　　وینه د مینے شوه د غم جهان کښے
تا د یار شونډه کښے خوب د لیدلید　　تا د فراق په مخ تصویر د یار ولید

تا د تیرے د رنګه د رنا بنیاد کړه جوړ
تا د ورځو کی د نیا سینګار او آبشار کړه جوړ
تا د شبنم څاڅکی کښے د کے تصویر د نم
که د امید دریاب او د مستی سمندر

تا د فراق د لمبو　　د نګ د وصال جوړ که
د زما د تولو تیرو　　د زنے خال جوړ که

اے د حسن فرشتے
سپینے حورے د رضوان
بس تاوه کړه لیونی له　　امید د نه او ارمان

غنی۔ خانپور حیل

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

صحرا

که په شکوکښے ژوندون دی — ربه بوم څه صحرا له
که سودا کښے ناز او شرنګ دی — ما مړ ئے ورکړه سودا له
که په ساکښے مستی نه دی — ربه مرګ را وله سا له
که هلال پیغام د نور — د خندا د ربنا نه وی
ما ته غوره تور ه شپه ده — دیره غوره د هلا له
که ژوند مطلب بل نشته — بس ژړل دی سوز ید ل دی
داخپل جوش په بیړته والہ — داخپل هوش په بیړته والہ
زه پتنګ ستا په ربنا یم — مئین ستا په تورو نه یم
که کافر که مسلمان یم — یمه ستا د نورو نه یم
زما واړه کمزوری د جور ستا ستا کمال ده — تیاره خکه شوله تور ه چه شو رو که د هلا له
چه تا روک کړمه حیوان شم — چه تا وو یم انسان شم
ته دریاب د شنو چینو ئے — زه پتے د لو بزو تنډو
چه تا روک کړم بیابان شم — چه تا نبسکل کړمه بستان شم

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

داکنۍ زما دخه دۍ، چه زه چغې شم جانان شم
داخو ستا د خیستې تصویر دے چه زه غم شم یا ان شم

یا خو واک د بادشاه راکه
او یا صبر د فقیر را

ډزه ندون دے رنګین خوب له
یو خیشته شان تصویر را

چه ستا حُسن پرې بند کړم
دا سے لاس دا سے زنځیر را

که دا او بنسکے ستا شراب وی
که دا چغې ستا رباب وی

که زما ژوند عمر
یو لمحه ستا د شباب وی

که زما همه مستی دا
یو حباب ستا د سرور وی

زه خو تهایم په هر څه، چه کوی نا پلخانه
عجیبه زما جانانے، عجیبه زما ارمانه

هله زه د دُنیا مالک شم
چه خپل خان در کمه تا له

هله مست خو بونه راشی
چه کوټ وکړم سنا د خیا له

اے د کل جهان مالکه
جواب راسته د جما له

ولے جور صحرا کښے باغ کړے
قصاب جور کړے د کلا له

ولے ولے ډبه ولے؟
د دے ولے جواب څه دے

څنګه څنګه اے جانانه!
از غے څه دے مضراب څه دے

اے د لور ے تندے ډبه
دک جام څه دے، کباب څه دے

اے د مرګ اوژوند مالکه
مرګ ے څه دے، شباب څه دے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اے دَ ژوند آخر جانانہ ژوندون څہ دے حساب څہ دے
اے دَ تورو تیرو خانہ څہ معنی ستا در نہ دہ
اے دَ مرگ اوکور خاوندہ
څہ ږ نگینہ ستا خندا دہ

څہ وُ وچہ هیڅ نہ وُ

څہ وُ وچہ هیڅ نہ وُ نہ سبا وُ نہ مانبام وُ
نہ ربّ دَ چا ربّ وُ نہ بندہ دَ چا غلام وُ
بس یو بے پایانہ عاشق ورک پہ خپل خمار کښے
خوب دَ خپل وصال و
پہ خپښتہ شوند و دَ یار کښے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

جزا

خلق وئی راته چه شته دے — زړه م هم وائی چه نۍ!
خوجهان دِ داسے بنکاری — لکه بے مالکه کور
ستا دَ خپلے خُلے دښمن له — خوشحالی، مینه، آرام دے
ستا آشنا له تنهائی ده — تهمتونه او پیغور!

که دِ زړه کښے هم څوک یاد کړی . دی په دے خاورے پسے شی
ستا دشمن خان دَ خانانو . ستا آشنا زیرو زبرشی

ستا رښتیا، ستا سپنه، او مینه — په هسه ژکښے تاوان دے
ستا تالاش یو لیونتوب دے — ستا یاری دَ غم طوفان دے
امتحان څومره سنګین دے — دیر کمزورے ستا انسان دے
دَ لوګی په بنیاد دونه — جوړ دَ شنو کتو مکان دے

ستا خلیل دَ خپو دَ لانډ . دَ نمرود دَ غلام وینم
دَ خیام لاس کښے کچکول دے . دَ دلته لاس کښے جام وینم

خانه مه م جنګوه نور — هسے نه چه بنګیلے شم
چه خمار او سرور درکړم — دَ اَسرنے طمع مرنے شم

---

۱۰ وئی : وایی .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا ملا وائی په چغو، چه تش سخات[1] او زکوت غواړے
خوښ دِ غټ غټ خیرات ونه، پوخ او سپین شان جامات غواړے

وئی قانون دِ دمنات وی — ته تش نوم د منات غواړے
وائی نه غواړے جنون ته — تش رکوع او آیات غواړے

خو ستا جانان بل ځکه بنائی . ستا د پتوستر کړ خیال
عجیبه دِ جرم ایښے — په خونونو د وصال

لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوْا مِمَّا تُحِبُّوْنَ ۔

ته په دیګ م رضا نه کړے — نوم، ارمان، او عزت غواړے
د مالی نه زیر کلونه — د قارون نه دولت غواړے
د مئین نه توله مینه — د مغرو نه غږ او غواړے
او د رند نه بنا نک ینه — د مستی او سرور غواړے
د غنی نه هشتنګ کښے — او چت غږ نه د طور غواړے
د ګډوری نه خپا خان له — د رو تولو[2] تنور غواړے

ستا وکیل وائی په چغو — چه خیرات او زکوة غواړے
زړے مینے د پنجاب — او ښ د ے[3] رد د سوات غواړے
سپینه ګډه د شو ښ کښے — تمباکو د شو ښ غواړے
او مرید کړ غټ بیل له — بنګلے بنغلے نو غواړے

---

(1) سخات: سخاوت ... (2) پتولو ... (3) ښه ... ورځے ...

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سان، صابون، کړه طالب له — او مُلا له روپئی سپینے
په بدل کښے محلونه — معشوقے نرے مَهینے
دک جامونه د شرابو — په عوض کښے د کے پینے
د ښځو یادخونی پالنګ کښے — د کے لیچے نرے سپینے
لیونی ته بس ارمان کښے — شی رنځے ستر کے مینے
څومره کران سړک دِ جوړ کړو — دعویدار له ستاد مینے

ستا قسمت دا سے سوزولے کړی
لکه بے مطلبه اور
ستا جهان دا سے ویرانیږی
لکه بے مالکه کور

غنی
غرسر
ډیره اسمعیل خان

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهوت

مادَ وینزے خپو کښے شهزاده په ژړا ولیده
مادَ مرکی بُت ته ژوندون تمیت په دعا ولیدہ

دوه نیازی بینے ستر کے دَ مستے دَ خندا دے کے
او چه ترے مستی شوه شوے دے سپی دستر کو لکے

لاس دَ سکندرِ م غزولے په سوال ولید
پروت دَ منات خپو کښے مِ په ذکر بلال ولید

مادَ وینزے خپو کښے شهزاده په ژړا ولیدہ
دا مستانه زړه مِ دَ چا سپے ؛ سودا ولیدہ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خندا

ځان تخنومه پیر خو پیر افسوس دے خندا نه راځی
دے غریب لکی کړه سایه دهمانه راځی

ده ته بنا پیرئے ده پری هله چه لیدے نه شی
غوږ په سپی حرام، دَ خره ویران له کیا نه راځی

خدائیکو که مجنون دَ څه مجنون وُ چه صحرا له لار
پوئے شو چه په دے چه په محمل کښے لیلیٰ نه راځی

لار ولیونے دورک شو چه حکم ورکړلو
چه کوږه دَ رنګونو به څوکاله رنا نه راځی

نن دَ سامری سره تهیکه دَ جانونو ده
څکه لیونی له غه پتکے او قبا نه راځی

څکه خو غنی لږ په کیله شان نصیب ته وائی
مه وایه نامړه چه نن تیر شو سبا نه راځی

ستا عجب جهان څه بے اندازه څه بے امکانه دے
یو دخندا مړ شو لو او بل له خندا نه راځی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو خوا دِ تیرو د منا پیرک خُله مړه نکړله
بلخوا دِ چرک مړی په دے ارمان چه سبا نه رهی

یو میلے اوچت که د دریاب په مینځ ئے ودیشته
دیخوا بل تر پیږی چه یو کوت د هوا نه راځی

لاړمه، بوډا شوم ژوندیو توته نه کښنم
خان تخنو مه ډیر، خو پیرا فسوس د خندا نه راځی

غنی
پهار پور

رُباعی

زړه م لکیا دے سرته م کپ لکئ
ورله دهوکه ورکئ په اکو بکو

وائی پاسته کلونه دی راروان
پرواه ئے مه کوه که ازغی کلک وو

غنی
خانپور

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیپئی

هغه ژوندون وایه — چه وی یو نور او رڼا
دک د خوبونو خندا — خندا او شرنګ شرنګ
هغه سرور وایه — چه وی د وخت بې پروا
خواره په سر د فقیر — شالونه رنګ رنګ

هغه بهار وایا :
چه نے مستی او سخا!
په زیړو کلو باندے
مالیار کړی تنګ تنګ

خو دا نه شویدۍ او نه به وشی — چه دومړۍ نرم او خیشته به بنه شی
جنت به نوم شی یو بے مطلبه — شی به پیکه خواږه او ورېګ تراخه شی
سړی به په وب شی او خندا ورکه — څکه چه غم او ژړا به نه وی
رنګ به لوکے شی او خوانی خاورے — واړه به سود وی ، سودا به نه وی

چه خیګر مور شی ، نو ارمان ورک شی
چه ارمان ورک شی ، نو ژوندان ورک شی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه صحرا نه وی په ستر کو ړپ کښے
لیلیٰ فنا شی ، او مجنون ورک شی
په شپه او ورځ کښے ۔ وخت او نظر دے
واړه لیده د بنده ۔ هم سپین هم تور
د ده تیارو کښے جړ ے د نور دی
شته حکه تنګ او شرنګ چه شته د شور
یار ه دا څوند نه بنه د ے ۔ پکښے خندا او ژړا
توره تیاره او رنا ۔ لالونه رنګ رنګ

خو بیا هم زړه غواړ ی ـــ څوند د خوانئ او رنا ؟
دک د خوبونو خندا ـــ خندا او شرنګ شرنګ ؟
وے دا نه شی کولے ـــ د خیشت او نور آقا ؟
چه د ے سپیڅے کښے کیږ ی ـــ لالونه رنګ رنګ ؟

غنی
پهاړ پور

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کټ مالہ

یوخط روشن تہ

لاس بہ مې ورکړی وی ، او خپے بہ مې ورکړے وی
خو مینہ ، مینہ ، مینہ ، مادر کړے بس یوتا لہ دہ
دے باز بہ پہ لیرو غرونو کند و پرواز کړے وی
خو جورہ بس ستاستر گو کښے د دہ د خمار جالہ دہ
سل حُلہ کہ ورک شی ستاد کورہ ورکیدے نہ شی
وارہ رنگینی د دہ چہ جورہ ستاد خیالہ دہ
د ورکہ میخانہ دہ جام ساقی دے کہ خماردے
داوارہ مستی خوتر ثرونلدونہ د مشالہ دہ
سرے شونڈے او تودے تورہ شپہ کښے دوارہ تورہ شی
خیشت د شال پہ دے دے چہ لیلےٰ خیشتہ د شالہ دہ
تہ کہ لاړے رنگ سُرے او خوانی بہ وارہ خاورے شی
جام کښے دا مستی وارہ د مینے د کولالہ دہ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چونې خاورې کوزه شې یا دیوه شې او یا جام شې
روکے(۵) غوندے سرکله قارون کله خیام شې
شوم نصیب کړې جور تورې پنجرې درنګ محله
مینه او غرور کله ساقي کله امام شې
حُسن او وصال یوته بخمل شې او کلونه شې
یوته سرد دار، بل ته را ښکلې دُل ددام شې

ستړکے شوندے خاورے، خاورې لرے دکمالې دُ
مینه مینه مینه مادر کړے بس یو تالې دې
ماخوستا په خپو کښے خپل لالونه خوارې کړے دی
ماخو فقیرې قبوله کړے ستا دَ سیالې دې
ما خپلے مستۍ ستا په غمونو قربان کړې دی
ما رنړا دَ شمعِ قربان کړے دَ هلالې دې

خپے اولاس مِ څه دی داخو خاورې دَ دیوان دے
داستا غنی نه دے دا دَ خلقو غنی خان دے
داستا دَ کلونو بناخ مستی دَ بهار نه دے
داشارے شود یارے سور سادین اوج بیابان دے
داترخه سایه ده دَ غضب ده، دَ نفرت ده
دلته مړ شوندون دے مړ امید او مړ ارمان دے

۵) ږدکے: وږدکے.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه خاموشی ده دا، چه ورکه ډ بلاله ده

مینه مینه مینه مادر کړے بس یوتاله ده

ماکعبه دغولے ستاډ مینے اوجماله ده

حوره زما ناسته، پته اخوا ستاډ شاله ده

ستاشراب ډخاورو ډکنډوله جوړکړی جام

ستاستر کے کړی جوړے ډخرچوکی نه خیام

تاډ خاورو کمتونه سینا اوحرم جوړکه

مینه وه دامینه ډخنزیرنه ئے آدم جوړکه

ستاکټ ماله جوړه ډغنی ډکل کماله ده

مینه مینه مینه، مادر کړے بس یوتاله ده

غنی

پیښاور

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مُسافِر

دَ ژوند مقصد دے یو کمال دَ مینے
دعقل خو رجمال یو خال دَ مینے

دا تورے لړے ما بنام کلال دَ مینے
دا ارمانونه تالاش یو جاد ل مینے

دا سره مستی دَ کفر چینه دَ خادَمو ش
وینځ کښنے دَ بحر نفرت دا لال دَ مینے

او ه په ارمان کښنے دَ کمال دَ مینے
کل دَ انسان جمال جمال دَ مینے

مینه خوب دَ پیو ے زړه کښنے
دَ رنا او سو زید و دے

خوب دَ ژوند کړه ما بنام کښنے
دَ سبا دنیا را تلو دے

دَ خزان په مایوسئ کښنے
خوب دَ کل دَ تو کید و دے

دَ مرګی په تور و طن کښنے
ساز دَ نمر دَ خُتید و دے

ما دَ ستر کو تیږ ې او که
حُسن څه دے مینه څه دُ

ما دَ ژوند ه تیږ ې او که
عکس څه دے اینه څه دُ

ما دَ کور تو نه تیږ ې
دنر مے دتالاش او که

ما وے اے اخ ار ی ستر کو
دا څنډا ر نګینه څه دُ

ما وے اے زهر ار نګینے
دَ خپل نور ه بے خبر ے

(۸) وځ : یځ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا مستی حسینه څه ده
ستا خندا مهینه څه ده
هغے بے پایانه حُسن
مانه دا په ارمان وُدے

څوندلون څه دے د ځان مونتل دی
څوندلون څه دے وُرکیدل دی
څوندلون څه دے یو تالاش دے
د ارمان پوره کول
د ارمان بے تابی وارہ
په ارمان قربانول دی

څوندلون خوب دے یو بے توانه
د تیرے اودرنا
بنده هغه مسافر دے
کوږے باغ لارے صحرا

غنی
بمکنوتر

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بے غیرتہ پښتون

تورینا مار منجیلہ پروت دے دَ خمار پہ خزانو
دپرون غلام. بادشاہ دے. دسباذ لیونو
ھر پښتون دَ یرغے (۵) رَپی. ورک شو نوم دَ پښتنو
دَ سړو ستر کو غیرت اوچ شو
ھمت روک شو دَ سینو

اے پښتونہ ما چہ لے دَ انسان دَ شان کمال
ستا بے سرہ سر کښ نور وو. ستا پہ تورہ کښے ملال
ستا پہ مست جوانیت کښے دَ دریاب چپو زور وو
ستا پہ زړہ کښے نہ زم ؤ
ستا پہ قہر کښے جلال

ما بہ وے دَ زمری ظلم. ظلم نہ دے دَ ژوندانہ شان دے
ما بہ وے عقاب خیشتہ دے چہ دَ باز بنکار ارمان دے
ما بہ وے چہ کلہ کلہ. خکلہ تہ بے حرمہ اور شے

(۵) یرغے. زرغے.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه روان ستنا پخیګر کښے
سورۍ ننګ غرور طوفان دے
اے پښتونه ستاهر بد، له ما بما نه جوړه کړه ښکلے
که ته تور، ډاور صحرا شوے ما کتے ډکے بلبلے
ما ستا سر اوچت غوښتلو، دا م نه کوو تپوس
چه دا سر په څه اوچت دو
څنګه څنګه ، ولے ولے؟
دا پنځه کاله م تیر کړه جهنم، زندان، اور کښے
نها سر اوچت سباته ستا سر ښکته په پیغور کښے
شل شر مونه د ښه تاو دی، په کښے ته دا سے خاموشه
لکه پرون چه دله مړے وی
دا غوندې غوندې په ګور کښ
یره یره په خیګر کښے ډ پنجې ډ سکندر،
په پنجره کښے ږپې ږپې ډ عقاب اوږده وزر
لاندې ناست دی سره باز ونه، اوږ ے سترګے اوتش سے،
او ډ پاسه پے ګنجنی ده، د هما تاج نے په سر
اے جنونه ډ شراب ے، ابا با ډ لیونو
دا مغز و سر م تیت که، بے غیرته پښتنو

غنی ۔ خانپور

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دامکان اولامکان

چه آدم تنګ د قسمت شی　　په خپل لاس کښے ستار واخلی
چه لږ نور هم لیونے شی　　نو شمشیر او آبشار واخلی
چه حوا د مرګ دیرے　　د سبا په تلاش وخی
د کلونو رنګ واغوندی کړی
د سهو نو شر نګار واخلی

همه رنګ دے د آدم　　د آدم د زور امکان
څه دے کور، اولامکان　　کل غلام، بادشاه خزان
که جانان، که بت که رب دے　　خاتنده، او ایمان
دامکان اولامکان　　دوارهٔ جور نړۍ دخان
سره ګډ ونه، سپین امام
ابتدا او اختتام
کل بڼے دے د دیران
په سپیلی کښے پت خزان

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیښته یره او شکست　　د دله دغه آواز دے
نر غازی له شکست نشته　　همیش فتح تل پرواز دے
کل چه خاورے شی هم کل وی　　کل چه سوروی هم کلاب وی

یو مهتاب اوزړو ریځے
بیا هم سپین خندان مهتاب وی

او د مینے په میدان کښے　　سر بلبل[1] جانان ته تلل دی
دا منډه هغی د لیونو ده　　متوله بلبل هر څه کتل دی
دلته دوب په روکی[2] جام کښے　　د کعبے او چت منار!
دلته سا بیلل خمار　　دلته ځان مونټل[3] خمار

دا مکان اولا مکان
دواړه جور نها د ځان
دا جانان او بت او رب
زما تنده او ایمان

غنی
خانپور
۱۹۵۲ع

۱، بلبل ۔ بابلل ۔ ۲، روکی ۔ وروکی ۔ ۳، مونټل ۔ موندل ۔

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

قانون

زه خونه وایم چه نشته — زه خوا ایمه چه شته دے
خو دنیائے دہ عجبه — او قانون نے عجیبه دے
بنکلے باغ دک دَ خوبونو دکلونو دَ نورونو — دَ هوا زنے کله داروی کله دَرد کله صلیب
او چت تخت بره بے ناداے یو غلام د دغمونو — چاله تخت دچنگیز و کړے او خو بونه دَ غریب

کله سپی له خُله کښے ورکړے دَ شاهین شنه وزرونه
کله گاه کے په ویران کښے دَ نرگس مهین خوبونه
یوته سره شوند وکښے پت شے — یوته پت شے په صحرا
چاته خود چاته بے خوده — چاته مرگ شے چاته سا
کله ستر کے دَ کمتر ے په سر و ستر کو کښے دَ باز
کله سور ظالم عقاب شے ۔ په باز راولے شاه باز

زه خونه وایم چه نشته
زه خو چغے ویم (۵) چه شته دے
خو دنیائے دہ عجبه
او قانون نے عجیبه دے

غنی
خانپور ۔ هزاره

(۵) ویم ۔ وهم ۔

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

آسره

بنده څه دے ؛ بے هوشه خناوره دے
بنده څه کئی ؛ آرام خان له کوری
دے تالاش دَده ـ دَساقی خندا
دکعبے منارہ ـ بتکلی ستوری

کل منطق دَده ، فلسفه دده — یوامید یوارمان یواسره دَ ده
دَ دے لوئی دریاب نه چاپیره ده — کناره دَده ـ کناره دَ ده

که ئے سر دَعرش پورے ولکی
چے نے روبے وی دَغبار په مخ
داخو دے ده ـ دَ ـ دَخانه ورک شوید ے
دَجانان په مخ ـ دَ دلدار په مخ

کل مذهب دَده ـ کل ایمان دَ دَ — دا ـ دے ـ رنگ او خندا او جانان دَ ده
دا مکان دَده ـ لامکان دَده — داخه ورکه ـ خه تورہ قصه ده

دَسبا تالاش دَ پرون ارمان — غنی
خانپور ـ هزاره
یوامید ـ یوارمان ـ یواسره ده

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَبُودیٔ تال

تیارہ، تندر، دوکیدل دی — زہ لتوم دَ بودیٔ تال
دَامید نہ جوړ و مہ — کلہ رنگ کلہ وصال
زہ دَ ځان کل مرضونہ — خپل حکیم یم دَ کمال
اے زما مغرورہ یارہ — زہ خالق ستا دجمال

داچہ زہ پہ تالاش لا ہم
پوست پراو مقام مِ وُمنت (۵)
داچہ زہ، تہ ہے دَ نور شومہ
سپین ساقی او جام مِ وُمنت

دایم زہ چہ کلہ کل شم — کلہ نور کلہ وصال
کلہ او ستا دَ سرو شونڈی — کلہ ستا دَ زنے خال
اے زہ دَ مینے جوړے — ستا کمال زما کمال
دَ منطق پہ تور جہان کښے — روک جنون او تور ہلال

تیارہ، تندر، دوکیدل دی
نہ بودیٔ شتہ نہ نے تال غنی

خانپور۔ ہزارہ
۱۹۵۲ع

(۵) وُمنت : وموند ۔

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

درپه در

درپه در خاورے په سر ـ پهار پور او بهکنوتر
خمه خمه په سفر ـ کله شکے کله غر

کله تاو، کله تیارهوی کله سوز کله سقر
کم تیر خان له یوازے، دچوری په شان انتر

چه امید له دهوکه ورکړم ـ ویم سبا به وی بل شان
هر سبا چه را بنکاره شی، ستړے، سوما زیکر

میاں بابا نه تپوس او کړم ـ د عمل او د جزا
د الله د مینے رحم په بچو رود حوا

که فطرت د رب قانون وی، رحم نشته په فطرت کښے
د شهباز، زمری وحشت د جس رویے د هشت کښے

پټ ناولون کښے د کمال راز، زور د ظلم د، طاقت دے
دا نهونبر رنګین خوبونه شه غرور شه حماقت دے

دا مونږ خان له جهان کورو د دے خاورو نه بهر
خکه خکه درپه در، کله شکے کله غر

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دے داوغم کہ نور او سازوی ، نو رحیم او رحمٰن شته دے
خوبے تول څه اړولے ، او انصاف نے عجیبه دے
دخزان په شاولار دے ، دګلو نونه خفه دے
د منصور نه بره ناست دے ، پاس په تخت باندې شمر
رندے سترګے دبت بنے دی ، خان بیل ستر کے نظر
ستا د حسن لیونی له ، نه شبقدر نه اختر
ستا د نور وبے جهان کښ ، نه سپوږمۍ شته او نه نمر
ستا عاشق په درد لرلے ، د ازغو تاج نے په سر
پهار پور (۱) او بهکنو تر (۲) ۔ در په در خاورے په سر
کله تاو کله تیاره ده ، کله سوز ، کله سقر

---

(۱)۔(۲)۔ داخماد بند یادا و نظر بندے دوه کلی دو ، نور په دے خا یو کښ بندی پاتے شوے یم :۔ پښاور جیل ، هریپور جیل ، حیدر آباد سنګ جیل خانپور ۔ هریپور جیل کلب ، غرسر ، تهنده باے ۔

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کودا کی!

زها ویره جنت اوجات زها　　زها هوش سُر، سرور مناجات زما
منار دکرجے (۱) کښے زما پستی　　دا دمرگ نه یچوم زه څوندن هستی

اودشرابو جام، دزمزم چشمه
دا دخان دَنیولو یو دام زما
دا جنون جانان، دا مرشد کعبه
دَخپل هوش نشه کولو یو جام زما

کودا کی ما جوړ کړی خپل خالدی　　سره لبان دیار، عبادت، سرور
مابند نو اچولی طوفان ته دی　　دَامید کلزار او قلا د نور
ما دَ مرگ، فاتح دَ زوال آقا
دے شکست له یوشان مونتلے دے
ما غلام له دسر و زر و تخت او تاج
مالوکی له مکان مونتلے دے

دے زما جنون دا خایشت او یار　　دا سرور زما دَ دے تلو غبار
دا جنت زما دَ ارمان تصویر　　او دوخ زما دَ دردو نو خار
نما ستر کو کښے رب او ایمان دے
زما درد کښے وصال او جانان دے

غنی
خانپور

(۱) گرجه = کلیسا.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرګ

سازدا سے آواز دے بنکاره پټ کړی پټ بنکاره کړی
تورے خټے واخلی ترینه جوړه مناره کړی

قبر باندے مثال یو د اطلس د بخمل واچوی
لا مرګ ښځے د انسان لمحے له مرګ او اجل واچوی

خو مرګ د پرده پوش کړی د آدم زوال د هوشه ورک
مرګ هغه خزان دے چه ګل کړی د ګل فروشه ورک

مرګ ګواه د رب د مینے رحم د انسان سره
مرګ یوه وعده د سپرلی سوے د خزان سره

ژوند یو څاخکے مینه ده، د مینے نداره کړی
تورے خټے واخلی ترے نه جوړه مناره کړی

ساز د خوانئے غشے دے د مرګ سره د جنګ قصه
داده د انسان د زغرے تورے او تفنګ قصه

داده د غلام د فخر، کبر او د ننګ قصه
شمع پتنګ نه دے، دا د ستوری او پتنګ قصه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند د آدم څه دے ، مینه مینه ده د ځان سره
خاورے دے آدم خاورے جنون سره جانان سره

مرګ لوبه نیکی وه چه تا او کړه د انسان سره
مرګ ستا کور له یوړه کنی و به تل د ځان سره

مرګ هغه نیته چه جانان کیښوه د جانان سره
مرګ پته نکاح ده د مکان د لامکان سره

مرګ کښنے د ژوند ون د دریاب پته کنارہ د
مرګ مجبورہ ځان له د خپل حسن نه دارہ ده

مرګ بس یو کواه نه ما د ژوند ستا د جلال
اے عجیبه خانه د تیرے او د هلال!

غنی
خانپور

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینه

مینه حُسن جور کړی بیا پے شی مینه مینه
مینه لیونے ده، لیونے ده مینه، مینه

چرے م داخیال وُ چه خایشت، خوانی نیاز
پټ دے بس په دوی کښ دَشوق، عشق او طلب راز

ماو ے وُ ایاز خیشته، محمود وُ دَ خیشت و بړے
خکه داستان جور شود محمود اودَ ایاز

اوس په دے شوم پوی چه شهباز دَستر کونک دے دا
بل خان ته کمتره کړی او خان وته شهباز

لوبه لوبه ده، دَ خان مړولو خوب دے عشق
دا دے دَ آدم او دَ حوا د ستر کو راز

مینه حُجمات جور کړی په تیرو کښے دَ خپل غمه
مینه په مستے، خایشت کړی جور دَ خپل صنمه

بیا په سجده تیته شی، د رنه په کلو وُنه
مینه حُسن جور کړی بیا پے شی مینه مینه

غنی
خانپور

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنّت

دودی غرب مُلا، جنتی مُلا
حلوا قب مُلا ، ولا یتی مُلا
په پیسو قربان اوسنی مُلا
دَ پولاؤ په شوق خوری پیتی مُلا

دا بے عشقه، بے جوشه اومړ آذان داچلی دماغ اوړزان ضمیر
دَدے سپین دستار دِ توهین تے په دے کور دَ خدای کښے دَ بت سفیر

ماته وائے چه جنت ته څو
ستا جنت ستا دلور بے ارمانه دے
ستا جنت دخوراک او د بنځو دک
ستا جنت نیم پیرس نیم طهران دے

ستا جنت کښے دریاب دَ شوروا روان پیمانے دَ فیرنئی نه بر پورے دی
ستا جنت کښے جنون او تالاش نشته ستا جنت کښے څه خرے خوردے دی

ستا جنت کښے نه سوز نه ارمان شته دے
غټے خیټے، لمدے، سپورے شونډے دی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا جنت کښے غوښتل ، بیلل نشته

واړه حورے ، رضا او بر بنا ے دی

ستا جنت د جنون بے خبره ژوند ستا جنت یو او ښیار شان تصویر د خان

ستا جنت د شهوت او د تندے ډک ستا جنت ستا د لوبے د تاو امکان

دو دی غرب مُلا ، جنتی مُلا

په پیسو قربان ، اوستی مُلا

راشه واوره ته چه جنت څه دے

د غنی جنت ، د غنی مُلا

ته په جنت کښے مزے د دنیا لټے د حورو ستر کو ګ د موخندا لټے

ته په آسمان کښے وهه د دیدن لټے او په تیو ر کښے سپو ږ مۍ د مکان لټے

لیونے نه شوے ته خمار او مستی نه پیژنے

مستانه شوے دلربا پرستی نه پیژنے

تا د دنیا د پاره سینه د جانان وکړه مجنون په بیعه بیخودی د جانان وکړه

لاس کې اوبه د بادشاهی فقیر شوے یا زما خان ے د یار د کلی د نګ پیر شوے

تهوله خیته خیته شوے مستی او جانان نه پیژنے

تهوله زیږه پیره شوے مردی او میدان نه پیژنے

زما امید ، تا لې څښت او تکړے خور شوے زما

زما سهاره ، ته مرنے وظیفه خور شوے زما

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

قسم په هغه رب چه ته ئے دعدمت دعوګیر
چه ئے د حورو د غلمانو، د جنت دعوګیر

تورې زاوا خله تورې پوتې که میدان ته خه لوګے لمبه شه په مستئ کوې جانان ته خه
کنې دوبیزې په پیتې او په حلوا کښے مُلا جنت د بانلو د تیږو په سودا کښے مُلا
د موسی کړاوه د لوږې نه اے مورې مُلا
تیږه هر سبه د دحرمزې اے زورې ملا
د سامری د زرو سپکه فقیری د موسئ
د زر پرست نه یار پرست سبق د ناجورې مُلا

قسم د حورو په مستئ او په خندا د یار
قسم په شرنګ او په نسیم او مشغولا د یار
قسم په ستړګو، په خایشت او په خوا د دلبر
قسم په ساز او په سرود او په ثنا د یار

ته سجدے زړوته کړے ما نوم د یار اخلے شمع کا نه کړے په بلبل کښے کلی نارا خلے
راځه چه زه درته جنون او مستی او بنایم راځه چه زه درته محبوب پرستی او بنایم
سرداری نه کیږی کله ترے مستے نه بغیر
الله لیدنه شی د حسن پرستی نه بغیر

سکندری قلندری دواړه سره غواړی دواړه مستی او خوانمردی خندا غرور غواړی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تہ خو جنت کښے مزے د دنیا چې وے
بې ننداره حورې او تر سکونہ حلوا کوے

نهر د شاتو او کناړول د شراب و ړک — غکین غلمان او ښائسته د کباب و ړک
ملا چې شونا (1) ونې نو حور به په څه سنګلوم — چې قلمے (2) خاړ شي نو لرکې به په څه مضمون

جنت یو خیال دے د عشق د مستۍ یو رنګ
جنت یو شرنګ د ګنګرو د خوا ے غوږ ته رنګ
جنت نازک دے د کل د ارمان هسے
جنت خیشته دے د زړه د جانان هسے
جنت د ریاب یو د مینے اوښان دے
هر قطره نے سپوږمۍ د ځانګے جهان دے

غنی
خانپور

---

(1) ونې : ونډې . (2) قلمے : کرلمے .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمع

محفل له شو رنا شمع له سوزه روکیدل شو
او چا له نیکه محمل کښې پته ستر ګې رنا یدل شو

شو یوله ډنګکارې مستۍ دلته چل دوام او بل د ژوند زوی نصیب دا م کښې لکیدل شو
شو یوله سر ګلونه، ما بنام نو او جامونه او بل ته غمونه لوړ ټند ژر بدل شو

او کوه انسان ته چه بادشاه د خنا ورو دے
دے که پیر زور وکړی و نه شی د خپل خانه
دے د خپل وجود د فطرته لوئیدے نه شی
سل حیله که جمع کړی ځلونه د ایرانه

دے د خپله خانه د جهانه روکیدے نه شی کاله د منځه تاوشی کاله د جانانه
څه وکړی غریب دا په لکها و قالا کانو بند دے که پیر زور وکړی و نه شی د خپل خانه

داځنګ ستا حساب دی ته تلے په کومه تله
د رونده نه د رنګ تحمل او د کا تپوس د شله
داځه شو رنګ سپیڅلے کاله مرګ ژر بدل شو
محفل له شو رنا شمع له سوزه روکیدل شو

غنی
پهار پور

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

جانان زما

نه په تاځه احسان م د مینے شته
نه په تاځه احسان د وفا لرم
او بادشاه د خندا او ژړا ته نے :
خو دا زړے م چه خندا او ژړا لرم

ستا د ستر کو خایشت د ارمان زما — ستا د روح ملک، د حسن جهان زما
داستا شونے چه منکلے اوترے دی — دا د مینے کمال او امکان زما
داچه زه ستا د کوتو تصویر یمه — داستا کوتے جوړئ ماته ځان زما
داچه ستا مرکز تیاته متاز(2) یم — پت دے دے کښے رحیم او رحمن زما

زه به پت ستا د مینے دجاله شم
خو به ړد دے جاله تیاره طوفان

زه به پت د خپل سوز د کماله شم — خو به ړد دے کور ژړا ارمان
بے پروا د جنون د وصاله شم — خو مستی چه نے نوی ځه انسان

څله خلاص ستا د زلفو د جاله شم
چه م کور صحرا دے یا کور طوفان

که رقیب د تیاره روکید نو وے — ما به تاله رقیب کتلے و
که نبا مارم علاج وے د ریځ زما — ما نبا مار به طبیب نیولے و

(1) مرکز تیا ۔ مکز تیا ۔ (2) متاز ۔ محتاج ۔

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

که بل گل کښے پیغام د بهار وے دا　　د ازغو ډک به هم ماکړلے ؤ

ماله بس ستا نظر کښے آرام دے

ماته پروت ستا تالاش کښے دوام دے

نه په تام احسان څه د مینے شته　　نه په تاخه احسان د وفالرم

ستا د ژوند او هوس معجزه ده دا　　چه ځوانی او مستئ او خندالرم

دا دے ډیر بے پایانه احسان د رب

د گوگل په پنجره کښے هم مالرم

بادشاهی ددے لویه به کمه وی

چه ارمان د خپل ځان مینه ستالرم

ستا د حسن جهان گل جهان زما　　ستا ارمان کښے خندا گری هر شان زما

تا نه تخم بشم، پا نه شم، گل شمه　　تر پته، ته بهار، ته خزان زما

گله شے محبوبا د خیام د رنگ

گله سوے شان هنگ د منصور د چنگ

گله خیشت او آرام، د صبا امید

گله تورے شے تیغ شے غم او جنگ

گله مینه شے، رحم، ښه نه شے　　گله زور او زیاتے او غرور او ننگ

ستا هر رنگ یو بے خوده جهان زما

ته پته، ته بهار، ته خزان زما

غنی
بهکنوتر

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

قیدی

څوک د زړه غلو لونشته
ځان له زړه غلوم په خپله
ځان له ناست یمه خپل غم ته
د خپل غم وایم بدله

چرته لرے تیر محفل له
د مستۍ او خندا څمه
چرته مړه شمعه را اخلم
خپل مشال پے لګومه

دے تورې تم غم او افسوس کښے
زه په یاد د مینے پایم
سوے زړه ته قصے تیرے
خو خوانئے رنګینے وایم

غنی
حیدر آباد جیل

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

غیرتی

لالہ م افلاطون دے د تقریر او د تکرار
لالہ م پاس پہ منډیج کړی د نړۍ پہ شان غږار
چہ وخت او بخت بے خپل وی هم بے خپل وی تمامیدار
بیا بس دده یلغار دے هم پہ بنار هم پہ نو بنار
خو چہ وخت د غلبلے شی لالہ مړاوی کړی غوږونہ
قرقرے ملام شیری پہ خوار و لکی (۱) د ستونہ
مړ زدے بے غیرتہ پت پہ بلده مینہ چغیږی
کتړے د کشمیری دے پہ کوتہ پاس مینہ غپیږی
وزیر چہ کلیوال وی دده خپل حکم چلیږی
چہ پوهہ شی ممبر تہ د نوچئی هسے کدیږی
چہ غم شی او تکلیف شی لالہ ځی دبے بے ترخ لہ
وای راهشہ محمدینہ اوس تیلہ ور کوہ وخ لہ
سر پت کړی دبے بے د لمن لاندے پہ ژړا شی
وئی الله . د بنیر غوښہ ! راروان دی اوس بہ راشی
بی بی وانی خاوندتہ . کہ داستا بلا ز ما شی
دا لاس دِ و لے ړیی . پہ سلکو دِ و لے ساشی

(۱) د لکی = د لکړی .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دازیرد یې لینکو باندے دی ښکته څه روان
پرون دِ خواره دیرو وَ جور خورلی شاتوتان

لالهٔ وائی بی بی ته دَدے نوی وزیر ته
خوستادَ مور، دَ خور، دَ زوی تربور دے دَ نیکه
وړځم چه راله وکړی دَ وزیر سره ځانته
زمانه خو زوریکی[1] دیر زیات دَ یَرے وُواته

وړځم چه دَ وزیر سره اقرار او زبان وکړم
او ځان له دَدے شرنه دَ وتو څه سامان او کړم

لالهٔ غریب روان شی مراوے څټ مراوی غوږونه
وزیر ته دیر په مینه تعظیم وکړی سلامونه
بیا وُ خوړی لس طلاقه دوه درے سوه قسمونه
وَئی جناب ماته معلوم شو هیله ستاسو صفتونه

زمانوم هم کړه لیک دَ تابعدار و رجسټر کښے
داسرم شو قربان ستادَ ملکرو په لښکر کښے

وزیر وِ ته مسکے شی وئی ښه وُ لیکه بیان
چه او سه پورے سپے وم، خو اوس شوم انسان
لالهٔ غریب په بلدُ وُوئی[2] دین غیرت ایمان
زرلاس په نامه کیږدی، وَئی قربان شمه قربان

بیان؟ یو بیان څه دے لس به وکړم بیا نو نه
جناب ستا په صفت به او کړ ینګو مه آسمانونه

---

(۱) زوریکی ۰ زکیږدی ۰ (۲) ووی ۰ وومی ۰

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مابنام ریا یو وُوانی چه یو بل غریب د ووس شو
یو بل دَ شهباز زوی دَ جنکه وُ تبستید تپوس شو
یو بل گلزار ایرے شو . ورک شو خاورے شو بوس شو
یو بل پښتون شو سپک دوبے دَ پلار نیکه ناموس شو
یو بنکلے سر شو تمیت یو سنگیالے پښیمان په ننگ شو
عجبه ناکرده شوه چه پښتون په پښتو تنگ شو
نامرده لاله واوره یو خبره دَ غنی نه
پښتو غیرت او تورہ ، په پښتو او غیرت مینه
دا هیڅوک بې لاله نه کړی ، دا هر څوک خان له کوینه
دا ژوند دِ دَ روح ژوندے ، لکه ژوند دَ وجود وینه
دا هغه فلسفه ده چه خلیل تے نے اور کړه نور
دا هغه مست شراب دی چه حسکلی وُ منصور
ارمان دے غیرتی چه عجبیه دِ سودا وکړه
دَ خپلے حیا غل شوے دَ خپل کوره دِ غلا وکړه
چه شپه شوه دَ معراج تارَ تیز و نو دُعا وکړه
چه وخت دَ خندا راغے تا شروع په ژړا وکړه
یا خیال دَ بادشاهئے یا دِ شروع کړے بنکړی واتے
لاله کنی زهر مرشی ، خوزاری ئے شی تل پاتے

غنی
حیدرآباد جیل

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

تسلی (۱)

د تهمت نه په جهان کښے څوک خلاص نه شی — چه آسمان وی کلـه کلـه وریځـے

چه کـم صلـه وی په میـنځ هم نه خپلیږی — چا غږلی دی شنـو شکونه مزے

د قالین برابری به کلـه وکا — که هزار ډنګه شی د ننګ بدن اوبروزے

که د چا په پیړی کښے ته یو لوند ئے — گمان مکوه چه تنبه او نه سوځے

د مردانو کار د پلک ځواب په سوک دی — هسے نه چه ډیر ژړا لکه د ښځے

چه وخت راشی منبه زده تش کړه غنی خانه
څو د قهر وبه لږ مون کښے پټ پټ سوځے

آبی جهاز - نلدیرا
جولائی - ۱۹۲۱ع

---

(۱) دا زما اولنی شعر دی چه د خوارلس کلنۍ په عمر کښے لیکلی شوی دی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوال

نه م ستا دانړۍ شونډې دی پکار — نه داز لفے دے ول ول لکه بنا مار
نه دبتے په شان دنګه غږۍ غوارم — نو کسی سترګے نه دے دخمار
نه غاښونه دی لعلونه دعدن — نه ننګی دے غټ سره وسپه لکه انار
نه پستے نه سرینډے په شان خبرے — نه وجود لکه دسړے وضعدار
خو یوشی راته وښیه دلبره ! — دلالہ په شان ذ پک غواړم دا غلدار

یو دوه او بنګ چه د غم او محبت وی
په لکونو به لعلونه تر ے کړم زار

آبی جهاز - نلمیړۍ - جولائی ۱۹۲۹ع

خانان

عجیبه دے ده خانی عجیبه دے ده خوانی — ای پښتو! پوه دنه شوم، په وړاپه وړانی
دادلا نوے هنرونه، چه چیل وی ورونه بے — پیرزنګی ته خو ښنګ نه چه کړلی پیزوانی
چه پټکی نے پرپرې وی، پچهره کښے زمزمی وی
ناست دے ماچوی پخته، دخانانه وینی ثانی
وائی پلارم بهادر او نیکه م سکندر و — چه د خانانو سے دے کړے پس هیس وی امانی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

په غریب همسایه نروی، یا په منځه زوروروی
د جنګ په وخت کښے پت کونارهست وی، خو د جنګ ځی ارمانی
غنی: نه دروی دواشته، نه طبیب ورله وتلے شی
د خدای قهر پرے لګیا دے، چه ذرزر کړی فانی

افسوس

زما ستا سره یاری : وه دمار سره خواری
کلا بی ننګی ستا جانه وے سکروتے انداری
سوزهیږمه ژړیږمه دښتیا زه وم آزاری
په ژړا ما خندوله ستا سره ستړے کے خاری

آخر کل م خزان یوور
عبث ما وکړه خواری

راګ

په تکلیف کښے دیو دوست نکړه آواز دے د تله لو خوږ د مخه بنکلی ساز
سوی زړه م یو څل آسمان اوته وکړه فرښتو ترنه چل زړه کړه پرواز
کوره کوره داشاب زما داوښکو هر یو کوټ نے لړی سوزهم لوبی ساز

بے پروا زما د عشق په خندا
آے خاوره کلمه ! ته په څه کړے نازونه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کہ خیروی

ستا کوئی دی پیژنگیہ: زمونږ سینے — زمونږ وار بہ یوورځ وویني وینے
دا ستا حال د کمال بہ زوال شی زوال — دریہ کړو د غیرت د جرأت نمونے
دا زمونږ بچی چہ نهر ژاړی نن — د دے اوښکو پہ خای بہ خی ستا سترګو سینے
او بہ رو رو شی دا ب بیا لاهو کړی وطن — دا سیلاب بہ یوورځ لاهو کړی ستا چمنے

د قسمت د غونډے لاندے نن زه سبلتہ
نن زمونږ جگړہ سبا ستا سو سینے

حال زما

خدایہ زه یم بد نصیبہ، کہ جهان کښ وفا نشتہ — غم م تاوده زړه غریبہ، یو ذره پکښے سا نشتہ
د ګ جهان راته صحرا شو، آباد ملک راته بیدیا شو
خدایہ دا کوم رنځ زما شو، زه مجنون او لیلا نشتہ
چہ جوړے جوړے یاران، ما بنام سیل له شی روان
زما مل دی بس ارمان، بے د د ے څوک زما نشتہ
نه معشوق څوک زه لرمہ، نه معشوق زه د چا یمہ
هر یو دم یم بے همدمہ، زما زړه کښے خند انشتہ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پریښوم زه نوی دوستانو، هیر کړم زه زړو یارانو
زه زخمی کړم ظالمانو، دے پرهر له دوا نشته
خدایه: تاته کوم سوال، تاته وایم دزړه حال
روغ مې کړے زړه کی جلیل، بے ددے مې ژوند نشته

که

که مې سړ زړه صلاح وی اوریدلی — زه به ناست وم په پیرس امریکن نه!
که زما خپل پلار پیش کښے څه اختیار وے — زه به وم آزاد چوړے، خان پښتون نه!
... که قول الله ماته سپارلے (۱) کړل — زه به ځای کړمه دوزخ خپل وطن نه!
دغنی دزړه که یو رګ هم ژوندے وے
ده به کړل ویرونه شعر او سخن نه!

دوصال مزه

دوصال مزه که مانه وے څکلے — په فراق به تر ازله وم خوشحاله
اول ژوند وم تا بینا کړم بیا د ژوند کړم — څکه نه راکوی ژوند مزه اوس ماله
چه په شا تو باندے وپائی عمر و نه — شمکی به مزه ودرکاندی بیا چاله
شه پخولا دخدای دپاره زما کله! — خوښ زړګی مې ددالئ راوړے تاله

(۱) یعنی ماته وسپارل.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

گلستان دخوشحالی کښے تل تل خاندے — څه خبر دے غریب بورا د حاله
یار م واخیست رقیبانو، لیونی شوم — عبث خلک راولی طبیبان ماله
دا مرض نه ماله زړه کله وینکے شی — ما پسے دښمنو دے لوے کړی څوځو کاله
دا مثل دی چه داور علاج په اور شی — نه جوړیږم نه جوړیږم بے وصاله

چه آخر په ژړا خوار غنی رخصت شی
ورله وشلوی کفن دیار دشاله

ثنا

چا ته غر کړے اوری چا ته پوله کړے غر — هر زړه تا ته معلوم هر راز تا ته ظاهر
د کافر ته آقا، د مومن ته مولا — ته جیږس یې ها، ته یزدان ته الله
لاړے ستا د محل، څوک اوږدے څوک وړے — مسافر ستا در، هر امت هر سړے
هر یو ډانی لاړ نه ما نیغه، ستا ده خطا — څوک دے لږ څوک دے ډیر، څوک دے همه بښتیا

که انسان دے پیدا، بیا پادشاه د دنیا
مرحبا، مرحبا، مرحبا، مرحبا

مورے

چه غمونه م د زړه نه شی چا پیره — او د خلکو بد خوئی د حد تیره
ستا موسکی ستر کے م تل وی مدد کاره — ستا یاد یاد م هیڅ کله نه میږ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بانبیرے

بیاشروع شولے پہ ما دغم چپے　　بیاخوبہ بے آرامہ مشوے شپے
یوخوارند یوخواساقی یوخواشراب　　بل خواکوت کنبے زاھد اروی تسپے
پہلوکی دھغہ اودوارہ تودیږی　　چہ عالم نے کرجلیا تپے تپے
غنی: خوبہ دارمان پہ لمبوسوخے　　خوبہ وی دا فراق سرے تپے

دخوانئ اختردے لاړنکړیږے خہ کړے
منبہ بہ وی چہ پہ دیوال نے وتپے

بہار

کړ شروع بلبل چغار　　او، بود افقیر ستار
وئ (*) غزلے مړیو تار　　شو موسم د نوبہار

منبکلے منبکلے سبزہ زار
شو موسم د نوبہار

غوتئ پیغلے کړی خندا　　عاشقان کړی مشغولا
بے خبرہ د دنیا　　څنګ پہ څنګ سرہ دیار

شو موسم د نوبہار
کل چمن نہ نار زار

(*) وئ: ولی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

معشوقے شولے مغرورہ ستر کے د کے تل د نورہ
داشناسرہ مخمورہ پہ مستی کوی رفتار
کل چمن ترے نہ زار زار
شو موسم دنو بہار
شو بدل جہان د رنگ رنگ شو تول جہان پہ رنگ
پسے دیارنے چنگ پہ چنگ زرہ زما د گلرخسار
منکلے منکلے سبزہ زار
شو موسم دنو بہار
سرہ گلونہ شین اسمان پاک نسیستہ (*) مخین اسمان
لر شلنتے رنگین اسمان یاسپوږمی یا مخ دیار
کل چمن ترے نہ زار زار
تول وطن ترینہ زار زار
کورہ ستر کے وہی ستوری یارہ ! راشہ پہ دے لوری
وارہ غلی غلی کوری شو موسم دنو بہار
منکلے منکلے سبزہ زار
کل چمن نہ زار زار
سپوږمی تول وہی گلپیزی اودستور ولاس پرقیزی
اوس بنکارہ شی اوس تیزی دورنجوپہ گلزار

(*) نسیستہ : نیایے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

شکلے شکلے سبزہ زار

شو موسم دنو بہار

غنی ناست دسیند پہ غاړہ دغمونو ترے تاو جارہ

څہ بہ کړی سپوږمۍ وارہ څہ فقیر څہ نے ستار

شکلے شکلے سبزہ زار

کل چمن نہ زار زار

ای دھرچا دلبرہ

مخ دے تابانہ ستا ستر کے دو بنانہ ستا

حسن بے شانہ ستا زہ دے دلگیر کړمہ

ما بنام دسیند پہ غاړہ چہ وہ دنیا ویجارہ

تہ وے سنبیستہ ولارہ کلہ دے پہ ځیر کړمہ

***

اے دھرچا دلبرہ! اے بے وفا دلبرہ!

شہ بس زما دلبرہ! ظلم کول دران دی

ھسے نژدے ھم لرے ستاستر کے کړی خبرے

څومرہ سنبیستہ بشرے تا تہ کتل کوان دی

***

کوان دے زوندون دیر شو دزرہ مارغہ کیر شو

لارو بھار تیر شو عبث فریاد کومہ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنورو یار شولے تہ — پہ بلہ لار شولے تہ
منکارد ویبان شولے تہ — خوبہ دے یاد کومہ
زرہ دے صفا دغنی — قصہ دبنستیا دغنی
مینہ بل ما(۱) دغنی — جانہ ! اتبار وکړہ
راشہ جانان شہ دہ — ورو کے خان شہ دہ
یو ورځ میزبان شہ دہ — دیرے مدار وکړہ

غزا

مسلمان بہ نن غازی وُ — کہ ھندو باندے غزا وُ
وئی(۲) کښے تہ دے تینگ نہ یم — خو مولیٰ تپیر تہ واوہ

خان

خان راخیستی دی ملا پسے خوبارے — خپل کور یسم کړہ څہ پردی غمونہ ژارے
بل تہ وائی دحرص وباسہ غا نبونہ — او پخپلہ سوا پہ لاس تیرو دے دارے
تل وطن پخپلہ وران کړے بل بدنام کړے — ملایان دے کړل قارغان خوار خوارے
چہ پخپلہ پہ بیہ قام خر خوے تہ — بیا پہ کوم مخ پہ ملا کوے پیشارے
چہ پخپلہ دے مخ کال کښے نئ(۳) ویخلی — بل تہ مہ وایہ زړکیہ ! چہ پوارے

(۱) دیرہ. (۲) وائی. (۳) نہ وی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته اول د صاحب پریږده سلامونه بیا په ده سر سایه پریږده په ولاړ ے

د غنی نصیحت واورئ اوس خان سم کړه
خو لے لښه راځی بیا بیا تو کلی لاړ ے

اتفاق

ملاوائی مغربی تهذیب کړی کړ ے وکیل طائی مونږه غوارو اصلاحات
د مقاوائی هاى نفسوس بار لاصو کړو سرکار طائی چه لږ تیکس مه کړو مونږ زیات
بورد اپلاروائی فیشن د نښو کار دے کالجی زوی وائی په کار دے مساوات
دنیاوائی علم لار د ترقی ده منکل وائی د سقاو پلار نه ډیر قراط
باچاخان وائی آزاد د اخپل وطن کړی ملکان طائی اول د ا کړه حوالات

غنی وے که ما د زړه خبرے وے
پښتانه به م په سر لرکی کړی مات

انسان او فطرت

زما زړه د خوشحالی تازه چمنو چار چاپیره تر ے باغچه د یاسمنو
دلته زړ کے هلته سوی بورا کان وو یو خوا کوټ کښے په څنډ شینکی طوطیان وو
وے په منځ کښے فوارے د امید ونو دیارانو د دوستانو نښیسته جنو
څوک به تر تره تر ے تر لاړ ے د تیزی نه څوک به پوته قدره شود خپلو خانے نه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

عزیزه داچه هر طرف ته خوشحالی وه — خوشحالی که خوشحالی (*) و د مالی وه
څه خبروم چه خزان به مې برباد کړی — دا زما هیڅ خندان نه ناښاد کړی
ای ظالمه اے کمبخته اے بے داده ! — اے زما د خوشحالی د سر جلاده !
دا نبیسته نبیسته کلونه لاغوتی دی — په دوی مه خاورې کوه دنیا آباده

خدائے دپاره خدائے دپاره رحم وکړه
دا نبیسته ښکلے وړه باغچه زماده

غم

که زه نه یم خوشحالی به چیرته وی — که خزان نه وے مالی به چیرته نه وی
که بلا نه لاړه خوشحالی به واړه وکړشی — که تیکی نه وی کالی به چیرته نه وی

دالله هر یو قدرت د حکمت رنګ دے
دانسان عقل لا نه پوهیږی هلک دے

داروش د دنیا

لندن

چه ترمخ شی د چا لرے — شی د زړه نه هم فنا
گیله مه کوه د چا نه — داروش دے د دنیا
د دوی لاڅه مې دی یادے — ما ښام تیر شو اوس سبا
بس مانور غولوے نه شی — د زاغانو مشغولا

(*) مالی = مالیار = باغوان .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروره : کلک څنګ شوم چه راپورے دانګ شوم
د قسمت په تال تالئ خورم کله څه کله راځه :
هم پښتون یم په نسب بدل اخلم د هر ډب

چه زے (۱) هیر شوم زه بے هیر کړم
دا روش دے د دنیا

لندن

ازبیلتہ

زما هیر به نه شی ستا لبان نبیسته نه د سو زرو په شان زلفان نبیسته
نه خندا ستا غلے غلے زما خو اکنے ستا شنو ستر کو به کتل جهان نبیسته
فرښته به وے دوره څے ، د شپے حوره چه دیدن له به دے جور مرځان نبیسته
هغه لاس په لاس زمونږ د باغ سیلونه هغه شین دستونو ډک آسمان نبیسته
دا مثل دی چشمه تیر شی هغه هیر شی څوما هیر نه کړے شو ستا لبان نبیسته

خدایه ! بوخے د اخزان چه بهار راشی
بیا زمونږ ده مینے شی جهان نبیسته

لندن

زوړاور

اوه د غمِ م شو سپین د ستر کو تور وسوم خاورے شوم ایر شوم لکه سکور

---

(۱) زه ئے.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اے بلبله! که ژړا کړے ماله راشه — کنے څه که خاندے وخندده نور
سوے لوے لوغی پتنگ وے خلکه: — راشی ډکوری زه نیم سوے په اور
لاله وشهید ستر کے نے کړے منکته — بورا ولیده راپریواته نسکور

غټے ستر کے دنرګس او بنکولا موکړے
په لمبو شو دمو دومړ شوے اور

لندن

د تودے فریاد

چا کړو خرڅ خپل دین ایمان په جینکو — چا په مال چا تش په تمه دروپو
چا بدل کړ په هلک چا په شراب — څوک نامے دروغلی په تسپو
مونږ عاجانه کړل په نومونو لقبونو — دصاحب دښو په ځای موتپو

اوس نو مونږ شوخوږے نه بنکلولے
تش شپیلئ ته لکئ واو (۱) لکه دسپو

جټه

بے تعلیمه بنځه غواده — سخو کتوله بے بهاده
نه دراښیږی نه سمیږی — بس یوشی یوه بلاده
خوله ئے ژرنده نه دریږی — دچرچنو شغولاده

---

(۱) دهو.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زوی ئے وران لور ئے ناولے　　خود غوا پرے څه پروا ده
یو واده د خدای رحمت دی　　یو طاعون دی یو وبا ده
په کالو نه ښکلے کیږی　　دا بد خو به دلبر یا ده
په کیلو نه ستړے کیږی　　تل ویرونه دی غوغا ده
فلانے دا سے فلانے دا سے　　دا ئے کار دا ئے سودا ده

وائی غنی مین په غوا
چه د رډغ دے کړے ربنتیا

خر مستی

هسام شو له ما نه نیمه لاړه کښے شوم پاتے　　خوانی م شو له مړاو د بیو پاړے شوم پاتے
یا ما به خندو لے جو نے ښکلے سړے بلبلے　　بو د اشا خیل شوم و یم (*) شلیکا نبل ته غړے
ستا ر شو تا ر په تا ر د لو ے د ریا پاړے شوم پاتے　　هسام شو له ما نیمه لاړه کښے شوم پاتے

وه لو یم سینخ م اینه ستړے چلبانے
اوس ستړی مسافر په لوی سفر څه یوازے

ستی شه دا مستی د کړ د کار پاړے شوم پاتے　　هسام شو له ما نیمه لاړه کښے شوم پاتے

یا تله الو تمه پر قید مه اور وم اور
سپیره پاتے ایرے شوم په زړه سوے په مخ تور

شه ورک دا بو د اتو د مخ د پاړے شوم پاتے　　هسام شو له ما نیمه لاړه کښے شوم پاتے

(*) دیم ، وایم

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترانه

کړم به خپل وطن د تول جهان دنډارو رو ملک به کړم آزاد

نه جوړیږی بے نما د وینے دا دارو رو تل ببوی نابناد

یا چه خان قربان کړو په وینو ئے سم و دان کړو

یا چه ئے سم جوړ کړو یا چه ئے سم ودان کړو

څۀ چه بیائے وینې د انقلاب کړو په نارو رو هسی شو برباد

کړم بخپل وطن د تول جهـان دنډارو رو هسی شو برباد

واچوئ نهیستو ردئ (۱) سره په وینو سره وردئ

کوی مونږ ته خپل پردی نن به شی بنکارهردی

خان د خندا نکړئے ای تورو لارو رو (۲) دا وخت دی د مراد

کړم به خپل وطن د تول جهـان دنډارو رو ملک به کړم آزاد

څه به کړم بے ننګه قام څه به کړم بے جنګه قام

وینو کښے د ننګ بنګه قام څه دی د بے ننګه قام

یا به پرے لوګے شم یا به ئے جوړ کړم بے دارو رو دا وطن بـر باد

کړم به خپل وطن د تول جهـان دنډارو رو ملک به کړم آزاد

---

(۱) لباس، درشی. (۲) مخفف د ولاړو.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعا

خدایه! ستاوره دنیام نه ده خوښه — ماله راکړه پخپل لوی جهان کښے برخه

چه کوم ځانے کښے بے ګناه ګناهکار نه وی — چه کوم ځای زړے چړے دا غیار نه وی

چه کوم ځانے کښے وی بے حسه زما احساس — چه کوم ځای صبر زړکی وی لوتش لاس

چه کوم ځانے کښے فریاد نه اورم د کونډو — ماشومان یاپتو کړو پسے په منډو

چه کوم ځانے کښے نهمزه شته نه قانون — نه عشق نه وصلونه نه بیلتون

چه کوم ځانے کښے واز ے ستر کے ناینا وی — چه کوم ځانے کښے یوشان نن پرون سبا وی

چه کوم ځانے کښے که بادشاه وی که ملنګ — یو ے تخت او یو ے تاج یو ے پالنګ

چه کوم ځانے کښے مال اولاد دوستی یکاره — چه کوم ځانے کښے نکاروان اشته او نه لاره

ستر ے ستر کے م کړے پټے یا الله
زما خوښه نه ده ستاوره دنیا

زړه اوسر

نن بادشاه سره په جنګ شو لوډ وزیر — غصه عقل شو په لاړو د ضمیر

وے عشق مه کړه دا پیغام د مړ ے کی — زړکی وے نه! عشق آرام د د زړ ے کی

دا د پاک الله صفت دے — دده نور دده رحمت دے

دا په دے محکمه جنت دے — دهغے جنت نعمت دے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دالہ تولولوی دولت دے دابانی دشجاعت دے

بے لہ دے بہ جہان سپورہ وی

بے نمکہ لکہ چکور وی

سر:

چوپ شہ چوپ شہ اے نوکرہ دبتانو! ئے غلام دتورو زلفو سرو لبانو

تورے زلفے دے دیار دغم تیارے دی سرہ لبان دے دوزخ کور دشیطانانو

دکنا مارپت پہ دے کلو کښے ناست دی لہ جنتہ غور لحولے دی انسانو (۱)

لیونی دے کر مجنون فرہاد دے ورک کر بنارئے دے کرے تباہ دبادشاہانو

دے بدنامہ زلیخا پہ تول جہان کرہ د مغولو کور دے دلاسہ ورانو

چہ زما سرہ ځوک مل وی تل یادیږی ځوک سقراط ځوک بقراط ځوک لقمانو

عمر ځوک وُ ہارون ځوک وُ مامون ځوک وُ لہ ہر چا ولی باشاہ (۲) لوے سلیمانو؟

عالمان پیغمبران زما دوستان دی

عشق دے کا ردلیونو یا ملکانو

زلفہ:

مکرہ لاپے دځان ندم دی پہ کار عطر وائی خپل قیمت چوپ وی عطار

راتہ بنکاری تہ ئے روند پہ بینا ستر کو پاپوہیږے خوکرے مکرئے مکار

تہ انسان تہ بنیئے لارہ پہ جہان کښے؟ دجنت انسان تہ مینہ بنیئے لار

---

(۱) دقافیے پہ لحاظ دجمے او مفرد املا پہ یو شکل دلیکل شوہ. (۲) باشا: پاچا، بادشاہ.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د آدم نه دی راز پوښتنه وکړه — تول جنت ئے کړپه ده باندے نثار
یا تپوس د ارنی موسیٰ نه وکړه — لاړشه وپوښته یو ورځ دحراغار
د مجنون یاد فرهاد نه سلا واخله — یا منصور ته وایه ولے شوے په دار
منصور ځان کښے موسیٰ طور کښے نور لیلیٰ — پښه کوم لیلیٰ مجنون کړے اختیار
یو معشوق په بل بل رنګ په بل بل لباس کښے — خندوی او ژړوی هزار هزار
جلال یو دے جمال یو دے کمال یو دے — هر عاشق ئے وینی خپل کښے خپل یار
لکه څنګ د نور په نور سپور بحر بلیر بی — تاسے ښه ښیئی معشوق نور د رب غفار

څه که خلک لیونی غنی ته وائی
دیر منه پیر غنی خپل یار هم نور دیار

(اتمانزی)

کونډه

کونډه ناسته په ژړا سر تکوی — چه زامن ئے په کولو شوشهیدان
کور ئے کور شو تیار دیوے ئے سره شوے — کور کا نو کړل فنا نبیسته ځوانان
د دنیے دنیے بچی سر ته ده ناسته — په ویرو نو لړزوی محکمه آسمان

اے زما د کونډے ملا لویه خدایه!
اے منصفه زما د انصاف ځایه!

زهم وکړه په سپین سر تانه ژړا یم — دا زما روستے کلاب رانه مه بیایه
دا یوه څانګه زما د تالا باغ ده — دا لالے زما مه بیایه له دے ځایه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور دے ورک کړل په کولو د کوڅکانو دا زما او روستے بچی پریږدۍ خلۍ

دا زما د سوی زړه یو قلار ے دے

کہ نے اخلی نو جمان ځان تہ مہ وایہ

دا زما د کښے ملا یو ہ مسادہ کښے بیا ے ماتم لار د کور و بنایہ

اللہ رحم پہ سپین سر د بودی وکړ مړ کے راغے خلاص ئے کړو لہ گریان

دبچی پہ سینہ ساو رکړہ عاجزے بوی تر ے لاړ تش کل شو پا ے پہ میدان

پہ آسمان کښے فرښتے پہ ژړا سر شوے پہ سجدہ پریوا تہ تول پیغمبران

د عشق نور

د آسمان د سوری لاندے او د ستور و مشغولا کښے

دیخ سیند پہ غاړہ ناست و دو ہ یاران مشغول لا کښے

د سپو ږمۍ زړہ شو خوشحالہ پہ خندا نے لاس کړ پورے

د عشق نور نے مرخوا خور کړ پہ بلبل کښے پہ لالا کښے

خوشحالی و زړے وکړے چہ زړہ د باغ سیل وکړی

او دا د وا ړہ یاران بنکل کړی

د سر و ستور و مشغولا کښے

(د اتمانزی)

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اے زړه

اے زما د زړه بلبله ولې زاړے؟!
ولې څه پسے خپه ئے څه شے غواړے: ؟

څه د پاڑه دے بوستان د عشرت پرینبو
څه د پاڑه دے غمونو لټے (۱) جاړے

دا ته بنکاري جوړ بیا ئے شیدا شوے
خکه نه وے نغے کوټ کښے ولاړے

دا ته څه وے؟ چه یورپ کښے دلبرے
د رقیب یاري کړه جوړ چه ته لاړے

دا یورپ دے جینکو کښے وفا نشته
بے وقوفه! ته د مړو نه مستي غواړے؟

(اتمانزی)

ته اوزه

ته د همه ؤ خوښند و کشره ئے
او زه د خپلو مشر دود یمه

خو په ښایست د تولو مشره ئے
خکه همیش زه پروت نسکور یمه

ته ئے کلاب په شکل او فطرت
او بلبل ښکه کیکړا زغمے یمه زه

خوږ د کښین نه خوږ دی ستا لذت
هسے بیخونده بے مزے یمه زه

لکه د ستوری ته ئے کل د آسمان
د جهان د ناپ کښے د زړه عکس نه یم

د شپیلئ ساز پسے یم کله روان
کله په زړ کو کښے ستار قص نه یم

ته د سحر په شان ښکیسته او ښکلے
زه د ماښام په شان غمگین اوستړے

---

(۱) لټوے.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نشه په ژوند دشراب ستا ډبرخه — زه په وسواس خورلے شوے مزے
ته دسپوږمۍ په شان موسکۍ هوښیاره — اوزه دلمر په شان سوزیږمه تل
ته دلولۍ په شان د ګلو یاره — زه دبلبل په شان ژړیږمه تل
ته ئے نسیم رازدار د بنکلو ګلو — زه ګونګټ یار د ژړید لو ګلو
ته ئے شبنم بے بے دنوو ګلو — اوزه زور ګلشن وطن دسوو ګلو
ستا په خوږ وهر یو غزل دے بنکلے — اوهر یو ویرزما د زړه وټلے
سرهیڅ تا نه ده خندا زده کړے — شپیلۍ زما سلګۍ دی اوږدلے
زه مقتدی یمه او ته م امام — ته ئے مالک زما اوزه دے غلام
ستا د پښو ځای زما د سر دے مقام — ستا بنکلے تن دے مسجد الحرام
زما جوړه یوه ده ویجاړه — ګلے ! راځه چه ورله ورشو دواړه
ستا په ښوپټ به زما بدشی واړه — ازغی هم ښه بنکاری د ګل پیچاړه

(اتمانزی)

بابا تہ (۱)

ستا خطونه ټول زما سره پراته دی — زه ئے لولم هره شپه دوبار دوبارہ
کله خاندم کله ژاړم لیونے یم — اے زما په بند کښے پروت غریبه پلاره
نه ته ننه ئے غریب ته دیر لوے اوچت ئے — مصیبت دے ستا عزت ته عزت دارہ

---

(۱) دا یو منظوم خط دی چه غنی باچا خان ته دلندن نه د هغوی دیو شکایت آمیز مکتوب په جواب کښے لیکلے دی، باچا خان د غه د وخت په جیل کښے ؤ .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای بہ رحم وُنہ تا باندے لږ کړے　　بل بنہ زوے بہ ئے وُ کتلی ستا دپارہ
چہ پہ تا کښے کوم جوړ دے ما کښے نشتہ　　ستا نیکئ زما بدئ دواړہ بے شمارہ
تہ سالار ئے د کاروان پہ نیغلار ئے　　زہ کوږ خُفلم لکہ اوبنہ بے مہارہ
ستا د زړہ فوارے دے کے دی د مینے　　زما زړہ وچ کوہے نہ لږی یو دارہ
وہم مندے تا پسے خو تہ ہم لږے　　وینم ستا ایلہ ایلہ دپښو غبارہ

پروا نشتہ کہ پہ مندو مندو مرشم
فقط ستا اوږد چپل قام د نوم د پارہ

(لندن)

خانصاحب

پیسہ تک خان زما لوے یارے زما خوښ دیر دے
کوی لمونځونہ پہ روژو کښے لہ ہر چا تیر دے

ابلہ ورځ م پہ یوځاے کښے دیر دلگیر ولیدہ
ماوے کاکاولے خفہ ئے جومات دے ہم میر دے

وئے وے بچیہ! بیکاوورا کړہ غلہ را غلے
اوس را نہ ہسے د خفکانہ روکو د رہ میر دی

خوشحالہ زړہ کښے شوم خو مخ م لہ خپکانہ کړ دک
پہ یوکوت میخ نہ کیږی کور د بودالوے نیر(۱) دی

---

(۱) نیږہ ویالہ، نهر.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیام تپوس پہ هډ دی تر نے د نقصان وکړو
بود اپه سر و ستر کو په خوږ زړه دابیان وکړو

وے بچیه: ماته هر څوک مالدار وائی — تول پولسان د تغاصیب یا نمبردار وائی
او اما مان رانه تپوس د زکا تو نوکوی — زما پشاسان ی بل نشته څوکیدار وائی
موسلی وائی چه انا نو کښے یو خان یمه نړه — عبث زما نخ کښے بټرا ته څوک هوښیار وائی
غله په تمه د روپو نه ماکړه راغلی — ما تپښه استهنت صیب د سه کار وائی
خو یم خپه چه په تش لاس شو لو رخصت موزران — اوس به قصه زما د کو په هر بازار وائی

چه منږ کان پکښے د شپے نیزه بازی کوینه
دیو جوار په دانه هم چرته تیندک نه خوږینه

ماوے کاکا: نن وږ څوک د غه کا ته کوی — پخپله مړی د لو ږ بل نه خیرا تونه کوی
محکمه کا نه کړی یا په هسو مال د بنیانه خلی — بیا پرمړ پلا ر له د صابو کو ړے شفا تونه کوی
بړیښنو ر کړی چه تو ده م اوس تو ده وخوړه — یا تمانچه په تخ کښے واچینی (۱) فساد نه کوی
دا ځمته بړیوه پیسه کتلی نشی — کو ړی نمړی جمعدار ته بښتونه کوی
نشه دده دا نلا مو خرخی (۵) د پلا ر ملا ډی — ټمبرے هم د کو ړه تښتی مجرتونه کوی

خدای دے پخپله وتپه وکړی هدایت دلا ړے
غنی که وائی څه وتپه وائی تم (۲) د کومه پلا ړے؟

(۱) واچوی . (۲) تم = ته مو . (۵) خرخی : خرخوی .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مورے

کرچہ خاورو کنے دے پت وجود ستا مورے ! — مانتہ یادے ھغہ شان ستا ستر کے تورے

مورے : ستا لاسونہ مانہ نہ دی ھیر — چہ تکلیف کنے بہ زمانہ وُ چا پیر

ستا دخولے تمے یادومہ ھر مانبام — دکنجی دمرہ مونے دبھرام

ستا وملدبل د مینے نہ خوابدہ دو — ستا کنځل زتہ دبل دعانہ سبہ دو

یا چہ مابہ دیر خراب وکړل کارونہ — او بابا بہ لږ زول مخکے آسمانونہ

تہ بہ وے زما ملګرے زما مل — او زما سلګو سرہ بہ تاڑل

مورے یادے مانتہ آورو کے تال — چہ تانرہ بہ نہ نکولم کال پہ کال

ستا جوتے جوتے سندرے ارخندا — چہ بہ ئے سپک لکہ دباد کړو زرہ زما

یا چہ مانتہ بہ لہ قستہ شوے پہ قار — زما اوښکے بہ دے بوتلے پہ زار زار

مورے یادے مانتہ وارہ اخترونہ — چہ بہ تا پہ ښکلی مخ کیښول خالونہ

پہ جګړو بہ دے نہ کړمہ پاک بنیستہ — مابہ خان کړلو پہ خټو ابتہ

تابہ وو ھلم بیا بہ دے کړم ښکل — پہ خندا بہ دے زما کنځل نہ غمل

مانتہ یادے دھغہ شان ستا موسکے شوندے — مانتہ یادے ھغہ شان میلوتہ منډے

چہ مانبام بہ ستړے کور تہ راغلم نہ — ستا پہ غیږ پہ اللہ ھو بہ شوم ویدہ

مورے : مانتہ یادہ شپہ دہ یوہ تورہ — چہ زما وجود وُ کړم لہ سرہ اورہ

زما سر کنے وُ شغار دجھا زونو — او غوږ ونہ مِ کانہ پہ آواز ونو

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما مور ے: ته تا به وے. قربان.
زما مور ے! ماته یوه بله ورځ ده یاده
وه دیر یخ شان ستا تاوده لاس نازنین
ته موسکئ په خوب ویده وے پاخیدے نه
ما وے مور ے! مور ے! تا. قربان. وے نه وے
ماژدل اوته ویده وے خندیدلے

زما مور ے: وئی. ته به تا کاوه کریان
چه زمونږ کور لړزید لوله فریاده
کلابی ننکی ستاوده بے رنګه سپین
ماژدل د ته اوته راویښیدے نه
وے پرته خاموشه کل په خزان سوے
ماژدل اوتا پوس نکړو چه وے ؟

کړچه خلور وکښے دی پټ وجود ستا مور ے!
ماته یاد ے هغه شان ستا سپرلے توره ؟

کل که یار

اے زما د ستر کو تورہ!
اے زما د سر کلابه!
په زاړئ د ته ولاړ یم
ستا زیارت لیم راغلے
مال دے حسن ته امیره
د بنایست زکات دے درکړہ
ته بلبل ته منیسته کل ئے
خوله دے وسپړہ اے کله:

اے زما د زړه قراره!
اے زما بنایسته یاره
یو نظر را باندے وکړہ
مسافر یمه په لاره
اوزه خو لوزار فقیر
اے زما مهر نکاره
او پتنګ ته زنا وے
تول پرآدی بیقراره

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا په پانو دا شبنم دی زما په ستر کونم
ژروی ما هر دم ستا از غی تیره بیشماره
درکوم زه د زړه وینے چه ستا پانے شی رنګینے

داستا سره شونډے مهینے
شوے دے وینو په داره

لیلیٰ

په پالنګ ناسته لیلیٰ په لاس کښے اوبه غیږ کښے ستار
ستر کے ئے دکے دپرسان او انتظار نه دیار
دمراو کے کل په شان ئے مخ زیړے زیړے شان دے
ول ول ئے زلفے ترے چاپیړ لکه تور نبسامار
واره واره نبیسته لاسونه د خفګان نه مړه دی
په چوپه خوله د عشق سانه ونه وهی هر یو تار
لیونے نمر په زیړو ستر کو دے ستر کے لتئ
وروستئ سلکئ کړی رو رو مری لکه د غم بیمار
خو دے ستر کے دبل چا د ستر کو نور غواړی
نه زیړے لمر وینی او نه دده د ستر کو خمار
سر زر کی غوښ کړو خان ئے غرق په خپلو وینو کښے کړ
سپوږمئ سر تور کړو رپے ژاړی په زار زار زار

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پالنګ ناسته لیلی هغه شان سه تار غږ وی
او خدای خبر عشق به کله بیا زړه کے دیا رخوږ وی

سوال

خدایه! وکړم د غنچے سره خندا؟ — که د خوار غریب بلبل سره اګریان
خدایه! وګورم د خپل یار بنکلی مخ ته — که د خپل سوی زړګی شم تماشان
خدایه! وویړیږم ستا د لوښ دوزخ نه — یا که تمه کړم شروع د حوږ غلمان

ته مے پوه کړه ته مے پوه کړه نه پوهیږم
چه زه تا کړمه خوشحاله او که خان؟

لیونتوب

یا زه جوړیم دا ګاه خلق لیونی وی — یا دوی جوړوی بس یوازے یم لیونے
ما محتاج د ستا د دوزخ جنت نه — څه په بل د باندو نوخان د رسونے (۱)
د وګ د استاد ناپاک جهانونه — د وګ د استاد عشق کړی زنده په ګورانے (۲)
د اشنا نو د زړه د خیال جهان ته — چې خپل جهان شی د وګ د پښیمانے
نه نیستهه لری نه غم نه درنځ نه لوبه — تل سوز د شباب یارانے جان جانے
د سینا نو د چیو په شانے دا ټکے — خوشحالئ ته بے پروا جاودانے

---

(۱) د نورو: (۲) ګورانے. مګر د ته د شعر د وزن (کیدلو) د پاره پلمه (یا) د لاسته شی د وږمنو ا مطابق رغښتے دے.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمالمرم ستادلمر په شان خلیږی خو دښمن دی نه دکل نه د خوانۍ

زماخلک هم ستا دخلکو په شان سوچی خو په عشق کښے نه دخپلے په خانۍ

زه هم کړمه زلزلے عالم تباه کړم چه موسکی کړم څوک لینی ناجشانۍ

زه هم وژنم عالم خاے تو لجد کړم چه بیتوانه شی دمینے د توانۍ

زم دوزخ جنت لرم وړو کے نه یم دوزخیان کړم ستا دملک په کامرانۍ

جنتیان کړم بوا کان په باغ کړے یا لولی چه دکلو نوښنی خوانۍ

زماملک کښے دولت نشته خوشحالی ده دی زمزم زماشراب سره نغانۍ

وی باران زما په ملک زما په اوښکو په خندانے تاته راکړم زندے خوانۍ

مست رنګین شیرین جهان دلیونی دے
ورته خاندی دک د مینے لیونۍ

توبه

په نیلی دخیال اوچت شوم له جهانه و دعقل فانوس لاس کښے مے روښانه

له وخو چه شوم تیر فانوس م ړسوشو په تیاره دم نیلے لاړ ترنیم آسمانه

دفلک شهزادګی ناسته و باغ کښے ماله نے راکړل فانوس ښکلے روښانه

دسپوږمی په رڼا تلم مخمور عاشق شوم خو تیاره راغله شوبت مشال نه بانه

چه دستورو دزمانه هم اوچت شوم ماکړه قدیم یو وه شغله له خپل ایمانه

ماددے په رڼا خپل غلیظ خان ولید
په ژړا م سر کړ پورته له کسر یوانه

---

(۵) نم : وه م .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیل

مالیدلی دفرنگ بنکلی جیزونه (۱)، چه دالاندے تر غوږ نیک وهی سینداونه

مالیدلی محلونه دالنـــدن جینکئی مستے ازادے کل بلدن

مالیدلی دانلی بنیسته بنارونه سرے انکور سرے شراب اوسرے کلونه

مالیدلی دپیرس بنا پیرئی بنکلے په کردار کفتار خوږے لکه بلبلے

مالیدلی امریکه کښے دی بنارونه چه ورځوته نے رسی مکانونه

مالیدلی تاج محل غوتئی دکلو ددهلی بنکلی بنارونه د مغولو

خوچه وو نیم زه خپل دختو کور رانه هیر شی محلونه بنیسته نور

دانرئی تنکے کوځے زما د کلی ورته څه دی د دنیا بنارونه بنکلی

چه خرمنی وروږ پښتو ان سینے لدیر شی دزه هیر به قول بنا یست دعجز وبر شی

خدایه شکر چه پیدا دے له دے قام کړم دپښتون د نوجوانے یو اندام کړم

څه به کړمه دلندن لوے محلونه دپیرس جوړ نے بنیسته روډی کلونه

په والله چه له جنته به شم ستون
که کفل پکښے وانورم د پښتون

---

(۱) جهازونه .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګلے

تہ چہ ښکلے بے بھائے ! زما دین زما دنیا
ګلے ! تہ کل لالائے زما ستورے د سبا
ګلے ! ګل دے کړ ګلزار ستا د مخہ پرے بھار
کہ چینہ دہ کہ ابشار ستا خبرہ ستا خندا
شوحیران پخپل کردار چہ ستا بت ئے کړ تیار
ھغہ لوے پروردګار ستا پہ ستر کو شوم شیدا
تہ ئے جوړہ کړے حسینہ ګل بدن نہ ګل رنګینہ
بیا ئے کړہ ستا پہ جبینہ
د سپوږمئ سپینہ رنا

بھانہ

چہ ئے عمر پہ صحرا وی لہ خزانہ کیلہ نہ کہ
دومرہ د سومہ غمونہ چہ اوس سے سینہ نہ کہ
تاوے مالہ دالئ راکړہ ما غریب سرہ خہ وینے
چونکہ انغئ دی تول کړی پہ دے لاړے ستا پہ مخکہ
زما او ښکے شکوې چې کل لالہ تر زړہ غوږ نہ شو
پہ مانے دا مې پیزار شو بیا لہ خوا دہ نہ کیلہ کہ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه یخه ستا ماړ یو کړم په څه ستاسترګے ورنے کړم

زه ولاړ کچکول په لاس کښے پکښے بوے زرنے او به که

چه څوانی نے ورځ ټیږی او د نړۍ غوښتنی شی مړاوے

د تاتار کوه قاف حوږے بخوا څه که او څوک څه که

لیونی وړو وړو وړکیږی څان پخپلو سترګو توږنی

ستا فراق عشق نے بهانه کړم او هر څه کا او س هر څه که

پلوشه

چه څوانی وو څه وزیران وے به ټیږے لوی لوی مچان (۱)

ته راته ګوره دا د خدای شان چه نیم لغړدی او نیم کنجیان

غرور

که نړۍ بلدیم ښه دی څوک؟ چه نړۍ نه ښه شم څه دی څوک؟

که هر ګل باڼه کښے خاندی په ډبران پراته دی څوک؟

دا چه تے لوګی ته زارے په دی اور وراته دی څوک؟

هم کړے عشق هم کړے ویرونه د بونیر داخره دی څوک؟

غنی اور سره کړی لونے خو خبر ترے نه دی څوک

---

(۱) لنډی بریت.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلوشه

وو تونه را غله پیسه سیر پښتو ایمان خرڅیږی
پخوا به جوړ خرڅیدلے اوس خوانان خرڅیږی
ژړا به نه کړم چه غنم جوار ارزان خرڅیږی
پرون سکال کوړے خرڅیدے سر بیوپاریان خرڅیږی

اے دخاورو کله

په تکلیف کښے دیو دوست تکړه آواز — دے لټولو خوږ له وارو بنکلے ساز
سوے زړه م یو ځل اوه آسمان تنکے کړه — فرښتو ترینه چل زړه کړ د پرواز
بے پروا زما د عشقه په خندا ځی
اے دخاورو کله تنه په څه کړے ناز

کډے وډے

چه بے ننګه شی پښتون په سړے دا نګه — تښتیته د سغاتی ملاد بانګه
چه په طمع د دنیا کوی وعظونه — خدایے د وچه کړی د خبیث غرا نګه
په والله که د صراط پوړے دے پریږدی — که وینږی په دښمن د پیشو پرا نګه
کله کله د غنی هم قصه اوره — دا هم ده ورو ورو د لوټے وني څا نګه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلوشه

د جهان خبرے کوره — بیل به نکړی سپین له توره
اے غنی! کیله ترے مه کړه — شو پرنده د نیا شبکوره

لوبه

دلرے لرے خلک راغلل تمام — دیدن له ستا دلرے لرے
زما یادیږی ستا وړے وړے خبرے — دلبرے دلرے لرے

خوله دے دمسکی ستر کے غمازے — پہ لچک لچک پہ هوا خیے
باغ کښے بلبلے ستر کے ټے وازے — ستا د دیدن شوقے موتازے (*)

خدایږو کہ حورے ستا د نوک وی برابرے
جانان دلبرے دلرے لرے

زما پخوا کښے هم غمرے کړے — چه د نه تبسم هم نعرے کړے
کله خندا کله سپیرے کړے — زما خوا ان زړه د نے د نے کړے

ژبښتے ماتے د شیطان کړلے وزرے
ارمان دلبرے دلرے لرے

کله دے دهو! کله د مے نا وی — کله دے نن کله سبا وی
په ژړا سره ستر کے زما وی — موسکی رنګینے شونا ستا وی

کله سور کله شے کله شے داور نګرے
جانان دلبرے دلرے لرے

(*) موتازے : محتاجے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کډې وډے

د سپنسو تار کښے لعلونه زړه پیمه — په پښتو کښے کړم خبرے عجیبه
د آسمان میل کړم په ماتو وزرونو — بے جانانه یو وزرے عجیبه
تل ملامم په زړکی کښے جانان ناست دی — خو چې زنده له مانه لرے عجیبه
چې م یو تکے ترے لرے کړ حیران شوم — خزے (۱) خرے شوی برابر عجیبه
نه څه چل د ناز وځی نه د نیاز — د غنی جټے دلبرے عجیبه

لیونی د څه لو تو په ډیرئ کښے
اکثر تو سے کړے ملغلرے عجیبه

پلوشے

جو مات ته لار په میخانه کوره — په زیان کښے سود د شان جانانه کوره
نیته ده لنډه او کار نه ډیر دی — پوره بے نکړے خان له بانه کوره

انصاف

تورے زلفے ئے خورے شوے وال وبه غونا لو — عبادت مه ل لاهو شو جو مایو او خدایے بلو (۲)
د تسبیم په لوښے کوره هغه لو ویشونکی — ماله عشق د شلو اکو تالره بنایست د سلو

---

(۱) شښے . (۲) بل ؤ .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کاردی

لوبی دزړه کې لری چه اسرے لونے لری — چه څوک ماتیاسا نی دے ناز لونے لری
مه څاړه مه څاړه دا به هم تیږ شی — هر څوک که کل شو کوی کوتے به سرے لری

زور

خدائے چه پیدا کړه ځان نه زور — کړل نے تر لاندے خیزونه نور
سرے نے اوچت کړ تر نیم آسمانه — بادشاه دهر څه وے بے سره زور

الله موسکے شو حسن پیدا شو
طاقت په مخکه پریوت نسکور

بادشاه خان ته خط

زما کریوان شلیدلے — ستا شننه قبا مزه کا
زما ډک جام دمیو — اوستا همسا مزه کا
چه شپه خلاصیږی تورے — دنیا ویډ وی نوره
ستا په هوسکنے کورے — خندا زما مزه کا
په ښکلے وخت د سحر — لرنے د ملکه بهر
د سوی لوی خیګر — ورورو ژړا مزه کا

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه وړوان شی نسیم ته په سجده په تعظیم
ستا بندګی او تسلیم مستی زما مزه کا
ته د سبا په تمه زه د دنیا بے غمه

ستړکے مے سړے پرمه
لیونتوب دا مزه کا

نیمے مړے ستړکے حیرانه وازے

په ډک جهان کښے کړخمه یواځے نیمے مړے ستړکے حیرانه وازے
چه وړځ شی خلاصه مابنام راشی تورے دغم مالامم جامے راشی
دالړے ستوړی سپوږمۍ بے مهره اوه که دتش ژوند تمامی راشی

کله به بس شی دا اتلل یواځی
نیمے مړے ستړکے حیرانه وازے

ماوے سپوږمۍ ته دنور میرمنے؛ دیار لیدلے دی تا، ستړکے جنے
موسکۍ شوه پته شوه په وړیځو هیڅ حال نے ونه وے څلبدنے

اوزه پریښوم غمګین یواځے
نیمے مړے ستړکے حیرانه وازے

ماوے لالۍ ته دحسن لورے! شونډے لیدلے دی تا، مړ دلبرے
شرمنده سرے دوړو کړ بنکته ماته نے ونه کړے دیار خبرے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوه زه نے پریښوم غمګین یواځے
نیمے مړ ستر کے حیرانے وازے

بورامے ولید دغمه توره دپریشانه دیر کړو کوره
ماوښے دیار زلفے دنے تالیدلی څه لټوے روره ! دالور په لوره

لیونے لاړ اوزه نے پریښومه یواځے
نیمے مړ ستر کے حیرانه وازے

لرے مے واورید دمجنون شور لرے مے ولید فرهاد نسکور
دشیرین آه راوړ نسیم غیږ کښے دلیلیٰ روح سوے دغم په اور

پوه شوم روان شوم یواځے
نیمے مړ ستر کے حیرانے وازے

دفقیر انو غزل

وروره ! دی داجهان یو مکان دفنا
ورته مکړه ژړا ورته مکړه ژړا

ما بنام خاورے شی کل چه سحر شی پیدا
ورته مکړه ژړا ورته مکړه ژړا

داچه لاناپه دپښودی داخاورے ته کورے
وے دچاشونا سے اودچاستر توره

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ایرے معشوقے وی چہ تلے پہ خندا
ورتہ مکرہ ژڑا ورتہ مکرہ ژڑا
دا مستی یو ساعت دا پستی یو کڑی
دا سور شال دا میر دفقیر دا شڑی
دی داوارہ خیالی بے بنیادہ دوکا (۱)،
ورتہ مکرہ ژڑا ورتہ مکرہ ژڑا
ھر ذرہ کڑی صدا چہ دنیادہ فانی
دپرون ښار یو کښے نن دہ ویرانی
دے یو خوب دا ژوندون دا خوانی یو نشا (۲)،
ولے خے پہ ژڑا ولے خے پہ ژڑا

خوشحال خان خٹک تہ

دختکو لویہ خانہ (۳) ! دھمہ پښتون سردارہ
اے غمگیرہ دغمجنو دپریو تو مددگارہ !
آجڑہ چہ تہ ئے خان وے، آکاروان چہ تے امیرو ئے
آجڑہ پہ ورانیدہ، آکاروان دے بے مہارہ

---

(۱) خدعہ، فریبا۔ (۲) نشہ۔ (۳) خوشحال خان خٹک (۱۰۲۲ - ۱۱۰۰ ھ ق) :-
قہرمان، مبارز، شاعر او یکوال دہ یو د مولتو ټبو۔

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا په اوښکو زړه غوندې شوے ستا په وینو پاڼیاے

هغه باغ اوغړان پروت دے بے بلبله بے بهاره

بیا دننګ توره تیره کړه بیا ننګیالے دا دیره کړه

شه رضا مروړ خانه شه څوارلا دلګیر سالاره

پاکوشه

لکه مور مچه په بچي ژړانخوړے کا دا پروت دے په غیږ کښے کل جانان

دغم جنه مینه ناکه دمور ستر کې که سپوږمۍ ده داولاره په آسمان

لږ شو خمار پیدا

دا سره شراب دا سره کلاب وخت دشباب سازد رباب ما شوم دلبر هم بے حجاب

لږ شو خمار پیدا په مخ دیار پیدا

دا بنکلے خط دا نښته خال کچه جمال لکه هلال جانانه کړم دے حلال حلال

چه شو خمار پیدا ستا په رخسار پیدا

وخت دے ما بنام دکل وجود، ما تمام اودنمرود ماته نه زیان هم کړو لکه سود

چه شو خمار پیدا په مخ دیار پیدا

دژوند کاروان وړی جانان دغم مدے دغه ارمان

چه شی خمار پیدا ستا په رخسار پیدا

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلوشه

دومره ښکلی دے زما بانات نه ښیسته — چه دیدن کړے یا یان نه ښیسته

نور یار مې تش په تن باندے نه ښیسته و — درته سن کړه همه جهان نه ښیسته

دے جادو د دوو ستړکو مینه ناکو — لیونی ته هم ښکاره شوخان نه ښیسته

میا جعفر شاه تنخط

بیا رایاد شوے د ملک خوږے خبرے — په پنجره کښے کړم فریاد لکه تنخرے

چرته نزم ښتین تار چرته میز ږے — چرته نه چتر کوله (۱) چتر شکرے

چے خوک ماته نه وے زمانه لږ ے — څه که ما ته په یکړم د خیال وزړے

د کوڅے ساده خراب چنور دال کړم
په پولاو پسے ستړکے شوے چغړے

کډے وډے

زړه م پسے وچاود خوشنام نکړ لاندے — هغه په موټر کا کښے نه په ستړی ښتو باندے

کوره نزاچارے په ایشولو ترسکو نیږی — ښخه مړه نه چتا نه وی مزه کا ندے

مالی د وصال په سبا راکړ تاسب که پی بل — دوه د مهذب او ښایسته زما جانان دی

---

(۱) ولسه کوکړ ناحیه دهنډون په (یو. پی) ولایت یو ساده ښخی د خانته دوبی په کا خا کښے افسر.

(۵) میا جعفر شاه (۱۹۰۲ع) زیارت کاکا صاحب د صوبه سرحد مشهور سیاسی سړے او د انګریز په مقابله کښے
میا رزبر کلدیزی. دی له سیاسی سیرته پرته ادبی سیرت هم لری.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

من چه دمس کوتے (۱) دبابا په کور داخل شوم
لستونے تاپخ وکړے وو ارد غنی خانۍ

پلوشه

پیالے د جانان سکر دنیا نه ښیو او بنکو دکے
لږ نګ نے کلابی شو په وزر دلو لکے

نادان شیخه: وکړ شه شراب نه دی شراب نه دی
دا دنیا نه ښینے او بنکے چه کړی نرم سینے کلکے

پلوشه

ګفتار دلیونو کښے وے کلونه هم ماران
قطار دلیونو کښے دیرو لاړ پیغمبران

پروائے غنی نکړے که نے سپک تلی که درند
تف: څه به داجهاوی او څه به ملے د جهان

پلوشه

د حسن په بازار کښے مولانا یو درخ روان و
پوشاک نے مقدس مانچستر (۲) دمل پین ساو و

ناګاه پرے آواز یو دقبلے د دے وشو
څه سخا لے څه ملا، داډ کوشه دلیر ښاغو

پلوشه

بیګام خوب کښے خان بړ جنت کښے ولیدو
پلاس کښے وو شیو لی دیر پلو نه دړو پو

د ربان چه لته وکړ ۱ د دوزخ تاتړین کوته ته
خان خپله کنه راوړ نه خرڅین ی په پردو

پلوشه

چاته نے بنایست ورکړ غمګین
چاته نے غم ورکړ بنایسته

زوئے هم مست او هم هوښیار کړم
هم نے په تخت کړم هم په تخته

(۱) پیغلو کے (۲) دانظم دوزن د مراعت نه آزادی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کارغه او بلبل (۱)

دخزان دوران ؤ نوے — وو یو دوه چلونه سوے
یو بلبل په مړاوے څانګه — نغمے کړلے سوے سوے
خدایه ؛ شوکور دغم رو کی زړګے زما — شوے شمکوړے په غم ستړ خوږے زما
تازه عشق نوے دلبر نوے شباب — دلالہ پیاله کښے سره کلرنګ شراب
د دنیاد وو و ستړ ګونه په دوه — یو باغچه کښے پټ په غاړه د دریاب
د نبیسته ستوروپه باغ کښے سپوږمی سینه — کله خاندے کله ټپه په نقاب
زه ملشوم و رګ شوی یار پسے ژړیږم — په جنت کښے د دوزخ ځغم عذاب

هاى شوکور دغم رو کی زړګے زما
شوے شمکوړے په غم ستړ خوږے زما

یو کارغه چرته راوتی ؤ له کوره — په خزلو کښے کنډ منبو که تورره
د بلبل ژړا نے تیره شوه ترغوږو — د دوران شوو رتے وے کم عقله روره

ولے صنم صنم و لے نعرے دغم
مکړه کیله دستم له دوزئ ډک د عالم

کوره خیته چه دی د وږ نوصنم مړه نه کا — خوږ ستړ به دیار دچرما ته نه کا
ما به هم داستا په شا په خدائی نه ښایست شلیدم — ژړ خو پیدا الله که هم خو سینه مړه نه کا

(۱) دا نظم دوزن د مراعت نه آزاد دی .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوږه توتان خاندُ بلبله دا دنیا ده نشته بله نن نصیب دی کوی غوښتی سبا غوږه نه کا

پریږده دا غم کړیان لکه ما شوم نادان
ته د آسمان دغمه پخکنه ښکته ده، توتان

پلوشه

یاری ممنه مزه کا چه دواړه سیال وی
ډیر کم دومره وی چه خوږه نے خیال وی
شپه به جنت خدایا چه دواړه لال وی
خوږه چه نږدې وی ښکلے دومره جمال وی
دقام په مینه مسته کوخ کله لال وی
دالیو نے به هسله خدایه خوشحال وی

چه لاس اوزړه وی ددد
تا روڼ مال وی

پلوشه

شین زړی شه مدام خوږه دهوسو غوږ نښے کنه بازښه همیش خوږه دسیسو غوږ نښے
یا کوه تن اسانی دغنی یار شه خوږه هر کله بازاری دپیسو غوږ نښے

پلوشه

لکه بت بینانبکا یې پرون شمکوړیم عشق دانګله کا وکړے په ما باندے

---

(۱) شاید ۔ (۲) نه وینے ۔

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

غنی جام دجدائی مخمور پاکل کړے کہ اپیوتے دعیشہ سر دلاندے

پلوشہ

دعاشق مخمورے ستر کے کہ دیار مشکورے شونلے
کہ غوتی دی دنرگسو پہ سرو کوتو کښے راغونلے

ریشتہ

یا بے جرو ونہ زہ وے او یا بے پرو مارغہ وے
یا د نیم آسمان وے ستوبنے یا د سیند د منځ اوبہ وے
یا تلہ وے د شبنم زہ نہ م پلار نہ م نیکہ وے
نہ م دوست نہ م دښمن وے نہ م بلد وے نہ م ښہ وے
د اجمان بہ لوت جنت نو کہ ریشتہ نہ وے سرخہ وے
خدایہ زہ بہ ستا عاشق وم کہ تہ وے ستا تبہ نہ وے
عاشقی بہ بزدکی وہ کہ عشق وے معشوقہ نہ وے
دښتیا زہ کہ خپل مالک وم یا بہ زہ وم یا بہ تہ وے

غنی دغہ د سردا واوره
کہ غنی وے څہ بہ ښہ وے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلوشه

ستا فراق په ما قیامت کړ — یارہ څه به وی قیامت اوس
ستا په عشق کښے رسوا خو بس یم — یارہ څه به وی عزت اوس
دهمه جهان بلبلے — ستا یو خال نه دے ستایلے
خو دکل صفت پوره کړی — دکل څه به وی صفت اوس
ستا یو خو د نظر دلبرے — ستا یو دوه پستے خبرے
ما ته ملک جنت جنت کړ — کوره څه به وی جنت اوس
بار (۱) درون جلبل صنمے — ستاد دوو ستر کو په تمے

خوار غنی لوغړن پروت دے
ستا به څوک کوی صفت اوس

پلوشه

یوارمان م په زړه راشی کله کله — شښنے لښے داوړم خیژی له کو کله
ناکهان م دمستئ چپے لامو کړي — ناکهانه م سر عقل شی بے کله (۲)
زړه م ونیسی یو پنجه دفولاد و — کړی نچوړ تر دے خودئ عرق یو څله

زه بے خوده لیونے زړه م آموشی
نه پوهیږی که ئے پوه کړے هزار څله

---

(۱) بلهر، یعنی دننه بیرون.

(۲) کل هندی کلمه ده، یعنی عقل م بے انتظامه او بے اداره شی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلوشه

مړاوے ستر کے کړہ راپوتہ ستر کوتہ زما دلبرے
خاندہ وخاندہ مسکئ مشہ پہ دښتیانہا دلبرے
راشہ خوا کښے زما کښینہ سر زما پہ سینہ کیږدہ
دمستی پہ خوب ویدہ مشہ پریږدہ دا دنیا دلبرے
دا غمونہ نہ خلاصیږی چې څوڑوند نہ وی خلاص شوے
څہ چې پت ترے یو ساعت مشو دیوبل پہ خوا دلبرے

زہ

نہ زہ فلسفی یم خلکہ نہ زہ لیونے یم
یو غریب بچی زہ د پښتون د پلار کلے یم
وارہ یم یاران دی یو د ښمن یم چې تہ نشتہ دے
زہ د ځان د ښمن یم چې ځان دیر مړنے یم
بعضے ځای کښل بعضے کښے دیر یم خندے کوے کہ ہے
خیال یم د سبا دے پیدا شوے پرونے یم
خو ښ یم د ې کلونہ هم ښکار و نہ هم اسونہ
خو ښ یم نر پښتون دی زہ د اوړی پښتنے یم
نیت یم دے طواف تہ د ولمن د تور و ختو
ستړے د طواف د مکے د مدینے یم

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه وم په وطن مین خوتن جلا وطن کړم
زه دسر کل نه شوم هسے زه ترے سپیلے یم
زه هسے بیمه او ایمان په تیپر نه خرڅوم
خکه لیونے یم خلکه خکه لیونی یم

پلوشه

په تورو شپه دغم کښے یو څوک د رنا — زړه غوندې په دیدن کښے نه بیسته بو دلالا تی
دوے تورے خنکل کښے یوه زړه کړه په خندا — یو څاڅکی دامید د ناامید په دنیا

دنیا کښین د بودی تال د تورو شکو په صحرا
مستی ډکه خوانی ډکه دلبرے که الله

معمیٰ

هم زما خوراک دے هم خوړلے بنا پیرے دے — هم د ژوند یم د مینې هم د مرګ دے
اوسی په څه منه کښے راځی په تکلیف — خو بیا د پښو تاوو د ملګرو صاحب پروا نه دے

پلوشه

ته زما د مات زړه کی داغ د غم تعویذ نے — ستا په مینه مستے سره څومره دی عزیز دے
سما بنکلو پاپولا اے زما د کلې بسټے ! — پټے به د څوک د جنت نه کړم نګریزے

ستا د اخلې زه به د نرګس غوندې ایرے کړم
بنکلی شهزادګی به وایه کومه ستا کنیزے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډۍ چرک

نن چرک د انقلاب دی نعرے - قوقو - جوړه بخت شود سبا

خونه ځی د جومات نه انکارے د الله هو ویده پروت دی ملا

بیکاره جمعے شپه د پیرتالی را غلی وو خوږ پکښے حلوا

خوځه شول طالبان ځے ما پرون لیدلی وو که دینس نه دے ملا

پرون ځے طالبانو د پیر بادرنګ خورلی وو تول ناست دی په بیدیا

ورو کے چې نه شو چه هم د په کړی دا وو راوینس به کړی ملا

هغه بیکا تیاره کښے د پیر تیپر خورلی وو دموکه کښے د حلوا

الله په نس ځے د د و تول پشپه لے کړل - اولو - وه پروت په مصلا

اوس څوک وکړی جومات کښے انکارے د الله هو جهان کښے شور نا

لنډیه چرکه زور کړه وا نعرے د قوقو راوینس به شی ملا

دمالک وزیرته خط

لویه اوږده بزیره وروره ! اوږد آمدن لری

صیب ولکاه وه دمرد کیل په خوله میتر

دام یو مشین دے تیز رفتار لکه موتر

(*) ط : وهه .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

صیب تیکس[1] به اخلی دبکواس[*] او دتیر زیات به پاتی شوی چه دکری[+] خوک دلندلری

لویه اوبه ډه بیړه ورورہ: اوبه درآمدن لری

صیبه: مالیه کیږ ده دچا یو به چا اینک لوی به آمدنی دی تیکس نه دبنانک

داتپوس دی نه وی چې خانصیب دی که ملک اخله ټینه تیکس آن دصیب لوک (۲)، دویدن لری

لویه اوبه ډیره ورورہ: اوبه درآمدن لری

کیږ ډیو تیکس صیبه: په لویو لویو بیړو وینه کړی معافی که څوک دسوات او یا دیرو

تول عالم به وائی ډیره ډیر هوښیار وزیرو خیال دخزانې دی ډیر دی دغریب وطن لری

لویه اوبه ډیره ورورہ: اوبه درآمدن لری

مالیه تحصیلدار کړه صیبه واوره سفارش ستا به دیوتاب کیږی زما به لږ درزش

دک بله روپو کړم دسرکار خمونه تش صیبه: تحصیلدار هر څاپو لاپالنګ برسټن لری

لویه اوبه ډیره ورورہ: اوبه درآمدن لری

خټک

یوم خان لالا دی چه دی نړ په سر خپو شانو
یونس ملخړو دی چه تاکو دی دچور یانو

یو معتبر خان دحجرې قاروباسی کور
دا نه ځناورا ده د ده دبچو مور

---

(۱) مالیه - محصول. (۲) خلک. (*) بکواس چې چیرې. غلطه خبرې.
(+) پکړی: شهادتنامه، د تحصیل سند.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاس نے ټبه : مات کړے چډهی د پښتون خور

کاشکی دده پوزه کښے دده د خور پیزوان و

منډه زما خروے چه تاکودے د چوریانو

یو مستانه خان دے تیز رودئ کښے لټه خیرات کښے

رسی بړیام (۱)، ته که وی دیر کښے که وی سوات کښے

هار او پشکال د مالنیے په حوالات کښے

یار د متیز کومد ډکارد بد ماشانو (۲)،

منډه زما خروے چه تاکودے د چوریانو

پو پیسه تک خان دے بے خبره چنګ ربابه

مړ نوکر په قبض کړی دودئ ورکمیئ (۳) خرابه

نه څه دی خورے شی نه ویستے شی بے جوابه

ورور به زمانه شی د ورور کی د مارد اریانو (۴)،

منډه زما خروے چه تاکودے د چوریانو

یو زور پښتون خان دے خو بنوی نیزه بازی

خو بن ئے دی بنکاړونه دلغړ او د تازی

---

(۱) بړیام پاکستان کښے یو زیارت دی چه کالنی اګرمه په کښے لګی.

(۲) بد معاشانو . (۳) ورکوی.

(۴) مارواړه د هندوستان د سوراشتر په صوبه کښے د یوځای نوم دی چه خلک ئے په کور پټیانو مشهور دی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن زه وم د پي د يوسفزی د محمد زی

هم په قام مين وی هم مين وی پښتونو

خوښ نے د پير خپروی چه تاکودی د چوپيانو

يولبونی خادے نه په خان دے نه په بل

نه دوړی بونه پرے وی له نه وی خی داچل

نن خلمی ته نن وانی اوغل ته وانی غل

خدای بے پرواجوړ که پروا نه کړی دخانانو

خوښ نے د پير خپروی چه تاکوے د چوپيانو

د رے ژوړے

سوال: خوک نے ته جناب ! خان نے که نواب !

بنکاړے د جوسه ده بريتو کښے د وضعدارے دامزے د نباردے

(۱) نه انګريزی بوټ بنکاړے نوے سوټ

(۲) هيټ د ے قره ناک خوجرا به کښے د ے سوړے وينم څټ د ے لږ نرے وينم

ځواب: چوپ شه بے وقوفه ! زه يمه مصروفه

زه تيکه کوم اوږده بخشونه د چل ول فيس راوړه اول

شکر د تو پک تل م جيب وی ډک

---

(۱) وکيل د عوا . (۲) انګريزی خولۍ .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښه م دلال هم دے دخبرو چنچنک	شکر دتو پک
سوال: تہ څوک نے حضور؟	سوے لکہ طور
لاس کښے دے انبور دے صیبہ تہ نے جوړ لو هار!	دامزے دښار
رنگ دے مرخن	غوپ دے بدن
کے پادے چشمے دی خو توپی کښے دے داغونہ دی	زیرشان دے غابنونہ دی
خواب: زہ کم انجکشن	تشخیص او اپریشن
لاس کښے م شفاډ په تندی کښے م اجل	فیس راوړہ اول
پاس کہ دلندن وی	یا د امریکن وی
واړہ ماپړہ کړی زہ ډاکټر پیدا یشی یمہ	شی پوسودیشی(۱)، یمہ
سوال: تہ څوک نے چاتا ! ؟	دلئ کہ کوا تا!
چچنی دے پاپئ دی نوم ازگین نے بے مقدار	دامزے دښار
خوږ مهین کلام	غوږ دے هر مقام
سترگے دے مار دی پلنہ خیمہ دلرم (خو:)	شان شوکت دے کم
خواب: ویر کړے دے خان	کوږ کښے تاوان
لسو باندے واخیستلو خ نے کړہ په شل	خپل کور ولو تل
دلتہ چہ بیو پار و	یار زمونږ ستا پلار و
مونږ بیو دوہ کلی هم مغے نہ واخیستل	خپل کور ولو تل

(۱)، وطنی .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلوشه

دلبر دوارو دلبرانو دے دلدار زما
سردار دوارو سردارانو دے سردار زما

زما پت کله شغله کښے دسپوږمۍ شی جانان
کله لالۍ شی کله میا بنیسته لوئی شی جانان

کله اهیل کله دسور کلاب غوتی شی جانان
ورته به وایم چه بیا ماسره یو خای شی جانان

دلبر دوارو دلبرانو دے دلدار زما
یا لمر خانه کښے خمارهستر کے راپورته کړی
سپینه سپوږمۍ شی موسکی خوله د جانان لوتره کړی

ما په خندا خندا دغم له کندو پورته کړی
دلبر دوارو دلبرانو دے دلدار زما

سردار دوارو سردارانو دی سردار زما

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلوشه

لاړه که خوانی شی ده خوانی جانانه د تللو شی
لاړ که سنبلی رنګ شی سنبلی رنګ دے دبایللو شی
څکه ژوندون خلاص شی دی ژوندون د خلاصیدلو شی
واړه دا فانی دی بے فنا د عشق سازونه دی
عشق به تل ژوندی وی څوچه څکه آسمانونه دی

دلربا

نه م پلار شته نه م مور — واړه خونه م تالا
نه زما په غم څوک پوه شو — نه زما په واویلا
دا چه ماده کومه کړے — څوک دی بیا له دے کنا!
دا کناه ده د فطرت — دا کنا نه ده زما
خو یو کس هم دنیا کښے — دی م پلار هم مور نه ما
تل نه ما د غمه ژاړی — سودائے م ده سودا
نصیحت په پسته ژبه — شکایت هم پخند ا
وار خطا لکه د مور شی — په پوتی سختی نه ما

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاکیزلکه سپوږمۍ ده دهمه خوږو خوږا (۱)
په منبایست دجنت حورو په خویونو فرشتا (۲)
ماپخپله مینه پټ کړی له غمونو د دنیا
دجنت د رنګه زیات دی رنګین دلبر زما
که دنیا کښے وحدت نه وی مالیدلی ده چینا (۳)

دالله د نقش کمال دی
مخ زما د دلربا
هیڅ هیڅ زمالیلیٰ

ماوے زمالیلیٰ به منګلے مسته مسته کړی یوباغ کښے پرچنداء
ماوے زمالیلیٰ به لکه ګل تروتازه (۴) دګلونه منبیستا
ماوے لیلیٰ شونډے به غوتۍ وی دګلاب
منبیسته به پرے سازونه تنګوی لکه رباب
په سور اور د مستی به ټنګی وی سره کباب
بے تاجه ملکه به وی د حسن د دنیا

دګلونه منبیستا (۵) هیڅ هیڅ زمالیلیٰ

ماوے لیلیٰ ستړګے به سرے مستے په خماروی

(۱-۲-۳-) د ضرورت شعری له کبله ه په الف لیکلشوه.
(۱) خوږه. (۲) فرشته. (۳) چینه. (۴) تازه. (۵) منبایسته

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماوے پہ سپینہ غارہ بے (۱)، دسرہ کلونو ھاروی
پہ لاس بہ ئے کوتے خہ چہ بہ دنرگس بمبل قطاروی
ورښمینہ دوپتہ کښے نبیست پت اوخہ ښکارہ
دکلونہ نبیستا مئی مئی زمالیلئی

ماوے زمالیلئی دہ دلالا دستر کوتور
بابا تہ دیرہ کرانہ دہ نیا زہ بینہ دہ دمور
زمادزرہ بی بی لیلئی بی بی دہ دخپل کور
موسکئی مابنام ویدہ شی سحر پاخی پہ خندا
دکلونہ نبیستا مئی مئی زمالیلئی

نشہ پہ دے خیالا تو خوبونہ پہ جہان کښے
محلہ تہ دلیلئی مجنون روان شو بیابان کښے
نہ باغ ونہ بنکلہ وہ لیلئی ناستہ وہ دالان کښے
نبیستہ سرے سرتورے وہ غوجل کښے لوپتا
مئی مئی زمالیلئی دکلونہ نبیستا

بمبل دنرگس کوتے دخپیا کے نہ چاپیرہ
پہ صفا، ریمن (۲)، کمیس ئے وہ ھم کیارہ بارہ تیرہ
لیلئی مینځ کښے لوغیږی شین لوکے ترینہ چاپیرہ

---

(۱) بہ ئے . (۲) خیرن غوندې.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلویښت خوارزه دوستان نۍ ډ راغلی دلالا

مې مې زما لیلی دکلونه بنیستا

لښتی نۍ دخولو دملا په تیر بنکته روان

په زلفو کښے څوقسمه نمونے وے د پیران

سرے شوندے سپیڑے وچے دخندلو په لړمان (*)

مې مې زما لیلی دکلونه بنیستا

پلوشه

دادے وینم دلربا! په مخ کښے ستر کے کہ د حسن سمندر کښے د نور کړ کے

دادے وینم دلربا! په خوله کښے شونډے کہ د ډوډے د جنت باغ کښے برنډے

دادے وینم دلربا! ستر کو کښے نم

په ننګو کہ د نرګسو دے شبنم

بهار

بلبل د کلزار تہ نن په دیر سینګار راغے په خمار و ستر کو کښے نوے خمار راغے

جوړے بهار راغے جوړے بهار راغے غوټئ شوے پیغلے د خت د بهار راغے

بلبل راویښ ی نن نۍ دلدار راغے خونے خبر راغے د ناوند م یار راغے

غوټئ شوے پیغلے د خت د بهار راغے

(*) نامکمل.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپوږمۍ شراب لونی دښیست په جام یاره ورته مړ مړ کړه پورته مست بادام یاره
چه درته دوائی بیا زما سلفام یاره سپوږمۍ مې ونه لیده دستا په بام یاره
دا څوک شراب لونی دښیست په جام یاره

کله دې شراب وکښے کړه سپوږمۍ سوران زما وړوبه ښو ولونه داد جانان زما
وایه چه ښکته شی اوس داد لې آسمان زما چه خوب کښے وینی تول رنګین جهان زما
کله دی په شراب وکښے سپوږمۍ سوران زما

خوانی له مانه واخله مستی له مانه واخله دا دوه کلونه سپوږمۍ له یاباته واخله
په ښو ولونو وایه جانانه واخله صدقه دسر شونډې دې خپل اشنا نه واخله
خوانی له مانه واخله مستی له مانه واخله بلبل کلزار ته نن په دیر سینګار راغے
جوړ بهار راغے جوړ بهار راغی چا ته سلام راغے چا له دلدار راغے
خونه خبر راغے اونه مې یار راغے
په خمارۍ ستر کو کښے نوی خمار راغے

ولے (۱)

څوک دے ماته ووائی څرنګه شیدائی څوک ؟
څوک چه چا ته وخاندی ولے په خندا شی څوک ؟
ستوریے دغه څوک ته غلے شان بیکاره دے

---

(۱) دا شعر غنی د خپل داده په شپه لیکلے دے .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینے پہ ژړا وو ے حسن پہ خندا وو ے
مانہ موسکو ستر گو کښے ښکلی دلربا وو ے
و ے ځوک زړہ وبایلے؟ څرنگے شیدا شی ځوک؟

ځوک چہ چانہ وخاندی
ولے پہ خندا شی ځوک ؟

ستر گو د مجنون وو ے او ښکو د لیلیٰ وو ے
وو ے پہ نشہ خوانئ غم ورو پہ سودا وو ے
مانہ موسکو ستر گو کښے ښکلے دلربا وو ے
و ے ځوک زړہ وبایلی؟ څرنگے شیدا شی ځوک؟

ځوک چہ چانہ وخاندی
ولے پہ خندا شی ځوک ؟

ورو ورو

ورو ورو ظالمہ داچغے ناوړے
ورو ورو پرے پښے زړہ دانہ دی خاړے
داخو ستئ دی داخو خوانئ دی
سپینے دے گوگے لکہ د واو دے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولې ته

سر په مخکه باندې کیږده — چه په راز پوه د آسمان شې
ستر کې ستوري ته کړه پورته — چه په شان پوه د جهان شې
لږ سر ښکته په ژړا کړه — چه مزه د خندا او اخلې
د دنیا نه ځان راغوند کړه — چه مزه د دنیا او اخلې
د چیلې په کوتکې کښې — یو پیاله د شراب واخله
خوله دې وچه په ژوره کړه — بیا مزه د کباب واخله
لیونی زما په شان شه — چه په راز د خوږې پوښې شې (۱)
سر اوزره دې ماشوم کړه — لیونیه چه سړې شې (۲)

مینه او حُسن

ستوري ته آسمان کښې یوه ورځ وویې هلال
خدای آدم له مینه ورکړه مونږ له تش جمال
زه به په خندا ورکړم داخل ښیست د کمال.
ماله که یو څاڅکې مینه راکړې څوک په سوال
مینه حقیقت حسن سایه د حقیقت ده — حسن له زوال شته مینه نه لري زوال

(۱-۲) چه د پوه (ه) او د سړې (ی) په مجموعه (ب) تلفظ شي نو قافیه به جوړه شي.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما د کلو لښتے

خدایہ زہ بہ وم خوشحالہ د جفا خنجر بہ زړہ کښے
ستا وفا لالو غږ ان کړم بے وفا بہ وے لا نہ

موسکئ شونډے لښتے دے ما د رون بیړن ستی کړے
ستا خندا د شرق کوزار دے پہ ژړا بہ وے لا نہ

تہ چہ ژاړے زما غم کښے بل غم ہم پہ ما انبار کړے
ستا سودا زہ سودائی کړم بے سودا بہ وے لا نہ

خان م ہم خاورے ایرے کړ تہ م ہم پہ اور ستی کړے
اے زما د کلو لښتے بے زما بہ وے لا نہ

حوالہ

دا بسم اللہ خدایہ: دا لیونئ دہ
چہ حوانی نہ بیست دے او نہ بیست حوانی دہ
بورا خوشحال بابا سپین سر کړ پورتہ
وے خانی تورہ دہ او تورہ خانی دہ
د منان خان عمسا د منانی د ملا
دا مم فانی دہ
دا مم فانی دہ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مستہ رندی زما روغہ مستی زما

خاندانی دہ

خاندانی دہ

پلوشہ

دمستے جینئ نښہ دہ بنکړی دیر مایوی

چہ لږہ نورہ مستہ شی زړکی دیر مایوی

کډے وډے

شوق کښے د وصال چہ د مس خو تہ ورځ د شومہ

خولہ کښے ئے سکرټ د زما خولہ وسو خیدلہ

راغے د تهذیب باران پہ ملک د خوارپښتون

مم ئے جومات لا موشو مم کوتہ ئے څخیدلہ

نوے زمانہ دہ کہ د کلو وصل غواړے

اوس پہ انګریزئ کښے وادیلا کوہ بلبلہ

ما سر دیوے نہ نکاوہ پیدا شوہ بلہ

بند دلاس نکریزے شوے کرئ وچلیدلہ

تلے دے لندن تہ مجنون اوس د رایوری زدہ کی(۱)

اوښہ لیلی خرڅہ کړہ موټر کښے کرخیدلہ

(۱) کی، کړی۔

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو ناست شاعر په کوټ کښے — هغه شان قصے دکل کوی
شمع سره خاندی — ساقی سره محفل کوی
راشه زما ورورہ — دیار ستر کوته بیتری وایه
گل و بلبل پریږده — الجبر او جومیتری[1] وایه
وایه ستا وجود دے — دوے ایت دزاویو په شان
بنکلے دے آواز — زما دریدلو په شان
وے[2]، ستر د کار بوه لرے — او شونډے د کترین ه
او سنبه رنګین دکریم ځمین — ستا بنکلے جبین
هیرد کړه رحمان[3] سعدی[4] — غزلے د بایرن ه وایه
کیټس او شکسپیر وایه — شیلی او تینی سن وایه
او زه لیونے خدایه : — کله خاندم کله ژاړمه

لاړه پښتو لاهوشوله
زه په ژړا وتړه ولاړ ومه

پلوشه

په غمونو کښے خندا کړه — په خندا کښے غم هیر نه کړے
او د ډیرو په سودا کښے — په قیمت دکم هیر نه کړے
د وصال په لمغړو کښے — د فراق ستم هیر نه کړے

(۱) هندسه. (۲) وایه. (۳) صرفی عبدالرحمن مومند (۱۹۲۲-۱۹۸۸ ع) (۴) د پارسی ژبی شهکار شاعر او نیکوال شرف الدین مصلح بن عبدالله سعدی شیرازی (۱۲۰۶-۱۲۹۱ ع)

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

داچه ته ئے ستر کوته خانے ددے ستر کو غم میړه کړے

د الله الله په شور کښے

چه صنم صنم میړه کړے

پلوشه

نه خوشحاله دے وفا کړم نه خفه دے کړم ستم

ژوندیو تال دے چه غږیږی کله زیړ او کله بم

دایو دوه کړی ژوند ون دے په خندا خندا ئے تیر کړه

داجهان خدائی جنجال دے

کله وران او کله سم

پلوشه

ژوند او ساز واړه دباد دے ژوند هغه بویه چه ساز وی

ساز هغه چه سا پکښے وی سا هغه چه د نیاز وی

کډے وډے

خوند ورور جانه د پیر کوی خبرے بنوسئ (۱)

دوی وائی - لکه شوی ده ، مونږ دایو ده هوسئ

نوم ئے په کور کوړه دی - ببو غیبه بی بی - ایغی (۲)

ژبه څومره گران دے راله ئے وکړا وه تریخی

---

(۱) بنوځئ . (۲) اینې : د شعری ضرورت له کبله په (خ) لیکل شو :

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مینا سره کوسه شمشتی خواره شکرتاتی ۔
تتے سره نے شوق دی نه نے لکی بنکریوا تی
وانی ۔ وکړیه ۔ کیږ ونکیه میدون ته بیزه ښزه
سه کښی لوړدے د شغومه په دے پیزه

خار در نشمه

اے خدایه! عقل راکړه — اے خدایه! پوهه را!
زړے مضبوط راکړه — او سینه لوبه را
ستړے دلمر راکړه — رحم د خان را
بیا تول غمونه دی — د دے جهان را
ماته نے په سر کړه — خار در نشمه

زه به نے وړمه
زه به نے وړمه

یار بها در را کړه — که همت نه راکوی
غیرتی وړوړ راکړه — که غیرت نه راکوی
د سکندر بخت را — د ذرا خیال را
مت د خالد کښے — توره هلال را
اسلام دے پریږدمانه — خار در نشمه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه به ئے کتمه

زه به ئے کتمه

د شپے خیمه کښے د عشق شراب را
پاک مل دلارے لکه کلاب را
د سپوږمئ نور راکړه لوبو کولوله
د بودئ تال راکړه جوتو و هلوله
جهان دے پریږده خار در نشمه

جنت به ئے کړمه

جنت به ئے کړمه

پلوشه

مخ ئے و، قبلے ته لیونے ترے خبر نه دے
ستر کے ئے وے وازے دانسان په تماشا

عکس د سپوږمئ ئے د شبنم څاڅکی کښے ولیدے
خکه په سجده شو د جانان په تماشا

نشته دے د ژوند د خوب تعبیر کتاب کښے نشته دے
ستر کے دے کړه پورته د آسمان په تماشا

خدائے مکه کښے نشته د منصور په خوم واوریدے
لاړشه لیونیه! شه د خان په تماشا

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بے پروا الکہ لولئ وای

بے پروا الکہ لولئ وانے — پہ کلونو کر خیدلے
او چہ تول عمر ماشوم وے — پہ بلا نہ اوریدلے
د دنیا د وبو وستو کو — بے خبرہ کر خیدلے
چہ پہ خولہ د جانان نہ وے — د فراق وریتے غزلے

بے پروا الکہ لولئ وے
پہ کلونو کر خیدلے

بے خبرہ چہ آدم وی — د رازونو د حوانہ
نا اشنا مجنون وید وی — د غمونو د لیلیٰ نہ
او وہ چہ حسن خبر نہ وو — د خپل حسن د غور زنگہ

راز مازرہ نا اشنا وے
د دے نبود د جنگہ

بنبارئ

سترے مشے مشے نہ خیر سرہ راغلے — "دور دوپسی د (۱) کلے تے دوپسے دی چا ہے"
سہ بہ گرمئ کبے چا نسکے خانونہ پہ بنبار سہ دی — شیخ شرمت ناجوړ پہ نیبو (۲) ما کبے منبہ نہ دی

---

(۱) پہ هند کو خپل سزه ورته وائی . منډ کړه د دوه پسر کلے او د دوه پسر چای خان له راوړه (۲) نیبو لیمو

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا قسم دی خان: دودی نه مونږ سره به نوش کوے
انا، ونه وے خان مونږ دغم نه به بے هوش کوے
راشه لاړه وښیم تاله زوم (۱)، زه انتظام کوم
خدایږو ننه د بنار کړیلا تول په تا تمام کوم
څوره هغه کوټ باندے دے پروت دسیټ دوکان
هغه سیټ دوکان پسے دی بل دسیټ دوکان
هغه سیټ دکان پسے یو وړوکی شان سیټ دے (۲)
خواکښے یو پیل دے یو نالی (۳) لږ شان پلیټ دے
اخوا دوه کوڅے دی یو راځی او یو ورځی
هلته ناست دی کوټ بانا، ے دکان یو درزی (۴)
شانته زمونږ کور دے مونږ ورځو په بله لاړے
اسی اوتی بیتهئ اوسان وینی دکنارے
لاړ له که غلط شی کوره دغه خی دکان دے
دلته ښه تیکه جوړیږی الله مهربان دے

---

(۱) خسم. (۲) مسجد. (۳) نالی: لښے (۴) خیاط.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

حورہ

خلاص شراب جنت کښے شوتو لگی راغے حورے گلے پہ خندا شوی یو باغچہ کښے دانکورہ
تہ ترے چرتہ پتہ شوے دگل د بوتی خواکښے څہ محبت تاثیر دہ دبلبل پہ واویلا کښے

راغی دشبنم اشنا مالیار د باغ غمگین
وے لیدہ پہ کلو کښے دیو بل کلاب رنگین

وے شوکا وپہ شونډو، سر کښے دیر پہ مینہ کینبود،
راغلہ لیلی سر ئے د مجنون پہ سینہ کینبود

خوب کښے دے جوړ یا چرتہ د خپلو خوینډو ساز واورید
چرتہ د باغ کوټ کښے دے د زورو لمن آواز واورید

وے لرو ستورو تہ پہ مراد ستر کو کورے
دے باغ درتہ یادے کړلے حورے! باغچے نورے

زورند د دوہ ستورو نہ چہ ستا د زرو تالہ
پروت چہ پہ دے زلفو کښے د مشک پہ خای هلالہ

هغہ چہ بہ لرو کښے د ستورو کړ خیدلے
یا بہ د سپوږمئ شغلو کښے پتہ کړیدلے

حورے: ماهم بوخہ د رنا د غہ جهان لہ
تاسرہ بہ زہ هم خواکښے تال د اچرم خالہ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

غمکینو ستر کو

خوب کښے بابا ولیدم　　مورم پیدا کړم
دسپوږمئ عکس وے　　زه هم رنا کړم
قسمت ځلمی کړے　　کله په دنیا
ځوانئ ویده کړم　　راوښې لیلئ کړم

غمکینو ستر کو
دغم اشنا کړم

مینے شاعر کړم　　او غم دانا کړم
یار لیونے کړم　　بیانے اشنا کړم
مرګی ته خاندم　　ژوند ته ژړا کړم
کله موسکے شم　　کله ژړا کړم

غمکینو ستر کو
دغم اشنا کړم

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

علم تشدد

دغضب په نیلی سور شو — دشیرشاه(۵) لمسی باتور
د ستر کے بیا د پښتون سړے شو — چه نیم اور دے او نیم نور
خوان کړل شنه بریښتنه تاؤ بیا — په مستئ چې روان دے
دیار مستے ستر کے وینی — بے خبرۍ جهان دے
مور ئے نن دے په سر قرآن بیا — خو ئے ستر کے کړے تورے
د بابا پښتنو ستر کو — ورته وکړے قصے نورے
اے زما د نیکه خویه ! — اے زما د مینے وروره !
اے د نن بابا بچیه ! — اے پیدا الله ئے مورۍ !
ستر کے د کے د رنا ستا — لاس دے تش تیرۍ دخه شو ؟
دغضب په نیلی سور شو ئے — فولادی زغرۍ دخه شوه ؟
وے په نوی مستئ مسته — پاکه وینه د پښتون شوه
وے کوره که لیلئ بیا
تش په مینه د مجنون شو

---

(۵) مراد شیرشاه (۱۵۴۵ع مر) د صدد بهادر ابالت په سهسرام کې مړ دی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

جدائی

جدائی راغله بیا تکه تورده

که لوکی وخوت دعشق له اوده　　جدائی راغله بیا تکه تورده

بے خودی لاره زده هستی شوه　　وریته پخپل اور وریته مستی شوه

بلبل وروراغی دبوتی خواله　　ویل خدای دمل شه دخاورواله

جدائی راغله بیا تکه تورده

تازه پسرلی کښے په ماخزان راغی　　ساقی کره خلاص بوده ویل دوران راغی

سرے کرښکته بوے دبوستان شو　　مجنون شو خاورے روح دجانان شو

جدائی راغله بیا تکه تورده

که لوکی وخوت دعشق له اوده

فلسفه

واوره فلسفه دلیونتوب دلیونی نه　　دا آیت خونه دے خو قرآن کښے ماویلے دے

مرگ اوژوند کی یو دغم اوخوشحالی یوه دے　　ژوند چه چرته نه ومرگ چا ملته لیدے دے

زده لکه دسپاد خوشحالی غم نے شراب دے　　توبه رخصت شی تا خوغم نه نسکور کړے دے

خوند که نے جدا دے دده نشه یوده دواړو　　دواړو کښے خمار ین دساقی دستر کوتلے دے

مرگ کښے پټ دے راز دمرگ ژوند نے پوهیږی

دا آیات خونه دی خو قرآن کښے ماویلی دی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فقیر انو سوال

ستر گو د جانان کښے زما ښکلی جهانونه دی
وادے خله دنیا زه وږے ستا د نیا نه یم

گورہ د فقیر کچکول کښے تاج د سکندر دے پروت
زه یم د سخیانو د شومانو گدا نه یم

زه ئی په غرور د ښه د مینے په نوم غوارم
زه مانگ بے نیازه ستا د ویر او ویلانه یم

هغه مستی غوارم چه نے مرگ نه شی وژلے
زه دے د غمونو د بیگا او سبا نه یم

یو د سپو ږمئ خاځکی ماله تیک له جانان را
زه یم د خو بونو د لالونو گدا نه یم

تښته دنیا گئ که دے ښے تو اے امیره!
ستا شوه ستا دنیا
زه وږے د دنیا نه یم

۱۴ جنوری ۱۹۴۱ع

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

جانان

دوہ مینوستر کو کښے رہکونہ پہ سوونہ
مانتہ ئے جھان دک کړ دکلونو دنورونو

کوټ ئے دشرابود جنت پہ جھان راکړ
خوب کښے ژوندون راغے شوژوندون دک نو
سپینے دسپوږمئ دنالیپے دکے دکے
ونوستی (*) تاخاورو کښے زما پہ قدمونو

ربّ دے راتہ وښود پت دمینے پہ رازونو کښے
واے چول خولئ کښے زما ستورے پہ پندونو
سازدحورو اورم ستاد حسن پہ سازونو
مانتہ دے ربّ وښود پت دمینے پہ رازونو کښے

رباعی

کہ تش پہ عقل وے پہ لیاقت وے
نہ پہ نصیب وے نہ پہ قسمت وے
شیطان بہ نن ولوے لہ جبریلہ
غنی بہ ھم لایق دولایت وے

(*) نوستل : شیندل .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلوشه

نه په لیونتوب ترے فلسفے کړله څه جوړه — نه په فلسفه ترے څه کړه جوړه لیونی
دا کړه وړه دنیا کړه وړه روانه ده — بویه دوړه بویه بویه بخت دے خوار غمنی

دا دستور روشمار دے وخت تلل دساز لیدل
سبنه خونیتو لاړے چې پیر وشو کنی

پلوشه

مړ تیتو براق دی کړے سور دمحمد په شان — مړ څپړ کعبه ده که اوسیږی ابراهیم پکښے
مړ لاړمکے ته څې چې نیت دے دمکے وی — مړ تیر کلشن دکے وړه وړه لکی نسیم پکښے

لیونی

یو بنار روان کړے دنرو نرو کو څو دی — یو خیال نے روان کړے دزړه دی دتلو سودے
یو سر نے روان کړے مکے سوز او تکی ساز — یو عشق حقیقت دجوړ د عشقونو دمجاز
یو کور نے روان کړے دخوبونو دنگونو — دتورو تمترینو کړ نگبد و نگو سرنگونو
او خانکی لیونے کے دستونه — وحدت نے روان کړی دلکه ابت پرستونه

او کله لیونتوب فلسفه کل او صنم وائی
او کله دمستی خبرے دپیرے په غم وائی
سر نے پاکل غوږنی مخ دشبنم پر پتوی
او بل مست خورو دی ستر کو غم پرے پتوی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوال خواب دلیونی اوملا

لیونیه : مک څه دی؟ ملا : کور دیو عاشق دی

کوتنئ دی کښے پیرے دهمؤ رب خالق دی

لیونیه : ایمان څه دی؟ ملا : دا دے پوخ گمان

دیو خوب په زړه لیدلے دی دوصلونو د جانان

لیونیه : جنت څه دے؟ ملا : ستا جنت پیتی ده

اوزما جنت وصال دے یوخمار یوه مستی ده

لیونیه : حور څه ده؟ ملا : لهر(۱)، دخمار دے

یوه گرښه ده شفق ده دخندا بریښنگ ده

لیونیه : نشه څه ده؟ ملا : دا په سیل واته دی

دمستئ رنگین محل کښے دا واته ننواته دی

لیونیه : چه لمونځ څه دے؟ ملا : خاورے بنگلول دی

د جانان کوڅے ته تلل دی دامید ارمان کیدل دی

لیونیه : سجدې څه ده؟ ملا : د خان خاورے گول دی

دمستئ د سکلو هار دیار پښو کښے اچول دی

لیونیه : ژوند څه دی؟ ملا : زه یمه ژوند ون

---

(۱) چپه - مرچ.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دازما دخوب لیدہ دی　　د سبا اود پسرون

لیونیہ! وصال څہ دے؟　　ملا! نبیست کښے دوبیدہ دی

دا پہ ستورو کدیدہ دی　　پہ سپوږمۍ کښے خوږیدلی دی

لیونیہ! حسن څہ دی؟　　ملا! لمر دخمار دے

یو موسکی موسکے شان خیال دے　　یو نرے د رنړا تار دے

لیونیہ! تہ نے څوک؟　　ملا! زہ دچا ارمان

زہ یو کل دچا د کوتو
پروت پہ پښو کښے دجانان

دارالامان - ۲۵ فروری ۱۹۴۴ء

پلوشہ

چہ بے خودی پیرہ شی د خودئ رنگ ورکوی
یا بوداتوب لہ ہم د خوانئ رنگ ورکوی

غم چہ پیر زور وکړی د خوشحالئ پہ شان
د ژوندون تار لہ رقصانہ شہ رنگ ورکوی

ستړکے چہ تشے شی خوبونہ پرک وینی
پہ تش کاغذ مصور مستانہ رنگ ورکوی

سحر لہ شپہ ورکوی شپہ لہ سبا ورکوی
د فلسفیانو سرلہ او رنگ دو رنگ ورکوی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کډے وډے

مچ دزمرے سترګے شکوی ماشی داوښ وینه
خدایه! ستا دا عجیبه دنیا تورۍ ده که سپینه

مرلسو کیلو رو ببر شیر په بوندې چرګه کړ
سپور شغال په پرانګ دے دغه خو ونښکاره خینه

پریوځی چواړی ته خان کانه په رتې زړو کړی
ښکلے ستا دګو توجوړه خوانه نازنینه

ناسته ده دوم دلندن لور په سرو وریښمو کښے
لور دلوے شیر شاه لورئے په لاس دے لوله خینه

مست مغرور سړ د پښتون تیت سترګے ښکته دی
شرم دا سی شرم چه شرمونه شرموینه

پلوشه

که شرنګ دے که رنګ دے تول راز و نیاز دے
که ښایست که مستی دے یو ناز یو انداز دے
که حسن که نور دی یو سپین سپین ښځرے
که کل که یاسمین دے
یو سوز او یو ساز دے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلوشه

روند به څه قصه د دے رنګین جهان د رنګ وکړی
دا نیمے مرے کوتے به څه ستاد طبعے شرنګ وکړی
وچے سپیرے شونډے به په څه ناز او نیاز وکړی
دا غمګینے ستر کے به په کومه نشه رنګ وکړی

دپسرلئ شپه

دپسرلی شپه وه مسته مستانه — ستوری کیدل د پیر روښانو روښانه
سپوږمئ ولاړه وه بښکلے حیرانه — لیونی سوال کړو د خپل جانانه
د نام پوهے له دلامکانه را — مستی م ستر کوله د خپلې خانه را
د خپلې خانه یاره! د خپلې خانه — لیونی سوال کړو د خپل جانانه
ناکاهه برق شو د ریاب د نور راغے — څه په مستئ راغے څه په غږ و راغے
هستئ شوه کونکه مستئ کویانه — لیونی سوال وکړو د خپل جانانه
اولیونی چه د ژوند زړګی کړلړے — د پیر پښخوارئ د پښې خای شو یو ټکړے
نور دک د خانه دوک د جهانه — لیونی سوال وکړو د خپل جانانه
د ریاب د نور لاړه بنیست او ناڅاړه — او د جانان مستی جانان له یې لاړه

لیونی پاتے شو خیرے کړ یوانه
دپسرلی شپه وه مسته مستانه

شمله. هندوستان - ۷ ستمبر ۱۹۲۴ع

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعا

دے بے انصافه زور جهان کښے دے بے کینے د پیغور جهان کښے
دے په غریبو نسکور جهان کښے سترګے لیدونکے راعقل ورښان را
زړه م مین را ربه! زړه م رحمان را

دے د مطلب اوتکئ په دنیا کښے دے د رابنکو غوندے لوسودا کښے
دے خوږ د زهرو سنګلے بلا کښے مینه بے طمعے را زړه بے ارمان را
سترګے لیدونکی راعقل ورښان را

دے د درو غو اوتو رجهان کښے دے بے کینے د پیغور جهان کښے
دے د بد نیتو د اور جهان کښے پاک دا ټلنے په شان نیت او ایمان را
سترګے لیدونکی راعقل ورښان را

دے بے همته کمزورے دنیا کښے دے په نفرت تورے تورے دنیا کښے

. . . . . .

مرګ چه په تروتیرین بی دا سے ایمان را
سترګے لیدونکے راعقل ورښان را

سړے بے پروا مستانه و منصور را سترګے خاکسارے مینے د نور را
سنګلے هر خیال ایمان د سرور را زړه د ملنګ را اوشان د سلطان را
سترګے لیدونکے راعقل ورښان را

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاعری

لږ خیال کړه لږ تاک کړه لږ شان دجانان
لږ ژړا کړه غوږ څنګ کړه یو آه دارمان

لږ نوکړه لږ نار کړه لږ سوز کړه لږ ساز
لږ یار دسپوږمۍ شه دستور هراز

لږ کوټ دکعبې کښے لږ چمن دشیراز
لږ باغ لږ باغچه شه لږ تور بیابان

لږ خیال کړه لږ تاک کړه لږ شان دجانان

جنډه

سرم لوګی شه له تاسترکے م
شونډے م خاورے ستا دیار شه

قربان خلمی لتانه قطار قطار شه

ته دے دخزان کښے یو کل د بهار نے
د ے تور شپه کښے ته یو زیړ د سار نے

ته د بهار خوب د کلی وران نے
ته یو تصویر د پښتون د ارمان نے

ته د پښتون د ناموس او د ننګ نښه
ته د پښتون د سپین ږیرۍ ملنګ نښه

ته زمونږ د صبر د جنګ نښه
ته یو کواه د پښتون د مړانے

ته یو تصویر د پښتون د ارمان نے

ته نے د مینے او د زور او طاقت قصه
ته د شهید د مستئ او د شوکت قصه

ته د پښتون د یو خیال او د نیت قصه
ته یو آواز د مظلوم په آسمان نے

ته د بهار خوب د کلی وران نے

(۵) سار: سهار.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاس بہ دے وپرقوم زہ پہ حصار نہ شے　　یا بہ تہ نے پہ خیبر یا زہ پہ دار نہ شے
سرِم لوکی شہ لہ تا ستر کے م خار نہ شے　　تہ د بہار خوب دکلی وران نے
تہ یو تصویر د پښتون دارمان نے

مور

دا پہ ستر کو د مریم کښے　　چہ ژړا وہ کہ خندا وہ
چہ نے سور پہ صلیب و ولید　　د عیسی د زلفو ول
دا څہ وا یمہ تا تہ ؟　　چہ رحیم نے کہ رحمن نے
چہ پہ څاورہ کښے کړے خاورے　　د کلاب سنبلی او ربل
دا مستی وہ کہ معراج ؤ ؟　　دا جہان نے چہ روښان کړ
کہ د نور دیار د ستر کو　　د ریا بو نہ بہ ید ل
چہ دا کفر کہ ایمان ؤ　　چہ دا زہ نے لیونے کړم
چہ دا غم م پہ خندا شو ؟　　کہ مستی م وژړ ل

د نبا پیرو شہزادگئ

د سرو زرو محلونہ کښے یو تخت ؤ د لالو نو
او چت د غرہ پہ سر ؤ یو کمال د کمالو نو
چا پیژ ے تر خندا وہ او مستی مشغولا وہ　　کہ کانونہ وو سرونہ وو رنگونہ وو رنا وہ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوناستہ دے محل کښے شہزادگی د بنا پیرو وہ

چہ جوړہ لہ خوبونو بنایستہ نړۍ نړۍ وہ

ماوے آبی بی دجنت : زہ ستاد رہ ملنگیمہ

دیو تنگ د دے جہانہ دغمونونہ نے تنگ یمہ

لږ پت مِ کړہ دغم د تورِ ستر گونہ محل کښے

زر ورکہ دا زہ بہ شی دستورہ پہ غوبل کښے

اوستو کے نے راپورتہ کړے پستے د رنا سپینے

نازکے نازنینے پہ رنگونو کښے رنگینے

ور وغم پکښے راوخوت لکہ لړہ دما بنام

چا پک کړہ لہ شرابو د سپورزمئ د رنا جام

وے داخلہ دا محل دا تخت دا تول ساز وسامانہ

دغمہ پتیدلہ نشتہ خوک پت بہ شی لہ خدا نہ

خہ ! پښولہ دجانان د دا نغمہ دجہان یوسہ

خہ خاخکیہ : دا د ریاب لہ یو قطرہ دارمان یوسہ

تہ غم نے تہ خندا تہ بہار نے تہ خزان

خومالید لی خوب کښے د ی د حسن یو جہان

چہ دوب بہ پہ مستئ کا ندی ستا غم او ستا ارمان

ماوے سرِ مِ لوکی شہ لہ تا ستر کے مِ قربان

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځه چې دې دنورجهان له دواړه شوروان

اے شرنګه دګونګرو! درباب تال اوشرنګ کښے دوب شه

اواے اوراوکیه: دلمر په رنګ کښے دوب شه!

وے رنګ رنا نیولی یم مادر تلوته نه پریږدی (۱)،

او ماخپلی وزرے الوتوته نه پریږدی

زه

اے دمنطق فلسفو ملا! اے دجنت دقصو ملا!

اے دجزا او قسمت ملا! اے د دوزخ او جنت ملا!

مکړه ماته قصے دژوند ناورم ته څه ستا قصے ژوند

زه نه مالی یم نه خان د باغ ماته ته څلکړے داستان د باغ

زه خو د شا تو مچئ یمه شا ت پیژنم او کل پیژنم

زه یو وړه لولکئ یمه سا ته را تلل او تلل پیژنم

زه یو چیه د نسیم یمه بس یو لمحه د ما ښام پیژنم

زه یو قطره د شرابو یم شونډے پیژنم او جام پیژنم

نو ما ته څه لکړے داستان د باغ زه نه مالی یم نه خان د باغ

زه خو د شا تو یوه مچئ یمه شا ت پیژنم او کل پیژنم

---

(۱)، دا شعر نامکمل خوند ے دی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه یوه وړه لولکنۍ یمه　　سات له راتلل او تلل پیژنم
زه خو یوشړنګ دګونګړو یمه　　پښې د رقاصې کښې تال پیژنم

زه یو بخړ ے د سون یمه
غم پیژنم او وصال پیژنم

تول او تال

په ستر که دے پردے دلیونتوب دی لیونیه :
ته نه پیژنے تول، ته تش تال پیژنے

ته ستر کے دلیلیٰ وینے لیلیٰ نه وینے
ته زړه دسیپئ نه پیژنے لال پیژنے

ته وینے د کلاب ستر کو کښے سور ژوند خمار
نه ئے جال د جهړو وینے نه ئے جنجال پیژنے

اوے آدم زویه اے ناز بینه د الله :
د زړو کالو باب کښے ته یو کال پیژنے

زما او ستا خبرے د هاتی ماشی واده دے
زه تو له لیلیٰ وینم ته ئے یو خال پیژنے

زه ترک د لوګی ترک یمه د تول د آدم
ته نه پیژنے تول ته تش تال پیژنے

خو خاص دے د وو لیونو ستر کو د پاره
زه جوړ یم خپل تصویر کړے مه د تکو د غباره

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خرو

تو تو توخرو: ووه تته تته
ارمان زمالنډی لهفرنګ شنه جامه کړه کته
خبرے اوس پښتے کوی شملے نے ده بے بته
یونوے اسلام راغی دخانانو دمحلته
چه خوښ نے دی موتر داکړی هجرت دجماعته
تیز کړځی په پتروډلو کله بره کله بنکته
په بلده تمانچه کرخیمی(*) ویږیږی دپنډته
ووه تته تته خرو! ووه تته تته
ارمان زمالنډی نن پاسلام کړنے دے ننګ
ارمان زمالنډی سبز کال کړلی دی بادرنګ
ارمان زمالنډی کنبے دی چالونه رنګ په رنګ
ارمان زمالنډیه: کله پلن شے کله تنګ
ارمان زمالنډی کله بړ کله بنکته
ووه تته تته خرو! ووه تته تته

(*) کرچنی کرښوی۔

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارمان زمالنډیه : لرے خپته دهاتی

په نسل فتح خان او په خویونو حلاتی (*)

ارمان زمالنډے زړه کښے زړه کینه ساتی

ارمان زمالنډے نن کړی کار وینه خیراتی

زمالنډے حاجی شونه سکون ډی نه لته

ووه تته تته خرو ! ووه تته تته

زمالنډے غصه دے نن غیرت د مسلمان کتهی

مړوله جنت کتهی ژوندوله دا جهان کتهی

زوے له نوکری کتهی او خان له پاکستان کتهی

داستاد رقیب دلال به نن تاله جانان کتهی

په بلده تمانچه ساتی ویرین ډی دپنډ ته

ووه تته تته خرو ! ووه تته تته

ارمان زمالنډے چه پخور لکه زمرے دے

په لنډه کښے سنه د ډنډ دے خوکړ بورو کښے نرے دے

په فکر افلاطون دے په اخلاقو بنا پیرے دے

په عقل لږ مخین دی خو په ژبه چرچرے دے

ارمان زمالنډے دے ډک چل او حکمته

ووه تته تته خرو ! ووه تته تته

(*) فتح خان برخ او د حلات مخبر یادونی حلات نه اشاره ده .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله: زمالنے ننن دفرنگ نه کښی خان

الله: زمالنے هم کښی مصر هم ایران

وئے نیت م دکعبے دی خولند ته دے روان

هندو دے فیرنگی ته خوئے نه لکی هندوان

ارمان زمالنے ننن نه کوکړے اونه بته

ووه تته تته خړو! ووه تته تته

پرون زمالنے چیرته ملاړو په ډیران؟

پرون زمالنے چیرته خوړل پردی توتان

پرون چه جهان وران و، و زمالنه ووران

پرون دچا په دین و چه دا ننن شو مسلمان؟

زما دښادئ مشه، استاوی غم کښے کومه پته؟

ووه تته تته خړو! ووه تته تته

زمالنه یه: واوره دبوندی لکئ دے خارشم

دښمن ته م دښمن شه نوره یار به ستا دیارشم

کښے دجانان کوچه زه به ستا دپښو غبارشم

ته خاره شه په وطن نوره به ستا دستر کو خارشم

کله سم نه شوروان چوکه به زه دروه بنکته

ووه تته تته خړو! ووه تته تته

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلام

اے په اسلام مینه! اے سیاسی مؤمنه!
نن چه اسلام ستائے ستایه دے څوک پرون؟
دا هغه مخ دتپوس خونوی شنه پرونه
دا د عقاب پنجے دبنا پیرک درونه
نن د جنت وعدے پرونی دوزخونه
چار بیته هغه زړه خونوی دی سرونه

اے په اسلام شیدا!
اے سیاسی مؤمنه:

سترے دے برکے بهر برک دے ایمان دنه
پرون ئے خان نه کاته نن دے اسلام کتی
په خرڅ دنګ دپښتون خپل ننګ اونام کتی
زما په وینو چا له ایران اوشام کتی
او د شرابو تاجر ساقی اوجام کتی

اے په اسلام مینه:
اے سیاسی مؤمنه!

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه به وے رب ته خپل　　چه ئے دکور دننه
تا د پښتون ستر کوته　　دتیارے جال جوړکړ
اود جناح دخره　　دے خرد جال جوړکړ
غلاف کعبے له دے　　دوایت هال جوړکړ
ماله لندن کښے تا　　نوے هلال جوړکړ
او د بلا نه دے　　ماته بلال جوړکړ

اے په اسلام شیدا!
اے سیاسی مومنه!
کلاب نیوے نه شی
چرے د زوزونه

اود رقیب نوکر　　نن ماله یار کړی
زاغ نن بلبل کړی　　خزان ګلزار کړی
منا پیړک جنګ له وړی　　د شهباز پلار کړی
نن په بورا له کونکټ　　د ګلو هار کړی
او د کافر نوکر　　کړی د اسلام پالنه
اے د کنو وطنه!　　اے د رندو وطنه!
او ګوره شرمښ ته　　کوی د شپون آواز
نن چه بانګونه کوی　　څه ئے کړ پرون آواز

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنفرت کړیکو کښے　　دمینے سوز اوساز
پرون عمل د یزید　　اوس نامه دایاز
لږ خو پدے سوچ وکړه　　زما ساده پښتونه !

اصلی مومن کړه بیل
له سیاسی مؤمنه !

څوک د عیسی پیشان؟　　مستی د دار اخلی ؟
څوک د نمرود کالکښے؟　　د موسی لاړ اخلی ؟
څوک د رقیب په محل؟　　نوم د دلدار اخلی ؟
څوک تول جهان غوړوی؟　　ستر کے دیار اخلی؟
غماز لږ وپیژنه !　　ایاز لږ وپیژنه!

اے دکنهو وطنه :
اے درند وطنه !

سیل

څه چه لږ سیل وکړو　　بره آسمان ته څو
د دے تیارے له کوره　　د نور جهان ته څو
څه چه مستئ له ورکړو　　د بے خودئ وزرے
څه چه جنت ته څو　　څه چه رضوان ته څو

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا دخزان تیارے — کړو په تیارو کښے درکے
څه چه بهار له څو — څه چه بوستان له څو
دا دجهان خبرے — دا دملنګ تکورے
تخت تاؤس ته څو — ماه تابان له څو
او د رقیب دکوڅے — د ربانی نه کوو
مونږ مستانه لیونی — کور د جانان ته څو
مونږ دجانان دشونډو — شراب څکلی دی
څکه مست مست مجنونان — نن بیابان ته څو
مونږ یو، بخښے د نور — لرے لیدلی دی
دکل په شان په خندا — غیږ دخزان ته څو
راځه چه هیرے کړو — د دنیا کې قصے
څه چه لږ سیل وکړو
بره آسمان ته څو

۹ جنورۍ ۱۹۴۶ع

کډے وډے

دمحمود غمکینے ستر کے — ځان له خپل ایاز لټئ (*)
که زما بیکانکی نن — ستاد زړه نیاز لټئ
دلیلئ ستر کے ژړیږی — دمجنون دستر کو غم کښے

(*) لټئ : لټوي.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نرگس مړ او مړ ئے او کوی — د بلبل آواز لټئ
راځه وجد څه مستی ده! — چه الله تړ ئے آدم جوړ کړ
که معشوق د مینے سازله — د عاشق آواز لټئ
نه دا غم د فلسفی دے — نه دا رنګ د لیونی دے
د کونګړو شرنګار روان دے
حقیقت د ساز لټئ

مسلمان

مسلمان هغه بنده دے — چه شونډے ئے تل موسکئ وی
سترګے ئے د رنا ئے — له خولے یو په پسل موسکئ وی
سپین ایمان ئے لکه تنده — بے دغانه هر څه سیځی
د جانان د درایر وته ئے — زلفے ول په ول موسکئ وی
چه ئے زړه ډک دارام وی — لکه بیخ د سمنده وی
خوله ئے ډکه د ګلونو — لکه باغ د صنوبر
دا سے مست دا سے سرشار — لکه مینه د کافر
اراده ګلکه بے کړ کے — لکه څوکه د خنجر
د وجود هر څا څکی وینه — سره په مینه د دلبر
په سینه کښے ئے رنا وی — لکه ځریکه د جوهر

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ژړا کښے ئے تاثیر وی په خندا کښے ئے اثر
مت ئے بر په هر څه بر وی لکه مت د سکندر
د زړه نور ئے لکه شمع پرے اوړنه بل موسکی وی

د بلبل د خولے آواز ته
داغوتئ د کل موسکی وی

رنړا د شمع کښے د سحر نور راغی

تا و د غرمے لار ما سپنبینی شو لکه د منی یخ باد د سینی شو
سرور د ستر کو د یر خو د زړه کرم شو او د فراق استا حی مخ د صنم شو
ساز کښے سر و نه نن د خاموشئ خبر وی د هوش جنت ے په کور د بیهوشئ خیر وی
بادشاه شر و نکی شو د خپله کور ه د شفق سره رنګونه شول ره تور ه
او: ستار کښے شرنګ هغه د ما بنام نشته سرور په ستر کو کښے د خیام نشته
پښے د رقاصے د خوتال ئے هغه نه دے بانګ د بلال هغه بلال ئے نه دے
په جام کښے کوټ کوټ شراب کمیز ی سپر لے خلاصیږی کلاب کمیز ی
او: رنړا د شمع کښے د سحر نور راغے باغ د بلبلو ته نوم د با تور راغے
د غو تو ستر کو له خیال د خزان راغے لږ ه مستی لاړه اولږ ارمان راغے

او د فراق سور ے په وصال پریوت
ستور ی راوخت او هلال پریوت

۴ مارچ ۱۹۲۹ ع

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلوشه

زما بخت دشمع بخت دی یا به مړ یا به سوځم — یا به بیخ له دریاب ځم یا به یاسه په چپو خوځم
عجب نړۍ عجیبه لاړه عجیبه کاروان دے — ما و ستی پراوله بیائی که نړۍ ځمه او که نه ځم

اګست ۱۹۴۷ع

نن انسان شود انسان دوینو تږے — نن مجنون شود جانان دوینو تږے
دا سے روند په ستر کو روند شو دتند دے — چه تر پوره شو حیوان دوینو تږے
دا محل د چا باچا دشان او شوکت دے — که دا پروت دے بیابان دوینو تږے
دا قصه دیار د کور او استانے ده — که د ظلم یو داستان دوینو تږے
دا سے نړۍ چه بنا مارو ته پسخیږی — دا سے تاوچه کړی جانان دوینو تږے
دا سے قهر چه لمبه کړی خپلے ستر کے — دا سے ځان چه وی دځان دوینو تږے
دا سے رند چه د آدم په وینو مست دے — دا سے شر چه کړی آسمان دوینو تږے

لیونیه! د مستئ باغ ته تر تنبسته
نن دتند مړے جهان دوینو تږے

تول (۱)

جال نه دے دام نه دے تول! کجکے! تول!
یا به په دوخان شے یاره یا به شی پر دول
یا به قلمړیو سے یا تق به دلته (۲) واورے
جال نه دے دام نه دے تول! کجکے! تول!

(۱) دمنډے په شان مزل. (۲) هغه آلچه مرغۍ پکښے نیولے شی، اړکے هم ورته ویل کیږی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارمان

ماد کلو باغ کړلے وخزان کښے — دجنت خوب مې لیدلے وجهان کښے
ماد محکے په مخ هغه لال کتلو — چه موندے شی په بر جو د آسمان کښے
اوزما په خوانئ مست په عشق خو دزړه — فرق ونه کړ په تصویر او په جانان کښے
زه په خپل ارمان مین دم په تا نه دم — څکندے څه تیر ومه په ارمان کښے
ته چه را غلے ستا د زلفو ارمان لاړ — هاى مستى دمجنون پائى بیابان کښے
ماله سود دوصال زما یاران شوپکښے ورک شو — هغه یار چه مې موندلے وُ په زیان کښے
زه په غم مست په فراق باندے مدهوشه — مرم دتندے دکلونو په باران کښے
پتنگ روند شود لمر سپینے رنا روندکړ — لولکئ کل پسے ژاړی کلستان کښے

دخوانئ مستى مې شوله خوانیمرکه
دجنت خوب مې لیدلى وُجهان کښے

بکواس

راځه زما زړګیه یو به ته شے یو به زه — یوه وړه لولکه او یو کل د لالا
یو شرنګ دغور ځنګ رنګا رنګ دستئ — شو سور په ملغ په خندا خندا
روان شو جانان له پسے او سرور — په نیاز په خرام په مزا (*) مزا
یا خوب به لے په کټ د لولکئ کاوه — یا ته به داور اور کوپه رنا
خو دوب په قطرے د شبنم کښے شو — اوچت په ملغ په خندا خندا

(*) مزه.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلوشه

او د بنده مثال لکه خس دے — تود شی لوګی وکړی رنا کړی جوړه
لمبه شی وسوځی خاورے ایرے شی — بوره ابی پرے ژړا کړی جوړه

دوه خبرے

نن م ماته جانان وکړے دوه خبرے د مستئ
د فقیر کچکول کښے کوره ملغلرے د مستئ
چه ئے زور وُ که جمال وُ ما سره په پښو کښے کینبود
چه به زه ترے کړ ځیدمه لرے لرے د مستئ
د فراق سلو صدولر یوه لمحه د دیدن بس دے
د غم زړ کاله ایرے کړے یو بخرے د مستئ

کډے وډے

څه کښے ئے وینمه سترګے خمارے — زه ئے پیژنم د سرو سترګو خمار
نه کعبه م ده لیدلے نه پرے پیژم(۱) — نه خو پیژنم لولئ او لاله زار
نه م حوره ده لیدلے نه ئے غواړم — زه لیدے شم سپوږمئ د رنا تار

(۱) پوهیږم.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریب خضر ژوند لیوالہ دچینے کړ — مالہ کوت راکوی شرنګ دستار
لکہ بیخ دسمندر دوب او خاموش دے — دا سے پروت دے دمستئ بیخ کښے قرار
اوپرتہ دقرار جړو کښے مستی دہ — عجیبہ مرکی تہ دہ عجیبہ لار
پہ نصیب اوپہ تقدیر مِ برے وکړ — توکل یم شو قسمت مِ د اختیار
پہ جنت اوپہ دوزخ مِ څہ کار نشتہ — دے دواړو برہ مالیدلے لار
لہ جزا او دسزا نہ بے پروایم — خو پوھیږم پہ فراق اوپہ دیدار
کہ غمونہ کہ فراق وی کہ دیدار وی — مستول کوی کنځل ھم د دلدار

پہ خندا بہ شی غنی پہ لمبو سور
پہ دی شنو ستر کو کہ ستا پیر زوشوا ور

دنیا کئ

دنیا کئ څہ دہ غم او غوغا څہ دہ — سوے داور سوز او سودا دہ
لیونے وائی یارہ خرہ دادہ — چا جوړ کړے ځالہ، منہ مشغولا دہ

دہ الئ

ستر کے دے رنګینے دی نیازبینے دی مھینے
شونډے دے ترسکونے او خبرے دے حسینے
ستا سینہ دسازاو دارام یوخزانہ دہ
ځی دمرچا شونډ ولہ ستا کوتے سپینے سپینے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اے دحاتم لورے! خزانہ دعشق دے لوټ کړلہ
چالہ لپے دکے چالہ پینے پینے
دا خودجانان دستر کو رنگ دزړہ مستی دہ
دے نہ جوړ جنت دے اودحور وخولے وزیرینے
تاچہ باغ تالاکړ دمالیار کورلہ بہ ځہ یوسے؟
تہ چہ زرکی تش کړے نودیار کورلہ بہ ځہ یوسے؟

۲۹ جولائی ۱۹۴۶ع

کلے وے

پښتو! تکی جنہ! تاملا بابا دھوکہ کړ — راضی شوپہ پیتی دکل کلونہ خبر نہ شو
اوپیرغریب حیران دکلہ غپ کړی کلہ کاون — بہ ئے لاړہ لاړہ دا دتلونہ خبر نہ شو
منمہ دجناح کاکا چہ لوخ بنانکلہ راغی — دډبہ دکوتکہ دکولونہ خبر نہ شو
کورہ لیونی تہ پہ مړہ خیتہ بودا شو
دخولے او دکولمو دسلسلونہ خبر نہ شو

قصہ

توړہ توړہ شپہ دجړئ — تودہ تودہ دغم قصہ
سینہ سینہ نشہ دخوانئ — سپینہ سپینہ تہ دشبنم قصہ
شکلے شنیستہ دامید دنیا — سپورہ زړہ دستم قصہ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوږ او مهین دی نوم دیار — ښکلی پسته د صنم قصه

ماته قصه د پسرلی وکړه — ناورم د دیر اوکسم قصه

ماته قصه د جانان وکړه — نا ورم د دیر اوحرم قصه

ماته موسکے مخ را واړوه — پریږده د فضل اوکرم قصه

وایه د رحم اونور خپل — مکړه دوران اوسم قصه

زور او اور او شور دا — داده ستاد کرم قصه

شرنګ ستا غوږ زنګ دزړه — داده زما او صنم قصه

اوراوحورے سوز اوساز — څه د مستئ څه د غم قصه

مالـه خندا خندا راځی

مه کړه دوران اوسم قصه

کډے وډے

دیر نږ زمالالاؤ خوچینی (۱) رانه خراب کړ

ملا پیتی ته ټینګ ؤ خو فیرنئ رانه خراب کړ

صاحب مهلر کړ فتح خوئے خیته فتح نه کړه

دے ترشے مسالے هندوستانئ رانه خراب کړ

---

(۱) صوبه سرحد کښے بُورې ته چینی وائی. یو وخت چه بورې دیر صحته شوے وه دیو خو یو پوهه لوی رشوت اولالچ ؤ چه دانګریز او دهغه دوا دارو له خوا به دقومی تحریک مخنګړتیا وراندے کیده. غنی دے خبرے ته اشاره کوی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوخان لالامِ ورک ؤ په اسلام اوپه ملت
مریدښه دجناح ؤ خوجینئ رانه خراب کړ
کوه لیونی به دپیرښځے اولوے قاضی ؤ
قصے دآدم خان او درخانئ رانه خراب کړ

خوانه

وران دے کلستان دے ابلیله: دپښتون دباغ
نوم درقیب لیک دی په هر بوتی دمجنون دباغ
خوار وزار پښے دے بے هنره بے کماله دے
غوږ ئے دی کانه لاسونه شل سترګے پرکاله دی
لال دوب دے ایروکښے اومرجان پرت دے په خاورو کښے
زوے دشمبازګرځی چمړی خوری په سیل دواړو کښے
پاڅه اخلیه: مستی توره اوایمان واخله
شهتی شه اوهشه تنده شه اونوشه خپل جانان واخله
خاورے دشنو بریتوشم غلام دغلام زوے ئے ته
پروت په دوسئ کښے ئے که زر خله خلمے ئے ته
توره دے را واخله ننګ پښتو او اسلام پورته کړه
له خپلو مستو ستر کو دے نامه دغلام پورته کړه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاڅه ننګیالیه : نن دلبرا و جانان وکتـه

نوم د پښتون وکتـه ناموس د افغـان وکتـه

تول جهان حیران کړه دخپل شان په تماشا

اے دا احمد(*) زویه اے بچیه د شیر شاه !

سلام

نه ساز شو نه سوز شو — بس هسے ژوند تمام شو

نه خوب شو نه شرنګ شو — نه یاد کـل انداهشو

داتوره توره شپه راغله — نه ستوری نه سپوږمۍ لری

خوانی وه لاړه لاړله — یو کوټ او خالی جام شو

یوستورے دسبلو لاړ — سورکـل یو لالـه ؤ لاړ

سورلهر زیرے زیرے شولو — نرے نرے ما بنام شو

قصه د حسن هیره شوه — مزه د مینے تیره شوه

ملا بانګ دسباوے — آخـر په سول خیام شو

مستی بے پروائے وکړه — په خود کښے بے خودی وړیه

(او) : کوږ لیونے هم نن

بادشاه ته په سلام شو

(*) لوی احمد شاه بابا (۱۱۶۰-۱۱۸۶ ق) چه لمسی یې سپیڑ سرپره د پښتو صاحب دیوان شاعر

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژمی مابنام

اونن د ژمی مابنام — د جړی شپه ده
پوست شبنمی باران — بهر وریږی
غاړه د اور او خیام — شروع قصه ده
د شاعر سر او ستار — مهین غږیږی
تنګ او تکور د ژوند — ناز او مستی د جانان
شرنګ د ځوانۍ کښې پټ — شاتار د غم دمی
خندا مستی د ساقی — بت پرستی د ساقی
ستینی دی (۱)، د مرګ سره — د ګونګر و شرنګ دمی
اونن د ژمی مابنام — د جړی شپه ده
پوست شبنمی باران — بهر وریږی
یار شروع کړے ماته — د غم قصه ده

کله موسکے شی
کله ژړیږی

---

(۱) ستینی: ستاینی هغه سازونه چه د مړی په سر ټیکلے وائی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند

هر څه د ربّ او همه د ربّ — زه یو ما بنام له راغلے یم

باغ او انګور میخانه دیار — زه خو یو جام له راغلے یم

مینه مستئ او خمار دبل — رقص او خندا او سینګار دبل

ګل او نرګس او ګلزار دبل — زه بے تش دیدار له راغلے یم

زه دلولګے وړے په شان — ګل او غوټئ او بهار ګورم

زه لکه شمع بلیږمه — ښیست او مستی د دلدار ګورم

لوے سمندر دمستئ له ما — څاڅکی د رنګ راوړے دے

زه پرے دلمر د نا لتوم — ما هم مثال بل ګړی دے

هر څه د ربّ او همه د ربّ — زه یو ما بنام له راغلے یم

باغ او انګور میخانه دیار

زه خو یو جام له راغلے یم

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژبه

اے په نبیست مینه جوړونکی دکلاب ژبه؛
ستا نښکلے دنیا شوه د څاروی او د تصاب ژبه:

آ چه د ماشوم ستر کے دے جوړے کړے کل په شان
د وی او خوږے خوږے خبرے د بلبل په شان

د زړه ئے پاک د بلد د هر خیال او د ازاره پاک
پاک لکه شبنم د گناه او د ازاره پاک

تا چه تا ته تهیت د فرشتو نښکلی سره نه کړل
جوړ چه د چا ستر گوله تا ستوری او کلونه کړل

تا چه د چا حسن له د خپلو ستر گو نور و رکړ
تا چه د خپل خانه چاله مینه او سهر و رکړ

هغه محبوبه ستا آدم نه دے آدم خور دے
آ نبیسته کلاب ستا کلاب نه دے او ردے اور دے

هغه ستا د لاس کل پروت په وینو کښے سمسور دے
ستا خلیفه ژبه ! آدم نه دے آدم خور دے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تا چې چالې جوړ کړه د حسن او ګلزار قصې
د کړه مشغولالې دې د مینې او دلدار قصې

تا چې چالې ستوري او سپوږمۍ او مانبام جوړ کړلو
تا چې چالې مینه او مستۍ او خرام جوړ کړلو

سترګې ئې دې پټې هغه نن د زهرو پینې څښې
ستا په نامه ژبه! نن سر دې د سرو وینې څښې

اول سترګې ستا دلیدو خورا!

زه خو ساز او سروز او خمار پیژنم
زه لیلیٰ پیژنم یا ایاز

زه خو غم او غرور او ژړا پیژنم
زه نه جانان پیژنم او نه نیاز

دې نسکورې شمکورې ته د نور قصې؟
د جنت قصې د جلال قصې؟

منې کورې ته د زهرو قصې؟
د مانبام قصې د هلال قصې؟

زه خو ګل او چمن او شراب پیژنم
زه بهار پیژنم او خزان

زه خو شرنګ او رنګ او کباب پیژنم
نه ګناه پیژنم نه شیطان

دې شمکورې نه ستا دلیدو طمع؟
دې نسکورې نه تا ته د تلو طمع؟

اول سترګې ستا دلیدو خورا
بیا ګوه د مینې د طمع

زه خو ساز او سروز او خمار پیژنم
هغه خو زما ژبه! چې ځلې شم

زه خو شرنګ او غوړ ځنګ او دستار پیژنم
او جانان هغه چې لیدلی شم

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه خو ناز او مکیز مسخره پیژنم ښکلے خط پیژنم ښکلے خال
زه خو سترگے پستے او خولہ سره پیژنم او رنگینه خندا د وصال
دے نسکور شمکور ته د نور قصے! د جنت قصے د جلال قصے!
دے کونکو توته د باتور قصے!
د پرداز د بنیست او کمال قصے!

زه ستر گے خوږے په ارمان پیژنم او نرۍ تر ورځ می د مانبام
د سره شونډو خندا د جانان پیژنم د ساقی په سر د کوتو کښے جام
زه خو یست او منت او خندل پیژنم نه گناه پیژنم نه شیطان
زه خو غم او ضمیر او ژړا پیژنم
نه دعا پیژنم نه اذان

رباعی

که پتنگ د لمر رنا نه شی لیدلے گنهگار شو که په شمع شو شیدا!
زره کښے چونگ لپه ایله د خاورو خاشی چې ځای کړم پکښے د نور د یار
څنگه څنگه په یو کوت کښے د جهان او اسمان راجوم شی څنگه کښے څنگه د سیند نعره د سمندر ځای شی

بیا لا دا دد د پاسه په حساب او کتاب کم دی د رندستر گو بادشاه به ښه او عذاب دی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډیره زمارې به د مستئ او د خزان ډیره! اے د تنګو دکور کړو د جانانو ډیره!
اے د بنکلو ستر کو د خمار او د ارمان ډیره! اے د کشمالی او خیټو راو د ریځان ډیره!
څنګه څنګی په یو کوټ کښے د جهان او آسمان واچاو؟
د شبنم څاڅکی کښے څنګه د سیند و نو د وران واچاو؟

۱۳ نومبر ۱۹۴۷ع

یادے دی

اے د پستو ستر کو بنا پیرئ! چه ستا دی یاد که میر؟
هغه د وزخونه تیرا و هغه جنتونه تیر

یو بخښے نور چه به کړ کل جهان د نورو ډک
یو رنګین نظر به غمګین زړه کړ د سرو زرو ډک

ما ته به سپوږمئ کړلے د صبر تسلئ قصے
کل به راته کړلے ما نبا می کښے د لولئ قصے

حسن او څوانی او پسرلی مینه، سپوږمئ، زړه او ته وو یو
وصل او مستی جنت جهان او زه او ته وو یو

او ر، د جهنم د خوسیځل پاسته د ساز هسے
لاس ئے د جلات د خو کاتنے د ایاز هسے

وے په هر نظر کښے د سازد نو خزانے پرتے
هر اشاره کښے د عمر د نو ترانے پرتے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړونه پټ په نور نکه لیده وی په کاکو کښے پټ
مرګ ؤ په خندا بانګ د زړکو په نارو کښے پټ

سازؤ بیخودی وه سوځیدؤ وجهان وړک ؤ وړک
زه دومره اوته وے څکه ستوری اسمان وړک ؤ وړک

وخت ؤ بے حسابه بے پایانه سمندر ؤ ژوند
پښو کښے جهان پروت ؤ بینیازه قلندر ؤ ژوند

خیال به د نسیم په شان کلونوله ما بنام له ته
عقل مرور د حورو سازله او خیام له ته

تن کښے م زړکے نه ؤ یولا ل ر د شغلونه ډک
ستړکے دهر رنګه، هر اندام د ولولونه ډک

واړه دنیاوه ماته باغچه د دلربا د کور
هر ستوری به لاره ماته ښودله داشناد کور

اے د پستو ستړکو بنا پیرئ: چه ستا دی یاد کمیر
هغه د زخونه تیر او هغه جنتونه هیر

۲۷ اکتوبر ۱۹۴۶ع

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنیا

مادو یخے پښو کښے شہزادہ پہ ژړا ولید — مادر کی مریت تہ ژوندون وویت پہ دعا ولید
دڈبے نیازہ سترگے دمستی دبیخودی پکے — وچہ ترمستی شوشوے سپی پہ پرلکے کلکی

لاس سکندر م غحولی پہ سوال ولید
پروت دمنات پښو کښے م پہ ذکر بلال ولید
ماند یخے پښو کښے شہزادہ پہ ژړا ولید
دامستانہ زوم ددنیا پہ سودا ولید

۲۵-اکتوبر-۱۹۴۶ع

ژوندون

دا ژوندون دے دوہ ورځے
خلاص بہ شی اوتیر بہ شی
داغنی بہ خاورے شی
ورک بہ شی اوھیر بہ شی

داشونڈے تودے خوبے — دا دغم صنم قصے
داکاروان روان روان
ځی بہ پہ مخ تیر بہ شی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنتی ته

ته چې جنت کښے مزے د دنیا لتے
د حور و ستر کو کښے د د مو خندا لتے

ته په اسمان کښے وزے د د یران لتے
ته په سپورمۍ کښے تیارہ له مکان لتے

ته د عاشقو عاشقی او مستی نه پیژنے
لیونے نه ئے د لربا پرستی نه پیژنے

تا د نیا د پاره، مینه د جانان و رکړه
محبوبان حلوا کښے، بیخودی د بیابان و رکړه

لاس د گرا وبد، بادشاهی لاره فقیرشوله
یا زما خان، وے یاد کوند ونلا وپیرشوله

تول خیته خیته شوے مستی او جانان نه پیژنے
تول بیړۍ بیړۍ شو، مړی او میدان نه پیژنے

زما امیرے، تا لی څه اوتو کړے خورشوے زما
زما سردارہ: ته مړو وظیفه خورشوے زما

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

قسم په هغه رب، چه ته ئې د خلمت دعوه گیر
چه ئې د حور و غلمانو، د جنت دعوه گیر

تورې راواخله، خپله هیره کړه میدان ته ځه،
ستی پتی مشه، په مستۍ، کوږد جانان ته ځه

لنبې د وینې، په پټی کښې په حلوا کښې یاره
جنت دې بایلو، د تیرو په سودا کښې یاره

دوسی گرانه ده، دلوبې نه کا کا جنتی:
تپ زمرې نښه دې، له څرلې مرې زما جنتی:

دسامرې له زړه سبنه ده، ملنگی د موسۍ
د زړ پرست نه، یار پرست نښه دې زما جنتی:

قسم د حور و په مستۍ، او په خندا د یار
قسم په شرنگ او په نسیم، او مشغولا د یار

قسم په ستر گو په بنایست، او په ځوانۍ د دلبر
قسم په ساز او په سرود، او په ثنا د یار

ته سجدې زړو ته کړې، ما ته نوم دیار اخلې
شفق گنه کړې، په بدل کښې د گل خار اخلې

راځه چه زړه د تړه، جنون او مستی د ښیمه
راځه چه زړه د تړه، محبوب پرستی د ښیمه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرداری نه کیږی د توږې د مستئ نه بغیر
الله لیدے نه شی، د حسن پرستئ نه بغیر

سکندری قلندری، دواړه سرد غواری
دواړه مستی او ځوانمرګی، خدا غږ غواړی

نه خو جنت کښے مزے د دنیا کور ده
بر بنا ځور ده، او تر سکون نه حلوا کور ده

د شا تو نهر او کنارول د شراب وک
نمکین غلمان او بنانک د کباب وک

یار ده چه شونډے نیسی (*)، نو حور ده به پرځه بنکلوم؟
چه کولمے خاږے شی، کور کور ده به پرځه مضموم

واوره جنتی!

جنت یو حال دے، د عشق د مستئ یو رنګ
جنت یو شرنګ دلنګرو، د ځوانئ غږ ځنګ

جنت نازک دے، د کل د ارمان غوندے
جنت نښیستہ دے زما د جانان غوندے

جنت دریاب یو، د مینے اوشان دے
هر قطرے ئے سپوږمئ، هر څاڅکی جهان دے

(*) نیسی، نه وی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

شان اوشرنګ

فلسفی:

داسوز اوساز داشان اوشرنګ
یوسوړے دوخت داخیال اورنګ

دااوښ کاروان داسحرمابنام
داګوتےاوشوندے اومے اوجام
امید اوخندا اوژړا اوخیام

داکل داساز داشان داشرنګ
یوسوړے دوخت داخیال اورنګ

دازور دا زر دتورو پرق
دعا او ژړا اودحورو پرق
داپرق دسرو شونډو مغرورو پرق

داچال اوجال داخیال اورنګ
ارنګ دورنګ سپارې تنګ

دابنسکلی کاته په نیازکاته
داورونازک په اندازکاته

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دالرو کښے تا دسپوږمۍ دمخ
نرګس کښے پټ پټ د ایاز کاته

دامینه رنګینه داشان اوشرنګ
یوسورے دوخت دخیال اورنګ

داناچ دلولکو بهار اوګل
مانبسام اوخیام اوستار اوګل
ګلزار اوچغار اوخمار اوګل

داسر اوسرور اوشان اوشرنګ
یوسورے دوخت دخیال اورنګ

شاعر:

نامړه: ته ستر کے دیارنه وینے
دستر کو سړه وینے خمارنه وینے

ته تهنګ او تکور اوسرود وینے
مستی اوجنون د دلدارنه وینے

داسوز اوساز داشان اوشرنګ
یوتار د دلدار دخمار اورنګ

دانښکلی کاته په نیاز کاته
داورو نازک په انداز کاته

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دالړو کښے ، تا ۔ د سپوږمئ د مخ
نرګس کښے پټ پټ د ایاز کاته

دامینه رنګینه داشان اوشرنګ
یو تار د دلدار داخمار اورنګ

دا بنکلی کاته په نیاز کاته
دا ورو نازک په انداز کاته

داناچ دلولکو بهار اوګل
ګلزار اونسیم اوستار اوګل

سرے شونډے دے یار د سپرلی په شان
ژوندی کړی مستی اوبهار اوګل

دا سر اوسرور اوشان اوشرنګ
یو تار د دلدار د خمار اورنګ

سپر دل د ګلاب اوخندا دیار
کاږه کاته په رضا دیار

انداز د مستئ اوتول د غم
سرښکے اوشونډے زما دیار

دا مست مانبام کښے د ژوند غوږ ځنګ
یو تار د دلدار اوخمار اورنګ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

داااوښ کاروان داسحر مابنام
داګوتے اوشوندے اوسے اوجام

داتله په امید په ایمان اوزور
داتله په مستئ پریږدانه دخیام

داګل اوساز اوشان اوشرنګ
یوتار ددلدار دخمار اورنګ

ترانه

نه ماسره زرنه مرجان شته دے
نه ماسره شته دلالونو ډیر(۱)،
جانانه! جانان دملنګ ئے ته
ملنګ سره وی دسوالونو ډیر

ماتاله دا لئ(۲) راورسے ده
وطنه! مستی اوخوانی نها
سره وینه توده اوزړکے نر
نرتوب اوپښتو اوخانی زما

زه ځان اوجهان په دلبر باندے
زه پښو کښے جانان ته خیګر باندے

(۱) ډیرئ . (۲) دالئ : غمه، سوغات .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه مست داسے مست ننګیالی یمه
فقیرته کچکول کښے خپل سر ږدمه

زه مست اوسر شار او مجنون یم — زه د روے ننګیالی د پښتون یم
لوګے شه له تا دا خوانی زما — مزتوب او پښتو او خانی زما

زه سر او سر صدقه د رکوم
دستر کو د نیر صدقه د رکوم
زه ژوند او خوانی تالا کومه ښن
مستی او غرور صدقه د رکوم

ما سر خپل جانان ته ښنلے دی — خمار م رحمان ته ښنلے دی
خندا په دلبر لوګے کومه زه — ما هوښ بیابان ته ښنلے دی
زه جوش او جنون لوګے کومه له یار — زه تنګ او تکور صدقه د رکوم
زه ښیست او مستی ستا په پښو ږدمه — زه مینه او زور صدقه د رکوم

زه د رک لیونے د منصور په شان
لیلی له په تیک کښے قمر ږدم
زه مست داسے مست ننګیالے
فقیرته کچکول کښے خپل سر ږدم

خونه ما سره د زړه نه د جانان شته دے — نه ما سره شته دلالونو ډیر
جانانه! جانان د ملنګ نے ته — ملنګ سره وی د سوالونو ډیر

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاعر اولیلی

شاعر:

داژوندون اومستی اوخندازما
داخوانی اوتاوډے یودوه ورځے
دامِ ستړګو کښے ستادشونډو رنګ
زوړ دتوږ پلوډے یودوه ورځے

اخ تلونکے هغو تیاروته یم
چه دګومو تیارونه راغلے یم
اخ څم به بیا هغو کیتولے
کومو کښے چه زه غځولے یم

داخوانی لکه دسپیلی ماښام
یولمحه دساز یوقطره دنور
داخندامستانه حیرانه ستا
یوجهان درنګ یوه ذره دنور

ستادستړګو جانان مست وروخوږ
ستادشونډو خپه اومغروره خوږ
ستادګیتو پستو اومخمور وخوږ
کپکیه دتنو اوحور وخوږ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دادستر کو بنایست اود شونډو خوند

او داسوز اوساز او ارمان زما

دنسیم چپه اود ګل غوتئ

اومستانه حیرانه جانان زما

دایو تلونکی تلونکی کاروان دے

یوه قصه ده چه وشوه اوتیره شوه

دایو بنکلے بنکلے تصویر دخیال

یوه تپه وه چه وشوه اوهیره شوه

باقی یوهغه دتیارو جهان

باقی یوهغه، د رنا وطن

باقی یوهغه، خوانی داشان

دخوبونو او د خندا وطن

لیلیٰ :

یوه لپه ترینه واخله ډک دریاب دمینی بیبۍ (۱)،

داته ولے په ژړا وے، چه پیاله یم دریاب نه یم؛

تول جهان دنورو ډک دی کله: خان دنورو ډک کړه

داته ولے په سلګو وے چه سپوږمۍ او آفتاب نه یم

---

(۱) بهیبۍ.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اے نایکہ!(۱)

اے مالیارہ ددے چمن! اے نایکہ ددے جہان!

اے د نرگس او نسیم زلبہ! اے سردارہ ددے مکان

دا خلیفہ او مجنون ستا ستا د شراب او حور و خان

دا ستاد کوتو جور کلاب ستاد چشمانو مخمور و شان

تا خو جور کړے د مینے لہ کل دے کاتہ بیابان لہ

تہ خود مینے لیوالہ وے تا خو عاشق کاتہ خان لہ

تا خو بیبلو او رحم لہ ستر کے بنیستہ دلید و کتے

تا خو خمار او خوب والی لہ شوندے دپیژند و کتے

تا خو خپل شان او کمال لہ ورکړہ موقع د کمال او شان

خکہ دے ستر کو دیارلرہ ورکړہ رنا د هلال پہ شان

تا خو پہ لی دلربا کړہ جور ستوری سپوږمی او سبا کړہ جور

تا خو انی مستی ورکړہ تا خو شیرین او لیلیٰ کړہ جور

خوب روند او کون شمکور یمہ کل او بهار او جانان نہ یم

---

(۱) یادار ـ څښتن .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه دغضب اوسره اوژړ یک — د نک اومستی او خمار نه وینم
تاکر جهان دخندا نه ډک — ماکړ د شور او غوغا نه ډک
تاکر سرور اومستئ له جور — ماکړ د غم اوژړا نه ډک
ماکړ د وینو په وینو رنګ — ماکړ د خوار د آزار ه ډک
ماکړ د ظلم اوزور د وطن — ماکړ د مرګ دغار ه ډک
تاکر خوانئ او دلدار له جور — تاکر خندا او خمار له جور
تاکر سپوږمئ اوستور و له — ماله پسرلی او یار له جور
خوماکړ د وینو اوچغو یک — ماکړ د سوز او ارمان ه ډک
تاکر سرور اومستئ له جور — ماکړ د غم اوژړا نه ډک
اے مالیار ه د د ے چمن ! — اے نایکه د د ے جهان !
دا دنیا کئ د ے سمباله کړه — دا دنیا کئ د ے په تلوډه خان !
کوږه ! علم اوزور نه غوږئ — کوږه ! هنر او شعور نه غوږئ

نړ وے د آدم آدم خور شولو
وکوږه ! ورورته ورورنه غوږئ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند

چه خمار مستی ترے وځی شراب بنسے ترخے او به وی
چه سرور غرور نے نه وی داژوند ژوند نه دځه وی

چه دمینے زړه شی پاتے لکه کل وی رژ ید لے
یا شغله یوه د نور وه یا یو موټے دخزلے

چه په ژوند کښے سخته نه وی لکه بے مالکی طعام
چه په خوله کښے خنداڼه وی لکه ډک دخاورو جام

چه خوانئ کښے تکلیف نه وی لکه پته میان کښے توره
نه نے پرق شی نه شرنک شی په زنګو نوشی نه خوره

چه آرام وی او سمام وی او یا ری په جایداد وی
خوبا نوم شیرینئ وی مړه تر و پرو فرهاد وی

چه نے سر په خندا وشی هله خوږ راز و نیاز شی
چه د سپینو تورو جنګ شی بنکاړه هلته کښے ایاز شی

ژوند که تش نیرنئ څټل وی داخو سپے هم شی ځټلے
که تش نسل زیاتول وی داغوئی هم شی کولے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند نه خیته نه مانئ دی نه پیرئ دسرو لالو نو
نه یاران نه معشوقی دی نه باغونه نه کلونه
ژوند خوتله دی په یو مخه
غورځیدل او پاځیدل دی
تکے سوز او تکے ساز دے
څه خندل دی څه ژړل دی
ژوند په ستر کو د عاشق کښے
پلوشه ده د خمار
په صحرا کښے لټول دی
د آشنا د کوڅے لار

حبیب آباد جیل
۱۱/۸/۱۹۴۷ ع

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

مینه مینه م کوله خبر نه وم
چه دورخے مازیګر او مابنام م شته

لکه زړ که د سپرلی وم په چرچقو
خبر نه وم د بنکاری سره دام م شته

دنیا زبینے بنا پیړی په بستر پروت وم
خبر نه وم چه رقیب م په بام م شته

د ساقی په سخاوت باندے مدهوش وم
خبر نه وم تشیده ے د جام م شته

سپینه شمع د محل په خندا وائی
د رنا سره د سولو سام م شته

د اویل لیونے دک د ریاب له لاره
آ د روبل چرته یو بنکلے مقام م شته

خو د خو چه د ملا د روغ معلوم کړو
دی وئی هلته مستئ انتظام م شته

حیدرآباد جیل سند

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبادت

دملا عبادت کسب — پاخیدل اوکیناستل
دحلوا په ارمانونو — تل الله الله کول
دملا مینه عجیبه — په پیتی مینیدل
اودحورولمغروته — دخرچوکومنیدل
دصوفی عبادت ویرد مے — سوځیدل اوژړیدل
دحمن رحیم دنوم نه — ړیدل او ویریدل
دصوفی مینه عجبه — دزړه کل مراوے کول
بے کنار دریاب حسن — په کوزه کښے بندول
دزاهد عبادت چرد مے — سوال منت ژړا کول
په جنت اودے دنیا کښے — دفایدے سودا کول
دزاهد مینه عجبه — په خپل ځان مینیدل
دریاسپی جوته کړے — دلر بالہ ورکول
دغنی عبادت مینه — ځان جانان کښے ورکول
دمهینوستر کوشر نک ته — کډیدل او خندیدل
دغنی مینه عجبه — تول بیلات هیڅ نه کتل
داخپل ځان اوجهان وارہ — یوخمار کښے ډوبول

(*) بیلات، بابرل.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دابلم توتیان

چا بند کړی دی پنجرو کښے　　دابلم[1] دسر توتیان

چا عقاب په لاس کینولے　　د مرز هسے چغولے
چا منصور په سر اوسپنو　　او خوږ و باند ے غلولے
چا قسمت په زور تړلے　　د کوډئ هسے لوبولے
نن دکومے بادشاهان دی　　سکندر او شاه جهان
څوک ځیولے[2]، شی کوه کښے　　سمندر بے پایان
سیلاب چا دے منع کړے　　په بند ونو د شنو شکو
د قسمت په کور کښے نشته　　شمیر د ډیرو او دلږو
بادشاهی لښکرے اړے　　تل د وږو او د تړو
فقیری چه فقیری وی　　بادشاهی ترے شه قربان
چا بند کړے دے پنجرو کښے　　دابلم د سر توتیان
چا سرور په لاس کینولے　　څوک مستی شی سوځولے ؟

---

(۱) ابلم : دسوات په سیمو کی یوه هسکه غره دی . (۲) ځیولے : ځایولی .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بهار ولولے څوک شی — څوک دپسو لاندے کولے ؟
کلکونه ژوندی مړه کړی — ژوند څونه شی مړ کولے
چا د بوئ مین منع کړے — څنګلونه د ریحان ؟
چا بند کړی د بلبل نغمو کښے — دایلم د سر توتیان
بلبل ناست بندی پنجرو کښے — دسپرلی خوبونه وینی
په شاهشم زیر میدانونه — د نرګس ګلونه وینی
سره ګلاب مست او خندا — دلولو پرونه وینی
ولی (۱) ریبارته راشه یو سره — دا پیغام د غنی خان
څوک اچولے شی کوزو کښے — سمندر بے پایان ؟

سزا او جزا

مخ په پته دے پوه نه شو — د سزا او د جزا
تا ته یو دے لویه خدایه! — هم خندا او ژړا
څوک منیستے خوانی کړی خوار دے — په یو خیال باندے مین شی
څوک غمونه وینے وځنبی — چه په مال باندے مین شی
څوک غوته په رنګ او تال کښے — په یو خال باندے مین شی
څوک مدهوش په حق او نور — په هلال باندے مین شی

---

(۱) والی .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخو؛ ستاسپو ډې هر چا ته خاندی که زهری وی که بلا
هیڅ په پته دے پوه نه شوو دسزا او دجزا

څوک په پتو ستر کو وب شی سمندر کښے دغرور
څوک په تخت لکه فرعون ناست دی خاندی په سرور

څوک په مخکه پروت ملنگ وی یا دوی قیصے دلوی
څوک په وینه مور خندانه څوک په مینه کښے رنغوی

روند قسمت دی نه ترڅ نه کړی د فرعون او د موسی
هیڅ په پته دی پوه نه شوو دسزا او دجزا

عجیبه ده فرق نشته دغرور او د نیاز
عجیبه ده بیلتون نشته دیزید او د ایاز

عجیبه ده انعام یودی د تپوس او د شهباز
تا ته وایه چغے یودی که د ویرو ی که د ساز

تا ته یودی لویه خدایه ! هم خندا او هم ژړا
هیڅ په پته دے پوه نه شوو دسزا او دجزا

یو خوا سترے سترگے شاهین پیغړه کښے پروت ژړیږی
بلخوا زیړ ستر کے شغال په غلو کښے لوغړیږی

یو خوا نگ مینه او توره د هر دری سو خاورے کیږی
بلخوا چل دهوکه دروغ را خوریږی زرغونیږی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

آستا غټے لاپے څه شوے؟ د قسمت اود سزا
تا ته یو دے لویه خدایه؟ هم خندا او هم ژړا

ماتم

ذلغونه وے غم له جوړے ستا د استر کے د غم دے
چاتے بڑبړه ارے د افسوس او ماتم دے

په ژړا باندے چا نه دی، سړے مانئ آباد کړے
په ښیرو باندے چا نه دی، مړے پیرئ آزاد کړے

د استا کوتے د پولا دو تش د عازارئ له نه دی
د استا مټے د مړانے جوړے د خوارئ له نه دی

د استا زور پښتو او توړ، ستا د سړے وینے غوږ څنګ
چه ښکلی سړے د یتیمئ شی خو آښکارئ د پیر بد رنګ

پاڅه پاڅه چجه وکړه ستا د سړے وینے غوږ څنګ
ته آفت ئے ته غضب ئے د سوړ تندر یو کوزارے

ستا د لاس د قسمت لاس دے، ورانو جوړ ول دی کا
ستا په مټ کو کښے اجل دے، وکړل سوګول دوی کا

د زغون د کور په شانے د احصار خاورے ایرے کړه
د امغړه سر تس نس کړه د اغوږ د ذرے ذرے کړه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاخه وښیه دنیاته د پښتون د بچو ننګ
پاخه واوره د شغلۍ . د ویستلو تورو شرنګ

پلوشه

زوړ شومه زوړ شومه مسلمان نه شومه
ارمانی دیر شومه
خو پښیمان نه شومه

شاعری

د سکر تو بیخ م وښکه سر م خوږ که په کړ ولو
دیر مسرونه م رایاد کړه یو هم نه دی د یاد ولو
نه تپه شوه نه چاربیته نه غزل نه نیمکئ شوه
نه قصه شوه نه بدله نه ساقی شو نه کوکئ شوه
شاعری هم یارانه ده نه په زور نه په زاریئ شی
نه په چل نه په هنر شی نه په مال نه په خواریئ شی
شاعری لکه باران دے کله تندر کړ زهر شی
ناکهانه داسے شرق شی چه صحرا هم سمندر شی
کله نرم نرم پشم پوست نازک نازک ریښین

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نسیم په شان مستانه
د مخمل هسے مهین
کله سنبه د نه شیبه شی
په اوبنده صحرا وریږی
کله تور باران د ژمی
نه کمیږی نه ودریږی
کله شر د پشکال شی
چرته لمر چرته باران
عجیبه لکه د ژوند
څه خفه او څه خندان
کله داسے سوکړه راشی
باغ چمن شی کربلا
لا د خاورو وتی نه وی
چه بیا خاورے شی لالا
کاش چه وی زما په لاس کښے
د وریځو فرښتے
ما به هر وخت ښکلے ښکلے
سپینے لړے راوستے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

هرما بنام بہ م جور ولو — پہ قبلہ دبودی تمال
هره ورخ بہ م ستایلو — دا شنا دزنے خال
ولے څه وکړم جانانه — واک دبل اختیار دبل دے
دا په تا مینے ستر کے — ددوی نور خمار دبل دے
دا چه ته پرے راته خاندے — ددے سره شونا ودے جارشم
د دوی نبیست مستی دبل دے — ددوی سر سینکار دبل دے
(اوبس:) دا دومره وآهم بس دے — چه نړه ویم د ته غزلے
ته نبیسته په پستو ست ترکو — راته کوړے غلے غلے
چه سات کړی مشغول شو — بیا به خو زما بلبلے:

مونږ له تورې اوږې ده شپه ډډ
دی د ،ما دا دیوے بلے

حیدرآباد جیل
۴- ستمبر- ۱۹۳۹ع

تک

ماله قصدًا دروغو تاته وخوړو قسم
بے وفا څه بے م هسے تاته وے صنم صنم
ستا معصوموستر کو وکړه په تکی باندے اعتبار
لکه ونیسی ماشوم چه په خندا خندا بنامار

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماچه ستا په سرو لبانو قسم وخوړه ما بنام
د شرابو په نامه مې درکړ دک دخاورو جام

ستا معصوم موستر کونه وے لباسي ستر کے لیدلے
څکه زړه پکښے روښانه شوے مینے دیو بلے

زه وم غل د دوو څاڅکو تا د حسن د یاب راکړ
ما په چل چونک د کولو تا د مینے سیلاب راکړ

تا د خپل ایمان په زور، زه کافر کړم مسلمان
زما زړه پکښے دے کړل خاورے د تکې حمه بوتان

ستا د شونډو غلا له لاړ وم خپل خیکړم پکښے بایله
د خواږې اوښکې جمع تول دفترم پکښے بایله

جام مې وړے ډیو کوت له دوب د یاب کښے د سرو شوم
د منصور پیښو له لاړ وم لیونے شوم زه منصور شوم

لیونے نه زړکی یوور، نا زنینو، موسکو شونډو
غلا له ته په ډاکه واوړید زړه نے وچاودڼه منډو

حیدرآباد جیل
۱۲ ستمبر ۱۹۳۸ع

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کډې وډې

یادم باندې کړې دې — خیال پخوم پلاو
ځان له سیخکی ورېتوم — د زړه داور په تاو
ناست لکه منډک یم — جیلخانه کښې په ډې ساو
څوک به تړی خدایه! — د قسمت د پیشو میاو
خلاص کړې نه په چل شو — لیونې اونه په داو
کډې ئې په کار کړ — نصیب بې موسمه لاو (۱)
کوره کشمیری ته — په پښتو کوی دباو

کال چې شی کونی، بغ
هم مرغی ونی (۲)، د تلاو

پلوشه

کعبه جوړه ابراهیم کړه — زه جوړ کړے میر الله
وایه څوک لوے شوا د چې شو؟ — وایه وایه اے ملا!

(۱) لو. (۲) دهی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانوس

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه واخلی چه ماشوم

لکه واخلی چه ماشوم — دک شکرے دسرو کلونو
خاندی چغے وئی غزنئی ئے — پسے پسے پہ موجونو
دے پہ غارہ ورتہ خاندی — خرسیلاب ئے کلاب یوسی
نہ پہ زورد سیلاب پوئیږی — نہ پہ قدر دکلونو
دا سے ماداخپل جمدون (۱) — دمستے سیلاب کښ لاهوکه
پہ خپل لاس م خان بندی کہ — دخوقسمہ دوزخونو
لکه واخلی چه ماشوم — دک تالے دسرو اوسپنو
پہ خندا خندا ئے نولی (*) — پہ کوخوپہ بازارونو
غله وائی واه واه دَ نن زویہ — څه سخی ارسلاخان ئے
دے نہ زور د دولت وینی — نہ درد دونہ دغمونو
دا سے ماداخپل جمدون — رُک (۲) کہ خاورے کہ ایرے کہ
خان م وتړه پہ خپله — دغضب پہ رنځیرونو

(۱) جمدون اژوندون . (۲) رُک ، ږدہ ک . (*) نولی = لوی = شیندی .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادا ژوند بیللے جنگ دے

اویازه پهلوان نه یم

ماخو هیڅوک هم اونه لیدے

چه زوره ورشو په غمونو

زه لاوینس نه وم د خوبه چه زیږے مازیګرے شو

چه ئے زه په قدر پوئے شوم ګلزار تش وو د ګلونو

اوس نه رنګ شته نه مستی شته نه سیلاب شته نه ګلونه

دیوخوب لیدلے ووتیر شو ژوند شو دک دارمانونو

باغ د ګلوم تالاشو دلا لونو شکورم تش شو

دالا واوره ملاجان کئ (۵) تنګ تنګ د حسابونو

وخت او ژوند د غټ تقدیر دے

دَ یواوبئے بل له بوتلم

داجدون وو که یو دام وو

دا ورونو د غمونو

(۵) کئ: کوی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تقسیم

څوک لیونی شی　　څوک لیونتوب شی
څوک شی په خوب ویده　　څوک رنګین خوب شی
څوک احرام وتړی　　مخ په قبله شی
څوک جلال واغوندی　　پاکه کعبه شی
څوک مست بوراشی　　مسته لولئ شی
څوک رنګینه نیازبینه　　دَ کل غوټئ شی
څوک یو دَ درد تصویر　　دغم قصه شی
څوک ے په مینه مینه　　په نندارې شی
یوځو ساعته درنګ　　دَ خندا تیرشی

اخر تیارې راشی
اووارې هیرشی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا

قسمت مِ روند جولا دے ناست کدے (۱)، تہ پہ آرام
دمنو بلد وعجبہ تنستہ بُدہ روانہ
دوخت ملکوچلیز ی زر سپنہی (۲)، بہ شی تمام
خبر نہ یم داخہ لہ او داخہ جوری زمانہ
زہ کرحمہ چاپیرہ تپوسونہ کوم مدام
دکل نہ، د ساقی نہ، د کتاب نہ د ملانہ
داخہ لہ دے جوړشوے دومرہ اوږد انتظام
داخہ وی چہ څوند راوړی او مرګ یوسی د دُنیانہ
دانکہ ھسے رفتار دے کہ لری چرتہ مقام
تیارونہ دا راغلے لا تیار وتہ دہ روانہ
اوہ! ھغہ دِ ولاړ دے پہ کلونوکښ خیام
وئی (۳) څوند خاورے ایرے دے بے دمینے اوجانانہ

---

(۱) دجولا دا وبلدلو دستګاہ.

(۲) سپنہی . (۳) وئی : وائی .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَے دردلرلی څوندکښ بےخودی کښ دَے آرام
د ظلم په دے اورکښ یو ساقی دے مهربانه
دامست بے خودہ سر، نشه خوانی او دِ لارام
راواخله په شکرونوے قبول که غنی خانه
خوهغه دے جمات کښ اوچت بانګ اوورے امام
وئ دا دنیا بلا دہ تښته تښته دَ بلانه
ساقی دتړه ډک کړے دے دسورانګا ړه جام
داسړے شوندے مے اوردے دَ دوزخ په لاړ روانه
دا څوند د دنیا څه دے، لوبے توقے مسخرے دی
جنت کښ شرابونه، سپین غلمان حورے مستانه
سقراط وکړه آواز وے دَدے تولو دے سرسام
هیڅ تړه رنا نشته بے دعقل دَ جهانه
په پوهه او په فکر کښ دے حُسن هم آرام
دانوردے درب نُور دآدم خاوړه کښ ورښانه
داخړه دی نه پوهیږی وائی وهم ته الهام
منطق او فلسفه دہ چه پے کرانه شی آسانه
راځه روح له دِهم ماپوړه کړے انتظام
که بُت وی اوکه رَب څه برده آمنه دَ ځانه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو چا رچا پیره شور هر خوا ولاړ ؤ یو امام
هر یو وے زه په سمه یم دانوردی تول په وړانه
یو یو ته ورنزدے شوم سنه م ولتول تمام
یو هم نه کړم آزاد د نخیر و نو د سودانه
مستی م کته دا سے چه نه مے غواړی نه جام
هغوئی دیر و دک، کونکا مړے جور ؤ زمانه
جانان م کته دا سے چه م هوش و اخلی تمام
هر ساز م د مستئی نه هسه سوز م د ژړانه
دلبر م کته دا سے چه وی تل رو نبان په بام
یو کل د رنا جور، خبر د مینے او ارمانه
یو از ے ترے روان شوم زړنکی کښ م ماښام
نصیب نه کیله منډ، په هوش جمدن و باندے ستومانه
ورغلے م په ولی باندے لاس کمینبو د خیام[1]
وے په دے کوځ کښ څه تلے را غلے یم د پخوانه
د خاورو ده آدم آخر د خاورے دے مقام
هیڅ دا سے علم نشته چه ژوند خلاص کړی د خزانه
د وخت هر لمحه ده هم شروع او هم انجام
د ژوند راز و نه مړ کښ دی پټ شوی دانسانه

(۱) عمر خیام (۴۴۰-۴۴۱ - ۵۱۵ یا ۵۳۰ ه ق)

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه ئے سرښته نه لکۍ یو دایره ده خُله دجام
رنا دتیارے تاوده او تیاره تاوُ دَ سهانه
په خود کښ درد دے، اوردے، بے خودئے کښ دے آرام
دے درد لرلی ژوند کښ یو ساقی دے مهربانه
دامست مستانه سر، نشته خُوانی او دِل آرام
دَدے به زیات څه درکړی، او زیات څه غواړے دَ چانه
چا پیره خیشت اورنگ تش دکتلو په انعام
په هر مټی دخاورے کښ زرګونه ګلستانه
یو څاخکی کښ دژوند، دَعقل، پوهے، کل سمام
رګونه دنیۍ بۍ او دَ بابانه
دَ تال او سار او شرنګ او غورزنګ بے میوخاړ
دا ښکلے لیونتوب دبے وجوده شان هوانه
دداسے هنرمند هنرله نشته دے تمام
قسم دَ جهانونه شته بنایسته دَدے جهانه
دنیش نه راروان شوے شودِ دا نکین مقام
چه هر چرته دِ بیائی زه، وړځه ورله خندانه
اوپریږده جولاګے خپلے کډے نه په آرام
جوړئ دے، چه کم شے وی که وی ګرانه که ارزانه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

او چه دا نوته پوره شی، دا پښتی(*) نۍ شی تمام
نوځه په خندا یاره دکدۍ نه دَ جولانه
چه تش یو یاد او هوش شے لکه بوی باغ کښ ما بنام
آزاد شے ددے تورو زنځیرونو د دُنیا نه
بیا بلبل جهان، اونوے هوش، اونوے مست خمار
اوبل قسمه سرود نورو پرده کښ د ستار

(*) پښی: سپښی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیلہ

د کار غمہ خولہ کړہ ژبہ دمار کړہ
د چرگی عقل کړہ زړہ د سیار کړہ
مړے د سپی کړہ چہ بنہ غپیار کہ
ضد د کچر کړہ غرور پرے بار کړہ
ختمہ د کلی دیران د بنسار کړہ
بیا چرتہ روند کولال یو یار کړہ

تالہ بہ نوے
لیلہ تیار کړہ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوکه

لرے لرے په وړ ځوکښ یوسپینځوکه ښکاري
خوپه لاړه کښ دی غږ نه اوري دی غمونو
غلے غلے م رکونو کښ یو ښکلے آواز ډلی
پکښ تورسوی سازونه، زیړ پاسنے ډکلونو
دو دو پټ پټ م خیکړ کښ یو مین ستا غږ ږدی
عجب ساز دخاموشئ دے لیونے نے کړم سُرونو
اومانه دیره لویه لاړه، دا زغود تیاره پاتے
خوچه دغه څوکه وینم اودم بل شی په ر کونو
ډک ډکلو کودم کورشی، هر کلاب راته پیغور شی
همه خیشت (*) دژوندکړی پتے تورے لرے غمونو
زړه م وئی چه پاڅه پاڅه غنی خان پسے ملنګ کړه
دغه څوکه کښ پټ پروت دے ستا مطلب د مطلبو نو

(*) خیشت: بنایست.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت

تکنه غرمه دلیونو دکه زیدو دے وخت
لره، تر مکئ (۱) ذ یار دستر کو دلیدو دے وخت
زیر مازیکرے دژوند غمکینه شان نشه لری
تور شپه ژمی د اورولو اوریدو دے وخت
هغه ده سپوږمئ دونو څوکو کښ مسکئ شوله
پاخیږ لالیه! اوس دباغ دکړ زهیدو دے وخت
لاړ ساقی بوده ماشو، خیام هم دبزمه پریږو تو
اے دمستئ جامه دغه ستا دماتیدو دے وخت
مه کوره آینه کښ لیلے هسے به دِ وژړی (۲)
لاړه چه خوانی شی بیا مړ وخت دژړیدو دے وخت

(۱) هریکئ: تر یوئ۔ (۲) وژړی: وژړوی۔

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرګ په ما مېین شو، اوس ئې هر وخت سلام رالېږي
وئې مخ که یاره ماته اوس ښکاره نېږدې وخت
مګه صبر او کړه لږ شان اورم په وجود کښ شته
دیرم دی سوز ولی اوس زما د سوز یار نېږدې وخت
هغه سې م سازلیونی، مست نظر مستولے شی
وینه کښ م اور وهی دول دګل یار نېږدې وخت
سوز او ساز چه لاړ شی، تشخاوره شم نور اشنا یار!
د ره به شم سینے له دغه وخت د ره کیږدې وخت

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

وائی مُلاجان

وائی ملاجان چه پجنت کښ حورے پیدا کے دی
غټے غټے. سپینے سپینے. مستے اوبر بندے دی
کوره بمبلیته چه ئے خُاله دلاړه و دکه شوه
بنا نکلو کښ دحورو ئے. الحمدلله هو. ړه شوه
کوره دآشنا په بیړه لاړے راروانے شوے
تول شهوت شهوت. سړو راتلے شے نه ئے
دا وجود دخاورے. دے نه پاتے جنتو نو کښ
دا دخاورے کل مست وی دخاورے په کاونو کښ
خاوره به شی خاوره یواحساس او یاد به پاتے شی
سازسړه به لاړه شی خوشے تشے باد به پاتے شی
زه به حورے څه کړم چه ئے غیږ کښ کینوے نشم
غټو مستو ستر کو ته ئے به سړو ستر کو کتے نشم

(۱) ورنوکی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اودا وجود که بیا شی جوړ شهوت حورے شراب وی
مست مست هلکان چه به هم بنکلی هم خراب وی
کوره ملا کے ته دے چه لس ئے درله کیره کړی
ته به وړله کورے اوهغه به درله تیره کړی
اولو نه دے راونیسی. لامور دله په مخه کړی
توله خیلخانه به دله کرمه کړی اویخه کړی
دغه که جنت وی ملا رب دِ ورله بوځه زر
دغه دله توب نه زما زر خله دے غوښ سقر
یا خو وجود نه لری یو مست او رنګین خوب دے
حورے اوغلمان دمینے خیشت اولیونتوب دے
یا داته چه وے که دا رښتیا ستا په کتاب کښ وی
تول غلمان به مړه وی پښتانه به په عذاب کښ وی
تالا ملاجانه رب دِ درکړی جنتونه دیر
اوس پوه شوم چه ولے دا اوږه کوے موخونه دیر
نړه به سور دوزخ له خپل غیرت اوغږ یوسمه
ځان سړه به خپله حیا. خیشت اوسرور یوسمه
اوروی که عذاب وی تیروم به ئے لکه خان
ته همسایه لاس شړه دَ ښځے نه غلمان

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلوشه

ژوند او ساز واړه دبا دی
ژوند هغه بوبه چه ساز وی
ساز هغه چه سا پکښے وی
ساه هغه چه د نیاز وی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نرس

د درد مند دَ خوار خلمت — خدمت نه دے عبادت دے
لکه مور، رحم او مهربنه — دَحوا اصلی فطرت دے
دا دَمرګ سره جګړے — دا نر توب او شجاعت دے
دا دَ درد په اوږکښ رحم — او تیارو کښ سپین مشال
هر ژوندے دَ ښځے نړے دے — هم ئے خیشت او هم کمال
که دنیا وړته سپک ګوری — دنیا څوک دی پیژندلی
دشمکو رو خړو کالو ده — هر یو لال ئے خاور کړے
لور دَ خیشت او مور دَ ژوند — دے له ربّ پیدا حوا کړه
داخو مونږ ه شاعرانو — یا ساقی یا دلربا کړه
دَ مغرب قحپه تهذیب دا — یو مسته شان بلا کړه
نه ئے مور کړه نه ئے خوږکړه — نے دَ دین نے دَ دنیا کړه

دَحوا اصلی مقام
رحم مینه او خدمت دے
دا دمرګ سره جګړے
خدمت نه دے عبادت دے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپیره وه دسپرلی

شپیره وه دسپرلی ژوندۍ پیدلو په کلونو کښ
تول جهان روښانه وۍ. وه تیارې زما خیالونو کښ

او ښکلی دسپورمۍ رنا د مینې د آواز په شان
روح ئے د ژوندون نیوه د حُسن په دامونو کښ

څه د ډولے ولے په دریاب کښ روک لاهوۍ مه
دوب په بے حسابه لاجوابه تپوسونو کښ

ماوے ژوندون څه دے، یو جنجال چه معنیٰ نه لری
بے مطلبه د هلړلے اوږکښ او غمونو کښ

کوزشوم چمن ته د لښتی غارے ته لاړمه
څاڅکی له د جوندم کته کوږ چله سینډونو کښ

حُسن باغ کښ او خندل دهر سوال ئے جواب وۍ
ژوند شولکه ناوے دامید په سرو کلونو کښ

هغه سړے غټے چه قسمت کښ ئے سپر دل نه وۍ
غټ شوے د بادلاهے خوږ شوے په بادونو کښ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر ذرې چغه کړه چه ژوند د رونا ډیوه نه ده
نه د غم قصه بنادی داور په زنځیر ونه کښی
حسن د کښ حسن چې هم خدای او هم جانان دے
د فانی مکان کښی بل مثال د لامکان دے
یو د کلاب غنچ کښی چه بنکاره کوم جوابونه دی
نشته یو هم نشته د منطق په کتابونو کښی
مینه چه تالاشی یو امید شی یو ارمان شی تول
حسن په خلاشی تور و لړ و د غمونو کښی
ژوند او درد او غم همه کړی شی د زنځیر د نور
مرګ او قسمت روب شی په د ریاب د خمارونو کښی
وخت بابا د تال دے، بے پایانه سمنده نه دے
تال ساز ژوند و ن دے، چه کډیږی په سر و نو کښی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیمیاګر

راته ښکاری جوړ یې ناست — په آسمان کښ کیمیاګر دے
کله سره زر کاندی خاورے — کله خاورے زر کوی
دیر کلونه ئے راغوندلی کړل — د جانان شونے کړے جوړے
چه د دے کلا بوخاورے — په کوم کل بدر کوی

د تقوی زر شپے کړی جمع
د عشق یو ساعت ترے جوړ کړی
څه به ناز غنی ته خانډی
چه دلبر دلبر کوی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دبودئے تال

داکم جانان له بابئے جور بنکلے تال کښ
رنا بندی کړے څنګه درنګ په جال کښ
داځه له جوړ که چا. دځه تصویر دے دا
خوب دے یو خوب دے دا. که ئے تعبیر دے دا
که دجنت ورچا لمحے له لرے که
که دوصال ارمان دچا د لکیر دے دا
که مخ زما دخوانئے، ارمان او خیال کښ
که امید ونه خاندی، مخ دجمال کښ
بنکلے دهوکه دنظر وه، په آسمان کښ سراب
که دکتاب دجمد ون. دیوه نکین غونډ باب
دریاب درنګ، که ثبوت، چه رب مُبین دِ په خښت
. بشر صحرا کښ روان، یو دنور و نور، دریاب

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

که رنگ د یار ستر کو، دوبے په خیال کښ
که دا جانان مسکے شو، خوب د وصال کښ
چرته نے تلے بلے باغ ته ما بنام کښ
څکی خپلے او بسکے کلاب د غم پیجام کښ
په مراو مراو ستر کو، وائی نصیب ته ولے
ولے کړے خیشت پیدا، ولے تمام کښ
ناوے خزان، خزان، د سپرلی شال کښ
رنگ او رنا بندیوان د وخت په جال کښ
زه یم دیر ستړے بلے دیر د جهانه ستړے
د خوشحالو سکین، او د خفګانه ستړے
دا سے سفر خدایا. نه نے پرا و نه دمه
دا هوش په بیرته واخله یمه د ځ ستړے
بس تش خزان او خزان د ګل په خیال کښ
یو سور عقاب ګیر پروت د غم په جال کښ
دمه یو څاڅکے د رنګ، شومه نه ګل نه تصویر
لمحه خمار ورک شو. نشو د ستر کو اسیر
یو ساز چه دام کښ د سُر د چا رباب او نه نیو
یو خوب چه خوب پاتے شو، څوند اونه که تعبیر

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یولالبندی په سینۍ دکوتی لال کښ
یو بے قراره څاڅکے ، سیند دکمال کښ
ماهم لږ پریږده بودۍ ، دے خپل جهان ته
ستاد رنګونو ، خندا ، رون ، کلستان ته
زه به یو څاڅکے د رنګ ستاد دریابونو کښ شم
اور د آدم به وښیم ، زور د آسمان ته
پټ م کړه ، پټ م کړه ، لږ ، د رنا شال کښ
یوه تمالنۍ راکړه ، د بودۍ تال کښ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساز

زه یومست شان لیونتوب یم — دهوا په اَس سوریږم
که یو رنګ دیار د ستر کو — شل رنګونه شم ګډیږم
دا زه څه له ولے جوړ شوم — خبر نه یم نه پوهیږم
ولے سوز شم، ولے ساز شم — یو آواز یم چه غږیږم
د زړه پټو تارخانونه — یو شغله یم چه کوزیږم
یو سُرور یم چه شر نګیږم — یو خمار یم چه مستیږم
چه په رګ رګ کښ دِ اور شم — یو لمبه یم چه رپیږم
دا زه نور یم چه پرقیږم — که سُرور یم چه سوریږم
حقیقت مِ نشته بادیم — مستول کوم هم مستیږم
په خندا کښ مِ ژړا ده — په خفه ستر کو خندیږم
وایا وایا لیونیه! — ولے ژاړے چه ژړیږم
او چه پرق دا تن ولچوم — ستا په وینه کښ ګډیږم
دا زه تش د خیال دهوکه یم — که یو خیشت یم چه خوریږم
که یو مست د باد نیلے یم — په فکرونو کښ ځغلیږم
که تال او شر نګ نه جوړه — یو دُعا یم چه قبلیږم

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناوی

اُف دنیا کے پلیتے — کندہ دکندو بوتے
تہ یولمبہ نے دَ اور — درکبنس غیرت سوزیزی
سرہ یتوب ، علم ، پسنتہ — دوب او نازک خیالونہ
دڈکے نہ سنہ شوچندہ — حرام حلال مالونہ
بال بیخ او دین او ایمان — پہ مال او سنیار ورکوی
دَ سرہ بدل کبنس واللہ — جانان دِلدار ورکوی
لوړ خاندان سنہ خصلت — دا هیڅ قیمت نہ لری
خیشتہ صورت دَ کلاب — چہ حبیب نے تش کی څہ وی
دلوُر دخوبنے تپوس — وئی دا سپک کار دے
یوسپی نہ نے ناوی ورکی — خوسپے مالدار دے
دمہ غریبہ سپے دہ — چہ پہ سنکارہ چلیزی
دلتہ زرکونہ دے — پہ سرہ دولوکبنس پتے
پہ مزکہ مال او دولت — سنہ پہ عزت ورکیزی
کہ پہ یونوت لاړہ — دمہ دہ دمہ دہ
دزرجریبو خرڅہ — ترے پہ څہ کمہ دہ
دانتہ تیر باسے څوک — پہ دے سرہ بریتوخان ؟

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مالہ دھوکہ راکوے — کہ دھوکہ کئے دخان ؟
مُلا دغت پتکی — او دبرے بیرے
کئ معربے غُتے — دَغور تالوخبرے
خان اوجھان دَپارہ — خہ تماشہ جوړہ کړی
جُمات مُلا سپین بیرے — قصہ دہنہ جوړہ کړی
لکہ غوا خرخہ لیلیٰ — پہ شرنکا شرنک ورکوی
دے دَلہ توب لہ بریتو — دپښتو رنک ورکوی
بیا لاړشی گُټ کښ دکور — نوتونہ اوشماری
کہ زر پردو کښ پټ شی — دَلہ منکاړہ بنکاری
او دکلاب ھسے لور — کہ دَسپی کوږ لہ لاړہ
خیرے دچہ تہ مورشوے — کہ ھغہ خُور لہ لاړہ
اے مصورہ دَخیشت — اے دخوانے اللہ
اورے سلگی دَناوے — پتہ بوستن کښ ژوړا
کہ وی خِنزیر سرہ مال — کل او جانان بہ اخلی
ستا شہیان فقیران — تش بیابان بہ اخلی
دا دلہ کان شو مونږہ — کہ ستا قانون دے دا
دا زہ چہ ویم پښتودہ (۵) — او کہ جنون دے دا

اے مصورہ دَخیشت

اے دخوانے خدایا!

(۵) دیم دایم

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسپتال

ستا دے جهان کښ خدایا!
یو سر د غضب دے خواری

هر یو په زړو دے خښ — د دوی رسول سامری
که وی د چا موتر — د نه لږ لوئے اد نکلے
د هغه پلار نیکه هم — شی ستانه سبه کنډلے
پورته به پوزه کړے دے — د ک د غرور شاخیلے
داغل لومبر به غاپی — زهر ے به ناست د ی غلے

زړونه زور شو جور
شو ستا د ملک بادشا
که ئے وی د غه رفتار
ورانه د والـه (*) دنیا

یا ئے که سمه جوړه — او یا ئے ورانه که
یا د د اخپل عاشقان — ورک د د نیا نه که
د دوی یوه سودا ده — زمونږ ه نور غمونه

(*) والہ : واحله ۔

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوښ د اوښیارو ی مال

د لیونو ـــــ ځلونه

ستا جما تونو کښ ښ د زړو سخی (*) دی ولاړ

په مسجدونو ورته خرص شوی سپی دی ولاړ

ستا په نامه مولا بل ته سجدے کوی

تا ته ئے لاس نیولے بل ته اسرے کوی

ستا عاشقان مولا اور کښ ترلی دی تول

ستا غریبان بادشاه په ژوندون مړی دی تول

دغه دُعا قبوله کړے جانانه که

یا ئے که سمه جوړه اویا ورانه که

(*) سخی : خوسی .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهید دآلتر صاحب

(*) (د مرګ په اوم کال)

دبهرام بابا بچیه ستا په وینه کښ مړتوب وُ
په ځیګر کښ دقام وینه یوسوراو دیولیونتوب و
داچه پ تالوکے که دَپښتون دعزت خوب و
هم بابا وے هم اشنا وے عجیبه دِسړیتوب و
زرځلمی به تړقربان کړے دامست دِ بابا توب و
پاک زړګے دِ دماشوم وتالنه دبتله چلونه
ننګ. پښتو. توره. غیرت وکاکاستا دباغ ګلونه
دَهرچا بد به ښل تا. زړه دریاب دِ دحمت و
په سوراوږکښ به خندل تا. دومره مست دِشجاعت و
بادشاهئ اوملګرے کښ، هغه خوئ هغه خصلت و
تخت غړه تاکښ رانه وست. اوایرے دتهذیب و
زور. زورنه د. اوردے اوردے، سوزهئ زړونه ملګونه
تادازور دخان غلام کړه، پے ګول دِخدمتونه
چه به زه دمخامخ شوم، لیونے اوپریشانه
په خپل خوږ په خپل احساس او په خپل ژوند باندے ستومانه

(*) ډاکټر خانصاحب د باچا خان مشر زوی نوم بی عبدالجبار د (۱۹۰۳-۱۹۶۰ع)

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا شنے ستر کے بہ مسکے شوے وے ولے پہلوانہ
بچے میخ کښ قرار نشتہ، دخپل درد دخپلہ خانہ
دیو اورہ بلتہ دا نکے، سمندر تہ، د طوفانہ
بچے ستا سر کښ جوهر دی، تہ ګیر جوړے دَ ځانہ
کہ هزار بہ دِ ژړل زړہ، پتوہ بہ دِ زمانہ
ماتہ تل مسکے کا کاوے، مینہ ناک او مهربانہ
نشتہ نہ بہ راپیدا شی، پښتنو کښ دا سے ترونہ
کاش چہ تہ دلتہ کښ ناست وے ما بنکولول دِ قدمونہ
خو تالوئے د ربارلہ یوړل دخپل سوی زړہ غمونہ
دَ دلمن دننګ جنګونہ، د پښتون د شان خوبونہ
او چہ کلہ راپہ یاد شے، ستر کے ناوینہ م ژاړی
خوبنډ زوے د ارمان دے، تل ړک شوے جانان غواړی
کہ زہ ژاړم ستا بچے یم، تول خواران د پسے ژاړی
ستا انصاف اونګ بہ ستائی، پښتون چرتہ چہ ولاړی
کا کا زہ بہ دِ څہ وایم، د اخووئی بہ تاریخونہ
تا پخپلہ وینہ ډک کړل، د پښتون ننګ تہ جامونہ
ستا دَ پاکے وینے څاڅکی، سرہ کاونہ، سرہ اوړونہ
دَ هر نر پښتون پہ زړہ کښ دے یو اور دهی تو پونہ
ما راوړی تالہ نہ دی د را مبیلو امیلونہ
د جنت بلبلان څہ کئ د دُنیا دَ باغ ګلونہ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پروت یمه یوازے

پروت یمه یوازے، تورغمونه رانه تاو دی
هسے خو ظاهره، سره کلونه رانه تاو دی
کورنه دے جنت دے پکښ زر قسمه کلونه
هر خوانه چه کورے په رنګونو کښ رنګونه دی
هر رو کی قالین کښ دایران د تلی شان قصه
هغه شان تازه داد دارا د باغ کلونه
زه په دے کښ ژاړم، آزارونه رانه تاؤ دی
پروت یمه یوازے، تورغمونه رانه تاؤ دی
لورم خاندان، د محمد نوجدی خانان
پلار م شین زمکے، د پښتنو یادپه جهان
پاک بنګلے اولاد لکه کلونه د ایران
مورئے داسے نره، پښتانه ورته حیران
زه په دے کښ سوزمه، اورونه رانه تاؤ دی
پروت یمه یوانے، تورغمونه رانه تاؤ دی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاکه لویه خدایا ، دا احسان دے که سزا ده
ژا ړمه ګلونو کښ داخه برخه زما ده
عیش دِ راله زهر که آرام راله بلا ده
رُوَدَ تیښتے نشته ، تیښته لا تورې بلا ده
داسے دقسمت سره زغُیرونه رانه تاوُدی
پروت یمه یوا زے ، تور غمونه رانه تاوُدی
ولے دِ زه جور لکه مثال کړم ، ولے ولے
هله شی رنا چه م پر سر لمبے وی بلے
وژنم که دا اور ، ګلزار او حسن شی خزلے
اور کښ کَډ یدل دی ، خدائیکو ستا دَکور مزلے
چار چاپیره تور دَتیرو غرونه رانه تاوُدی
داسے په سنګاره خو سره ګلونه رانه تاوُدی
زه دَخپل زړه خان آدم یم خُکه دِ پیلګړمه
زه که سل ګیلے کوم که سل خُله زړا کړمه
یو څا خکی دحُسن له به تول ژوند و تالا کړمه
هره ساه که اور کړے زه به لا دیره رنا کړمه
یا به یولیدلے خوب دِهوش کښ را رشتیا کړمه
یا به ستا په در ، داوریت اِحساس تالا ژوند کیږمه
بل څوک پے ستی کړه ، زه ایره شوم نه بلیږمه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دانډت

چې نه خوند لری نه جوش ، نه سرور او نه خمار
تش خمونه اغشتل وی ، د جنون او د دلدار
تش بے خونه ګډوبے دے ، د پیرانونه د تنظیم
که هر جام کښ دغه شے وی خم کړم ځان له افیم
چې هر تکے نے شمکور وی څئ ګډے کړے هر تال
هر یو خیال وئی تیند کونه ، نه ډلکی نه تکه چال
څه ضرور وو کجے خردے ، د عربو په سیال پریښود
د شاعر د خیال لیلیٰ له ، د په ستوګه کښ خال کیښود
دے وینانه خو چې منه وے ، منکار ید لے منه او منیا
ولے پوئے د ګه جهان چې ، ستا خمار وو ګه کاڼی خمار
منه تکړه شه غږ وه نے ، تاته منکاری چې شر نکار
خو کاسے نے کښه ماته ، او بے سره دے دهر تار

او والله که زه پے پوئے شوم
چې دانډت دے که ستار

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

حُسین

دا قیامت دے که معراج دے اوکه ویجُ دکربلا؛
دی داشکو کښ سرے وینے که کلونه د لاله؛
سو بخمار نه هر وکښ کد دے تږنه وکه ده پیالا (*)
څه په جوش وهنه روان دے د مُینو سربالا
ولے خپل عاشق نه اچے دسکر وتوکر مالا
چاته وئے کلاب بچے دِ دهنه غوارم حلاله
چاته اور صلیب اودار کښے هم خلد شے هم وصال
چانه سه چانه کلونه، ژوند حسن اوکمال
من بادشاه د عاشقانو، در روان دے اے جانانه
شان دمینے در نه بنائی، توان دے دخاوند بے توانه
تول جهان تیاره کښ رپی، یو څرخی روښانه
کوره ستر کے نے حُلیږی، په څه نوی نوی مستانه
ستا منصور ودنه پسخیږی، ستا عیسیٰ وتنه حیرانه
دا د ده د درد لمبے دی، که دنور ستوری روښانه

(*) پیالا: پیاله۔

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو کلاب خان له روان دے تک تور سوی بیابانکښ

یوه سپینه شمع خاندی، دیو قهر په طوفان کښ

ولے کم خواته روان یے؟ اے حسینه ولے

کربلا نه ده بلا ده، په دے شکوکښ څه کورے

ولے غم دِ لاخیشته کړے، پستے ښکاره ستر کے توهے

زور او زر، اقبال او بخت دے هم هماره هم سورے

یزید خان دِ دَ جهان نن، انسان وے او کمزورے

دَ انسان دشمن مثال ښئ دے خرڅ شوے ک غلام ته؟

دَ سبا دستوری تور ښئ دِ دژمی تور ما بنام ته؟

بره مه گوره حسینه، نن ستا خدائے ستا جانان

نه ما دکئ نه پره کئ ستا دے وخت دَ امتحان

ستا اختیار او تقدیر یو شو په دِ وخ په دے مکان

ستا دَ مینے مستی گوری، زور دِ گوری دَ ایمان

آے دسره کلا بوخانگے، نن ما بنام دے دَ خزان

دا کافر شکے نه ښے، ستا دَ وینو په ارمان

څه ورځه زما جانانه، ساقی لرے میخانه کړه

دَ سور او ر او سور خمار نه، تالئے دکه پیمانه کړه

آے زما غمگینه یاره، غم دمینے دے حصه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سورد سازخیژست اوخمارے، دیقین مورتلوسه
چاچه موننتے دِجانان خپل په آرام په دلاسه
نوم نشان ئے مکی روک کړل. وخت ئے روکه کړه قصه
چه دسرسره پئے داؤ کړی مستی حُسن ارمانونه
سُرور زر قسمه مستی شی، خمار زر رنګه نشه
کوړه کوړه اے حُسینه، کوړه دغه دے عیسیٰ
دغه مست ملنګ منصور، او ابراهیم درب اشنا
یو په دار، یو داور مینځ کښ حُسن ولید دِلبر
بے ګناه یو په صلیب شو، دا زغو تاج ئے په سر
ستاد پاره اے حُسینه، دغه سپین تیغ دشمر
هم ایمان دے هم نرتوب دے، هم قسمت دے هم باور
آدمینے بل مثاله، رنا راغله دَ سحر
داد قهر طوفان راغے، که یزید سره لښکر
کوړه کوړه پاکه ډبه، عجیبه میدان دجنګ دے
یو خواه زور تورے صفونه، بل خواه تش حسین ننګ دے
یو خواه زور، غرور او حرص، قت په قت اوښکه پُرنګ دے
بل خوا یو مئین ایمان دے، مستانه او په غوږ ښنګ دے
ډبه او کوړه فرعون نن بیا موسیٰ سره په جنګ دے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

عجیبه شین زمری دے . هم بادشاه دے هم ملنګ دے
یوخواه ستر کے دی دکانو ، هر ضمیر خوړے زنګ دے
بل خواه وړو کے خوارتوب دے ، مړی دتندے پسا ښنګ دے
دهر یو نظر کښ کورم ، نړتوب څه چه لیونتوب دے
د آدم دشان قیصره ، کلک یقین د سړتوب دے
تول جهان توره تیاره ده . دوئی دنور لیدلے خوب دے
جنګ په تاج کی نه په تخت ، جنګ په حق د سړتوب دے
دلمغزه فرعون ناست دے ، که یو مست ببر حیوان
یخ بے رحمه چمچمار ، چه جبه شوے ویران
مړی دتندے وهی لتے . وړو کی وړو کی ماشومان
چار چاپیره تے ولاړ دی قطار و نه لښکریان
یو یو کل دتندے ړړی ، د د سول د ګلستان
او یزید ولاړ دے اودی ، د اسلګی او هاسوان
دابلا دکربلا و نیم لیوه او نیم شیطان
په دنیا کښ دی تیر شوی ، دیر بے رحمه بلا کان
داسی ظلم نه دے شوے ، نه به اوشی په جهان
د چینے په غاړه مړه شو ، تول د تندے ماشومان

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

آخر چغه کړه حسینؑ، نر بچے زه د حیدر یم
څه که نن یم اوږے تږے، زه په اصل شیر ببر یم
راشه اوکوره فرعونه د حیدرؑ دوینے اوږه
لږه راؤ دانکه میدان ته، چه بنکاره کړو سړے زوره
خو یزید تے مشاته پټ شو، چار چاپیره جنګ شروع شو
کربلا په وینو رنګ شوه، بیابان ډک د ناروشو
دا د لسو او د زرو، جنګ خونه وی قتل عام وی
په لکها په زرو خرڅ، د خپل حرص هر یو غلام وی
د حسینؑ ملګری وارِه، په نر توب کښ حیدری وو
خو سیلاب د تورو ډوب کړه کهسل ځله زمری وو
سړے تږے خو یو اځے حسینؑ او کتل آسمان ته
وو علیؑ مسکے ولاړ، نے کتل بنکته میدان ته
وے اے حسینه زمونږ وینه تل د خدائے لاله بهیدلے
ستانیکه اوبا دوارو خو خو ځله بیولے
اوربل اورد کے بچیه، چه پاکیزی په فولاد
د شهید وینه مستیږی، تل په تورو د جلاد
تول جهان تیر وکښ کیږو، خپل غیرت ایمان تے
چه بنده دبل بندشی، دیر نسلونه کړی برباد

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زوړم زهرم شراب دی ، دسړی نه خان خطا کړی
دغرور مانئ وی دنګه ، خوکچه ئے وی بنیاد
د آدم نوسانو سوکښ نه بادشاه شته نه غلام
خپله خپته سړے پسے کړی ، سړ هیوب ئے شی برباد
بل په مکر په فریب ، په دهوکه په چل ولونو
نیم لومبړ نیم زمرے وی ، په چل علم کښ اُستاد
رحم روک شی ، ظلم پیرشی ، سړ هیوب د سړ هیر شی
یوسور اور ترِ نه چا پیرشی ، هر څوک چل عذاب کښ کیر شی
قانون مړ شی ، زور ناد شی ، نړ تالا ، کیدړ دلیر شی
بے غیرته غیرتمن شی ، پسے غړ هیر ی ببر شیر شی
زړشی زور د هر چا خان شی ، خوار غریب پرژوند ستومان شی
بد خنزیر د هر چا پلار شی ، که خنزیر سړ مال پیر شی
وزیر غل ، امیر د اکوشی ، ایماندار په سینه لاهوشی
روغ به مړی یا به غل کیږی ، چه تول غله ترِ نه چا پیر شی
تول وطن یو تور ځنګل شی ، یو د بل په غوښه پاتے
څناور ترِ امان غواړی ، چه انسان په کمه تیر شی
علم چل شی ، مذهب دام شی ، رنګ حلا لوکښ حرام شی
هر سبا لکه ما نبام شی ، ژوند په تور آفت کښ کیر شی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه وخت کښ دخدائے رحم، او رحمت په جوش کښ راشی
چرته غلے دچا کور کښ، یو حسینؑ پکښ پیدا شی
چې دے منه کلک پهلوان شی، ورته جوړه کربلا شی
مرګ له نوی معنیٰ ورکړی، ژوند کښ نوی رنا راشی
آخر چرته په سپرلی کښ، پے باران او برګ او راشی
ناګهانه وچ صحرا تول، سره کلونه دلاله شی
څه ورځه ورځه حسینه، په خپل بخت شکر ګذار شه
ستا شمر سره نیته ده، سپیلنے دَ مخ دَ یار شه
که ربنتیا پے ته مین ئے، په خندا ورته تیار شه
اے په غم سوی کلابه، ورشه څمله په قرار شه
حسینؑ اووے مرحبا، دا ارزانه ده سودا
کاش چې وے مِ په تنا، قط سرونه په زرها
او یو یو ورکولے ما، په زر قسمه کربلا
دادے دغلام بابا، لآ اِلٰهَ اِلّا اللّٰه :
اے بادشاه دیزید انو، آے مالکه دَجهان
ستا تقدیر هسے یو اوږدے، څې په مخه دے روان
کله وسیزی بے وجے، سپین کلونه ماشومان
کله تاج دسر وپه سرکړی، کیدے ستر کی شرمنبان

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَیزید په لوئے محل کښ ، د شرابو رود روان
د رسولؐ بچی دِ مړه کړه ، اوچے شوندے په میدان
دَیزید په سور پالنګ کښ ، په ژوندن حورے غلمان
د حُسینؑ جانان مړ کړے ، او پالنګ ئے ریګستان
ظُلم ظلم دومره ظالم ، وران دِ نه کړو بے جهان
د حسینؑ په زنګدان کښ ، دیو کوټ او بوارمان
امتحان دِ کو دَ مینے ، د حُسینؑ څه امتحان
ولے زوے دَ حیدرؑ نه و ، شیر ببر مرد میدان
مکوه مکوه اے اجله داسرنه دَ دَ وژلو
د آدم شان او سینګار دے . تاپے اور اولګولو
مُتے خاورے ، دا سے مسته د زهرئ په شان حلیبی
سترګے ئے دا سے اورګئ لښکر و نه تے تښتیبی
یو مثال د حریت دے ، د خپل زړه په زور بلیبی
پت د زړه په تار خانو کښ یو سرور دے چه غږیبی
حُسین او کتل چا پیړه ، اور شو ژوندۍ اور شو اور
دے بے حسه تور ملعون کښ هر ساه شرم پیغور
په دے ظلم په دِ اور کښ یو ساعت ژوندون حرام دے
داد د علم مرکیه ، زور او صبرِ تمام دے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کربلا ذره ذره ستا، وئی به چغې تر قیامته
چه انسان به زور آور ته په هیڅ شان سر نه کړی ښکته
غلامئ نه هر څه منه دی، دا چه تیر شو او تیریږی
ژبه دا سې زمانه ده ژوند د مرګ په بیعه کیږی
په خپل ژوند کښ په هر چا به کربلا یوه جوړیږی
چه څوک ځئ د جانان کورته په دې لاره به تیریږی
دا یو ستر غمکین سړی، لوکے کومه نۍ له تا نه
دا روستے مراوے سو رکل د حیدر د کلستانه

*

سر دې وکړه لکه نر، شیر بچے د شیر ببر
نه دخیشت د څوک ثانی شته نه د دور تے برابر
اے بادشاد شهیدانو. نڑ خانه د نړانو
ستا مرګ هغه یاد تازه که چه هیر کړے هر انسانو
ستا د ژوند او د مرګ تول، ماته او ښو کربلا کښ
څه د نکښین سرور دې وا چوآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه کښ
څکه کله کله زه اوس هم د شپے ژاړمه
ستا د خیشت او نور کمال بیا په دنیا غواړمه
کوم د ژبه منت دُعا. اے حُسینؑ راشه
هر قدم شو کربلا، اے حُسینؑ راشه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولار ؤمه په اورکښ ماوے اور زما قسمت

لمبے دَقسمت نه وے ، ولے لمبے زمادَ نیّت

نه ګل نه دُلبر یا منم ، نه حُسن نه بهار

یوستادَ ستر ګو خیال منم لوستادَ شوندو وست

نه بخت او نه کمال منم ، نه تور ه نه جلال

یوستادَ خندا راج منم ، بے تاج بے سلطنت

نه چل او نه تدبیر منم ، نه عقل نه تقدیر

یوزیرد َ سپرلی کل منم ، ضامن دَیار دَ پت

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپون مۍ

اے لیونیه ساقی — دلیونو د شراب
ستا جادوګره رنا — د خمارونو دریاب
نن مې په ستر کوکښ ستا — سورے د غم ولیدۀ
د ارمانونو لړے — خاموش ماتم ولیدۀ
یاده که هیره دِ ده — خما خوانی لیونے
چه تا به سړے لمبه کړه — نو مانشه د خوانے
ستا پلوشو به رانه — آرام او خوب پټ کړه
یوبے قراره ارمان — کښې به مې هوش وړکړه
چه را بنکاره به شے ته — لکه مسکۍ محبوبه
خما هر رګ به دِ که — یو د جنون لمبه
بس یو آرمان یو درد — سوز او خمار به شومه
هر سُر کښې اور او ژړا — د اسے ستار به شومه
یا به دِ د اسے مست کړم — یو سور انګا به شومه
یا به دِ د اور و اُمید — یو سپین ګلزار به شومه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خونن خفه غونګے ئے — زیړه حیرانه شانے
ستړکے دِمړاوے مړاوے — اوپریشانه شانے
پټول جهان دِ که خور — مړاوے غمګین ارمان
لکه بے وسه مالیار — په تور ماښام دخزان
ښن دِ رنا کښ هغه — رنګ اوسرور نشته
هغه مستی دخوانئے — دخیشت غرور نشته
ستړکے دِمړاوے مړاوے — خفه روانه وے
لکه زما ډ زړه — ستړے ستومانه وے
هغه جادو د څه شو — هغه شراب څه شو
هغه د اور لمبے — او سړه کلاب څه شو
زمارنګینه خوانی — خوو خت په غلا یوړه
خمار خوانے سړلار — مستی سودا یوړه
ما ځان باچا کښلو — ډبل غلام اوختم
مایو دریاب کنه ځان — ډخاوروجام اوختم
خوستا جادوکړه رنا — دخمارونو دریاب
څه شوستا دِک خمونه — دلیونتوب دَشراب
بس هیڅ جواب نه کے — کم خواه ته ځے زمانه
ستړکے مسکے مسکے — مړاوے خفه حیرانه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوے بلا

کله کله را پیدا شی یو دار نکے بلا
څه به ښکلے اوپسته سړے دک دی د ډنها
هر یو سوال کښ ئے معنی هر جواب ئے فلسفه
هر دلیل ئے ښه پوړ پوئے په هره مسئله
فکر تیز او ښه روښان علم خور لکه آسمان
د رونړ په عقل هر بیان د منطق په تول پوره
دا په شکل فرشته ده بلا توره بلا
زړه کښ قهر او تیاره باهر[1] سپینه تجلے
د ده هر خیشت او ښیښت یا ورانے کئ یا علت
دا سکرو[2] ټکه د نفرت سوز ولو له پیدا
د ده هر زور د کمال هر لطیف او مهین خیال
بس یو جال او یو جنجال ستا د خود اوهوش پرکه
د ده دا ښکلے گفتار دے یو دام د ښکلی تار
دلو مبر هسے مګا راګیرئ دِ په رضا

(۱) باهر: بهر۔ (۲) سکرو ټکه: سکرونه۔

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لونے غازی مست پہ اسلام — لیونے پہ ننگ دَ قام
تاجوړې دخان غلام — یا پہ زور یا پہ دھوکہ
پہ هر چل پہ هره لار — دکښکاری اوته ښکارے
دغه ستر کے دښلمار — ستا دړه دپکښ اسره
سپین کمبت کښ دَ جمات — دی پراته لا اومنات
دا پہ شکل آدم ذات — پہ هاړو ښه اژدها
دده دا شیرین گفتار — کفر کفر او انکار
پروت ئے زړه ته دے زنار — دده هوش توړ لمبه
دغه علم دَ جهان — ورته ښودے شیطان
دَ دده دا رنگین بیان — او وے بسم الله
دغه ښکلے سپین صورت — مقبره ده دَ نفرت
دغه پند او نصیحت — دی د زهر و پتاسه
دا دلال دے دتیارو — دسکرو تکو دسکارو
دغه سپینو مناروکښ — او رونه دی زړها
دا پہ شکل فرشته — ده بلا توړ بلا

هم آفت دے هم وبا
غنی خدائے دے ساته

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غټئ تپوس

غوښتئ ماشومه کوکئ — دکه دخیشت سینکاره
الله ته پورته کړله — خفه او بې قراره
وے اے دکلونوخدایه — اورے که نا اوربے
وے کړے ماکلاب — او کلاب خاورے
مابنام د باغ مالکه — لیلئ په سیل راغله
وے واه دازیره غوښتئ — پریکه ویښتوله زما
مابنام وُ ساز اومحفل — ټول دخوانئ غوبل
یوازے ناست وُ غنی — غمګین غمګین ئے کتل
لیلئ ئے خواه له لاړه — وے ستر کے دِ څه کوړی
وازے دی ماته اشنا — بل خواه ، بل څه کوړی
غنی دغمه دِ کے — ستر کے ور وارولے
هم هغه سوال ئے اوکه — چه (+) سار غوښتئ وکړے
ستر کے روښانه لیلئ — غلے مسکئ غوندے شوه
وے ددے سوالونوجواب — چې رته مُنتلے (*) دے چا

(+) سار : سحر ، سهار . (*) مُنتلے : موټلی .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

جانانه بس دے دا چه شته دکیشت په دنیا

دعقل تور خنکل کښ نه شته کلاب نه رنا

ستاد زرها سوالونو رنګین جواب زه یم

چه به تا مستے جوړکه هغه کلاب زه یم

دوے وے جهان والا جواب سوالونه

بس درتب شکر کوه اوښکلوه کلونه

شکر اوباسه چه چا خیشت اوخوانی کړه جوړه

زرها شکرونه په دے چه ئے فانی کړه جوړه

دزرو کالو لیلیٰ اوسل کلیز جانان

دخوانئے خیشت دے دغه چه ئے خلاصیږی شان

چه مستی خیشت شی خلاص شکر چه شته مرګونه

شکر چه خادر دے خوانی تو کوی زیر کلونه

دوے وے تپوس ئے دمالیاره اوکه

زه دیوسات سیلانئے پوتے مسکے شه یاره

جانانه کئ(۵) خوانے کښ خوندد مستے اورونه

دے فلسفوله دِ شته داپاتے تول عمرونه

راشه دِ سره شوند وکښ سوز اوسازونه دی

عجب رنګین خماری دجوند(۶) رازونه دی

(۵) کئ = کوی. (۶) جوند = ژوند.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

حساب کتاب

په ژړا ژړا م عمر په سجدو مونځونو تیر کړ
نتیجه ئے بس مرګی یو ، تور لحد را نه چا پیر کړ

د قسمت او د تقدیر ډیره قانون لاره کوږه شته ؟
د خوانئے او رتلم ولے ، بیا وے او سوزیدے ولے ؟

لاس او خپے م دی تړلے ، او وے شابه ګډ شکنجه
هر انسان د ډډا تن ته ، ز نخیرونو کښ بللے

د مسکو ستر ګو جانانه لرد خپو م کړ دا پرے
بیا مستی د خاورے ګورہ ، او تو پو نه د آدم

کله شرنګ د خواخوا کښ ، کله زیرو او کله بم
د تقدیر کړئ که سسته ، بیا زما ګډا ته ګورہ

ستاد عرش په منارو کښ ، لیونئے خندا ته ګورہ
چه زه مست شم په هوا شم ، او رشم تنده شم ، د نا شم

چه یو ساز مست او سرشار شم ، نور شم پرشم ، په خلا شم
روښان تور د مرګی سورے ، بر ند ستر ګے تکے تورے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یونظر رانه راوایئ . یونظر کښ روک تالاشم

دبنا نور مستی لاهوشی ، مُتے خاورہ دَ صحراشم

اے زما دَ زړہ دنور ، دوینا او دَ خیال ربّہ

دَ خوانئے دسرور نکھونو ، دمستے اوجلال ربّہ

اے چہ زہ جورتش دخاورے بس دخاورے دمہ سیال

ولے تاراکړہ سازونہ ، اوچلونہ ، اوجمال

دانصاف دے مُتے خاورہ ، دخپل تخت پایولہ یوسے

بیلئے درزنمکے لہ راولے ، هرسینکار بنایست تے یوسے

دلیلئ نہ بنایست واخلے خوان بودا کړے بودا خاورے

نور دپیرښہ دِ راروان دی ، دُملاهغہ چہ واورے

مستی خیشت کمال مِ واخلے ، خپل یوتور پښتہ پرے نبدے

زہ دِ لوټ تالاکړم دلتہ ، تہ بہ تلہ کښ دِ څہ بدے

دکلاب پہ شان خوانی دِ ، رالہ خاورے کړہ تباہ کړہ

ترهغے بہ مِ نچورے ، چہ مرګ م واویلا کړہ

دالبرزوند پوتے احساس دوئی مرګی لہ غلے غلے

چہ آخر بہ رانہ جورکړے ، یوتو پکے شان دَ خزلے

حساب ؟ ستا بہ څہ حساب وی ، جناب را وسپړہ روکړدِ

لوټ تالا ، برباد دِ زہ کړم ، خوکمزورے دلہ پرے دے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَزنے خال

په سپینو کوتو ایرے کړے پورتہ
په بنکلو سترګو په کښ تلاش کړے
لالونہ کورے تہ په ډیران کښ
لیلیٰ داتہ ئے دا چې مجنون دے
چہ دے مړ باغ کښ کلونہ کورے
داستا مستی ډ، اوستا جنون دے
زہ ؛ زہ یم خہ، ستا تخیل یم
ستا خوبونہ ، ستا ارمان یم
بے خودی زہ ستا دَهوش یم
ستا چشمے لہ زہ طوفان یم
چہ ستا زړہ مُین په نورشو
زہ شوم شمع زہ مشال شوم
چہ تا ځان سره ورلہ ورکہ
نو زہ ستا دزنے خال شوم

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه ستا خود دَ ساز لیوال شو

زه سرور شوم زه بلال شوم

ته چه طمع دَ سبا شوے

زه سبا شوم زه هلال شوم

ته خفه چه دا یرو شوے

زه یو مست او روک جلال شوم

چه تلخان په عشق کښ ډوب که

زه مستی شوم او وصال شوم

ته چه وبۍ دَ کمال شوے

زه همه کمال کمال شوم

چه تا یرہ (+) دَ تیغ وکړه

زه قلا شوم زه (*) ډهال شوم

چه ته وُبۍ دَ دولت شوے

زه الماس شومه زه لال شوم

چه ته وُبۍ دَ مستئ شوے

زه منصور شوم زه بلال شوم

چه تا نیت دَ کتے وکه

کله دام شوم کا جال شوم

(*) ډهال = ډال. (+) یرہ = ویره

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه تاواغیشتم جانانه
زه بنائست شوم زه کمال شوم
چه تاوُلیدم دلبره
زه هلال شوم زه مثال شوم
چه ستازنه په کم لوړوه
بس زه ستاد زنخال شوم

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تیارو غلام

ولے مالہ دِ نور کہ پہ خواد اُور — د شغلو پہ بستر ولے خوب راځی
ولے مالہ پہ جنگ کښ خوانی مستی — پہ آرام کښ فنا بلہ اتوب راځی
ولے ماتہ دلرو پہ سُوری کښ — د جبدن وتوان اخانشت نمایان شولو
ولے ماتہ ھم کل مستانہ او مست — پہ ما بنام پہ ما بنام د خزان شولو
ولے شور د وجود نہ ما ساز شولو — ولے ما آرمان خپل ایاز شولو
ولے ماتہ د ژوند ھمہ نور او رنگ — یا شکرے یا شاھین یا شھباز شولو
ولے مالہ د ژوند گل سوب۔ ضرور نہ — نہ نیاز شولو نہ انداز شولو
ولے ماتہ خانشت د ھر سُر او تال — د غمونو د درد و نو آواز شولو
ولے مالہ دِ نور کہ پہ خواد اُور — ولے ولے شو سپین ږیرے د تور
ولے ژوند بس پیغام او مطلب دگور — نہ ما سور کاباب شو غلام د اور
ولے مالہ ھمہ خوشحالی د ژوند — یو تک تور بے مطلبہ تصویر شولو
تش پہ خان پہ جھان پسے ژاړہ — نہ ما سازم ھم مرگ ھم ویر شولو
کمزوری د وجود او خیسکر نہ ما — نہ ما خو شو قسمت شو تقدیر شولو
او نہ ما د تیارو تاریکو غلام — نہ ما خان شو امام شو او پیر شولو

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما مینه دعوه د دې غوښتو وه — زما حُسن لیدل د راندو شولو
زما زړه شو غلام د وجود نه ها — نظر و نه بچې د لیدلو شو
تورې لرې ، اولرې اولګې خوب — نه اُمید شولو نه ئې راز شولو
زما ژوند ، یو سلګۍ د شکست شو — چې نه سوز شولو او نه ساز شولو
خپل و بیګانه ژوندون پسې ژاړي — زما ژوند هم مړ کې هم ئې ویر شولو
چې د عقل نظام یو برق وکړ — هغه هم د تیرو یو تصویر شولو
څکه ماله هر تال او سر و ږدې سات — د غمونو د ردونو یو راز شولو
څکه ماله د نور که په خوا د اور — څکه و رځ م د شپې د رُوندو آواز شولو
د ژوند هره شغله ، شوله لمبه د اور — هر اُمید ، ارمان ، یو دهوکه د ځان
زه غلام د تیارې په پنجره کښ پروت — کړیکې وا(*) چې زه نور یم د کل جهان
زه چینې په ډیران کښ غُنځیږمه — د رنګ د ستر کې م رنګ د بهار نه وینې
زما وینه کښ اور د خوا ورد د ډیران — د یار ستر کو کښ مړ ا د خمار نه وینې
زه لوئے شو صحرا او تیاره کښ یم — د غه شکو کښ ستوری هلال کم دے ؟
زه یو تور او او بنیار شان کونکټ یمه — شمع چې تړ ځ ، سپین د مشال کم دے ؟
دا اُمید ، د اخیشت ، یو دهوکه د ځان — ژوند تیاره ده او مړ سمندر ، د تور

زما سر کښ سپوږمۍ او کلونه شته
خو هر رنګ د تور ، لکه کور ، کور

۱۹۶۵ع

(*) وام : وهم .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یورپ

دَمغرب دَسوی زړه نه یوه سوے کوی یکه وځی
جنګ دے دا سے درد و لے اوس هم رپی اوس هم سوی
ماشومان کلونه بنکلی
امیدونه نیاز ولی
دسباخوبونه خاورے
پرونی سازونه غلی
دَیوبم په سُورانګارکښ تول ذره ذره هیره شی
داتورتم چه په چاتیر شی وړته تول جهان تیاره شی
ژوند یوتوقه بے مطلبه
ډک دَ درده دَغضبه
څه ثنا به دَرب واوُرے
په سړو تیلوکښ دَکبه
دارانده په بقوکوری . لمبوسوے ئے نظر دے
دوئی بیاوُته راندهوئی . اوچغرے پیغمبر دے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر ما نبام مغرب راوړے. شپه راځی دَده دکوره
دَمشرق رنګینے خاورے، تانه تل ختلے نهردے
پاڅه پاڅه راپیداکه یا یوبدهه یا مسیحانن
کنی لاره تیارویوړه دا پرنده شله دُنیانن
ورته اووایه چه مرګ بس د ژوندون دلیلُ تول دِ
د ژوند سره کلاب پیچ دی، مرګ که تورِ د اغوښتیدِ
که مرګ نه وے ژوند به نه وُو هر ما شوم په دُ پوهیږی
بند ځکه په وړُج پوه شی، چه ما نبام کښ تیاره کیږی
انسان نه ده تشه خاوره چه پخاوره کښ شی خاورے
ده کښ ساز یو ابدی دے که لږ چپ شوے نه بیے واورے
ده کښ سوز ده کښ مستی دُ، ده کښ مینه او خمارے
دا به کم الحاد کښ بدے نه، ده له کسم قبر تیارے
آے غلامه دِ پنجرے دَ تیاره کښ پرُت خاکه هیر لږ چاپیره خواوکوره
د جانان دخایشت اودِ مینے نور، پدهر خوا بر سیره خواوکوره
هره بانه کښ ژوند لازوال ژوند، هر کلاب کښ دریاب سروے
بدلیدل د ژوند دَ دوام ده لاره، کوره هره غوټی کوه لمورے

۱۹۶۵ع

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اے زما وطنہ

اے زما وطنہ دَ لالونو خزانے زما ستا مرۍ دَ کښ دَ ی دتورې نښانے زما

ستا سر چہ وی تیت نو زہ بہ شان و شوکت څہ کړمہ
تہ چہ خوار و زار ے زہ بہ مال او دولت څہ کړمہ
تہ چہ روان و یجار ے زہ بہ خواب او راحت څہ کړمہ

مستہ بہ دِ خاورہ کړم پہ وینہ مستانے زما اے زما وطنہ دَ لالونو خزانے زما

عقل مِ ایر شہ ستا د پارہ دَ فکرونو نہ
ستر گے مِ قربان شہ ستا د پارہ د سوچ و نونہ
زار شمہ قربان شم ستا د خاورہ دَ کورونو نہ

ستا زرہ کښ پر دی تو پے تلے نہ مانے زما اے زما وطنہ دَ لالونو خزانے زما

یا بہ دِ زہ سیال کړمہ وطنہ دَ جہان
یا بہ ستا پہ خپو کښ تورے خاورے کړم خپل ځان
ځان بہ دَ رے وړے کړم خو تا بہ کړم ودان

نړیمہ پښتون یم تا تہ یا دَ افسانے زما اے زما وطنہ دَ لالونو خزانے زما

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنّت او دُنیا

چه مستی وی او خُوانی وی او جانانّ وی او پک جام
دیر کلونه ، لږ یاران ، او غمکین غوند ما ښام
عشق څه او روی او څه نُور وی زړه لږے لکه تنور وی
په دے ژوند به زه ور زار کړم جنتونه ستا تمام
خو دا کتې په دے وکړے چه هیڅ رنګ له قرار نشته
هر ساعت . هر رنګ د ژوند . ستا د وخت بے کس غلام
او جنت کښ مُلا وائی وخت به وے زما غلام
دے چه روک شی او زه شته شم ، تول به وران م شی تمام
چه زه تول عُمر نه لږے یم . نه لږے توب به یو عذاب شی
څکه اوس را باندے گران دے ، چه ځیشت شی زر تمام
تل سپور زمئ د خوار لسمے ، تل جانان د شپارسمے
تل خُوانی . سینه د شرابو ، دا د وزخ دے که انعام
دے د نیلپسے به ژارم . دا تیاره هلال به غوارم
هره ورځ به یاد ومه . نرے لږه د ما ښام

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنګ دحورو وفادارو . بے وفا جانان به غواړم
ستا آدم په ذات ښکاری دے . د ښکار خوند کوی هر کام
د مستۍ دسیند په غاړه ، ثوابی روژے به نیسم
اسوېلی به کوم یا دوم به د ساقی نیمګړے جام
هر شے چه ابدی شی ، یو آفت شی یو عذاب شی
بس یو تاسره مزه کا دا ازل ، ابد ، دوام
بنډ نوے رنګ محل کښ نوے نوے جانان غواړی
بیابان کښ سره کلونه . تور شپه چراغان غواړی
تل تیاره کښ دے روکیږی . تل رنا کښ هم رندیږی
دے بچے د تغیر دے . یو حالت کښ نه ټینګیږی
که ده ستا جنت له یو ځای . دا فطرت او دا وجود
یو څو ورځو کښ به سوزی ، په سره ستر کو به ړیږی
اے د لوئے فضل مالکه ، ماله دا دنیا جنت کړه
فارمولے دے ده آسانه . د درے توکونه جوړیږی
لکه ویلی م دے سر کښ ، بس جانان خوانی او جام
چه زمالیونے سره پے کله کله مشغولیږی
او هغه بل د مرګه پس م ملا جان پسے خیرات کړه
تش د حورو په خوبونو که د خوار ګذاره کیږی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مالہ دلتہ یوہ راکہ غونڈہ ۔ مستہ تکہ سپینہ
مینہ ناکہ ۔ سپینہ شمع ، چہ لمبے وھی بلیږی
شل رنگونہ نے نظر کښ ، شل مزاج پہ حیرکښ
د سپرلی ھسے خویونہ ، کلہ نمر کلہ وریږی
یو څرمنہ کښ د ننہ ، یو حرم د جینکو دی
کلہ مستہ او سرشارہ ، کلہ غلے شی شرمیږی
او زما دے ستړی زړہ کښ شل رنگونہ اولمبہ کړی
چہ د اور ھسے سوزیږی ، دلبتو ھسے کمیږی
چہ پہ یو بے تاب نظر م دا سے مست دا سے نشہ کړی
میخانے وتہ حیرانے او ساقی وتہ پسغیږی
دھغے زړو بدل کښ مالہ دلتہ یوہ راکہ
د ابد تولہ خوانی م ، د څوکالو (۱) مشغلا کہ
کہ دانہ کئے اے جانانہ ، سرہ بے حوره د سنبال کہ
نہ م ھغلتہ پکار دی ، نہ م دلتہ کښ یادیږی
غټے غټے ، سپینے سپینے ، چہ نہ سوال نہ منت غواړی
ارتے بیرتے ، او بے ستړکے ، پہ بخملو بہ لغړیږی
ربہ ! اے جانانہ ربہ ! دغہ یو سوال خو منظور کہ
کنی لاړ غنی د مرشو ، ور پسے نے جنے (۲) کیږی

(۱) مشغلا ، مشغولا ۔ (۲) جنے : زنی ۔

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینه او حسن

ستوری ته آسمان کښ یوه ورځ ووے ملال
خدائے آدم له مینه ورکړه مونږ له تش جمال
زه به په خندا ورکړم داخپل بنا ئست د کمال
ماله که یو څاڅکے مینه راکړی څوک په سوال
مینه حقیقت حسن سایه د حقیقت ده
حسن له زوال شته مینه نه لری زوال

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ریدی کل

یوه وهٔ یو صحرا کښې په ښکار وتے وو م روان
یو کلاب م ولا رولید، پر قید ه خیشته خندان
زه خفه ئے خوالا لاړم، ماوے، اه: زما په شان
ته هم کل ئے بدنصیبه، روک د زلفو د جانان
نه د چا نیاز بینے کوتے، نوم مخ له به د یو سی
نه به ښکل د کړی سړے شونډے دیا هر ناز ک لبان
هغه غلے شان مسکے شوے وخان مه کوه خفه کان
زه به دا صحرا و ړنکړم، د ایران په کلستان
دلته زه یو اویکتایم، هلته زه زما په شان
چار چاپیره سپیرے خاورے، زه یوازے یم روښان
دلته د تورو دیکستان کښې زه د رنګ او نور لمبه یم
د خانشت چپه نغمه یم، کرشمه د لامکان
ستا په باغ کښې په زرکو نو، دی کلاب زما په شان
یو بے نومه سوره د ریاب کښې یو بے نوم ځاځکے روان
ته د هم په خپل صحرا کښې خفه مه شے زما د ره وره
آخر ابه شی دیدن له د خوک سوے غنی خان

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دُنیا

دا په خپل خودکښ دے دنیا نه کتل
کرانه ده، کرانه، دیره کرانه ده
دلته شل قسمه دهوسان (*) کړۍ
رنګ د شهباز کښ تیوسان کړۍ

کیلدو بویت د ببر شیرو اینبی
غږ مباکوی لکه شیران کړۍ
څوک د غږ بے خوار لکه رنګ کښ
آدم خواره او شر مښان کړۍ

یوغټ پټکے، سپینه هسا پلاس کښ
په اوږه د ډبیره کښ شیطان کړۍ
زړه خوسینه کښ دی پټ پټ پروت دی
نقشے ستر کو کښ رو ښانه ده

دا په خپل خودکښ دے دنیا نه کتل
کرانه ده، کرانه، دیره کرانه ده

(*) دهوسان = دیوسان.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو خواته کند کښ د ملنګ سامری
د فقیرنوم ئے سپک بدنام کړلو
د ملک کښ دا سے وخت تیرشے دے
بادشاه به سوال د خپل غلام کړلو

فقیری میشخ جامه لباس نه لری
بادشاهی تورے اوالماس نه لری
دا خو یونور د زړه په زړه کښ بل وی
د روح مستی وه. نه لباس نه چل وی

دغه بوبل چه جونګ جارشو
شکاری د خورئے تاته دام کړلو
دا چه هوهولګه کیدړ کوی
دا ذکر نه دے تاته څان یاد وی

یزید د ناست په چغو چغو تاته
په کربلا کښ شهید ان یاد وی
که یوګه لس و مابه شنو لے و تول
دغه شمارخو نبه آسانه ده

دا قسمه، قسمه پیژندل منټیان
کړانه ده، کړانه، دیره کړانه ده

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

او کوره دغه دے یوصیب رااغے
بریت ئے جنډ الله قیصر نیولے
سترګے ئې دی د شاهین غوندے
څومره مغرور وے ئے د سر نیولے

د دیر شو زرو په موتر کښ ناست
څومره دولے ئے رائیو رنیولے
سوټ ئے د زرو روپو لاندے نه دے
شمله ئے نیغه ده په سر نیولے

دالنډے سپے دے دکیدر بچے
هر دله توب ته ئے تیت سر نیولے
نه دے په لوړه نه دے په ښکته حیران
لوړے ښکاره ځی منبه ارزانه ده

دا قیصر شکله دلالان پیژندل
کرانه ده. کرانه، دیره کرانه ده
دغه دے یوچه شمله نیغه لری
کړے خبرے په لاسونو کوی

دوه غلچکی ورپسے روستو روان
ښځے خبرے د خونو نوکوی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه معززه اوږد کوټ تک تور
د مولانا تور ره قبا بنکاری
سپین پرتوک تور و بوتانو سره
خیشته سپین ستر د سبا بنکاری

دادِ بنیا[1] اتے[2] او بنکے ده
د پلار نیکه نوم او عزت خرڅوی
تاخرڅئ، ماخرڅئ، آشنا خرڅئ
چه څه تے غواړے په دولت خرڅوی

دغه رون مخ، دغه بت شوے شمله
په تش دوکان کښ شان شوکت خرڅوی
څه چه تے غواړے، نښه داده په ورځه
دده سودا تولـه ارزانه ده

دغه چه سپین لکه کلونه ناست دی
دا د رنا ورځے د اکوان[3] دی تول
ژبے تیزے، چلولی ستر کے
نیم از مری، نیم لو مبران دی تول

څه بنکلے بنکلے مخونه اوښیار
بلد خبرو سپین قارغان دی تول

(۱) بنیا: تیل. مانکه پورکے . (۲) اتے: دوکان. (۳) د اکو: دا ډ مار، دا ډ اجوکے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دونی په خوږه خوږه کښ مارهٔ کوی
دانسبی پاخه بنکاریان دی تول
پښتنے څه دولی قبا پرته ده
مسکولبانو کښ بلا پرته ده

کړخی دنیا کښ په لکهاؤ تکان
هریو دِ خان له یو بنه اوږد داستان
که زه تول عمر کښینم، خلاص به نه کړم
دا تعارف دَدے قلم په بیان

خو په انجیل کښ دی عیسیٰ لیکلی
دے دَ بنده دلیدو یو امکان
ستر کے کړکنے دی، دَ روح رنګ بنائی
ستر کوته ستر کے همیشه بنائی خان

دُعا کوه، وے خدایا لاؤم نه کړی (*)
خور په دنیا دَدهوسے دے طوفان

چه سمه دمه ده نو کرانه ده
او چه آسانه ده نو وِرانه ده

(*) لاؤ: لاهور.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه آدم خاورو کښې کښینې

سر یتوب چه لور اوچت شی لیونتوب شی
چه خودی دخوده وځی نو خمار شی
چه فولاد دوینې مور په مینه مست شی
نو حیران او پریشان تار دستار شی
څه ترے عشق او جانان دواړه وخت فنا کړی
هله پوے سړے په شان دځان او یار شی
چه آدم خاورو کښې کښینی څه زرغون کړی
منجیله چه په دولت شی نو بنا مار شی
ماته حورے غلمان مه څنده وه بس دے
په والله که بے له تامِ په چا کار شی
دا چه نن پکښې زه مست او مغرور کړځم
سبا خدائے خبر د چا به دا کلزار شی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا د مرګه نه یریږم په پښتون یم
خوم تش جسد وں او خوشے مرګ ته قارشی
زړه کښ دوب دَ وسوسو دریاب بهیږی
جوړ به کله دا اُمید رنګین آبشارشی
داخپل زړه ستا بے پروا نظر ته کوړی
کله کله به ژړا خکه شاه تارشی
ساز ژړا ده که مستی ده نه پوهیږم
هر آواز کښ کله سوز کله چغارشی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

قسمت

ملاجان وائی ازل کښے تالیکلے هر یو کار دے
یولہ ستر کو کښے شفق دے بل لہ هسے کلیخار دے
ستا تقدیر هر لمحہ کښ دهر یو وینښته واکدار دے
یولہ کل یولہ دِلدار دے یولہ او ریولہ انکار دے
یو به تول عمر نالان وی، او بے تبے پریشان وی
یو نیاز بین به په بخملو بل به پروت په بیابان وی
یو به تریخ دمسپی غپار کا، بل خورل به لکه مار که
یو به سنگلے سنا پیرے وی، بل به باوُوی تورا بان وی (*)
مُلاجان وائی اے تَبه! دهر خون ته ذمه وار نے
دا تول ظلم تالیکلے، ستا دَ کوتو دا آزار دے
دا بے رحمه آفتونه، دا بے خایه رحمتونه
دحُسینؑ په مرګ تورے، او یزید د ملک سردار دے
ملاجان وائی تا اینبے په آسمان کښ یو کتاب دے
چه هغے کښ تالیکلے هر آدم له هر یو کار دے

(*) ترابان ډیوچه د شهزاده ظلام په فولکلوري قصو کی یاد شوی دی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوچه دا سے انتظام دے اے زما منصفه خدایه
مانه څه له کے تپوس، نه م واک نه م اختیار دے
ماکښ دومره طاقت کم دے چه ستا لیک د ابد وړان کړم
ته د زړو زورو روخان ئے زه بے وسه خوار غلام
که زه خاندم که زه ژاړم، ستا یو تکے نه بدلیږی
دا بتان دی ستا دکوتو، دا کفرونه ستا الهام
دا حساب کتاب به څنګ وی، دا تپوس جواب د څه شی
هر کلاس چه د ما څخه ستا دکوتو وو اکرام
ملا جان وائی ساقی هم د تقدیر دکوتو جوړ دے
ملا جان وائی دا خیشت هم تاجور کړے دے تمام
نوچه زه د ساقی ستر کو ستا د کور ه څان له بوتلم
تا کړه سپینه راوچته په آسمان ماه کلفام
چا زه منکیل کړمه په دام کښ د سرور او د رنا
چا کړه جام کښ رانه کډه په شراب و کښ خندا
او مغه رانه روښانه سپینه شمع بلیدله
زه جلبل لکه پتنګ شوم، د د ے شمع په لمبه
دا به ته په کوم قانون کښ راکوے ماله سزا
تا آسمان کښ بره لیک کړه، او ما اوکړه په دنیا

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه اختیار نه وی جانانه څه ګناه د چا ګناه
رانه ښکاری ملاجان چرته تلے دے خطا
که قانون وی که رواج وی که منطق که فلسفه
دا ګنا خواے تقدیره توله ستا راوخته
که اختیار وی ګنهګاریم، که اختیار نئ ګناه کم دی
داخو لاس دبری کار دے ته په هر څه کښ تکړه
وایا وایا ملاجانه که اختیار راځی قسمت ځی
د قسمت سره دِ وارِه آرامونه او راحت ځی
د تندی لیکلے روک شی، بس سړے دځان مالک شی
که په باغ کښ دِ آرام ځی، که په لار د مصیبت ځی
بیا کیدے شی حسابونه د جزا د ثوابونو
چه سړے په ښه په بده په خپل وس په طبیعت ځی
خو قصه چه د قسمت شی، ملاجانه زه بری شوم
تل به ځم په هغه لاره چه په کمه م قسمت ځی
زه موټر، هغه د رائیور دے ځم په کمه چه م بیائی
که جات که میخانه وی که په سمه په صحرائی
که موټر کنده کښ پریوزی، نو ګناه د موټر نه ده
داچه هر قسمه سزائی د رائیور سره ښه ښائی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کہ گناہ دہ کہ ثواب دے ، زہ پہ دوارو کښ بے وسہ
مُلا جانہ دا کتاب دِ خوخہ برغے ژبے وائی
زہ بے وسہ گناہ او کرم ، بل بے وسہ ثواب او کړی
پہ دِ دوارو کښ بہ کم یو قسمت سور دوزخ لہ بیائی
زما بوتلہ خوسرو پ جفادہ دغہ بل کښ لا ځای شتہ دِ
دے جہان کښ خو بہ ئے عمر سنبہ تیر کړے پہ خندا ئی
مادیوبے واکہ او رہ بیائے بل بے واکہ او رتہ
بیادا سا خو یو غضب دے ، کہ دا بیعہ ددے سائی
ستا کتاب پہ دے کښ څہ وی لږ م پوئے کہ ملا جانہ
یا خو راشہ گورہ شروع کہ قلار کښ سینہ د آسمانہ
یا خو تلہ ملہ نہ دہ ، دَ جمات کړہ د ینگړے دہ
یا خو تاخہ اکو بکو ایجاد کړی دی دَ ځلنہ
وران او سم د بل دَ لاس دی کہ دہ وران کہ ودانہ
او ر او ددد او مبنا ماران بہ چا پیرہ وی زمانہ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرګ

ماتم وُ د خانانو د میاګانو وِک کمونه
پخې پخې خبرې وے او کلک ئے دَلیلونه
دتولو په نظر کښې یوه لړه یوارمان وُو
روک شوے ترے منطق کښې وُ د حسن امیدونه
دَمرګه یریدل دا سے چه ژوند وُ ورته اُور
غمرے دُپلاوونو بنکارید ے ورته قبرونه

دَتولو ستر کے وازے، لکه اسپے تریدلے
نغه خفه خبرے اوپاسته ئے آوازونه
چه زه شوم وربنکاره یو یارم بل یا ته لګیا وُ
لالهٔ دیرے مرشم چه دَمرګ مخ را بنکاره شی
چه فکر ې وُ د سا نه شی زړه م ولوېږی خوږیږی
د ژوند هر یو امید م دهیرو ذره ذره شی
یو تور غوندِ بنا مار وازه خُله ناخُرګی عَلمونه
هر چا ته چه شوے په هر چا دده حمله شی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه خوان کودی نه زور د قصر اودِ هڅه سیزی
که فکر ورته وکړے څوند یو توقه مسخره شی
او توقه هم بے رحمه، توقه نه ده سړے لمبه ډ
داڅه مطلب د څوند شوچه نے خاورے خاتمه شی

وے وایه لالہ وایه څه په پته خوم پوے که
په کم هنر به جوړه د څوند وړانه ماشومه شی
که تا پکښ څه خوند مطلب لیدلے وی نو وایه
زمونږ په خیال خوړ وند یو ډډ وړ کاروان
کوتم بو دا ربښتیا وے" چه پیدا سو نو تباشو"
داداسے جواړی ده. هر یو داو ده تاوان
یا لس کاله یا شل سړے په اوړانت کښ تیر کړی
آخر نے چرته تور و تار خانونه کړی روان
دهغه خاخبرے قیاسونه دی دعوے دی
په عقل چه نے کورے خرافات هر یو بیان
لږ عیش، لږ خوانی، مال محبوبه، بس دغه وایه
بس یو خیام خبرو نور راندے دی شاعران
زما په خوا کښ ناست یو لیونے و په خندا شو
وے واوره دا خبرے د باچا د دسترخان

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

وے دا ژبه دپیریانو. دَ دَ خاے دَ بیابان
دانشته په کتاب کښ دَ منطق اودَ امکان
نوټول ترینه راتاوشو نه خیشته اوښیار مخونه
په ستر گو کښ تیرے وے خوتندی وُو روښانه.

وے کوایه لیونیه خلق وئی ته مرګ ته خاندے
داد گکښ دَ خندلو څه خبره ده آشنا
لږ مونږه هم خبر کړه کنه. یار چه په آرام شو
که تاچرته کښ پته وی مونتلے ماملہ

هغه پاڅید په سپین دیوال ئے سپینه کړښه را ښکه
وے خان دغه جواب دِ در ـشته دَ مرګ اوسا
هغوی چشمے کړے پاوے "والله که مونږ څه وینو
په سپین دیوال سپین خط چرته لیدلے شی بابا

هغه وګه مرګ نوژوند به هم دغسے روک وُو
چه عقل دانسان کئ بس دَ فرق اندازه
چه سورے اوتیاره نه وی دنا نشی لید لے
درونده نظر کښ تل وی یا تیاره اویا رنا

چه دواړه یکښ راشی رنګ خانشت حُسن ترجوړشی
که مرګ نه وُ. دُنیا کښ څوک به څه پوهیده په سا؟

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تول حُسن دجمدن دمرګ دتورو ستړګو نوره دے
د دې په تورو جهان کښې تول رنګونه د دنیا
که مرګ نه وُ، ژوند به نه وُ، که ښادۍ وُ نه به څه وُ
که تورې بلا شپې نه وے چا څه کاوُ سبا
راځه زما ګلابه، ژوند او مرګ دواړو ته خاندې
په دواړو کښې یو هم نه دے لایق ستا د ژړا
که خواه مخواه ژړا دې نه وي انسان ته، خان ته ژاړه
چې دغه په رښتیا، او که ګُډا ګے دے د ژړا
یو حُسن رب ورکړے دے چې ژوند له معنی ورکړی
او دے غریب تے خان ته جوړه کړے ده بلا
خزان که نه وُ، نو یو ګلاب، یو ه میوه نه وه
که مرګ نه وُ، جمدن به یو رنګ خوب وُ په دُنیا
که نه وے سمندر نه به جهاز نه به بیړۍ وه
که نه وے بلا توب خوانی به څه کوله چا
یو زهر دی خوانۍ له او مستۍ له اور نا له
د ژوند چینه د خضر چې یادیږی په دنیا
انسان د ریدی کل دے، د ده کور د بیابان
بهار د ده خوانی ده، خو جمدن دے خزان

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

که یو منے خطا شو ، شی به روک مرګ کلستان
او وګ شی هغه سات ډډه ډهوډه احساسه
کم شے چه ورته شی قایم ، دائم ، اوجاویدان
داژوند کښ چه څه خوند د مرګ جوړ کړے په خان
که مرګ نه وجدون به وُ ، د روکو روک جهان

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو آن

قسمته کښینه په آرام کښینه سباله ولیکه چه څه د خوښ وی
د سپین سبا په مخ خالونه کیږی چرته اوچرته تور لالونه کیږی
تر اخره برخورمه که تر اخره د خوښ وی

خواوس م یار لږ مسکے شویدے قسمته چپ شه ژوند شه په قرار
وخته د خدائے د پاره سا واخله دغه لمحه م که د کال مقدار
سباشو ستا خو نن که یار واګدار

متول ژوند د ستا دا یو بخت زمونږ متول ژوند م واخله خو دا ساپیږی
نن د دفتر که بند او ستر کے پټے قلم د مات که دا سے مات پریږی
واوره ، اوه ، واوره ، دوه خبرے زمونږ

په توره شپه کښ د غم څانګی درنګ پریږی چه رنګ پرے متول جهان کړه زړه
د خزان ستر کو کښ تصویر د کلاب د مقبرے په منځ کښ شرنګ د رباب
جدن د خوانی قسمت م ستا دی واخله
قسمته ماته دا یو آن پریږی

سباله تور که متول جهان په تیرو خو دا لمحه ما او جانان پریږی
بس چه زړه ولیکم د زړه په کتاب د خزان ستر کو کښ تصویر د کلاب

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

رنګ

سنبه دے په رنګونو کښ زرکیه دځوانے رنګ
مرګ او غم له ورکی دَجمدن وجاودانے رنګ
هن هن په ممبر او محراب کښ تقبور کوی
یادشو ملاجان ته دَګوګے جمدانے رنګ
زیره شوه دَ شرمه دَ یبرس مسته بیبانه
وے لید چه دستر ګو دخرے پاکستانے رنګ
سُرلنډے تے جورکړی چنچرک او قولنګی تے کم
توپ چه کله وُوئی په بُدا کښ دځوانے رنګ
وړے شونډے وخاندی په تش لاس شملهٔ نیغه کی
کله چه شی پورته غنی خان کښ دَ خانے رنګ

داخوستا په دربارکښ قبلولوله — کله شین، کله سپین، کله تورشمه
داخوستا قدم په ارمان کښ زه — په ازغو دقالین په شان خورشمه
داخوتانه خپل خان بنکاړ کوولله — کله ساز کله رنګ کله اورشمه
داخوزه دَجمدن یو آواز یمه — څکه څکه یا شرنګ شم یا شورشمه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کډے وډے

جنګ ؤ دسند کانو. چینډ خوبی بی ئے یوړه
ورانه په وروشی چه دَغتوشی جګړه
سړله دَغوندے ئے چه دَسیلاب چپه رواشی
کندو . دنډ وکوکښ په نیزو خوړه کړی خړه
غم دسباکو به سبا . نن دنن مزه واخله
خانده خوشحالیږه . وارا کاږه غوړه زیړه

دا خوبس یو عشق دے چه بخښل کړی بے غرضه
هسے څوک ناری کښ چاله نه ور کوی کړه
هله به خبر شے چه دکندے منفعله ورشے
ژاړے به محل کښ یادوے به دِ جونکړه
بے سړه سَرد غنی نه دے دَخر څولو سر
خکه مدام سپوړه خوری نصیب کښ نشته غوړه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تصوّر

زړه یم ناست خان له جانان یو تصور کښ جوړ ومه
کله ئے ستر کے تور ومه. کله ئے شونډے سنګار ومه

زړه یم ناست دغم په هار کښ د ړنا بحر ی پیمه
خُم د رنګ کښ لاخمار شته، زړه تے لپے دکه ومه

د سنځ کوتو د خار شم، څنګه سنګلے ویش ډوکه
زړه یو څاڅکے خوځیکر کښ د ریا بونه ګرزوړ ومه

زړا و زور او تخت د واغشت. خیشت. نظر او خیال د راکه
د سرور په سُور طوفان کښ د کړه دوبه لوټ طمعه

دا یو غم دویشه پاتے چرته پټ تیاره کښ ناست وَو
رو رو پټ م زړه له راغے لکه مار د سنګار په سمه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دکھرخه دِ رضایم د لالونو زرو خانه
غم څه، مرګ م هم قبول دِ په خندا ئے قبلوومه
داخوتا اور اور کے یو دسرور ماته ښکلے
څکه زه دِ تور محل کښ خپل خوبونه بلوومه
خلق وائی لار بد اشو، غنی خپلے مستئ وخور
زه یم ناست دیار و یښ توکښ د نرګس کلونه بدومه
مرګه زه چرته ژکیږه زه لا نه یمه اوزګار
خُم د رنګ کښ لا خمار شته زه تے لپے دګه ومه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَسامری محل

شمعے نشته دِ رنا نشته — وجود شته خو سرور نشته
روتیدل او ترقیدل دی — لمبه نشته دِ اور نشته
عجیبه درند وبنار دے — ستر کے شته خو لیدل نشته
دے کوخه کښ دَ ملیانو — بنلنکونه دی جام نشته
دا مکه دَسامری ده — خانان دیردی خیام نشته
یاداکور وُو دَ منصور — دلته خاورو کښ مستی وه
دلته هوش یومست جنون وُ — دلته مرګ خه وُ هستی وه
دلته حُسن دوحدت یو — دعاشق بت پرستی وه
عبادت دَستارسُر وُ — بندګی خه ده دوستی وه
یاخو داتاتمام ژوند — هم آخر وهم تمام
دلته دا زما خو بونه — هم اَبد وُ هم دوام
اوس دا بنار په ورانید و دِ — جمات شته دِ امام نشته
هسے نوم شته دَ کلونو — د باغونو سمام نشته
هاے افسوس چه جمدون شتدِ — سُرسُرور دجمدون نشته
محل جورد ے لیلیٰ ناسته — مجنون نشته مجنون نشته

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دے عجب د رنګ جهان کښ سپین غاښ دی اوتور نشته
روتیدل اوترقیدل دی لمبه نشته دِ اور نشته
عجیبه لار مِ نیولی نه پرانوشته نه مقام
نه جنون نه بے خودی ده عجیبه زما مابنام
نه بنانست شته نه رناشته عجیبه ساقی اوجام
نه خندول نه مستول کړی دا زما ماهِ ګلفام
اوه زما په دِ جهان کښ د رنا خوریدل نشته
ستر کے شته واز لوتشے د خوبونو لیدل نشته
دلته اوګورهٔ جانانه ستا په غم مستیدل نشته
دلته اوګورهٔ دلبره ستا د نور بلیدل نشته
دلته رنګ نه رنګینی شته نه شراب شته نه خیام
دلته شهنګ اوغورهٔ رنګ نشته تور او سپور او نسکور جام
دلته چغے دی د ننه نه سباشته نه پرون
دا محل د سامری دے نه منصور شته نه مجنون
دا جدون د تیرو دک دے دلته رنګ د خیام نشته
دلته تول تشویش تشویش دے اُمید مړ دے آرام نشته
دے تک تور د غم وطن کښ اور بلیږی اوربل نشته

عجیبه د پرند و بنار دے
ستر کے شته خو لیدل نشته

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کډورے ځی په شا

چه زور په مخه وکړی سخته اوږی ډغره
مازغه ولړ کډوډ کړی خپل رقیب کاندی اوتره
دلرے راشغله شی، توپ وچت وکړی په بره
یوتنده دځوانئ په زور دخپل طاقت نشته
کډورے ځی په شا

کډورے ځی په شا چه بل له اولکوی شا
کډورے ځی په شا

وی مرد بخت هرشی ته په غصه دا سے پټار
په هرچا ډډه دق دے که وی مور او که وی خوار
بل رور خپل وړته سنگاری خاص پدے خلے ښځے یار
خپل رور ته اور آفت پردی ته نه لری نشته
کډورے ځی په شا

یوتنده په خلوری، اور د زور، آفت د جنگ
په ځان دے نه په بل، لیونے کړے دخپل ننگ
که ځاوی که بے ځاے دے بس جنگ او جنگ
غیرت یولا مثاله په خپل جهل کښ نشته
کډورے ځی په شا

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

جلال

چه زه غواړم دهیرونه مستی سره کلونه جوړ کړم
دسړو اوښکونه سړې شونډې ، د ژړا سرونه جوړ کړم
د خزان تیارې کړم ړوبه ، د امید په سمندر کښې
د کنجکونه لالونه د غلو پلونه جوړ کړم
چه دا روح م په ښکار اوځي ، د رنګونو د خوبونو
که نور نه وي د تیرو زه رنګینې نورونه جوړ کړم
چه د خیشت شم زه لیوالې ، د صحرا مره ذرې کښې
په زرهاو بوستانونه ، په لکهاو علونه جوړ کړم
چه زه وږې د ارمان شم د سپرلی په سپین سبا کښې
بې حسابه مانبامونه ، بې پایان غمونه جوړ کړم
تور اوسپین زما دستر کو ، کله تول کله تلل دی
شپه او ورځ زما نظر دی ، د کول دی او مونتل دی
که خندا ده که ژړا ده ، دا څکر مشغولول دی
که وصال دی که فراق دی ، خپل سر و تړ کړ یدل دی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه زه مست شم د دیرانَ سره خیشته کلونجور کړم
د سرو اوښکونه سره شونلړ ے دجراسره نوجور کړم
چه زه نیت د کتے اوکړم د پریوتی د شکست نه
د فاتح د ستر کو کبر او د شونلړ د غرور جور کړم
دا چه زه ځان له یو تخت د رنګین بادنه ودان کړم
د غلام خواری بدله د پادشاه په رنګ سرور کړم

دا چه ته ئے اے جانانه، دا چه ستا مستی رنها ده
دا زما مینه ارمان دے، دا زما ژړا خندا ده
د ملا خبرے خوشے، ما ملا ستا او زما ده
دا داستان دلو کے نه دے، دا قصه د عشق او سازُ ده
دے زما سره د کښ پټ راز ستا د حُسن او کمال دے
دا زما کمزورے ستر کے ستا د خیشت جاه و جلال دے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا زمونږ غوندے
د ګوکمه لار؟

خوشې نصیبه خوشې قسمته وے منصوره
خلقو جوړ که د ړلې دارخه مزیدار
ماړاوړے دے زړګی کښې لـه ازله
هـم منصوره هـم سـرور او هـم دے دار
وایا وایا د رندانو بابا وایا
دا زمونږ غوندے د ګوکمه لار؟

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما محترم رور سردار علی خان

(امیر جماعت اسلامی) ته

داچه ته په سجدۀ پریږدے اوزه ډک ډمیو جام کړم
دام زه غوارم فرار. دا هم ته غواړے فرار
ته لټے هغه جهان کښ حورے سپینے ګل اندامے
زه جنّت دلته لټومه. نشم ګورلے انتظار
تا په قرض جبل وړکه. زه ترے نغدۀ سودا غواړم
دا ته سبنه شوے په بیو پار کښ. که ما سبنه اوکه بیو پار
شیخه راشه میخانے ته. چه مقصد زمونږ ډیودے
ستاد مرګه پس قرار. زما دلته کښ قرار
نور د سوال مقام مویږدے. د زړه اخاموشۍ دے
یوارمان د دوارو زړه کښ کې جدا جدا اظهار
پتنګان ډیوے شمعے. که بینا دے که شمکور دے
دا خو خکه ده حاجی صیب. لیونے دے د زړه یار

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بینوا ته خط

بینوا په هشنغر(*) کښ ستا یو رور دلته اوسیږی
ببرسره، پښتے سترګے، پت پت شوندو کښ مسیږی
ستا قلم چه نولی او ښکے دهغه ستر کے ډکیږی
تا چه خپل درد په ژړا کړی، هغه دلته کښ ژړیږی
دلته ناست په هشنغر کښ ستا یو یار دِ په ربښتیا
په خانانو کښ یو خان خو، ستا په شان دِ بینوا
خلق وائی لیونے دے عجیبه کوی کارونه
څاخکی ورک دریاب کښ شو په طمعو د ساحل
بخت کښ د سیلاب دی په مستئ په چپو تلل
نه وړځی دریاب له غونډ یدل او دریدل
دے لمر د ساز له تله ژوندون و دریدل مرګ دی
زیړے دما بنام وی د سهر را خلیدل
ګډے دے چپے کړه د ابد مستانه تال ته
وګړنګوه سازنے تار خانو کښ د ازل
لاړ لیونی لاړ چرته دلمر شغلو کښ دوب شو
څاخکی ورک دریاب کښ شو په تمه د ساحل

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اَرِنی

خان لہ خپلہ بھانہ زہ د بیکاہ او سبا کومہ
خاورہ کښ د کل لہ د کلونو د نیا کومہ
سترگے مې لتی چې رته صحرا کښ منادی یوہ
شونډے مې لتی د عالم بنکلی ښکاره یوہ
کرخم ما بنامی کښ د زهرې هلال شغالتوم
زہ د شبنم څاڅکی لہ خپلوی او سلالتوم
خان لہ بھانہ د خندا وجہ د ارمان لتوم
شپے لہ د سبا زیږے او مینے لہ جانان لتوم
خکہ کلہ کل کلہ پسرلی کلہ هلال لہ خم
پورے ترے د نړۍ لتوم په واز و ستړو جال لہ خم
کلہ د ریاب کلہ کومہ د خیام تپوس
کرمہ د غمونو تلو سونہ د آرام تپوس

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

څان له څه معنی زه د بیکاره اوسپا کوږمه
خاورو کښې دے کال له د څلونو دنیا کوږمه
ربه ؛ د خوانئ اود مستی خوب له تعبیر لټوم
دے دلمر ذروله زه تر لوله ژغیر لټوم
ربه ؛ زه څوندون له اومرګی له یارانه کوږم
دے لیونی سله د منلو افسانه کوږم
څان له بهانه زه د بیکاره اوسپا کوږمه
خاورو کښې دے کال له د څلونو دنیا کوږمه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساز

ورکړه شرنګ دے ستاړلہ یارہ — نوے ډمنی مابنام دے
نوے سپوږمۍ را خټلے دہ — نوے سرورکښ خیام دے
آه ډزړہ تار خانونہ دے — کوتے دساز ورښکته کړے
وئی : دمحمود خبکړته نن — ستړکے آیاز ورښکته کړے
ستړکے مینے په غم دکے — دکے دسرا وښم دکے
ستړکے ستے د شبنم دکے — څنګه په ناز ورښکته کړے
اودے ډخاورو ستارکښ تا — څنګ دابد قصه جوړه کړه
اودیوشرنګ اوتهنګ نه دے — ماله مستی نشه جوړه کړه
تاډ کلونو ډ رنګ نه — ماله ډیار تصویر کړ جوړ
تاډ تارونو د شرنګ نه — ماله یو خوب اوتعبیر کړ جوړ
تاډ سرور اوغوږ څنګ نه — ماله بابه منیر کړ جوړ
تاډ غمونو ډ رنګ نه — ماله ډغم اکسیر کړ جوړ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تادَ غـرونـو اوارمان نه مالـه بهـار او خزان کـړجـوړ
تادَ ژوبلـو آواز نه مالـه تصـويـرِ دَجانان کـړجـوړ

تادَ نرګس دَدوه پانـو نه
مالـه بهـار او کل کـړجـوړ
تادَ نسـيم دَخـبـرو نه
مالـه فـريادَ دَبلبل کـړجـوړ
وړکـړه شـرنګ دَ زستار له يار
وړکـړه رنګ دَ خمار له يار
وړکـړه سلام کـلونوله
وړکـړه دعا دَ يار له يار
نـبانست او ارمان دا وسپـړه
مالـه ترڼـه کل او خزان کـړجـوړ
او دَ نسـيم دَ خـبـرو نه
مالـه تصـويـرِ دَجانان کـړجـوړ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

رُک خیال

یو خیشته غونډے ماشوم ؤ . که یو خیال که یو خمار ؤ
یو مُسکے شان تانے وکړه د ازل د تار خانو نه
زما خوالہ غلے راغے لکه یو ست قدیم دیار
که یو ستوری ستړکے والی چرته لرے د تیارو نه
که د تو ښے کوتے وړکښے شاهزادګئے د نورو لاړه
د نا ستګو کښ غمګنو ، بنګلے شونډو کښ خندل
د جامو ډن یو حرکت ؤ . که یو رنګ د تخیل ؤ
که د تال کنګرو په خپو کښ م خو یو نه ګډ یدل
لکه رو ګے هوسے باغ کښ په هیڅ شی نے یقین نه وی
چرته پټ په کښ یو خوب وی د صحرا او د ځنګل
ما د مینے لاس خوارہ کړه . څه دعاوه څه ارمان
ما د ونے آس نګ سینه نه وه . راشه مست که د اجهان
زه به خپل خو د ستا و جو ړ کړم چه ته ستړ کوته بنکاره شے
خپل احساس به د جامه کړم چه یو خیشت یو ننداره شے
ستا مستے له اوخاله به د ځان سره ور درکړم
ستا امید او مشغلا له . به خو یو نه د طور درکړم

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه به خپل ژوند ترجمان کړم ستاد ژوند د کتابونو
زما کوتے به ستاروی، ستاد شړنګ ستاد سرو
یو قدم مے که راپورته. هم دا ته هم پریږده
د صحرا عادت هوسے ؤ په ګلزار کښ تیریږ

ماښام زه ستا ګوکښ خوړکه. دیر په مینه وړاندے شوم
عجیبه جهان ته لاړم هم عاشق شوم هم جانان شوم
خوچه زه ئے وړتلم خوالہ. نوچا چغه کړه چه خان
ګلپه شپوله راغلی. د رنے څاوړ د زلو دوستان

یو نظر م چے تے وارو، نود نوره بنا پیرے نه ؤ
چار چاپیره په تیارو کښ نه ئے نوم ؤ نه نشان
اے زما ماشومه زړیه، ته به کړنے کم صحرا کښ
د تیارو په شپه کښ ژړکه، ستا خو کور دے په رڼا کښ
و لے لاړے یوړک خوب شوے دا زل روکه دنیا کښ
ستا خاښت کښ زها ژوند دے. ستا جدائی دے زما سا کښ

یو نظر کښ که د ماته سور ګلشن تور بیابان
لیونے. لیونے کړځم دے ژړک شوے م جانان
راشه راشه په خدا شه لکه ستوري په سبا کښ
د تیارو په شپه کښ ژړکه. ستا خو کور دے په رڼا کښ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه قصه

څوک په ساز کښ څوک په خوږ سمسوري رباب کښ
څوک په مسته ترانه کښ یو تپه بل افسانه کښ
هر وخت هره زمانه کښ په فراق په یارانه کښ
بس د خپل حال او قصه ده په هر مخ د دې کتاب کښ
څوک نه وئ په دا دوسته کو څوک په مست نگین باب کښ

څوک د تال او حرکت نه کړې ژړا او خندا جوړه
تول وجود نه یوارمان شی چه د غم کړې کدا جوړه
لاس او خپې د کلو څانگې د بود نه تال په حباب کښ
د اخیشت داسې رنگونه نقشه نقشه په کلاب کښ
خو هم هغه یوارمان دِ د نه تال اوشه نگ د رباب کښ
هم هغه یوه قصه ده په هر مخ د دې کتاب کښ

څوک نه ساتکی د اواخلی په خپل اوږه سر لمبه کړی
یو مستی سره رستے جوړ کړی په جانان نه صدقه کړی
کله دوب کړی خپل خمار کړی د دې هم خان سره نشه کړی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاله توره غمګینه ما ښکاره کښ — دومره یو غم کوی یو تیاره کا
یو بے وسه مایوسی شی — نا امیده او ډک ماتم شی
یو بے نومه اضطراب شی — سوے لوے بے آدم شی
دسره جام د میخانے کښ — د جات یه سپین معراب کښ
د صوفی په پټ سره کښ — د عاشق د عشق شراب کښ
د شاعر د لاس کمال کښ — په جنون په اضطراب کښ
بس یو رنګ د چه خلیږی — هم جانان کښ هم کلاب کښ
هم په ساز هم تال کښ — هم په خوږ سوی رباب کښ
یو خواته ورځ د مرګ د — بل خواته وند یو رنګین خوب
یو خوا غم درد او تیاره ده — بل خوا مست شان لیونتوب
یو خوا ژوند یو بے وسی ده — لویه توره مقبره ده
بل خوا ژوند یو وه مستی ده — د امید ارمان نشه ده
په یو سوال د هم پوښے نه کړم — د ژوند ډن په لوے کتاب کښ
د غه سوال بس د غه سوال د — هم په رقص هم په رباب کښ
عاشق مینه کښ سره زر کښ — شاعر غم او اضطراب کښ

هم هغه یوه قصه ده
په هر بڼ د دے کتاب کښ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مدون یا دودنی
او
څرکندونی

د پښتو د اوسنی ادب د تر ټولو ستر شاعر خان عبدالغني خان له نامه سره به د افغانستان او برصغیر په علمي، فرهنګي او سیاسي حلقو کښے دیر لږ خلق بلد نه وی. خان له پښتو نخوا او افغانستان او برصغیر سره بیره په نوره دنیا کښے هم د نامه خاوند دے او په خاص ډول د پښتو ادب خارجي محققین او له انګریزانو سره د لرو پښتو د آزادۍ د جګړو مورخین او مطالعین د ده له نامه او څرونده، کردار او کلام سره آشنا دی. او هم لږ ودیر په هغه مقام هم واقف دی چه زمونږ د غه لوی شاعر د پښتو په معاصر ادب کښے لری.

سر بیره پردے د پښتو ادب بیا تر په معاصر و تذکرو (۱) کښے هم خان عبدالغني خان زمونږ مشر انو ادیبانو پر مونږ پیژندلے دے او یوځای

(۱) پښتانه لیکوال د باغلي هیښ جنسل ص ۱۰۱ - ۱۹ د ۱۹۵۹ع کال د پښور چاپ. او سمیع الله ډاډ د جوم اسټ د ښاغلي د مرزا یونس د ۱۳۲۶ هـ ش کال د کابل چاپ.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوم هم خپلے څخے تحقیقی او علمی مقالے د دوہ پہ ژوند اوفن کښل شوے دی (۲)، مګر داچہ اوس بے د کلام یوہ عمدہ برخہ د (کلیات) پہ نامہ د چاپ ګڼ ته راوځی، نو بویہ چہ د کلیات لہ لوستونکو سرہ د مرستی پہ خاطر د دوہ پہ شرح حال او ژوند او هنرمندی هم څہ وکښل شی. چہ لہ ابتدایی لوستونکو سرہ د رهنما پہ دود مرسته وکا، البته منتهیان خو د خان لہ ژوند او هنره سرہ تر هر چا ډیر بلد دی.

نو زه بہ پہ همدے نیامت خپله لیکنه دوہ د شرح حال لہ کښنے پیل کړم او بیا بہ پہ ترتیب سره پرښت و د موضوعاتو نورے خبرے هم وکړم.

کورنی او د ژوند ابتدایی حالات:

د پښتو ژبے د غږ د غنچو نو د شاعر خان عبدالغنی خان پلار د پښتنو ستر مشر خان عبدالغفار خان د نے او مور بے د رحمو د خانانو د یار محمد خان لور وه. چہ لہ باچا خان سره بے پہ ۱۹۱۲ع کال واده شوے و (۳).

د غږ د وو خانخیلو لہ پښتنه پہ ۱۹۱۲ع کال (۴)، د شمال مغربی سرحد ی صوبے د هشنغر د اتمان زو (۵) پہ کلی کښے د پښتو ژبے د غږ نومیالی او ښکلیالے

---

(۲) کتاب د سال ایس، د مرحوم استاد بینوا مقاله ص ۱۰۹-۱۲۹ د ۱۳۴۶ هـ ش کال د کابل چاپ.
(۳) زما ژوند، ۱۰ مخ، د وجهه، د خان عبدالغفار خان ص ۷۰ د ۱۳۶۲ هـ ش د کابل چاپ.
(۴) په پښتانه ادب ص ۱۹ کی د غنی خان د زیږیدنې نیټه د ۱۹۱۶ع شاوخوا ښودلی ده؛
(۵) په کتاب د سال ایس ص ۱۰۹ کی مرحوم بینوا د غنی خان د پیدا کیدو سیمه د هشنغر (د زیږ) ښودلی ده؛

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاعر وزیږید. پلار یې د عبدالغنی نوم کښیښود.

عبدالغنی د مور و پلار لومړنی اولاد او دوه ویرونیازهین و. استاد بینوا مرحوم ددې دیوه دوست په حواله کښلی دی چې: "غنی په کوچنیوالی کښې ویرښکلی او د مور و پلار ډیر نازولے و. په غاړه به یې دسره زرو دانه اویښې وه او په نبی غوږ به یې دسره زرو والی وه. په سر به یې نیلې دار ډیوټلی وینوکه توپۍ او په توپۍ کښې به یې یوه زرینه جوړه تومبلے وه چې دجوغے نه چار چاپیره ښکلو ډبرو د نظر مات تاویزونه تاو شوی وو."

مګر دغه نیازهین توب ډیر پاینښتی نه و. څکه ننګیالی پلار یې هغه مهال دوطن او خلکو د خلاصون لپاره د انګریزانو پر ضد مبارزه پیل کړے وه او په خپل کور کښې آرام نه و ناست. له بله پلوه د غنی مور هم دده په پنځه کلنۍ له دنیا سترګې پټې کړے او نازولے غنی د مور له تودې غیږې محروم شو.

د غنی د مور د مړینې واقعه د پښتنولو نے ملی مشر د غنی پلار باچاخان داسے کښلے ده: "د جنګ په وجه په دنیا کښې سخته وبا راغله. په جنګ کښې دومره کسان نه وو مړ شوی، لکه په دې وبا کښې چې مړ شول. په هندوستان کښې هم دې وبا ډیر خلک ووژل. پښتانه هم ډیر پکښې مړ شول. دا داسے عجیبه وبا وه چې اکثر به یې ځوانان. جینکۍ او هلکان وهل او مړ کول او چې یوکوټه یو ځل ښوته بیا به یې یو هم نه پریښود .... په دې مړینو د تولونه اول زه پریوتے وم خو هسے خدائے جوړ کړم .... زما د ورځې ته غنی چې د پنځو کالو و نارغه شو.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

غنی د یرښکلی وه د مور نه ورسره د یره مینه وه د یر به ئې ورته ژړل مابه منع
کوله او د صبر تلقین به ئې ورته کولو خو هغې زړه به نه صبر یدو. یو ورځ د غنی
رنځوری سخته شوه مور ئې ورته د کټ سره ناسته وه د ده سر ئې په غیږ کښې
اینښې و. مادر مابنام لمونځ کړے و په مصلی ناست وم. د عا ئې کوله غنی ته مے
کتل چه بے هوشه پروت دے چه ناڅاپه مور ئې پاڅیدله د زوے سر ئې د خپل ورانه
نه په بالښت کښیښوده او د زوے له کټه چاپیره وګرځیده او سر ته ئې ودریده
اولاسونه ئې په دعا پورته کړل او په ژړا ئې وویل چه آخر دا یه د ده مرض په ما
کښیږدے او د ے ماشوم ته شفا درکړے. د خدا ئے یوه عجیبه حکمت و، په سبا له
دا ناجوړه شوه. د د مرض د ښ په د ښ زیاتید و او غنی ډ ډ ن به د ښ په د ښ
کمید و غنی جوړ شو. او مور ئے خوا نیمګړه شوه. ماشومان ئے راته پاتے شو. د غه
وخت غنی د پنځو کالو. و لی د د ه یو کالو او خور ئے دیو کال وه.» (۶۱)

د مور تر مړینے وروسته د عبدالغنی خان روزنه د ده دا نا د پاچا خان
د مور په غاړه وه. مګر د هغې هم د ژوند د یر وخت نه وو نے پاتے. په دا وخت کښے
چه پاچا خان د پیښور غازی خان په جیل کښے قید و. مور ئے هم وفات شوه (۶۲)
او د غنی د غے پالونکے او مهربانے هم له دنیا سترګے پټے کړے. غنی بے سرپرسته
پاتے شو. لنډه دا چه پر غنی د ماشومتوب په دور ه کښے د ژوند د نا وړ و چې
را غلے مګر ورو ورو د د غه حالاتو مخ په ښه کید و شول. خاکا جی غنی د مدتے شو

(۶۱) زما ژوند او جد و جهد ص ۱۳۲ - ۱۳۴ .
(۶۲) همدا د کتاب ص ۲۱۹ .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

او سنو ښځینه لاړه ده په شخصی ژوند کښے هم تبدیلی راغله .

زده کړه ، روزنه او فرهنګی محیط :

د پښتو د اوسنی ادب د غه نومیالے شاعر هغه وخت د مدرسے
د تګ شوچے باچا خان او نورو مبارزو او ننګیالیو پښتنو په همت په پښتنو کښے
د عصری تعلیم د شروع کولو او عامولو جد وجهد جاری وو . او د دے په همت
او میرانه په ۱۹۲۱ع کال د اتمانزو آزاد سکول جوړ شوے و ، خو د لرو پښتنو
په چا پیر چل کښے په عام دول د تعلیم څه شوق نه و ، او د پیرنګی اجنټانو
به د عصری تعلیم د مخنیوی لپاره په خلکو کښے دول دول غلط پروپاګنډے
خپروله او خلک یے له عصری تعلیم څخه لیرے ساتل . په قبایلی او کلیوالی سیمو کښے
د سبقونو عام دود په جومات کښے هاغه دینی نصاب و ، چه له څوارلسمه
لا په ځینو ځایونو کښے چلیږی .

غنی خان په دغسے شرایطو کښے د سنو وخت شو ، او میرنی پلار یے
د اتمانزو په آزاد سکول کښے شامل کړ .

استاد بینوا مرحوم په دے باب کښلی دی : « د غنی خان ابتدایی زده کړه
په هغه آزاد قومی سنو وخت کښے شروع شوه چه باچا خان او د هغه دوستانو
د غریبو هلکانو د پاره په اتمانزو کښے جوړ کړے و ، او زده کړه پکښے
ورپاوه .

باچا خان خپله خپل زامن د د غریبانو سنو وخت ته واستول چه خلک

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ونه وایي چې : باچاخان دخپلواونورو دزامنو ترمنځ توپیرکوی . خپل زامن معتبرښوونځی ته بیایي اوغوره زامن دغربیانو ښوونځی ته استوی (۸)، دلسم ټولګی تر پاس کولو وروسته ددهلی په جامعه ملیه کښے شامل شو، په ۱۹۲۹ع کال باچاخان دیوه مرام لپاره بیرته هلته راوغوښت اوځه موده وروسته یے تحصیل لپاره لنډن ته ولیږه . اود ۱۹۲۹ع کال دجولای په ۲۳ نیټه دخورلسوکاو په عمر دلنډن په نیت په ممبئی کښے د او بوجهاز کښے سور شو.

استاد بینوا زده دلنډن دسفر په باب زیاتوی :« غنی خان لنډن ته ولاړ اوهلته یے دباچاخان په مشوره دوه نیم کاله دیولوی پادری په کور کښے تیرکړه ، وایي چه په دے کښے د باچاخان مطلب داوچه غنی خان که د پرنګیانو په یوه اوچت خاندان کښے عمر تیرکړی نود پرنګیانو د عظمت په راز به پوه شی .... دانګلستان آزاد ماحول کښے دغنی نایاب ښایست دهغه د پاره یولوے مصیبت شو. چه چیرته به تی پرنګیانے جینکی به ورپسے وے اوسبق ته به یے نه پریښود ، څوپه آخره کښے دلنډن یوه دفلم ستاره پرمینه شوه چه دیره بے بها ښکلے وه . د ده نوم ملکروته ویره پیدا شوه چه غنی یے په نکاح واخلی ، نویوکس پکښے باچاخان ته خط ولیکه اود ټولے قصے نه یے خبرکړه ، باچاخان دتار په ذریعه حکم وکړه چه فوراً امریکے ته کوم کالج لاړشه (۹)،

(۸) اوسنی لیکوال ج ۳ ص ۹۷۰
(۹) همدغه اثر ص ۹۷۱

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه خبره خانے خپله غنی خان په شاعرۍ کښے هم خان سنګاره کوی چه دلندن د پیرنګو جونو سبا یست په زړه اثر کړے و.. دلندن معشوقې" ترسه لیک د ده یوه توته ده چه دا سے پیل کیږی :

دلته خواته ازغی دی بل خوا څانګے د نرګس
د هنر علم سایه کښے ګرځی کل لبانه مس (۱۰۱)

غنی خان د پلار پرحکم له لندن نه امریکے ته ولاړ. او د لویزیانا د ایالت د یو اوشکرے جوړولو په یوه کورس کښے شامل شو. اما د دوئیم کاله وروسته چه باچا خان بیا قید شو. نو غنی خان ته ژوند تریخ شو. خکه خرڅ نه وررسیدۍ او پوره اته میاشتے پیسه خرڅ هم نه وو رسیدلے. بالاخره یو خیلوان د ومره خه قلم ته ورلیږل چه د پرے له امریکے هندوستان ته راواپس شی.

باچا خان هم د غنی موضوع ته دا سے اشاره کړی : "مشر عبدالغنی د چه هغه د تروکمستری د تعلیم د پاره امریکے ته لیږلے و. خو چه زه فیرنګیانو په ۱۹۳۱ع کال کښے جیل ته. ولیږلم او زما جایداد ے کلهو د کړو نو هغه د پیسو د نشت په وجه سر ته ونه رسولو او واپس راغے" (۱۱۱)

کله چه عبدالغنی خان له امریکے راغے نو باچا خان د هندوستان د بهار د ایالت د هزاری باغ په جیل کښے و. چه د غنی د ورسره ملاقات وشو. او بیا د جواهر لال نهرو

(۱۰۱) پانوس ص ۱۱۶، د ۱۹۷۸ع کال د پیښور چاپ.
(۱۱۱) زما ژوند، اوجلد وجهد، ص ۲.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نقید (۱۸۸۹-۱۹۶۲ع) په مشوره نے د سے آله اباد ته ولیږلو او هلته د جواهر لال نهرو
د پلار موتی لال نهرو په کور کښے دیره شو، او ته میاشتے د جواهر لال نهرو
میرمنے کملا د خپل بچی په شان ونازاوه خوکله چه په هغے پسے د انګریزی پولیس راغلل. نو د سے او خپله لور اندرا (۱۹۱۷-۱۹۸۴ع) یے د تاکور
بین الاقوامی یونیورسټی ته ولیږل. د سے چه د غے یونیورسټی ته لاړ. لږ موده
پس د محصلینو د اتحاد یے رئیس شو.

د غنی د منظم تحصیل دوران هم له واقعاتو سره مل روان و کله به یوځله
پیښ وو، او کله به بل څه.

د د سے تحصیل په جریان کښے ده له خپلے مورنۍ ژبے سره یوځای عربی، فارسی
اردو او انګریزی ژبے د خپرو کولو مطالعے او په ځینو کښے د څه کښلو
ترسره جده زده کړے.

په اوسنی لیکوال کښے د ده د عربی دانۍ او د اسلامی علومو
د تحصیل او مطالعے په باب راغلی دی: «د باچا خان د اخیال وچه د غنی نه
یولوی اسلامی عالم جوړ کړی، نو ځکه غنی خان اوه کاله د عربی مروج
علوم ولوستل په تیره بی د قرآن تفسیرونو او د احادیثو کتابونه (مسلم، بخاری)
احسن المسائل او بلوغ المرام تقریباً ټول په یاد وو او عربی ژبه یے د خپلے
ژبے پښتو په شان روانه ویله» (۱۲) وایی چه یو ځل د هند د دیوبند د اسلامی

(۱۲) اوسنی لیکوال ج ۲ ص ۷۹۰

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملګرو سره یو مولانا د اتمانزو آزاد سکول ته راغلے و، غنی خان د تولوشاګردانو مخکښے ولاړ شو او شل دقیقے یے په روانه او فصیحه عربی ژبه وینا وکړه مولانا پوښتنه وکړه چه دا هلک عرب دے ؟ باچاخان په جواب کښے وویل چه نه دا زما زوے دے .

دغسے چه باچاخان په غنی باندے د عربی د زده کړے باعث و دے تر څنګه یے د پارسی ژبے د زده کړے سپارښت هم وتړ کاوه ، باچاخان په خپل یوه لیک کښے غنی خان ته کښلی دی : " عربی او فارسی طرف ته هم څه نه څه توجه وکړه او د دے مطالعے د پاره هم څه نه څه وخت وباسه ما تاته د دے متعلق اول هم لیکلی وو لیکن تا یے په خپل خط کښ څه خامن ذکر نه دے کړے "(۱۳)

ملازمت :

بنا غلی همیش خلیل کښلی دی کله چه غنی خان په ۱۹۲۳ع کال پیښور ته واپس راغلو څه موده یے د تخت بهایی په شوکر میل کښے ملازمت وکړو (۱۴)

استاد بینوا لیکلی دی : " غنی خان هلته د بورے جوړولو په یوه کارخانه کښے دمیاشتے په سلوشل کلدارے نوکر شو ، په لومړی سر کښے یو معمولی نوکرو ، خو په دے کاله کښے دننه دننه د خپل فطری استعداد او لیاقت په وجه د کارخانے د تولونه لوے اوغټ افسر شو . . . څه موده وروسته یے د تخت بهایی په سیمه کښے د بورے جوړولو کارخانه جوړه کړه ، کارخانه په چلیدلو راغله ، خو داهغه وخت وچه دده د پلار

(۱۳) د باچاخان لیکونه (۱۴) پښتانه لیکوال ص ۱۷

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

(باچاخان) اوپرنګیانو تر منځ بیاجګړه تودہ شوه او د غنی خان قول خپلوان د انګریزانو له خوا د استعمار زنداانونو ته بوتلے شول. غنی خان ته باچاخان حکم کړی وچه خان به قید ته نه ورکوی، او د هغوی د جایداد سرپرستی او انتظام به کوی. غنی خان هم د خپل جایداد په یوه کالی کښے ځانله سنبه کور جوړ کړ... کرمه زمینداری ئے شروع کړه او په مزه کښ ښاست» (۱۵)

استاد بینوا په اول وار کښے د ده د ملازمت ځانګړے دے سنبولے او دوهم وایی چه: غنی خان هلته د بورډ جوړولو په یوه کارخانه کښے .... نوکر شو. څنګه چه د انجث په هندوستان کښے د ده له ژوند سره اړه لری، نو د ملازمت دغه دوره به ے هندوستان کښے وی. خو په اوسنی لیکوال کښے د غه ے خانګړے دے معلوم.

اما په پلوشے (۱۶) کښے چه د میا جعفر شاه پاڼامه د عبدالغنی خان کوم منظوم لیک چاپ شوے دے، په یوه بیت کښے ے راعلی دی:

چرته نرم ریښمین تار چرته میزے
چرته زه چرته «کوله» چرته شکرے

د همدے منظوم لیک په حاشیه کښے کښلی دی: «کوله: کوکرناټ د هندوستان په ایو. پی) ولایت کښے یو ځاے دے غنی غلته د بورډ په کارخانه کښے افسر وو.

نو استاد بینوا چه په هندوستان کښے د خان د ملازمت کوم بیان راوړے دے دا به ښایی هماغه کوله کښے وی.

(۱۵) اوسنی لیکوال ص ۹۰۳
(۱۶) پلوشے ص ۳۶ د ۱۳۲۹ ه. ش کال د کابل چاپ - پښتونخوا.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

وادہ :

د اوسنی لیکوال کښے راغلی دی : "..... اوهغه وخت چه د بمبئی په سنبار کښے یے د خپل یو دوست کره د حیدرآباد د نواب رستم جنګ کشر لور ولیده نو د لیدو سره سمدستی یی زړه پرے بایلود ... " بیا لیکی : "او ترادې وکالو منډو وروسته یے د نواب صاحب لور وکړه او د خپل زامنو ارزو تر سره شوه."

عبدالغنی خان د خپلے د غے ملګرے په باب دا سے نظر لری :

یو خوب د شاعر په جامه انسانی — یو ساز دور دراز نه خوږ آسمانی
یو ګل د جنت په خصلت جهانی — یو جسم ناری یو زړه کے نورانی
شوله دا سے پیدا د غنی دلبرا — په غیرت پښتنه په بنا ایرا نیت نی (۱۷)

سیاسی میدان :

که څه هم استاد بینوا کښلی چه غنی په ۱۹۴۵ع کال د سیاست د ډګر خوا ته هجرت وکړه ، خو زما خپله رایه او نور شواهد دا دی چه د عبدالغنی ژوند له ماشومتوب څخه په یوه سیاسی ماحول کښے تیر شوے دے .

خان په دا سے یوه کورنۍ کښے زوکړے چه هغه پخپله یوه لویه سیاسی ملګرتیا وه ، باچا خان نه یوازے د خپلے سیمے په سیاسی حلقو کښے محشور ښکاري بلکه د سیمے په سیاست کښے داخل شخصیت دے .

عبدالغنی په د غسے یوه کورنۍ کښے د نیاته سترګے پرانیستی ، د هغه وخت

---

۱۷۱ . د جرګه ګلدار ص ۳ . د ۱۹۵۶ع کال - چاپ . پیښور . د چرګے جګاړه په ۶ ف ښے جزوم یکجا پ سترګی په هغه یک پنځه ۱۹۵۰ع کال د خپل د اده دولسم کال سبودلی دی . نو بنکاری چه خان به په ۱۹۰۹ع کال کښے د اده کړی وی .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول سیاسی جریانونه اوواتمات دد : په فکر او نظر او عمل کاری اومؤثر وو .

زه په خپله د ع . الغنی خان د سیاسی فعالیت زمانه اوپه سیاست کښے دده کلیون له هغه وخته راپیل کوم ، چه د پرنګی د شومونیاتو په نتیجه کښے په افغانستان کښے د غازی امان الله خان (۱۹۱۹-۱۹۲۹ع) پر ضد بغاوت وشو او بچۍ سقاو د ننه شو ، زمونږ په ټول هیواد کښے د حق او باطل ترمنځ یوه جګړه روانه شوه . او ټول وطن د پرنګی په لمسه په اور کښے سوځید . زمونږ نورنیو وروڼو د دغه مصیبت برداشت نشو کولای . اوله مورښه سره بے خان په دغم کښے شریک بالله . باچاخان او دده ملګرو د خلکو د پوهولو لپاره جلسے کولے او د امان الله خان په ګټه یے تبلیغونه کول چند مے یے تحمل کړل (۱۸)

او د جنګ د زخمیانو د مداوا د لپاره یے افغانستان ته دیوطبی وفد دلیږلو کوښښ شروع کړے و . غنی خان هم د باچاخان له خوا دغه وفد ته معرفی شوے و ، لکه چه اوسنی لیکوال کښے راغلی دی : « باچاخان پنځه زره روپۍ اویوهم غنی دغه وفد ته وباخښه » غنی خان دغه وخت په جامعه ملیه دهلی کښے سبق وایه ، په غنی پسے تلګرام لاړ او هغه په دوهم وړځ راورسید . خان ته یے د رضا کارانو خړے جامے جوړے کړے اود ډاکټر خانصاحب (۱۹۵۶ع شهید) له کمپونډر څخه یے د پښتنۍ ترلوچل زده کړ . خو پرنګی د دغے ډلے له تلوسره موافقه نه درلوده او د دوی پاسپورتونه یے ترهغے وخنډول

(۱۸) مرحوم راحت زاخیلی (۱۹۰۳ - ۱۹۶۳ ع) هم په دے باب ویلی دی : « یاد کړه څه مانونه په ما کښے د نجیانو » (داغونه ص ۳۰ د زلمی هیواد مل په زیار ۱۳۶۳ هـ ش اول چاپ)

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه امان الله خان له پاچهی لاس وکینښ.

څنګه چه د باچاخان دغې فیصلې ته پرتګیانو په سنه نظر نه کتل او پلمه یې غوښتله چه دې ګرفتار کړي، نو غنی یې له ګرفتارۍ څخه د څرګنو لو په خاطر د تحصیل لپاره انګلستان ته ولیږه (۱۹۲۹ع). داو د سیاسی مبارزې په ډګر کښې د غنی لومړنی کام اود پرتګی داعمالو پرضد یو پاڅون.

د روسته تر دې چه غنی له اروپا او امریکا څخه بیرته هندوستان ته راوګرځید، د هند په سیاسی حلقو کښې محشور و، له کاندهی جی (۱۹۶۹-۱۹۴۸ع) او د هند له نورو سیاسی لیډرانو سره یې د پلار په وسیله ناسته پاسته وکړه چه باچاخان په خپل یو لیک کښې عبدالغنی خان ته کښلی دی: «غنی جانه! د اخوږ پیر د خوشحالۍ خبره ده چه د کاندهی جی په صلاح او مشورې سره بنګال ته روان یې زه به تا نه پیر خوشحاله یم که چیرې ته د کاندهی جی په صلاح سره کار کوې د هغه تا سره د پیره مینه ده .....» (۱۹)

استاد بینوا لیکلی دی: «عبدالغنی خان په ۱۹۴۵ع کال د روستانو په سپارښتنه د هغه وخت په مرکزی پارلمنټ (برتانوی هندوستان) کښې د انتخابیدو د پاره د ریډ خان یې کاندید کړ (۲۰) د ده په مقابل کښې که څه هم د هغه وخت د رې سیاسی ډلې لکه خاکسار، مسلم لیګ او هندو مها سبها

(۱۹) د باچاخان لیکونه ص ۲۸

(۲۰) د پښتانه لیکوال په ۱۷ مخ کښې یې کښلی دی: «کوم وخت چه خان عبدالقیوم خان د کانګرس نه مستعفی شو نو غنی خان د هغه په ځای د دوه کاله د مشترکه هندوستان د سنټرل اسمبلۍ ممبر پاتې شو.»

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولاړ ے و، خو غنی خان هغو تولو ته ماتے ورکړه او هند په مرکزی پارلمنټ کښے وتاکل شو نو دهلی ته ولاړ ، ۔ هند په مرکزی پارلمنټ کښے بنا غلی غنی د خپل مستعد دماغ په برکت د پیژندلے مقام وموند او د هغه وخت د هندوستان په د ریو بهترینو مقررینو کښے یو هم غنی خان و، که څه هم د ے د پارلمنټ تر تولو غړی کشر و، خو چه ده به تقریر شروع کړو نو یو دم به چار چاپیره د پارلمان غړی په منډه منډه د پارلمان سالون ته راټول ....

سره د دے چه عمر ے لږ و ، بیا هم د مرکزی وزیرانو سره د یوو لسو سلاکارو کمیټو غړے و یو څل نیم هم د اړو پا بین المللے کنفرانسونو ته لیږلے شوے و. ۴ (۲۱)

هغه مهال په شمال مغربی صوبه سرحد کښے د مسلم لیګ یانو وړانی د خدایی خدمتګارو په وړاندے زیاتے شوے وے ، نو هغه وخت عبدالغنی خان د خدایی خدمتګارو د محافظت لپاره د زلمی پښتون ډله جوړه کړه او د پیر وطنپرست پښتانه زلمیان ے پکښے منظم کړل ، د غه تحریک سره له د ے چه شپږ میاشتے وچلید ، خو د اتیازرو په شاو خوا کښے پښتانه زلمیان ورسره وو .

فخر افغان د د غه تحریک په باب کښلی دی : " څه وخت چه زمونږ خلک د میجر خورشید د ے اراد ے او سیکم نه خبر شول نو هغوی د خدایی خدمتګارو د حفاظت د پاره نوجاعت د غنی په مشرۍ کښے جوړ کړو ، نو مے د زلمی پښتنو څو په د ے کښے هغه ځوانان شریک شول چه د چا عقیدې په عدم تشدد باند ے نه وه

---

(۲۱) اوسنی لیکوال ص ۹۷۲

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولے چہ هغوی په دے غرض دغه جماعت جوړ کړے و، چه خدایی خدمتګار خوتشدد نه کوی، ددوے عقیدهٔ په عدم تشدد ده ددوے په خلاف دتشدد سازشونه کیږی، نو دوے اعلان وکړو چه دا جماعت صرف دخدایی خدمتګار دحفاظت دپاره دے. ددے په مقابل کښے مسلم لیګو دغازی پښتون په نوم یو جماعت جوړ کړو لیکن پښتون قوم زلمی پښتون پسے و، او مسلم لیګ کښے چه کوم خانان دپرنګیانو تالی څټ وو، هغوی په دے نتیجه ورسیدل چه قوم خدایی خدمتګارو سره دے نوکه دزلمی پښتون او غازی پښتون جګړه شی نو مونږ مسلم لیګو کښے به یوکس هم ژوندے پاتے نه شی... " (۲۲)

دهندوستان تروښیں وروسته د ۱۹۴۱ع کال دجولائی په څلرمه نیټه دشپے په یوه بجه عنی خان دمسلم لیګی حکومت له خوا گرفتار شو او دهغے شپے په سبا پینور ته بوتلے شو، اوله مرحوم ماستر عبدالکریم سره یوځاے جیل ته ولیږل شو. دهیپورد او پاکستان دنورو جیلونو په تورو او سپنیزو پنجرو کښے یے شپږ کاله تیر کړل او په ۱۹۵۴ع کال کښے له بنده آزاد شو.

داوه دده سیاسی ژوند او په سیاسی میدان کښے دده دفعالیتونو او مبارزو لنډه قصه. اما تردے وروسته هم که ظاهراً خان په روان سیاست کښے لاس وهم نه لری، مګر بیاهم دمحیط او خپلے کورنئ دسیاسی سرګرمیو

---

(۲۲) زما ژوند اوجدوجهد ص ۶۹۲ - ۶۹۹

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

له چپو په امان کښے نه شی پاتی کیدے او دغه سیاسی جریانات دده پسرونه اغیز کوے او دده ژوند مل ورسره تیریږی .

د ادب میدان :

ویلے شی چه خان عبدالغنی خان خپل لومړنی شعر د ۱۹۲۹ع کال د جولائ په ۲۲ نیټه د عمر په څوارلسم کال ویلے دے ، او دغه شعر یو بیت دا دے :

دتهمت نه به جهان کښے څوک خلاص نه شی
چه آسمان وی کله کله وی وریځی

عبدالغنی خان له همدغه وخته د ادب په میدان کښے لومړے قدم کیښود ، مګر دغه قدم یے ډیر پوخ او معکم کیښود چه ان تردے دمه پدے لار روان دے ، او ادب یے د ژوند همدم ایسی .

خان له ۱۹۲۹ - ۱۹۰۵ع کال پورے په دے شپږ پنځوس کالو کښے خپلے ژوند او خپل فرهنګ ته ډیر څه ورکړی دی . چه دغه ادبی کارنامے به یے نوم تر ډیرو ژوندے وساتی .

پښتو ادب ته د غنی خان بخښنے :

د پښتو ادب په اوسنی دور کښے په سلګونو شاعرانو او ادیبانو لوړو پښتوژبے ته په نظم او نثر کښے ډیر څه بخښلی دی . چه په دغو پالیو کښے د ځینو هغوله مرغلرو سره برابردی ، او د ځینو لا په کونجکه نه ارزی .

د عبدالغنی خان بخښنے په لومړی قطار کښے ځای نیسی ، ده چه څه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلے ژبے او ادب تہ بخښلی دی ډیرے برخے یے د پښتو شاعرۍ په اوسنی دور کښے خپل بل سارے نه لری، او یوازے دے په خپله ژبه کښے د د غسے بکر و اوناویلو شوو مضامینو مبتکر دے.

زه به ددے لیکنے په دے برخه کښے لومړے هغه څه در وپیژنم چه د پښتو ادب تہ ورکړی دی.

۱- د پنجرے چغار:

دا د خان د منظوم کلام اولنۍ شایع شوے مجموعه ده، اوله اختتامیه لیکنے یے ښکاری چه دغه مجموعه خان په جیل کښے تنظیم او بشپړ کړے ده د ده خپله لیکنه په دے خصوص کښے داده: "مونږ په ۲۷ تاریخ د اکتوبر ۱۹۵۳ع په هرې پور جیل کښے دا کتاب لیکل ختم شو." (۲۳)

دغه مجموعه ۲۱۵ مخونه په ۱۹۵۶ع کال پیښور کښے د یونیورسټی بک ایجنسی له خوا چاپ شوے ده. د کتاب پیژندګلوی مرحوم ماسټر عبدالکریم په قام کښل شوے، او په پیل کښے یے د خان ځینے منثورے لیکنے هم چاپ شوے دی.

۲- د غنی پلوشے:

دا د عبدالغنی خان د کلام دوهمه مجموعه ده چه په ۱۳۳۹ هـ ش کال په کابل کښے د پښتو ټولنے له خوا ۲۳۶ مخونه چاپ شوے ده. د دے مجموعے د پیل په ۱۲۳ مخونو کښے د خان نوے کلام چاپ شوے دے او وروسته یے د پنجرے چغار

(۲۳) د پنجرے چغار ص ۲۱۵ - خان د دے اثر په بوبل ځای کښے لیکلی دی: "هرې پور - ۱۵ اکتوبر ۵۶ کښے دا کتاب شروع کوم." غنی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظمونه اخیستی دی .

دے دمجموعے په پیل کښے دمرحوم استاد الفت یو یادښت او په پاے کښے
یے دغنی خان یو یادښت چاپ شوے دے چه دهر پور په جیل کښے کښل شوے
او تاریخ یے ۱۹۴۹ع کال دجولای د شلمی نیټے دے. دغنی په دے یادښت کښے
راغلی دی : "کتاب خلاص شو خو شعرونه دیر پاے شو ، خیر بیا به چرته
څه غم وکړو ، څوند عجب شے دی . دے کتاب کښے اول شعر د اوبو په جهاز کښے
په بحر هند کښے ویل شوے و او آخری دهر پور جیل د کوارنټین په یوه چکئ کښے
په دے منځ کښے چه څه مستی ، خوشحالی ، غم ، ارمان ، امید ، ویره . خندا او
ژړا په ما راغلی دی . نو دے کتاب په دے پاڼو کښے موجود دی ولے افسوس دے چه
ژبه مے د زړه هومره طاقت نه لری بیان د احساس نه کمزورے دے . خو
هر څه چه دی حاضر دی ما د څه پټولو کوښښ نه دے کړے . بلکه د بنکاره
کولو خواږی مے کړے دے .

دازماد خان تصویر دے ، دیر نامکمل او مات کود دے ولے دازه ښه
په خوشحاله ضمیر ویلے شم چه دے کښے هر څه دی زما دی . دازماد دے
بے بنکاره او بے مطلبه ژوند یو وهوا ره پالی دے چه ما خپل قام او مسلک له
جوړه کړے دے . کاش چه دے کښے د ژبے د بنایست او پوهے د کمال د یا بوئ
ما د ک بهولی وے ولے څه وکړم چه هومره وس و . او بند د خپله وسه زیاتی
په هیڅ نه دے پرے . که په دے خیالا تو کښے دومره حسن وی ، چه له مانه پس هم

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندی پاتے شی نوزه به وایم چه واقعی ما د آب حیات چینه وموند له، اوس
دوی ما ژوندی کړی دی، او بیا به دوی ما ژوندے کوی. (غنی) (۲۴)

۳- پانوس :

د عبدالغنی خان دشایع شوی کلام درهمیه مجموعه پانوس نومی
چه په ۱۹۷۸ع کال د قامی مکتبه پیښور له خوا په پنجاب آرټ پریس لاهور
کښے ۲۹۲ مخه چاپ شوده، په دے مجموعه کښے د خان له نویو نظمونو سره یو
د پنجو چغار او پلوشے انتخابات هم لیدل کیږی. د دے مجموعے په پیل کښے
یو یو مخیز یادښت هم چاپ شوے دے.

۴- د غنی لیکونه :

غنی خان دخپل سیاسی او ادبی ژوند په دوران کښے دلرنے اوبر
پښتو نخوا او برصغیر ادیبانو، شاعرانو او سیاسی خلکو او مشرانو ته په اردو
انګریزی او پښتو کښے منظوم او منثور لیکونه هم کښلی دی، چه زه د خان د غنه
لیکونه دده یوځانته بیل اثر بولم.

که څه هم دده د پښتو منظوم او منثور لیکونو څینے بوڼکے د سرحد
په اخبارانو، رسالو او هم دده په کتابونو کښے شایع شوی دی، خو هغو څانله
تولول او خوندی کول په کار دی، ځکه د غنه لیکونه د خپل ادبی او هنری
لطفه سره بیره څینے دیر مهم نکات او تاریخی وقایع هم رانغاړی، چه غنی خان

(۲۴) پلوشے ص ۲۳۶

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ملی، سیاسی او ادبی سیټ په څیړنه او هماغه ډګر د ټولنې د ماحول او وخت د مطالعې په دوران کښې د څیړونکو سره د پیوه مرسته کوی. زه په دې خاطر کښې د سید جمال له زړور رسالو څخه دوه یو منثور او یو منظوم لیک دلته په ډول را اخلم.

دارالامان

۲۰/۱/۵۹

ګرانه مهدی:

ستا دوا په خطونه زار سیدلی دی. معافی غواړم چه اول ځ جواب درنکړو. خوزه داوړی نه څه ناجوړ یم اوښن سباخو هسې د خپلې خانه او ټولې دنیا نه مرور شوې یم. تاته دا هم معلومه ده چه کلونه اوشو چه ما څه خاص شے نه دے لیکلے تیر شوی خرم کښې چه زه په هسپتال کښې وم. نو په امام حسین ے مرثیه لیکلے ده. هغه د لیږم. هغه هم زانه وکړه شوده. خو کوښښ کوم او را یاده مه. زه ستا پیر منکور یم چه کار نا کار زما شعر ونه د صبر کښې چاپ کړے زه ځ د پیر غواړی چه هر هفته دلته څه ناڅه لیکم ولے د پیر پریشانه او زړه ے ستړے یم او هیڅ کار نه می کیږی نه نکلی (۲۵) یغنی »

لاندے یو منظوم لیک راوړم چه عبدالغنی خان د ۱۹۵۱ع کال د جون په ۲۵ په جیل کښې ماسټر عبدالکریم ته لیږلے و:

---

(۲۵) د صبر کالیز نمبر ۱۲ فروری ۱۹۵۹ع الف مخ.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

غنی ته نه سړے وے نه سړے شوے نه به شے
بے ټکه دے خبرے بے مطلبه دے نشے
بے تولے دے دماغ دے بے لباسه دے بیان
دا سړے دے دسنډ ادے نه سود پیژنے نه زیان
تالو کښے الونه وینے بق بق آسمان ته کوے
قسمت دے ناړے وے ته نے ناست او خان کوے

• • •

جوړے نو محلونه د خندا اړد هوا نه
په خان لے خاورے کړے دا نبایسته دنیا و دانه
دا دکه د عیشونو کښلو جونو او رنپانه
په خان دے مقبره کړه تکه توره ورانه ورانه
داخه غواړے دبل نه خانه څه غواړے د خانه
داخه بلا جوړے دد ے نبایسته دنیا نه

• * •

نرګس دے د دی کړلی په باغ کښے د جوار د رامبیل دے لګولی په باغچه کښے دانار د
دنیا کښے څوک په خوشامند و د د له ده تا څوک په سلام دی او تخنه نه په منت
دنیا واړه کمزورے ده خوا ږه د رڼ خوا ږه چه څوک د بل ثنا وی د هغه کیږی صفت
بادشاه د دنیا زړه دی او یا زوردے بل نشته مطلب څوند یا خان دے او یا کوردے بل نشته

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوند اینے خانہ نہ سرے وے نہ بہ شے — کلونو او نکونو او خندانہ وے شیشے
دخانصو نظر کښے خانان خایول نہ دی — تہ تول پارسنگ پارہ نے چلی تولہ نہ دی
تہ تول منصور منصورے زرہ د تودسرے دے — خانان تالہ حکمونہ د بھلول نہ دی
منم چہ گلونو ابشارونو سپرلو یارئے — خو تالہ د ورب خندانق دا غوشپولہ نہ دی
پہ دے خہ چہ د گل او د نسیم ساقی راز دار دے — چہ تالہ بل خلول او خانان خیرو ول نہ دی
ھمیش بہ دے شغلیوانے خیژی پہ صحرا کښے — پہ کور کښے د فرعون چہ خانان بلول نہ دی
رنا کہ د ژوا وکے پہ د تشہ رنا خہ — دا وبہ خیتے خانہ پہ د تشہ خندا خہ

• • •

تہ حسن حسن خہ د لوگی ھوا محل دے — ف انصاف ف ے شے انصاف د حہ دیو ھو بنیا شا ر نے دے
ایمان ایمان د خروی ھو بنیا رغم کړی د سبا
اتبار د ھو بنیا رتیا د اکو ایمان د عقل غل دے
رښتینے دے مړے چغے وھی پہ زولنو کښے
من بردہ د چلی دہ مور او بردہ روان چل دے
پہ بیہ شرافت دے نوم او ننگ پہ لیلام
یا ہی پہ کرایہ بنہ سر پیتوب ھم پہ بدل دے
خنگل کښے د پیر یانو لتو تہ بنا پیری — تعریف کښے د ستمگرو پہ دستہ خوان د سامری
پہ ھمو کښے لتے د لرو سرو پلوشے — "غنی" تہ نہ سے وے نہ سے پہ شنہ نہ بہ شے (۲۶)

(د سن ستا ور غنی)

---

(۲۶) ر صبر ۲۹ فروری ۱۹۶۱ع ص ۱۱۴ - ۱۱۵

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دغه آثارو سره ببره دخان متفرق اشعار او نظمونه ، لیکونه او نورے منثور لیکنے د پښتو ، په ډیرو ملی رسالو او اخبارا تو کښے شایع شوی دی چه تولول او خوندی یے په کار دی ، خکله دده هره لیکنه او هر نظم د پښتو ادب یوه قیمتی پنکله ده . او بویه چه زمونږ لرنی پخپل قوم اوژبه مین وروڼه دغه کار وکړی .

دغنی خان د آثارو په لړ کښے ادب پوهانو په انګریزی کښے د "پتمانز" په نوم دده دیوه اثر یادونه هم کړے ده . چه څرنګه افغان ته اهدا شوے دے والی چه دغه اثر دوه ځله چاپ او شایع شوے دے . یو ځل په بمبئی کښے او بل ځل په ۱۹۵۹ع کال په پیښور کښے . ما خپله دخان دغه کتاب نه دے لیدلے .

د غنی د کلام شکلی خوا :

دخان د کلام کومه مطالعه چه ما غریب ته میسره شوے ده چه هغو کښے زیاتره برخه د هغے شعری سکښت لرې چه زمونږ لرنی وروڼه یے "نظم" بولی او د شعری قالبونو د څه خاصے قاعدے او اصولو پیروی نه وی . له دغو نظمونو سره سره دده په کلام کښے غزل ، رباعی ، قطعه او یوه نیمه مثنوی هم لیدے شی .

د عبدالغنی خان په کلام کښے څه د هغے نظمونو هم څان بنکاره کوی چه مونږ ورته دلته په کابل کښے "آزاد نظم" او یا نوے شعر وایو دغه دول نظمونو هم خان په خاص ادبی مهارت ویلے دی چه لږ فکری خوا وو سره سره هنری مزیت هم لری او د پښتو د نوی شعر د مطالعے په دوران کښے په خاص دول د یادونے وړ دی . دلته زه دده دغه دول نظمونو یوه نمونه وړاندے کوم :

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوک د زړه غوڅولو لونشته
څان له زړه غوڅوم پخپله
څان له ناست یمه خپل غم ته
د خپل غم وایم بدله
چرته لرے تیر محفل له
د مستۍ او خند اخمه
چرته مړه شمع را اخلم
خپل مثال پرے لګومه
دے تور تم غم او افسوس کښے
زه په یاد د مینے پایم
سوی زړه ته قصے د پیرے
د خوانۍ رنګینے وایم (۲۷۱)

د خان د آزاد و نظمونو د پیرزمونې په پانوس کښے خوندي. په مجموعه کښے یوځایم د علامه اقبال (۱۸۷۳ - ۱۹۳۸ع) د کلام ترجمې لیدے شي او هم د پښتو د اولسي شعر و نمونے هم.

د خان د شاعرۍ مضامین او فکري ارزښتونه:

د خان د کلام له مطالعے هر چا څانله خوند اخیستے دے اولیکوالو او د حقیقنو هر یو د خپل برداشت سره سم څه پرے لیکلي دي. مګر زما په عقیده تر هر چا د مخه او تر هر څه د مخه باید د شاعرۍ په باب د خان پخپله رایه پوهشي چه دے په دے باب څه نظر لري. عبدالغني خان استاد بینوا مرحوم په یو لیک کښے په دے باب دا سے لیکلي: "... زما خیال دے چه ژوند کښے دیو شاعر مرام او هدف دیو مبلغ او ملا څخه بیخي جلا او بل شان دے او دا ځکه چه انسان په اساسي او بنیادي توګه یو خدا ورکړے

(۲۷۱) د صبر جون ۱۹۵۱ع ص ۱۲

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه خوږ ، خمکن جنسي ارتیاوو او استراحت ته نه ورتلونکی او نوښتنې
ته نه . دا زمونږ د شاعرانو وظیفه دوچه دانسان توجه اوپاملرنه دهغه د ژوند
اوهستۍ دې لوړو مرکزونو ته وګرځوو ، چې ته چه هغه ممکنه دو ، د خپل تکامل
انعکاس وویني ، اود خپلې ابدۍ معشوقې د بنکلا اوښایست دیدن وکړي .

زما خیال دې چه یو شاعر باید دفکر او خیال قول اوعمل په ډلو کښے
د بنکلا اوښایست عبادت وکړي اوانسان دې ته مجبور کاندی چه هغه د خپلو
خواهشاتو له کنده ګیو څخه خپل مخ د خپل باغ عدن خواته واړوی . دا کار په پند
ونصیحت نه شی کیدے . زما هغه خلک بلدے ایسی چه ماته نصیحت ونه کوی .

که چیرے مونږ د زړه له کومی د بنکلا اوښایست دقدر دانی لپاره خان
راپیدا کړاے شو ، تر کومه چه په ژوند کښے د عذاب او مصیبت د ډډ اوغم
تعلق دے نو زما خیال دے چه مونږ ته د بنکلا ښایست د تخلیق د پاره د هغے
قیمت ادا کول لازم دی . هر یو آرټست دا بوګنو و نکے قیمت ادا کوی ، اوپه
دوے کښے یو خوشحاله خوشبخته وی چه د بنکلا ښایست اود لربایی یو څاڅکی
راپیدا کړی .

د آرټ ، بنکلا اوښایست اود لربایی منځ ته راوستو د پاره ته باید چه
د ژوند ، د ډډ وغم ته مخامخ شے ."

د خان له دے څرګند و نو بنکاری چه د د و شاعرۍ مقصدیت هم په
لوړو خبرو کښے نغښتے دے . او د د و کلام کمال اجمال هم د غه ټکی دی چه خان څخه بیا کول

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خان د کلام زیاته برخه فکری محتوی لری چه د ملی او قومی مسایلو
له بیانولے سره سره ټیچلو فلسفی مسایلو پورے خبرے او د تولنے ضروریات په خپل کلام
کښے رانغاړی .

د خان اکثر فکری آثار د طنز او مزاح په ډول په دا سے هنری انداز کښے
بیان شوی دی چه د تولنے او معاشرے د ټیرو ناورو خواو په ډیرو خوږو طنزونو
او تو کی نظمونو کښے بیانوی . او د پښتو په معاصر ادب کښے ډیرلږ شاعران دغسے
طنزونه لری . یا خو به دغه ډول طنزونه ډیرلږ وی کړی نو هغه هم په دغسے لطافت
چه غنی بیان کړی دی نه وی . په همدے اساس دلرے پښتو ښوا ادبی محققین لیکی
چه په اوسنی دور کښے طنز و مزاح ته په پښتو شاعرۍ کښے لیونی فلسفی عبدالغنی خان
خاصه ځلا ورکړه (۲۹)

د غنی په شاعرۍ کښے له وطن او قوم سره مینه په دا سے انداز کښے بیان
شوے چه هیڅ ډول تصنع او تضنع نه پکے لیدل کیږی او د ده د قوم پرستۍ او وطن پرستۍ
د واقعی احساساتو ترجمانی کوی . او په تولنه کښے مساوات اجتماعی او سیاسی نظام
هم د ده د اورنی ژبے او د نقاد قلم له څوکے خلاص نه دی . د ده زیار باسی چه
د جامعے فسادونه په دا سے طنزیه او مزاحیه محاورو کښے انتقاد کړی چه
په ظاهر کښے ډیر سطحی او پیش پا افتاده ښکاری . خو که سړے بے مطلب نه
وی ، نو هلته د خان په فکور مغز آفرین وایی .

---

(۲۹) انګه کښے اسپار ص ۱۰۶ . طبع کوشۀ ادب لاهور .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالغنی خان او ددہ کلام د شاعرانو، ادیبانو او محققینو له نظره :

دخان د پیژندگلی او ددہ د آثارو او افکارو په باب چه کوم بحثونه شوی دهغو تکمیل لپاره لازمه ایسی چه دهغو ادیبانو او شاعرانو آراء او هم راوړل شی چه د غنی او ددہ د آثارو په باب څرګندونی او نظریات لری :

۱- مرحوم ماسټر عبدالکریم (۱۹۰۸- ۱۹۶۱ع) د پنجم چغارې په دیباچه کښے کښلی دی : "... د غنی د شاعرۍ دری دورې دی : اول دور د هلکوالے شاعرۍ ده ... دوهم دور د غنی شاعرۍ هغه وخت ګڼلے شی څه وخت چه غنی له دیورپ، امریکے طواف په هغه زیاته کړے وه ... دے دور کښے د غنی په تخیل کښے پراخوالے موندلے شی . دلته غنی د خیال په نیلی سمندر کے خوږاګے پخپل قابو کښے کړی یو آواز دے چه سوز او ساز لری . یو سړے دے چه د مړو ستړو ګو خمارلری دے دور کښے غنی خان کړ خپل مسلک هم لری . دا ایی چه غالب او تهیګور په لاره روان وو غنی هغے له ورځے دوارو یو بل ته وکتل . د غه د غنی د دریم دور شاعرۍ ده او چه د خیام مستۍ له یے د غالب بیباکی او د ټاګور رنګینی ورکړه ..." (د پنجم چغارې مقدمه ص د)

۲- د پښتو ژبے نومیالی لیکوال هیش خلیل لیکلی دی : "د د غه نوم نه د پاند ادبی دنیا کښے غنی خان په لیونی فلسفی پیژندلے شوے او د خپلو مزاحیه شعرونو له لکه چه اکثر به یے اوه ورځنی پښتون کښے شایع کیدل هم د د غه مجلے په ذریعه لیونی فلسفی نه صرف په خپل ماحول کښے بلکه ټولو لری مشهور شو ..."
(پیښور لیکوال ص ۱۰)

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- مرحوم استاد کل باچا الفت (۱۳۵۶ هـ ش مړ) د غنی شاعری
د ستایی: " د غنی خان په اشعارو کښے چې څه شے زما پام خو ښیږی هغه د فکر
او خیال آزادی او د تقلید له تلقینا تو څخه سرکشی ده.

دده رندانه مقام ته څوک نه شی رسیدے او هغه څوچه دے بے د خپل
سباغلی لیونتوب له برکته ویلے شی د نورو خولو پرے سوځی.

غنی د شعر او شاعرۍ په دنیا کښے د بښتیا غنی دے او په څوچه بے په بڼه
رسیدلی دی. دده په اشعارو کښے عشق او محبت، پښتو او پښتونولی، رندی
او خیامی فلسفه، تصوف او مسخرے هم څه شته له کار غانو او مار غانو سره بے
هم په شاعرانه ژبه پرے د خوند خبرے کړے دی.

دده په مستانه لیونتوب کښے شاعرانه هوښیارۍ او بیداری پټه ده
او په ملنګو کښے بے د مقصد تګلۍ نغښتی دی. نو ځکه وئیلے شی فلسفی هم
وایی " (پلوشے - الف. ب مخونه)

۴- استاد بینوا (۱۳۳۳ هـ ش مړ) بیا وایی: " ... ظاهر بینو خلکو
وئیلے دی ماشوم په نظر وکتل خو قدرت په نظر کښے هغه د پښتنی ادب پر
آسمان یو خلید ونکے ستوری و، چې له نیمې راښکاره شو.

هو! هغه وخت څوک پوهیدل چې دا ماشوم به یو وخ د پښتو د ادب
غنی او مستعد دماغ شی چې د سپیځلی طبیعت له الهامه، د حقیقی
انسانیت له نورو، د سرمست احساس له جامه د رندۍ او شوخۍ له خوږه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلیونې مینې له سوز وسازه او دژوند دژورې فلسفې له تله به پښتنې ادب دا ډې نوې خلا، نوې رنګینې، نوې روح او نوې خوند وبخښي چه د پښتو زوړ ادب لږ وړه اشنا و.» (اوسنی لیکوال، ج ۳ ص ۹۶۹)

د - شوړی پوه ک. ف. کیریس بیا د غنی شاعرۍ تحلیل څه ډېر اوږدې کړی، «دژوند انه د پښتو د تر سیم له پاره غنی خپل مخصوص سبک او اسلوب انتخابوی طنز، تهکې او تکالې کوی او هر څوک چه د شعر په ډګر کښې د ده مخې ته ودرېږی د هماغه ډول وینې نه دی پاتې شوی او ګوزارې ورباندې کړې دی. حتی انګلیسان ملایان، وطن دوستان، اولسی بې سوادان او عتیقه پرستان د ده د ظرافت لاندې راغلی دی. تیز او مهم موضوعات په دارنګ تعبیر سره بیانول طبعي دول د اشعارو څېړنې سموی. برسیره پردې د غنی خان د آثارو نه معلومیږی چه د اولس په وروسته پاتې کیدلو کښې پخپله اولس ملامت دی.» (۲۹۱)

۶- استاد اجمل خټک د غنی په نامه یو پاڼه کې لیکی چه یوه برخه یې دلته را اخلو:

د غنی په نامه لیکم څو شعرونه	په پنجره کښې یادوم تازه ګلونه
د هغه سره رنګونه د قلم دی	زه لږم یو څو ساړه ساړه آهونه
د هغه خوله کښې د خوند ډک چغاږ دی	زما زړه کښې دی د ده ډک داغونه
د هغه خیال فن او ښکلا سره لوبیږی	زه لګیا یم لوبوم د اغلی زړونه

۲۹۱، د یا غی اولس ادبیات. سره محقق معتمد شینواری ترجمه.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیلانے هغه دنورے دنیاکی دے بلوم زه دکور دلو مشالون

دهغه احساس دحسن تازه کلاد ے زه جذبات یم په ماښل دی سره اوړونه

هغه مینه ډکه غیرت دے ولولے دی زه وفایمه پښتونیمه ننګونه (۳۰)

۷- دپانوس په دیباچه کوونکے اغلی دی: "غنی خان چه خپله د آرټ دیوے ماهر سے حیثیت لری دهغه د افکارو سره پوره پوره انصاف وکړے شی..... غنی خان د خپلے پاڼے دکاینات خانګے نه پریکوی. چه دهغه په خیال په یوه پښتون باغ کښے دکلاب بوټے خپلے فطری ارتقاته پریښودل په کار دی."

۸- پروفیسور ولی محمد خان سیال کاکړے بیا داسے ستاینه کوی:

چه پیدا په هشنغر کښے غنی خان سو

بخت بیدار د په ربښتیا دلوے افغان سو

شاعر نه دے فیلسوف د زمانے دے

په خپل شعر کښے د پښتون چه ترجمان سو

دلیږنی اشعار چه لولی لیونیان سی

پس له لوستہ هر سړے حیران سی (۳۱)

---

(۳۰) د وخت چیغه ص ۲۴۲ د ۱۳۵۶ هـ ش کال. دکابل چاپ.

(۳۱) منظومه تذکره ص ۲۷ د ۱۹۹۲ع کال دکویټے چاپ.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹- صاحبزاده محمد ادریس پخپل یو نظم کښے دغنی او مفتون مماثیر
داسے کړے دے :

فرق غمے دے په غنی او په مفتون کښے — کوم چه وینے لیونتوب او په جنون کښے
سړے کوردانه کړے یو بل ناقلاره — اضطراب کوره دے دواړو په خون کښے
د احساس درد کموی په شرابونو — بیا وتیږی دشراب و په بیلتون کښے
بیهوشی کښے اړوی خرابه سرونه — فرق نه وینم دواړو په قانون کښے
یو د خیال بل د جذباتو په تال زانکی — وړه د خیال لیلے د مجنون کښے
سر د پښتو په اوښتی په زړه جبل دی — سبقیان دواړه د عشق په پوهنتون کښے
دغنی د خیال نیلے په آسمان کښے — وړه د مفتون آس دی په کړکون کښے
صدیونه چه دمینے کوی برسیره — مستی د اولی د عقل افلاطون کښے (۱)

۱۰- زمونږ نومیالی استاد پوهاند پښتین دغنی د هنر او فن تجزیه داسے کړیده:

« دغنی په اشعارو کښے یا په بله ژبه د ده د فکر په پلوشو کښے عشق او مینه او محبت پښتو او پښتونولی ، ښکلا ، مستی ، تنقید ، اوکړوکښه ، آزاد خیالی او بے باکی د بے باکی فلسفه او نوی هر رنګ لذتونه او خوندونه شته او په دے میدان کښے یعنی د خوشحالی د لاسه پوخ منګولے د سخی په توګه او ملنډو کښے تر هغه هم وړاندے دے » (۲)

---

(۱) د سپینو غرونو سندرے ص ۶۱-۶۲ د ۱۹۵۷ع کال د پښتو ټولنے اداره اشاعت سرحد .

(۲) ورځپاڼه د ۱۳۵۶ هـ ش کال گڼه ص ۱۳۰

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۱- ښاغلی صادق الله خان کښلی دی : " دغنی خان شاعری سیلی ده چه نه نیولے شی اونه تلے پام کوی چه په خپله تاوکښے دغنی خان د اچولو لوبنس ونه کړی په دے چه ستا اونه ما تاے نه خو دهغے وسعت راکیولے شی اونه دهغے دوزن اوچتولو طاقت لری. (۱)

۱۲- سامی شاهین چه دغنی پلوشو کوم جاج اخیستے دے دهغه خاطره دا دے : " دغنی دفکر پلوشے د حسن وعشق په دنیا کښے کمه ده دغنی دخیال پل نوهه ویره نکاونوکښے شیندے دے دهغه چانکرته چپل انداز دنندارے دعوت ورکوی. (۲)

۱۳- وغ لیونی یوخالیکلی دی : دغنی خان شخصیت دتعارف محتاج نه دے خوک دے چه دردود کیف اوبے خودی نه پے خوند نه وی اخیستے اودهغه دے باکی امیزت قایله به نه وی دا دقلب نگین عکاس دا کاش پسینه چپاشوخ لیونتوب کښے هم دستوړ اپلوشو مجاتا نه خوښ دے هسے خو دوړ پنځه هم هوښیار لیونے دے خاچه هم هوښیار انوخه نه ویلی دی چه دنیا په لیونیو ده خانه ده اولیونے په دنیا پوهے تاسو کوی چه دا زمونږ لیونے فلسفی خه نه وایی :

ژوند خبنه جوړ ایمان نه خوښوی خاکه لیونے په خاکه خاکه لیونے

غنی خان د شعر وفن په میدان کښه دیوجدا اوازا دلاړ خپلول د. دهغه دلته پاک دے دیانه ملکه وه خوښیاره نوکوی. خوښی دوه، چه دیوے باکه اوه خلص صفت غوندے دخپل چاپیریال دکنډوکړو هوارولو احساس کوی خو ستپتمبدو لنه وکړی. دهغه احساس موټر دانسانی چه په کنډو هوکړ یږی. خوښی حال وایی خوکړ نے نه وی. دنه خفیف تمایل دے دغنی پی تړلے دے. دهغه کلام دژوند دتولو لوړو ژورو دتولو ویرو ترهغه خوښحالو خندا کانو شوا وسان خوږو تخو تمایل ذکړونه کوی. هغه په زړه ونه دخپل گړیوان کښے دمعاشرے په مقام مخلص اوښکے تویوی. خوښو خوږو کښے دتړخو حقیقتونه نه ښکاره کوی. (۳)

(۱) رسم خط دی دنکا ته دیسو تراب ښاغلی دی. (۲) دیسو خط ۱۹ کم ۱۹۷۰ع (۳) ماڼی گهر - ص ۱۱ (۴) پښتو ۱۹۷۰ کال فروری ماڼی گهر - ص ۲۰۰

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۴- حامد کنبلی دی : « شعر غنی بازتابی از زندگی محیط و درگیری های سیاسی زمان اوست و همین مسایل است که آنالیزه های بازسازی دنیای فکری او را می سازد شعر در دست او خامه یی است که با آن افکار فلسفی ، آزادیخواهی و حب وطن را با تمام ابعادش ترسیم میکند. ..... در شعر او فضای زیبا و پیشکوهی تبلور یافته است . همین ویژه گی شعر اوست که او را در ردیف شاعران ممتاز و برازنده زبان پښتو قرار میدهد. » (۴)

غنی او اخوړکړی :

په ادبی خیرنو کښے راغلی دی ، چه غنی خان اخوړکړ (مصور) هم دے . د دے حینے اخوړونه په بعضی کتابونو کښے شایع شوی هم دی . ویلے شی چه دتهکور په بین الاقوامی یونیورسټی کښے غنی د خپلے استوګنے په زمانه کښے د هلکانو د تهوټو تصویرونه جوړول شروع کړل اما د غه تصویرونه چه د کالج پرنسیپل او تهکور (۱۹۶۱- ۱۹۲۱ع) ولیدل نو ډیر ناراضه شول او خپله خوښحاله او حیران شول .

بناغلی هیش بالکنبلی دی : « غنی خان د یوښه شاعر نه علاوه یو بهترین مصور هم دے او په خپله د تصویرونو نمایشونه کړی دی . » (پښتانه لیکوال ۱۰ مخ)

---

(۴) حقیقت . دمی د ریاضی . ډاو . حامد نبګړه (۱۳۶۴) کال د اسد ۲۴ مه گڼه .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غنی د کلام د غه مجموعه:

کله چه د پښتو ژبې نومیالی شاعر اولیکوال سلیمان لایق ماته د غنی دکلیات تا وین سپارینښتنه وکړه. نو ما لومړی کار له پانوس پیل کړ. پانوس کتاب شو او کاتب ته دلیکلو د پاره وسپارل شو. تر دې وروسته مو د پنجر چغار ترکار لاندې نیولو او نظمونه چې په پانوس کښے راغلی وو. هغه تر لیږ کړنے شول او باقی بر خې ولیکل شوو او کاتب ته حواله شوو. بیا پاوښتے وکتلے. د دے مجموعې ټول هغه نظمونه چې په پانوس او پنجر چغار کښے راغلی وو. هغه تر لیږ کړنے شول. او پاتې نظمونې ولیکل شوو.

البته کیدے شول چې هغه نظمونه د پاوښتے او پانوس له راجمع کړو خو د دے لپاره چې د عبدالغنی د کلام د مجموعې د چاپ هویت هم ساتل شوے وے دمخې برخې لپاره حلا حلا سرلیکونه ورکړل.

د شعر په کلیات کښے راسلو د مجموعې په املا کښے د یږ لیکونو د لیکود نې ترډیره حده موز یار ویوست چه املا ے دا ر بتو خو املا ته وتړی وی. هغه کلمات چه خان په هشنغږ ې لهجه کښلی وو خپلې مونږ سم کړل او په مروجه املا مو لیکل خو خپلې برخې لادخان دلهجے مطابق پاتې شول. البته دا خبره باید هیره نشی چې د پنجر چغار او پاوښتے کوم نظمونه چې خان په پانوس کښے راوړی وی. هغه کښے نے لاس ملے دے او ما د متن د ترتیب د ا... وولې د هغو د پیوستې شکلونه په کلیات کښے اخیستی دی.

---

* له بده مرغه چې ځینې نکړ ار نظمونه هم په مجموعه کې راغلی او زه داسې وخت ورته متوجه شوم چې ایستل یې ګران وو.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه دے لیکنے په پای کښے د خان عبد الغنی خان یوه خوږه غزله تاسے ته
وړاندے کوم چه زما له دے بحث سره پیژندے اړه لری. اوده دژوند په مطالعه کښے
ارزښتمنه ایښی.

غنی غنی ته

ما وے غنی یار څه بے اندازه غوندے یے
ادب دے دے کښے کم زبان دراز غوندے یے
قصه دے گلو وو په نه سم خان شوے نه توقی شوے
خوبته دے دوپیانو کښے څه دے پیاز غوندے یے
پتی دے وران ویجاړی اوکښے وږے دے پولے
کړے پکښے گلونه حسن ساز غوندے یے
لیندے دے ماته گوزه اوشه ل ملول دے غشی
خو غزار دے ـ ښه لکی تیر انداز غوندے یے
دولت وی که صنعت وی که ناموس وی که شهرت
په وږے خیټه موږ اوبے نیاز غوندے یے
که ښکلی وی که تراش وی که چار ښیته که بدله
په څپله لار روان یے بے استاز غوندے یے
په مینه یے مین اوخدائے ته پلار او جانان وایے
داخکه خو بے توله بے اندازه غوندے یے

پښتو مجله (۱۹۸۲ع کال فروری ـ مارچ) ۳۹ مخ
• [redacted] • رحمت الله
خادم العلما مرتب و مدون ۰ ز ۰ ه ۰

A .S.K B

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library